


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

#جهنمي مينه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#اول برخه.
🖤________________

بِسمِ أآأللّهِ أآألرحمٰنْ أآألرحيم

عشق یا هم عام اصطلاح کې مینه. له هغو کلماتو او حرفو څخه جوړ شوی. چی زموږ خیالونو او فکرونه را ګډوډ کوي. دا یوه مشترکه کلمه په جملو کې ، اما په مختلفو معناګانو سره، شاید هر څوک د عشق په باره کې مختلف نظریات ولری،عشق یوه کلمه ده له زر هاوو تعبیرونو څخه چی له هغو څخه یی یوه ډیر وخت کیږی دا دوه جملې می په ذهن کې ناستي دی.

اول دا چې حقیقی مینه هر ځای کې نشته یا اصلاً شتون نه لري.
دویم دا چی مینه یو هوس دی.(زر تیریدونکې او نه خلاصونکې) په یاد مي ندی چی په کوم کتاب کې مي دغه رقم جملو سره مخ شوم. اما مجبور یی کرم تر څو فکر ورباندي وکړم.زما له نظره عشق (مینه) څه شی ده ؟ هماغه نښه (نماد) ده چی ژوند پکې څرخیږی ستون یا پایه په دواړو جهانو کې(فاني او ابدي ) ریښتینه مینه یا عشق په مثال د هغي خوږوالی دی چي  یو پرنده یا کوچني مرغه په زړه کې وي، مینه یو احساس یا خیال د انسان سره د مینې لپاره ، مینه په مختلفو څهرو کی را څرګندیږی، سترګي دی باید خلاصې وی تر څو یی ووینې .

ممکن هیڅ مینه د بلې مینی سره یو شان نشی، یا کولي شو چی ووایو چی ورته داستانونه فلمونه او پخوانۍ پیښې لکه شیرین او فرهاد لیلی او مجنون دا نه وی.
امکان د ولرې چی مینه د ( 13 نه تر 19) یا مختلف عمر کې په مهربانه زړونو کې چی که کوچني وی یا لوی زړه ولری رشد یا(پرمختګ) وکړی شاید یو څوک په ځوانۍ کی څو څو ځلي مبین شی او بل سړی شاید د مرګ تر وخته د مینې کلمه نه یی حس کړی ، باید وویل شي چی مینه جادو یا سحر نه دي او نه هم هغه پیښې چی ده چي ستا ورڅخه انتظار وي..یا نه وی ...

مګر د دي ښار داستان عجبه پیښه بیان کوي، زیاتره مینه یا عشق ددي ځای بیل خوند لري، لکه د دوزخ خوند یا مزه..دلته مینه هغه احساس دي ، تر څو یو عاشق هیله مند په هر کار کولو کې او تر سره یی کړی ، مګر تر دي چی خپل معشوق (یار) ته ورسیږی زشت یا بد یا تیز رفتار ښایست اساس یا پایه نه لری، فقط چی د لاسته را وړلو لپاره یی کوشش وکړي دا ښار د خوښۍ مزه بعضی وخت د وصال یا یوځای والي مزه څکې او بعضی وخت بیا د جدایي.. د محبوب یا یار وصال یا بیرته راتلل که عشق وی .پس بیلتون یی د دوزخ له اور څخه تیز دي ، او سوزونکی دی، دا کیسه یا افسانه هم د دوزخ د اور په څیر ده د ( فرهاد ) له مینې او عشق څخه.
سوزونکی مینه یا عشق ، سرګردانه او تیز له هر طوفانه او سوزونکی له هر اور څخه دی..

هغه ښکلی آواز چی هر سهار یی اورم د موبایل د لړزی آواز دی چی د ویښولو لپاره می سم کړی. د یو نوي شی په شروع کولو او د یو ښکلی سهار په پیلولو لپاره هر سهار یوه نوي ورځ ده. هره ورځ یی یوه نوي صفحه ده. هره صفحه یی رقم رقم کیسې لری او هره کیسه یو نوي وراندونکی او راوي لري ، مګر ما څخه ، چی پدی ټول داستان یا کیسه کې زه یی لیکل کوم نقش یا ونډه نه لرم ، یو ځل بیا زه له نوې کیسی سره له مختلفو  شخصیتو سره او په تقدیر نیولو سره زه دلته یم . یو ګزارش او روایت لرم د زړه او ځان له درده ،او د نړۍ له سوز څخه، له دوزخی مینې نیولی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشق یا مینه هغه احساس دي چې ما اوریدلی اما اور او دوزخ یی بله کیسه لری
عشق جهنمی ( جهنمی مینه ) سر گردانه او تیز له هر طوفان او سوزونکی له هر اور څخه..

صبا یوه ډنګره او لوړ قدي نجلۍ وه پټه شوی په رنګا رنګ او ښکلو کمیسو وه .تل لوړه وه ، د خوب او خیال له نظر څخه نیولې تر لوړ بوټون. په خلاصه ویلی شو چې دا نجلۍ د دواړو لپاره بهترینه او ښایسته ترینه نجلې ښکاریده هم ( فرهاد او هم فرشاد ته)

اصیلا- صبا ....چیرته یی ؟ صبا...
ثنا- دویم منزل جارو کوي مور ...
اصیلا- خپله خوله یا ژبه نه لری چې جواب را کړی؟
ثنا خپل د مور جواب ورکړو او ویې ویل : شکر لرې یی مورجانی اما غوږونو کې یی ګوشکې ده.

حسیب چې تازه را رسیدلی وو....غږ یی وکړ: شرط در سره وهم چې کسرا نوي سندره خپره کړې او وره شهزادګی صبا جان یی اوري .
اصیلا: ښه راغلې حسیب جانه !
پس له ښه راغلاست څخه میرمن اصیلا افسوس او آه کش کړ او ویی ویل : څه وکړم نجلۍ هوایی شوی او بیرون پروازونه کوی .
حسیب د میرمن اصیلا د لاس ښکلولو وروسته وویل : پریږده یی آرام وکړی ، څو ورځي وروسته یی چې پوهنتون پیل شي هغه وخت تفریح او میلې ته وخت نه وی ورته ..

ثنا چې دواړه لاسونه یی په ملا نیولی وو مخکې لاړه او ویې ویل: عجبه ده زموږ کور لاره هم درته معلومه ده ..محترمه عالی جنابه.
حسیب- وبخښې میرمن مي ...
ثنا- وایم څومره زر راغلي..
حسیب یخن یا ګریوان یی پورته کړ ، د مسخري په ډول یی وویل: زما مهربانې ده نه مي خوښیږی چې ښځه مې راته منتظره شی او زه ورنشم....

ثنا یو آه خپل د خاوند پدي بی موقع حرکاتو وکښلو ، او بیا یی د خپل خاوند یخن کاک سم کړ بیا یی په کنایه ډول خبرو ته دوام ورکړو او ویې ویل: آهاا پوهیږم ، ځکه مورجانې وویل چې سهار وخته له کور بیرون شوي او اوس په نیمه ورځ زموږ کورته مو تشریف را وړو ...
حسیب- مورجانې وګوره لور دی د غرمي 10 بجو ته نیمه ورځ وایی..
اصیلا- که زه خبري وکړم هیڅ ښه نه کیږی او که تاسو منځ کې مداخله هم وکړم ناراحته به وم ، خپله پوهیږی او ښځه دی، زه لاړم کار ته مي..

ثنا- ښاغلیه ډیر با جرعت شوی نه یی؟ زما شکایت زما مور ته کوي؟ موږ دواړه خو کور ته ځو بیا زه هلته ستا جواب درکوم..
حسیب- توبه وباسه ښځې اوس غواړی په همدی عمر کې مي له مور وهل او ډبول وخورم ؟ زه اوس د اولاد څښتن یم لږ رحم وکړه راباندي.
ثنا په مسخره ډول وویل: ښه، پس چیرته وی د اولادو پلاره چې زنګ ته د جواب نه ورکوي؟
حسیب- ستا له پلارجان سره د سبا ورځي لپاره یو څه خرید کولو لپاره تللې وم. اوس ته ووایه چې زما په اوږه باندي بار وځنګه می جواب در کړي وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثنا- بهانه مه کوه ، لاس د بند وو خوله خو د بنده نه وه.
حسیب- خدایه ته یی نوره خلاصه کړي ، دلته زما حق خوړل کیږی.. پر ما ظلم روان دی.

شهلا - زویه دومره دعوي مه کوه ، حق د ثنا جانې دی باید جواب دې ورکړی واې.
حسیب- ماشاءالله په مور مي د خپل ناوی طرف داري کوی.
ثنا- پس د یوه بی فایده زوی طرف ونیسې ؟

ثنا دا خبره وکړل او خپل ټیکري په سر راکش کړو او خپل د خوابنې خوا ته لاړه او د سترې مشې وروسته یې خپل خوابنې خپل د کوټې خواته وبلل ځکه سبا ورځ ختم وو او ټول کور کې د ختم لپاره مجلس جوړ شوی وو او کاریګران په کارونو لګیا وه. اشرافي کورنې یو د غټ ترینه او مالدار ترینه کورنو څخه په ښار کې حساب کیدل. هغوی د یو ورڼوکې ختم لپاره هم مجبور وه یو لوې میلمستیا ونیسې. اغلې شیرن خلور زامن او څلور لورګانې درلود چې ټولو اولادونه یې ودونه کړې وه او بچیان یې درلود.. پدې ټولو کې ورڼه د اغلې شیرن ملسې صبا وه چې عمر یې زیات او کم د ۱۹ کالو وه.

فرهاد- الو فرشاد چیرته یې؟
فرشاد- الو لالا جان دلته د کاکا کور کې یم.
فرهاد- چیرته؟
فرشاد- د صمد کاکا کور کې یم د سبا ختم لپاره لوښې مینځو او تیاری نیسو، کوم کار دې درلود؟
فرهاد- هو...(یو څو دقیقې خاموش شو بیا یې وویل: خو مهمه نده ورځه خپل کار وکړه.
فرشاد- سمده وروره ښه وخت خدای پامان.
فرهاد- خدای پامان.
..................

فرهاد- ووایه چې نن چهارشنبه نده؟

امهمممم سنګه چل دی د ناول نوم خو شه خطرناک دی🙄😁

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#دویم برخه.
🖤________________
بِسۭمِ ٱٱٱللّٰهِ ٱٱٱلرِحۡمٰنۡ ٱٱٱلرِحیۡم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

فرشاد- سمده وروره ښه وخت خدای پامان.
فرهاد- خدای پامان.
فرهاد- ووایه چې نن چهارشنبه نده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

#اوس نوي برخه...

امین- نن چهارشنبه ده ولې کومه ستونزه ده؟
فرهاد خپل زړه کې ووېل: اه ښتکه مې هیر کړو نن ماښام موږ ټول باید د صمد کاکا کور کې واېې ځکه سبا د نیکه د مرګ ختم وو..
امین- کومه ستونزه ده ډاکتر صیب؟
فرهاد- نه وروره خو یو ځل بیا هم باید ما وبخښې .. اسد موټر ودره وه زه باید ښکته شم.

اسد- نه دا ځل امکان نلري نه پرېږدم چې دا ځل هم همداسې لاړشې او موږ پرېږدې.
امین- اوس څه شوی؟ چې ته موټر دره ویې؟
فرهاد- نن ماښام یوځای میلمه وم لیاده مې وتې وه.
امین- توبه! د خاله ځو یو نن دا کار مه کوه راځه زموږ سره ..
اسد- تر اوسه سهار وخته دې یواځې تر هغه چینې ځو او تر ماښام بیرته راګرځو .. هسې زموږ چکر مه راخرابه وه..
فرهاد- که ماښام را ونه رسیدو بیا؟

امین- عه فرهاد لکه ډارنو نجونو پشان خبرې مه کوه. ولې را ونه رسیږو؟ زه قول درکوم چې تر ماښام دې میلمستیا ته راورسه وم.. اوس اجازه شته حرکت وکړو؟
فرهاد- میلمستیا نده یوازې د سبا ورځې لپاره ټولو سره یوځای کېږو.
امین- اوو داسې وایې لکه چې ما ستاسو هغه کورنې نده لیدلې؟ تاسو کورنې راټول کېدل مطلب د یو ښار میلمسیتا دومره ماشالله فامیل لرې.
فرهاد- نو تا څه زما کورنې ته سترګې نیولې؟ هو شکر غټ کورنې یو نفوس مو ډېر دې..
امین په خندا ووېل: اممم نفوس..

***

فرشاد- ثنا جانې نور لوښې هم په پخلنځې کې شته او کنه؟
ثنا- څه یې کوې؟
فرشاد- رایوره چې کاریګران یې ومینځې.
ثنا- توبه فرشاد، کله چې کار کوې دومره خبرې مه کوه!
فرشاد- مونږ باید توبه اوباسو. دا د هلکانو پر وړاندې ظلم ده په دې ګرم لمر کې درې ساعته لوښې ومینځه آخر ښوک درته د یخو اوبو ست هم و نه کرې.

صبا- پخلنځې خو دې لیدلی ده، که تږی شوی یې لاړ شه اوبه وڅښه.
فرشاد- ای ماشاءالله، بلاخره شهزادګې هم راغله.
صبا- څه وکړو مزدوران چندان کار نه کوي مجبور مونږ ځان سترې کړو.
ثنا-صبا څه وایې؟ بده ده.
صبا- هیله کوم خورې ته د دوی پلوي مکوه! همیشه دې د تره زامنو پلوي کوې.
ثنا- ګرانې خورې څه لاړه شه د لیمو یخ شربت تیار کړه او رایوره!
صبا- ماته یې څه؟ چې تیار یې کړم، ښوک چې یې ښښې ځانته ته دې تیار کړې. ددې محترم په وینا ( فرشاد ته یئ اشاره وکړه) دا خو د دوی خپل کور ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د فرشاد لخوې د کیسې بیان"

آه، دا اوږده غاړه یې، دا نازونه، په لاس باندې خبرې کول او دا غرور یې ما لیونی کوي! دا جنۍ ډیره ضدې ده بیحد ضدې، خو زه د همدې په ضد لیونې یم. له شانه نه مې ور غږ کړو: مهمه نده، اوس چې یو ګیلاس یخې د لیمو اوبه راوړل درباندې قیامت غوندې ده، نو متوجې اوسه شپې ته ټول په چکر بیایم پرته له تا؟
سترګې یې په هماغه غرور را واړولې او په غوسه یې وویل: لاس دې خلاص تر ټول کابله پورې، چې هر قبر ته یې بیایې بو یې څه.

سدیس- د ماما لورې له سترګو دې ځار شم! د فرشاد له قصده زه دې بیایم، پریږده چې رقیبان و سوځیږي.
صبا- زما ورور یې! اوس درته د لیمو یخي اوبه راوړم.
فرشاد- ملګریه مونږ دې د لیمو په شربت خرڅ کړو؟
سدیس  کراروویل: نااا، هماغه د لیمو شربت ستا له سره قربان، اما ته هم ډیر نازونه کوي پر دې بېچاره!
په ظاهر مې سدیس ته وویل: هغه ټنبلې چې د لیمو شربت جوړ کړی ستا دې وي،زه ځم ځانته یې په خپله جوړوم تاته یې هم نه راوړم.

خو زما زړه څومره غوښتل چې صبا راته د لیمو شربت جوړ کړې، تر دې چې یوازې تش یو ګیلاس اوبه هم وای، د صبا د لاس څیز د نړۍ له زرهاوو شربتونو سره نه برابروم.تر شا مې سدیس په زوره خندا کوله او وې ویل: د کارونو له کولو سره دې ډیره دلچسپي پیدا کړې ده؟

څه مې ونیول او روان شوم ځینې وخت فکر کوم د ژوند له ټولو رازونو څخه مې خلک خبر دې پرته له صبا څخه!

"د فرهاد له خولې د کیسې بیان"

غوښتل مې د ډیر مودې وروسته د دنیا له کارونو څخه ځان ګوښه کړم او تفریح وکړم، خو مګر دا تفریح مې هم لکه چې زهر او ذقوم شوه. هرکله چې د هغې هوسۍ مانند سترګې رایادیږي نو د زړه غوښې مې ویلې کیږي او حالات مې تغییر کوي.د هغې ساده ګې، حاضر ځوابي، هر څیز چې یې په خوله راشي ځواب در کوي؛ زه یې په همدې حاضر ځوابي میین یم، دا ورځ به څنګه ماښام کړم؟

.............

صبا په پخلنځي کې د لیمو د شربت په جوړولو بوخته و چې فرشاد یې شاته ودریده او په  ویښتیانو یې ورته لاس وواهه.
.له صبا سره کار درلودل د مچیو ځاله کې لاس وهل دي، صبا چې هر څه لاس کې لري د انتقام لپاره ترینه ګټه پورته کوي
.کوم چاقو چې د صبا په لاس کې و له هماغه چاقو سره یې د فرشاد پر لور مخ را واړوه
فرشاد- اوو لیونې وژنې مې؟
صبا- ته په خپله لیونې یې، ولې دې زما ویښتیانو ته لاس ور وړ؟
!فرشاد- ویښتان! کوم ویښتیان؟ ما فکر وکړ لکه چې د قالینې پت ده

صبا چې سر یې ښکته و سر یې راپورته کړو او یوځل بیا یې چاقو زما مخ ته ونیو او ویې ویل: شادي څه دې وویل؟ قسم د ویښتانو په اندازه دې ټوټه، ټوټه کوم.
فرشاد- شیطانې تاته تسلیم یم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- څه دي وويل؟
فرشاد- په خدای درته تسلیم یم، مکوه خون به مې ستا په غاړه شي، ځوان یم ګناه لرم.
صبا- دي ته هم ژوند وايې چې ته يې لرې؟
فرشاد- نااا، بی ساه جسد راڅخه جوړ شوی د کوم وخت څخه چې مې ستا سترګې لیدلـ....

فرشاد دا خبره وکړل او ګیلاس په لاس حویلي ته منډه کړه او صبا يې تر شا چې هر څه يې په خوله ورته راتلل ورته يې وویل.

شپه پر ټولو ژر را ورسیده پرته له فرهاد څخه، فرهاد شپې ته شيبې شمېرلې تر څو خپلې موخې ته ورسیږي شاید څو کیلو وزن يې يې هم کم کړی وي.
امین- ورستی تم ځای ... زموږ کاکا فرهاد ښکته کیږي.
فرهاد- پوهیږم چې ناوخته شوه خو بیا هم مننه.
امین- اسده موټر بېرته چالان کړه، ځو زمونږ کور ته هسې هم ناوخته شوی ده فرهاد هم مونږ سره ځي.
فرهاد ژر وويل نااا .... څه وايې موټر ودراوه.

فرهاد ژر له موټر څخه ښکته شو. او د هغه د ملګرو د خندا غږ هم ورسره پورته شو.د ساعت ستنه له اتو څخه د اوښتو په حال کې وه. ټول د یو بل شاو خوا را ټول شوي ول د راتلوونکي ورځې لپاره يې نظم چمتو کاوه، ښاغلي صمد له خپلو ورونو سره حساب کتاب کاوه؛ آغلې اصیلا له خپلو اندرینډو او اندروګانو سره مجلس کاوه؛ ثنا په ګیلاسونو کې چای اچاوه او صبا ګیلاسونه ویشل چې دې حال کې د دروازې د زنګ غږ پورته شو ثنا له خپلې خور څخه هیله وکړه چې دروازه خلاصه کړي ځکه ممکن حسیب د کورنۍ له رسولو څخه ورسته را رسیدلې وي.

خو څوک پوهیدل چې د دروازې شاته حسیب نه بلکې فرهاد ده او په اول قدم يې د خپل جانان دیدین نصیب کیږي.

امهممممم ولای کیسه خو همداسی شکاری په اغلی صبا دوه ورونه مېین دی فرهاد او فرشاد😕 دا نو به سنګه شی؟ ستاسو په نظر صبا به هم په دوی دواړو کی پر یو چا مېین شی او کنه؟ یا یو بل نوی نفر به راشی داستان ته؟؟

#جهنمي مينه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#دریم برخه.
________________🖤
بِسـمِ أاأللّهِ أاأَلرحـَمَنْ أاأَلـرِحـيَم

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

خو څوک پوهیدل چې د دروازې شاته حسیب نه بلکې فرهاد ده او په اول قدم يې د خپل جانان دیدین نصیب کیږي.

#اوس نوې برخه...

فرهاد د دویم ځل لپاره دروازه و ټکوله، صبا ناره کړه: صبر داده درغلم دروازه دې ماته کړه.
لا دروازه يې نه و خلاصه کړې چې صبا بیا وویل: دروازه مه ماتوه خیر که دې خسر کور دې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد ......

د صبا د غږ په اوریدو مې زړه بې حاله شو او ومې ویل دې برکتي شپې ته ګوره چې شروع یې د جانان په لیدو وشوه او خوندوره خبره دا چې د صبا له خولې څخه د خسر د کور نوم اورېدل! د صبا په دې خبرو مې پر شونډو موسکا راغله چې صبا هم حیرانه شوه، په حقه و چې حیرت وکړي ځکه څو ځله مې موسکا ورته وکړه. زه داسې هلک وم چې یوازې مې خپل درس او کار ته وخت درلود، نه مې دوی سره د دوی په خوښیو کې ګډون کاوه، کیدای شي د عمر له لحاظ و او زمونږ کورنی ژوند دوی سره توپیر درلود ما یوازې خپلو غمونو او د مور اوښکو ته رسیدګې کوله همدا علت هم وه چې دوی ډیر نه پیژندلم.

صبا په ډیر تلوار سره سلام وکړ او وې ویل: ما فکر وکړ چې اوښی مې ده.
سلام ته مې ځواب ور کړ او ومې ویل: اوس اجازه ده چې کور ته داخل شم یا که یوازې اوښې لپاره دې اجازه ده؟
صبا وویل: اوبخښی، اوبخښی راځی دننه.
کور کې ټول خلک په خپلو منځونو کې په کیسو سره بوخت ول، یوازې مور مې زما د راتلو په تمه وه چې یې پر ما سترګې ولږیدې وې ویل: زویه ډوډی دې خوړلې؟
د لاسونو له ښکلو وروسته مې ځواب ور کړو: سلام مورې، هو خوړلې مې ده!

مور- ریښتیا وایې؟
فرهاد- هو مور جانې!
مور سره مې له سترې مشي ورسته په لوړ غږ سلام واچاوه، د سلام غږ ددې سبب شو چې یوه شیبه چوپتیا رامنځته کړې، چې فرشاد وویل: داده د مجلس ښکلا راغله، نو اوس مونږ ته اجازه راکړی چې په چکر لاړ شو.
صمد د فرشاد په تقلید وویل: خیر شه چیرته ځئ ځوانانو؟
فرشاد وویل: تر لاندې کوځې پورې، مګر صبا نه ځي هغه دې شرینې وویشي!
صبا- فقد زه لکه چې تاسو سره د چکر تړې یمه.
او ورو یې فرشاد ته وویل: شادي.
سدیس- صبا زما په موټر کې درځي.

فرهاد......

ټول په دوه درې ډلو وویشل شول او تلو ته یې تلوار درلود، ځان ته مې وکتل آیا ما هم ځواني درلوده؟ که درلودای مې نو څه شوه؟ ولې زما ذهن ته نه راځي؟ تر دې چې تر ټول د لوړ عمر ولا ښکاره کیدم.زه له پیله د پوخ عمر ولا وم، نه مې ماشومتوب تیر کړ او نه هم د ځواني مزه په همدې سوچونو کې وم چې د مور په غږ په حال راغلم: فرهاده ته هم له دوی سره لاړ شه ستړیا به دې رفع شي.
فرهاد- نااا مورې ستړی نه یم او دا اوس له بهر څخه راغلم.
نسترن- لالا ناز مکوه ... زه ستا سره ستا په موټر کې ځم.
فرهاد- اوبخښی ما خپل موټر نه ده راوستی او دلته له خپلو همکارانو سره راغلم.
سعید- مهمه نده، فرشاده له خپل ورور سره لاړ شه د موټر کیلي ور کړه فرهاد ته!

فرهاد- پریږده یې پلار جانه چې فرشاد لاړ شي زه دلته آرامه یم.
صمد- زمونږ سپین ګیرو منځ کې څه کوې، لاړ شه ورسره یو څه به دې پام بدل شي، دوی ولاکه درې ساعته هم راولې. مونږ سره به هسې په تنګ شي او بله دا چې ته فرشاد سره یو ځای نه ځي نو سبا لورې لاړه شه زما د واسکټ څخه د موټر کیلې راوړه او فرهاد ته یې ور کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- دا چې موټر زما د پلار ده نو زه يې چلوم.
صمد- پرته له ليسانس څخه هيڅکله هم نه.
صبا-اووفف پلاره ته به څه وخت اجازه راکړې؟
صمد-فرهاده زويه کله چې بهر لاړې نو صبا ته اجازه ورکړه چې خاص موټر جالان کړي. نور ورنکړې...
فرهاد- په سترګو.

ټول روان شولو ثنا هم له خپلې لور سره له بلې کوټې څخه راووته، ما يې لور ترينه واخيسته تر څو په آرامه بوټونه په پښو کړي، زه، نسترين، ثنا او د ثنا لور موټر ته پورته شولو او د صبا په انتظار وم چې سديس غږ کړ: ځو لخيره پوره شولو!
ما چې خبرې ته خوله جوړوله چې صبا ته انتظار يم ومې کتل چې صبا د سديس د موټر دروازه ځان پسې بنده کړه.
فرشاد د خپل موټر له ښيښې سر راوويسته او وې ويل: فرهاد لالا مخکې شه!
فرهاد- اول حق ستاسو ده، بهتره به دا وي چې زه ستا په تعقيب در شم.
چې په دې وخت کې د نسترين غږ پورته شو: نه بايد هغوی ته اجازه ورنکړو چې له مونږ څخه مخکې شي.

فرهاد- معلوم داره خبره ده چې چيرته ته ځو او بله د ثنا لور هم موټر کې ده ډېر سرعت به ښه نه وي.
نسترن- اوففففففف فرهاد لالا.
مونږ کې يوازې دوه موټره ول چې د سندرو غږوته ترينه راوتل زمونږ موټر کې چوپه چوپتيا خپره و، ثنا له خپلې لور سره مصروفه و او زه هم له موټرواني سره، يوازې زمونږ منځ کې نسترين و چې زړه يې غوښتل چې د هغوی منځ کې وای او له مونږ سره په راتګ پښيمانه ښکاره کېده.تقريباً له نيم ساعت مزل وروسته موټرونه په کارته چهار کې د يوې آيسکريم خانې تر څنګ ودريدل.

مونږ هم ودريدو ما ثنا او نسترين د سديس په لور رهنمايي کړل. له موټره چې ښکته شوم پر صبا مې سترګې ولګېدې چې لا هم موټر کې ناسته و. د سديس د موټر پر لور ور روان شوم او سديس ته مې وويل: څه شوي؟
سديس- هيڅ هم نه، ولې؟
فرهاد- په صبا څه شوي؟
سديس- د سبا پوښتنه مکوه په راتګ پښيمانه ده.
فرهاد- ولې؟
سديس- د وريندارې دې په موټر کې زړه بد بد شو او څه چې يې خوړلي و ټول يې پر صبا ور توی کړل او کالي يې خراب شول.

د سديس د خبرو له خلاصيدو وروسته مې د صبا پر لور حرکت کړ او صبا ته مې وويل: ښه يې؟
صبا له دې پرته چې زما ځواب راکړي د موټر ښيښه يې پورته کړه، د صبا دې حرکت خفه کړم او د موټر ښيښه مې ور وډبوله، چې صبا خپل سر وښواره او وې ويل: څه دي؟
د صبا دې حرکت هيڅ خوند رانکړ دا منم چې د صبا حاضر ځوابي را باندې بده نه لګيده خو دا عمل يې ډېر بد را باندې ولګيده، او ورته ومې ويل: غواړې کورته لاړ شو؟ د کاکا صمد د موټر پر لور لاړه شه.
صبا- ټکری نه لرم؟

فرهاد- مهمه نه ده.
صبا- کالي مې لامده دي.
فرهاد- مهمه نده، که غواړې چې زه دې بوځم؟
صبا پرته د ځواب راکولو څخه له موټر څخه ښکته شوه او د کاکا صمد د موټر پر لور روانه شوه. ما سديس ته وويل: تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړ شئ، زه سبا کورته بیایم.
سدیس- صبر وکړئ تاسو ته مې دلته آیسکریم راوغوښت.
فرهاد- څه ووایم چې په دې حالت کې یې وخوري! چې کورته لاړه شي ښه به وي.
سدیس- صحیح ده.

د موټر ښیښه مې پورته کړه چې صبا مخالفت ښکاره کړ او وې ویل: پرېږده چې ښیښه ښکته وي، بوی به مې هم نه په عذابوي.
فرهاد- په موټر کې دومره هم بد بوی نه ده!
په جیب کې د عطر په لټیدو شوم تر څو صبا ته یې ورکړم چې حالت یې ښه شي. له نیکمرغه مې عطر پیدا کړل او د سبا پر لور مې ونیول.
فرهاد- دا عطره واخله او وروسته دې لاسونه ضد عفوني کړه چې حالت دې لږ ښه شي.
صبا- دا له کومه شول؟
فرهاد- دا هم د ډاکټري له برکته چې شتون لري.
صبا- واقعاً! او عطر هم؟

فرهاد- زما مطلب ضد عفوني و، عطر زما شخصي ذوق ده او هر کله چې عطر اخلم نو نمونه یې ځان سره ساتم.
صبا- د مخکې رفتار څخه مې اوبښه مګر زما حالت(خپلو کالیو ته یې اشاره و او وې ویل: ښه نه وو...

امهممممم بدبخت صبا یعنی په دی ټول موټر کی باید ستا غیرِ د کانګو لپاره پیدا شوی وایی؟ 🤢🤮؛او عجب تکره ډاکتر دی جیب کی ضدعفونی او عطرونه ساتی بح بح😳😁 تراوسه خو دواړه ورونه ددی صبا جووو بسی دی خو د صبا لخوا یوه ته هم کوم مثبت اشاره نده شوی 🧐 ستاسو په نظر څه به وشي؟

#جهنمي مينه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#څلور برخه.
🖤________________
بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرحمٰنْ اَاَاَلرحِيم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

فرهاد- زما مطلب ضد عفوني و، عطر زما شخصي ذوق ده او هر کله چې عطر اخلم نو نمونه یې ځان سره ساتم.
صبا- د مخکې رفتار څخه مې اوبښه مګر زما حالت(خپلو کالیو ته یې اشاره و او وې ویل: ښه نه وو...

#اوس نوې برخه...

فرهاد - آرامه اوسه زه مشکل نلرم، که غواړې چیرته به لاړ شو او کالي به واخلو؟
صبا- نااا، څو کور ته له اوله مې راتلو ته زړه نه کېده.
فرهاد- زړه دې، مګر ما ویل چې بیرته کورته څو نو تا به موټر چلولی وای!
د صبا سترګې روښانه شوې او وې ویل: آیا اجازه را کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد - ډېر نه، په هغه ځای کې اجازه در کوم چې ډېر رش نه وي.
باور مې نه کېده چې داسې ښکلې وخت تیروم چې موټر کې مې صبا تر څنګ ناسته ده تر دې چې دا خبره مې ذهن کې هم نشو تصور کولای، نه پوهېږم چې کله مې زړه له صبا سره لګېده خو د ټنا له واده ورسته د صبا غوښتونکی وم، تر دې چې د ټنا د واده څخه تقریباً دوه کاله او درې میاشتې تیر شوی مګر داسې صحنه نه ده تیره شوه چې ذهن ته مې صبا نه راتله، مګر نن شپه چې الله تعالی خپلې هیلې ته رسولی یم تر دې چې په خوب کې مې هم نه لیدله.

صبا.....

د فرهاد د خبرې وروسته چې د موټر چله ولو لپاره یې اجازه راکړل، هر دقه په تمه وم چې را غږ کړې ترڅو د هغه لځایه موټر وچله وم خو کور ته ورسیدو خو هغه را غږ نه کړو! زړه نا زړه وم چې ورته ووایم او کنه؟ دوه درې ځله مې د موټر له هینداری څخه ورته وکتل او خوله مې خبرو ته جوړه کړل خو جرعت مې نه کاوه چې ورته ووایم، شاید ددې کبله چې زموږ د عمر تفاوت او فاصله زیات وه او زه تل له هغه څخه ډاریدم او یو شانتې د تاثیر لاندې تلم.. دریم ځل مې یو څه زیات وروکتل داسې چې هغه خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: څه شوی؟

صبا- ه.... هغه... کور ... کورته ورسیدو... خو....
فرهاد- خو څه؟ بل ځای تلو؟
صبا- نه ... خو ....
فرهاد- نو څه.....؟ اها .... تشویش مه کوه یاد مې دی چې څه قول مې درکړې وو، خو اوس نکیږی دلته عمومی سړک دې او بیروبار زیاد دی..
په غمجن لهجه مې وویل: نو بیا ولې دې وویل چې د موټر چله ولو نمبر راکوی؟
فرهاد- ځو د پارک خوا ته هلته په دی وخت کې څوک نشته هلته موټر درکوم وچله وه.
صبا- رښتیا؟
فرهاد- هو.

فرهاد.......

زړه مې غوښت دا شپه هېڅکله پای ته ونه رسېږي زه او صبا اوسېږ او یو نه ختم کېدونکې سړک....
صبا- اجازه شته؟
د صبا په غږ پر خود شوم، او تازه مې فکر شو چې موټر مې دره ولط وو ترحو صبا راشی موټر وانې ته خو زه هسی په فکرونو کې ډوب شوې وم، د موټر څخه ښکته شوم او صبا په خوشحالۍ موټر روښانه کړو د څو کوڅو او سړکونو څخه تیره شوه، په لاره کې په مختلفو بهانو سره مې د هغې خوا ته کتل او خبرې مې ورسره کول د موټر په ودریدو تازه مې فکر شو چې د کاکا کور ته راورسیدو د ښکته کېدو حال کې صبا وویل:

— ټول لار په تمه ویې چې زه کوم حادثه او ټکر وکړم؟ خو وګوره زما موټروانې دومره ښه ده.
د هغې پدې خبره مې ځان سره وویل: چې ستا څنګ کې مړه کېدل هم خوند لرې.. خو صبا ته مې په کراره لهجه وویل: د رښتیا هم موټروانې دې ښه وه.
صبا- مننه زما طبعیت هم ښه شو ستاسو په دی کار.
فرهاد- هیله کوم ورې یې نده.

زموږ د رسېدلو لس دقیقې وروسته فرشاد دوې هم راورسیدل او سدیس لدې چې صبا مې تر کوره راوړل راڅخه مننه وکړل، او ټول د خوب د ځای پسې په ګرځېدو شو ترڅو سبا وخت د ختم لپاره راپاسېږو. ټول شپه مې د صبا اخیرې خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته فکر وکړو چې ویلې وه: مننه زما طبعیت دې ښه کړو. ما د هغې طبعیت او حال ښه کړو خو زما حال ولې خراب دی؟
ولې د هغې په هر ځل لیدل داسې بې واق کېږم ولې د هغې په لیدو د ماشومانو پشان احساساتې کېږم؟

اصیلا.....

د دې څخه وروسته چې د قرآن کریم ختم خلاص شو ټول یوه خوا پکار لګیا وه، د سهار څخه چې صبا مې نه وه لېدلې یا هم شاید وه خو د ډېرو کسانو مینځ کې ما ته نه ښکاره کېده، غوښتل مې چاې میلمنو ته ورکړم چې صبا پتنوس په لاس سالون ته راننوتل..

محبوبه- ماشالله د مجلسونو ښایست ځوانان او پیغلې دي.
اصیلا- بې له شک.
محبوبه- لخیر سره راروان کال د الطاف جان د کوژدې دسمال راوړې او داسې مو راټول کړې.
اصیلا-ان شاءالله زدکړې خلاصی شي او بیرته راشی ضرور واده ورته کوم، خو د الطاف جان څخه مخکې د فرهاد جان محفل وګورو،اول حق د فرهاد جان دی.
محبوبه- ان شاءالله خور جانۍ خو چې هغه بیکار شې او واده ته وخت پېدا کړی،هر کله چې د واده په اړه یې خبری کو هغه تښتې..

کریمه- ولا زه د سعید جان لومړې ښځه یم، نو اول حق زما د اولادونو دې چې واده وکړې او خپله ناوی راوړی اول زه خپل فرشاد جان ته ښځه وکړم بیا د فرهاد نمبر دی.
محبوبه- هر څه کې چې دی اولادونو خیر وی.
اصیلا— هر چاته د هغه قسمت،خدای ښه پوهیږی په خپل کارو باندی.

دا چې کریمه د سعید اولینې ښځه ده،ټول پوهیږی،مګر دا چې هغه تل محبوبه ته سپکاوی کوي حتی د ډېرې زړه هم درد ورباند کوي،دیش کالو ته به رسیږی چې محبوبه د کریمی خبری زغمې،چې تراوسه پوری یو بد لفظ(خبره)هغه مخی ته نه ده کړی،واقعاً ډیره صبرناکه ښځه ده.

فرشاد ......

ټول په خپلو کارونو بوخت و بغیر له ما چې  پتمه وم چې صبا څه کار کوی چې هغې سره مرسته وکړم،چې سدیس چې بیا خپل ځان څخه یې د تحقیق کمیټې مشر جوړ کړی وو،او په هر کار کې کار وو او ګام په ګام یې زه تعقیب کولم..
فرشاد- ته خپله کار نه لری؟؟
سدیس- لرم کار مګر ته یې لیدلی نشې؟؟
فرشاد-  کومه دی کار دی؟؟
سدیس- ستا جاسوسې.. حتما سعید ماما ته وایم..
فرشاد- څه ورته وایې..؟ لاس دی خلاص.
سدیس- دا چې ته د هغه د وریری پسی یې...

فرشادچ- هی هی چوب شه اوس به څوک واوری..
سدیس په تیزه اواز وویل: زه لاړ سعید ماما پسی..
غوښتل مې چې منډه کړم ورپسی چې مور مې مانع شوه،او ویې ویل: زړه می خوشحاله دی چې زوی مې لوې شوی دی چې ښځه ورته وکړم،او ته همغه ماشومتوب دوری څخه نه یې وتلی..؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونه مې د مور نه راتاو کړ،او په مخ مې مچی کړه،اوس مې باور وشو چې رشتیا هم مورګانې د اولاد له زړونو خبر لری..
مور- بس بس اوس چالاکی مه کوو پریږده چې لاړه شم...
فرشاد- پریږدم دی چې لاړه شې مور جانې،خو خبره دی له یاده ونه وځی...
مور- توبه توبه.....

زړه مې د مور په خبرو خوشحاله شو تر کوره لس ځل د مور څخه قربان او صدقه شوم، نرخو خپل خبره هیره نکړې. فرهاد لالا سمین خور کور ته رسه ول او بیا د پلار پسی تلو ترخو کور ته یې راوړې، پلار نن شپه غوښتل یو څو ساعت زیات د انا سره پاتې شی محبوب مور( د فرهاد مور د فرشاد میره) هغه زموږ سره راغله او دا چې ما ټول لاره مور ته مې ویل چې خپل خبره هیره نکړه هغه لږ مشکوک شول او پوښتنه یې وکړل چې څه خبره ده؟

فرشاد- څه ووایم محبوبې مورې... وخت یې را رسېدلې چې زوم شم..
محبوبه- پخیر.... پخیر ... مبارک دې وی. لخیره..
فرشاد- خدای مهربان دې چې زما د واده وروسته فرهاد لالا هم د واده کولو پریکړه وکړې؟
محبوبه- ان شاءالله زویه...

امهمممم وای وای سعید جووو مو دوه دانې شزی کړی او دا فرهاد و فرشاد ناسکه ورونه دی او دواړه په یو انجلی عاشقان دی😱 او اوس فرشاد زیات تلوار نفر دی خلک یی بیخی مرکی ته لا اماده کړه بدبخت فرهاد😕
هسی د فرشاد مور خاله کریمه هم سخت شیشکه شزه ده🙄😒

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#پنځم برخه.
___________🖤
بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرحمٰن اَاَاَلرحیم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

فرشاد- خدای مهربان دې چې زما د واده وروسته فرهاد لالا هم د واده کولو پریکړه وکړې؟
محبوبه- ان شاءالله زویه...

#اوس نوې برخه...

کریمه: فرهاد پوهیږې چې باید لومړې واده ونکړې ځکه اول باید زما زوی واده وکړې ځکه زه د سعید اولی ښځه یم او زما ماشومان د اول واده حق لرې.
فرشاد- داسې مه وایه مورې که خبره حق او حقوقو ته ورسیږی نو فرهاد لالا د اول واده حق لرې ځکه مشر دې زما څخه.
کریمه- خو زه د محبوبې څخه مشره یم اول ناوې باید زه راوړم.
محبوبه- ما ته فرشاد او فرهاد دواړه یو شانتې دې او هېڅ راته فرق نکوې چې اول کوم زوې مې واده کوې، هر چا چې واده وکړو خوابنې کیږم زه.

فرشاد- ای زه قربان خپل د مهربان مورګانو څخه شم اوس دا ووایست چې کله ځې مرکې ته؟
فرح- فرشاد لالا لکه چې یو جنۍ مو په نظر کېده او خوښه شوې مو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- ماشومان د مشرانو خبرو کې خبره نکوي.
فرح- عه فرشاد لالا ووایست کنه ستاسو د پوهنتون صنفې ملکرى ده ایا؟
فرشاد- و مې ویل کنه خبرې مه کوه.
فرح- افففف
فرشاد- اف او چوف زیات مه کوه یو دوه ورځې وروسته چې خپل ګرانې میندې مرکې ته ویسم بیا پوهیږې چې سوک یاده وم.

محبوبه- نیک کار کې ځنډ نه کو همدا چې آدرس دې راکړو پر سبا یې د جنۍ کور ته مرکه ورځو.
کریمه- ان شاءالله.... ان شاءالله....

صبا .....

— خورې څه کېږى دا ګیلاسونو سهار پریمنځو؟ نن د زیات کار کولو له لاسه مې نفس بند شو.
ثنا- ورځه وېده شه خور جانې زه خپل دا پاتې ګیلاسونه مینځم.
صبا- ته هم لاړه شه ویده شه زه قول درکوم سهار وخت پاسېږم او دا پاتى لوښې ووینځم.
ثنا- ما ته خوب نه راځې ته ورځه وېده شه.. او هو زه ولاړه یم چې سعید کاکا لاړشې بده خبره ده هغه ناست دې او موږ ټول لاړشو ویده شو، هغه یواځې پاتې کېږى.
صبا- زړه دې نو ما خو درته وویل...

دا خبره مې وکړل او خپل د کوټې خوا ته روانه شوم چې لارى نیم کې مې د پلار او سعید کاکا غږ واوریده چې خپل د ځوانې او ماشومتوب کیسې کول، کرار د کوټې خوا ته نږدې شوم او دواړه مې ولیدل چې بابا یو خوا او سعید د انا جانې بلخوا ناست دې او په خبرو لګیا دې، ربښتیا هم انسان هر سومره غټ شې بیا هم مور ته اړتیا لرى کوټه ته داخل نشوم ترڅو د هغوى مجلس خراب نشى او په کرار خپل د مور د کوټې خوا ته روان شوم، د هغوې په لیدو ما هم خپل د مور غیږه غوښته..

کوټې ته چې ننوتلم ادى مې د ماسخوتن پر لمانځه ولیده، یو څو دقیقى مې ورته وکتل او د هغې په درلودو مې شکر وباسه بیا د دویم منزل خوا ته روان شوم، چې د کور دروازه وټکیده..
ثنا- شاید فرهاد یا هم فرشاد اوسیږى او د سعید کاکا پسى راغلې وى، صباا چیرته یې؟ دروازه خلاصه کړه.
صبا- همدلته یم خورى خو زه حوصله نلرم خپل دروازه خلاصه کړه.
د ثنا غږ پداسى حال کې چې زما څخه لرى کیدو ویې ویل: اسرا نارامه ده هغې ته شیدى ورکوم لاس مې بند دې دروازه خلاصه کړه.
صبا- افففف سمده لاړم.

فرهاد....

دا ورځو کې خداى بیحد پر ما مهربان شوې وو ځکه هر ځل چې د صمد کاکا کور ته راتلم نو هغه هوسې مانند ښایسته یار دیدار مې نصیب کېدو.
صبا- سلام.
فرهاد- علیکم سلام سترې مشې.
صبا- مننه خیر ویسې راځې دننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- نه مننه دننه نه درځم کولې شې پلار ته مې غږ کړې چې راشې نور ناوخته ده.
صبا- کاکا جان د انا جانې کوټه کېدې.

زړه نا زړه سالون ته داخل شم و د صبا څخه مې غوښتل چې پلار ته مې ووايې چې زه راغلې يم خو هغې کرار وويل: هغه کوټه کې کاکا جان او بابا مې دې مور مې مونځ کوې او د ثنا لور زاړی زه هم لږ کار لرم نو تاسو خپل ورته ووايست، بيا هم وبخښې.
فرهاد- مشکل نشته مننه..

صبا بغير لدې چې کوم بله خبره وکړې خپل د کوټې خوا ته روانه شوه، زه هم بو څو دقيقې د سالون مينځ کې ولاړ وم بيا کرار کرار د انا جانې کوټې خوا ته مې حرکت وکړو، بغير له کوم شور ماشور څخه مې د کوټې دروازه خلاصه کړه چې بابا او صمد کاکا مې د انا جانې دواړو خوا ته کېناستلې وليدل چې خپل د ماشومتوب کيسې کول، کوم کيسه به چې بابا شروع کړل صمد کاکا به خلاصه کړه او کوم به چې صمد کاکا شروع کړل بابا به تر اخيره کول، زړه مې غوښت ټول شپه هلته و دريږم او د هغوی کيسو ته غوږ شم نه پوهيږم خو ناساپه مې زړه وويل:

— ای کاش يوه ورځ زه صبا دې حال کې وګورم چې مورږ دواړه ناست اوسيږو او خپل اولادونو او ملسيانو ته خپل د ځوانې کيسی وکړو. د يار ليدل په سپين سر توب کې هغه هم ځانته جلا خوند لري.. بابا او صمد کاکا د ورونو څخه زيات د دوه ملګرو پشان وه، ما او فرشاد هم يو پر بل ګران وو او ملګری وو خو دومره نه سومره چې دا دوه ورونه دې، شايد د دې لپاره چې زما او د فرشاد مورګانې بيلې دې مورږ دواړه دومره صميمی نه يو، يو دبل سره...

کرار مط دروازه وټکول پلار مې چې زه وليدم لځايه پاسيده د هغه د پاسيدلو سره صمد کاکا هم لځايه پاسيده، د صمد کاکا د موټر کيلياني مې ورکړل او مننه مې ورڅخه وکړل چې دا دوه ورځې خپل موټر ما ته راکړې وو.
صمد کاکا- ور يې نده زوې که اوس دې هم پکار وې ويسه..
فرهاد- نه مننه کاکا امين دې ژوندې وی هغه نن زما موټر راوړو.
صمد کاکا- ښه نو بيا سمده.
صمد کاکا او انا جانې سره مو خداې پامانې وکړو او د کور خوا ته روان شو...

فرهاد دوه ورځې وروسته د دوه مياشتني سيمينار دپاره هند ته روان شو فرشاد هم خپل په درس او د پلار سره په کار کولو بوخت شو، خو په دې مينځ کې يې خپل د مور سره د واده خبرې کولې، خو عجيبه لا دا چې ده هيڅ وخت هم د صبا نوم نه اخيست هغه په زړه کې پټه ساتلې وه شايد غوښتل يې خپل زړه د صبا د خوا څخه ډاډه کړي.د صبا چې دا څو ورځې کيږي زده کړي يې شروع شوي وه تر پخوا هم لږه ښکاريده که څه هم لورږ پوهنتون ته يې لاره نه وه پيدا کړې خو د همدې انستيتوت په زده کړو کې يې ښه زحمت ايسته او تر پايه يې خپل کوښښ کاوه چې تل بريالې اوسي.

سهار نو خپل هغه نرمه ورمه نه لري، شپې هم تر پخوا ډيرې سړې شوي دي ، عمر هم تر روانو اوبو چټک روان دی، تر څو سترګه پټوې اونۍ په مياشت او مياشت کال بدل شوی وي، دا چې اوړی څنګه ژر تېر شو او ژمی راغی دا به د موسم په غاړه پرېږدم خو دا عمر او ژوند چې ستا سره لوبې راخلې او داسې خپل تمثيلي ټوټه درباندې عملي کوي چې تا خپله خپل په ذات کې غرقوي دا پړه به د چا پر غاړه پرېږدم.

کله ډېر نرم او کله ډېر سخت، د تقدير د نوم نه وډارېږم او دا ډار زما لاسونه د ليکلو په وخت په لړزېدو کوي او دې ته مې مجبور کوي ددې ژوند حقيقتونه نا مکمل وليکم. ټوله کورنې په يو ډول د يو بل په ژوند کې سره راګير او سرګردانه وه څلور خوېندې او ورونه په هر حالت يوبل سره ولاړه او د يو بل وياړ وه خو ايا تر اوسه کومه کورنې د شر او فتنې نه خلاصه وه چې دا به يې دويمه شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی دا کلک دیوال به څومره دوام وکړي؟! دردونه به تر څه وخته ناویلي پاته شي.ددوی ټولو پای به څه وي، څو کلني کیني چې ددوی په زړونو کې دفن وي څه ورځې به راولي، مشترکه غوښتني به څه تعبیرونه منځ ته راوړي؟ درلودل چې نه درلودل به منځ ته راوړي، ټپونه چې ناسور کیږي او هغه ټول رازونه چې عشق او عاشق به په کوم دورځ کې وسوزوي.

فرهاد او فرشاد دوه ورونه چې هېڅ وخت هم یو بل سره برابر ندي کوم یو به هغه بل نه لوړ وی. نیوهېږم خو هو ویلای شم چې تقدیر ددوی دواړو هلکانو سره ډېره لوبه وکړه ددې سره چې ورونه وه خو بیا هم هېڅ یو مشترک اړخ نلري یو بل سره غیر له عشق نه چې ددوی موازي لارې یو بل سره ټکروي، دوه ورورنه چې ددو جلا مېندو او اوه کلني توپیر سره وه یوه ورځ به په یوه لاره او یوه هدف پر وړاندې ولاړ وي. او دا ظالم بخت هېڅ وخت د قرباني اخیستلو څخه موړ شوی ندی او ټول ښه او بد د ځان سره وړي.

امهمممم ستاسو په نظر به سه وشي؟ او صبا به د چا په قسمت کې ویی؟ هسی فرشاد ماته چالاک معلومیژی فرهاد یو څه ساده او بیغم باش دی😕

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#شپږم برخه.
________________🖤
بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

#د تبرې برخې وروستې لفظونه...

اوه کلني توپیر سره وه یوه ورځ به په یوه لاره او یوه هدف پر وړاندې ولاړ وي. او دا ظالم بخت هېڅ وخت د قرباني اخیستلو څخه موړ شوی ندی او  ټول ښه او بد د ځان سره وړي.

#اوس نوې برخه...

فرهاد .....

عاطفه او مینه هغه دوه نعمتونه دي د مور د برکته زما په ذات کې دي زه خپل د مور لومړی زوی او ښه همراز وم، د ټولو مېندو شه همراز د هغوی لونې وي خو سره له دې چې زه هلک وم خپل د مور بهترین راز داره وم او د هغې په خبره د هغې د ژوند لومړنی او اخرنی ستون وم. خپل د مور او پلار دپاره ښه زوی خپل د خوېندو او ورونو دپاره ښه مشر ورور او خپل ملګرو دپاره ښه همدم ثابت شوی وم.
خو دې مینځ کې دا چې فرهاد څوک دی هېر کړی مې وو، فرهاد څه غوښتني لري تل دا چې د ژوند په لومړي توبونو کې مې نور وه خپل ځانه ته مې وخت نه درلود ان چې کوم ځای کې اوس یم زما نه نورو غوښتنه وه.

ما خپل ماشومتوب خپل زړه کې قید کړې چې هره ورځ د ازادۍ ناره وهي، ما خپل ځواني قتل کړه او ددې دنیا په کونج کې مې خاورو ته وسپارل او خپل بې روح جسم مې ژوند کولو ته مجبور کړی وو. یو وخت وو چې د ژوند څخه مې شکایت نه درلود ځکه زما په زړه روان وو بې قید او بې غمه.

خو دا دوه کلنو په ما چې څه کاني ونکړې، ارامش یې راڅخه یووړ، د زړه درزا مې ډېره شوه، ما چې کله صبا ولیدل د ځوانی ګل  مې وغوړېده، زما زړه هم په درزا پیل وکړ او د زړه نه مې یو اواز راغی چې یوازیتوب او لویې یوازې د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ښه ښکاري، زه هغه مړاوی ګل یم چې زما د ازادی بلبل یوازې صبا ده او هغه خپل د نوم غوندې زما په ژوند د رڼا راوستونکې وه.
زه هغه دښته یم چې باران یې صبا ده، صبا...صبا... او بس صبا...
دې سره چې دا دوه کاله کې داسې شپه نه وه چې هغې ته فکر ونکړم خو هیڅ وخت مې هغې ته د ویلو جرئت ونکړ.

صبا.....

دو ساعته کې مې کتاب ښکته او پورته کړ ایله چې دوه درې جملې مې ځیني زده کړې نپوهیږم دا نور څومره شه درس لولې او حتی ورور مې یو وار کتاب ته وګوري ټول یې یادې وې.

شاید زما د تنبلی لامل همدا لعنتی مبایل وي هره ورځ سندرې فیسبوک او نورې اجتماعی پاڼې چې پکې غرقه غرقه یم.
مبایل لرې ځان نه لرې کېښود او ومې ویل تر دوساعته پورې نور لاس نه وروړم تر څو خپل درس مې نه یې ویلی.
سر مې کتاب ته شکته کړ یو څو شېبې به زما درس ویلو تېرې شوي وې چې د مبایل د مسیج د راتلو اواز راغی مبایل ته مې وکتل خو بیرته مې خپل کړې وعده یاده شوه او بیرته مې سر کتاب ته ښکته کړ دوه پاڼې مې وویل چې بیا هم د مبایل د مسیجونو اواز پورته شو ... ای خدایه دا مبایل هم بیخي بغل بویه عادت شوی چې په ځمکه پورت وي اواز یې پورته شي.

مبایل مې راواخیست درې مسیجونه مې د خور وه، پلان وو چې هغې سره بازار ته لاړه شم او داخبره  زما بیخي د هېره تللې وه او نور مسیجونه د کومې شمېرې وه نپوهېږم نه مې پیژنده.
—سلام.
—هلو سلام.. صبا....

دا چې زما نوم یې اخیستی وو پوهه شوم چې کوم شناخته دی، ځواب ته مې سلام ولیکه او ثنا ته مې هم ځواب ورکړ چې رادې شي زه تیاره کیږم .. مبایل مې مېز باندې کېښود د مبایل پاڼه لا نه وه قفل شوې چې مسیج راغی ...
— ښه یې؟
—مننه تاسې؟
— زه هم ښه یم.
— تاسې؟
— ښه یم مننه.
— مطلب مې له تاسې نه دادی چې ومې نه پیژندې.
—رښتیا؟
— هو.

— د ښاغلي صمد زوم یم.
— حسیب لالا ته یې مبارک نوې شمېره دی اخیستې.
— نه زه د کاکا صمد دویم زوم یم.

اخری مسیج ته چورت یوړم او بې ځوابه پاتې وم ما فکر کوو حسیب لالا ما په عذابوي خو که دا بل مزاحم وی څه؟ خور زنګ راغی او زه تلو ته تیاره شوم په لاره کې مې مبایل بې اوازه کړ نپوهیږم کوم ډار مې زړه کې کښېنستلی وو چې د هغه د بر ملا کېدو ویره مې درلوده که څه هم ما هغه شمېرې ته کومه بده خبرع نه وه کړې او نپوهیدم چې څوک مې ازاروي یا واقعی مزاحم دی ډېر غټ ډار مې زړه کې لویدلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد.....

د هر چا نه مخکې مې غوښتل صبا سره خبرې وکړم او دهغې نظر خپل په اړه واخلم شاید غرور مې اجازه نه راکول چې هغه دې ماته د رد ځواب راکړي. دوه اونۍ مې کوشش وکړ چې په يو ډل صبا سره خبرې وکړم خو هيڅ داسې موضوع نه وه چې د خبرو سر کېږدم سره له دې چې مورې ټولو ژوند يوبل پورې ترلی وو او ډېر صميميت مو درلود خو هيڅ وخت په مبايل کې مو خبرې نه وې.کړې شايد هيڅ ضرورت نه وو پيښ شوی.او دا چې د واده خبره مې مور او محبوبې مور ته کړې هره ورځ يې د نجلۍ د نوم پوښتنه کوله بايد مې خپل خوښه کړې نجلۍ ورته معرفی کړې وای او بلاخره مې کوښښ وکړ صبا ته پيغام پرېږدم وګورم شايد ځواب راکړي...

د پيغام کولو نه يې پوه شوم چې يا خو يې شمېره نه ده پېژندلې يا هم خپل ځان ناګاره اچوي خو دا ښه بانه وه د هغې د ازارولو دپاره ..او بيا زما اخرين مسيج چې ويلي مې وه د کاکا صمد زوم بې ځوابه وو ځواب يې نه وو راکړی
– څه شوې ورې ؟ خپل د پلار د زوم سره بد سلوک کوې؟
دوه دقيقې د تايپ کولو په حال کې وه خو پيغام يې ونه ليږه..
–بلا ګکې څنګه چې ستا ژبه بنده پاتې ده؟
بيا يې هم پيغام وليد خو ځواب يې رانکړ .. دا وار مې ورته وليکل چې د خبرو جرئت نلرې نو ولې دې ګوتې ستړې کوې چې پيغام ليکې او بيا يې پاکوې ..

صبا .....

ټوله لار مې چورتونه وهل او دا چې فکر مې کوه لالا حسيب دی پشيمانه وم او داړېدم چې دا به څوک وي او دومداره پيغامونو نه يې دا راته ښکاره کول چې ملګري مې زما د ازارولو کوښښ کوی او دا چې دوامداره زنګوه يې وهل په تشويش شوم. څو ليکې بد رد مې ورته وليکل چې ورته يې ولېږم خو بيرته مې پاک کړل او کومه ارتيا مې ونه ليدل چې ځواب ورکړم او ښه جواب ددې بې عقله بلاکيدل وو.

فرشاد- کله چې زما سره د خبرو کولو جرئت نه لرې ولې خپل ګوتې ستړې کوې پيغام ليکې او نه رااستوې ..

نه نو شايد کوم څوک مې تعقيبوي.
صباـ زه د ځواب درکولو وخت نه لرم که ځان معرفی کوې ښه ګنې بلاکوم دې.
فرشاد ـ دروغ مه وايه تا پيغام وليکه ما وليدې.
صباـ نه مې دی ليکلی او ما تاسو د کوم بل چا سره غلط کړی الله حافظ.
فرشاد ـ نجلۍ جانې ته زما سره مسيج کوې او هلته ستا تايپ کول ښکارې ماته او که وغواړم ستا مخ هم ليدلای شم.

اوففف خدايه زه ولې هغه ته متوجې نه شوم .. مبايل مې بند کړ او موټر کې مې کېښود. د ثنا سره مې اسرا ته شيان واخيستل او ثنا هم ځان ته يوه جوړه ښايسته جامې واخيستې زما هم زړه شو چې ځان ته  جامې واخلم دو ساعته نو مو هم بازار کې تېر کړل حسيب لالا چې مورې يې ښار ته رسولي وو بيرته خپل ته کار ته لاړ او ددې خوا زه او ثنا تکسی کې کور ته راغلو.
صبا ـ خورې څه نظر لرې چې پلار ته زنګ ووهو!
ثنا ـ د څه د پاره؟

امهمممم عجب مضر او چالاک فرشاد دی😒

(c) ketabton.com: The Digital Library

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#اوم برخه.
🖤________________
بِسمِ أاألّلَهِٔ أاألّرحَمٓنْ أاألّرحِیَم

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

صبا ـ خورې څه نظر لرې چې پلار ته زنګ ووهو!
ثنا ـ د څه د پاره؟

#اوس نوې برخه...

صبا۔ چې راتلی د ځان سره د هوټله پاخه خواړه راوړي زه خو ستړې یم د اشپزی حوصله نه لرم.
ثنا ـ تا لېه که هر څوک وکړي کور یې خراب دی. نه صبر وکړه حسیب ته وایم چې یو څه راوړي.
صبا۔ ګوره ته هم لېه یې خور جانې ها ها ها ....
ثنا ـ ماشاءالله په خبرو کې خو بنده نه راځې....

ثنا......

حسیب څلور بجې ډوډۍ راوړه او زما څخه یې وغوښتل زر لاړ شو ځکه اسراء مو د ترور او اناجانې سره پرې اېښې وه او نارامې یې کوله ډوډۍ مې د پخلنځې پر میز کېښوده او مور ته مې وویل چې صبا ویښه شي ډوډۍ دې ورکړې هغه چې کور ته راغله جامې لا تبدیله نکړې همداسې ویده شوه، څه پوهېږم ډېره ستړې شوه که یې نازونه کول. مور نه مې خدای پاماني واخیست د صبا سودا مې ورته پرېښوده خپل سودا مې حسیب ته ورکړه تر څو موټر کې یې کښېږدي دومره ستړې وم چې د تلو توان مې نه درلود همدا چې کور ته ورسېدم حسیب ته مې وویل د سودا کڅوړې دې راواخلي.

زړه کې مې وویل صبا حق درلود چې ویده شوه زه هم ډېره ستړې شوې یم بخت مو زورور وو تر څو موږ راتلو اسراء هم ویده شوې وه زه سېده اطاق ته لاړم او ویده شوم.
حسیب کڅوړې لوړه راوړې مننه مې ترې وکړه.
حسیب ـ په یو مننه خو نه خلاصېږې
ثنا۔ ولې نو؟
حسیب ـ ولې چې د جامو د راوړلو د زحمت سره د مبایل زحمت مې هم وایسته.
ثنا۔ خو زما مبایل دادی زما سره دی.
حسیب ـ نو دا د چا دی؟

په لږ لوړ اواز مې وویل: زما سره خو دوکه او خیانت خو نکوی؟
حسیب ـ هو خو نجونو سره ګرځم تولو ته ستا غوندې مبایل اخلم او بیا خپل د لور عکس د مبایل پر صفحې ورته ایږدم توبه...ثنا ته تل ولی منفی فکرونه کوی؟
په خندا مې وویل: توبه توبه... حسیب ته مې قربان شم چې داسې ژر غوسه کیږي مه خپه کېږه ټوکې مې کولې، زما موبایل خو ندی نو ضرور د صبا مبایل دی حتمن.
حسیب ـ خو وختې به دې ویلي وو چې ورکړی مو وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثنا ـ څه وخت مې ویلي وای ګرانه زه خو خبره نه وم.
حسیب مبایل لاس کې راکړ وې ویل: اوس نو نخرې مکوه لس دقې مخکې خو خاین او بیا ګران شوم.

ثنا ـ ګوره په ټوکو هم نه پوهېږې بیا ونه وایې چې خبرې نه راسره کوې.
حسیب ـ بس بس تاسې ښځې همدا فکر کوی چې نران خیانت کوی.او هو ته یا صبا خپل د مبایل د صفحې عکس تبدیله کړی د جامو څخه نیولې د مبایل تر پوښه پورې شیان مو یو ډول دي دا بس نه چې مبایل کې یو عکس هم ایږدئ.
ثنا ـ ان د مبایل پاسورډونه مو یو دی ښاغلی
حسیب ـ نه نو ....
ثنا ـ هو نو حسود خانه شرط تړې؟
حسیب ـ نه نه زه تسلیم یم تاسې خوېندې هر څه کولای شئ شاید یو هم وي.

حسیب دا خبره وکړه او لاړ تر څو خپل جامې تبدیله کړي .غوښتل مې د صبا مبایل بند کړم او سبا ته یې ورکړم چې یوویشت بې څوابه زنګونو ته متوجه شوم ګمان مې وکړ صبا ددې په خاطر چې مبایل پیدا کړي زنګ وهلی ، غوښتل مې زړه یې ټول کړم او خبر ورکړم د صبا مبایل مې خلاص کړ پاسورډ باندې پوهېدم زما د لور د زېږېدنې تاریخ وو، یو شمېرې ته مې چې د صبا د مخاطبینو په لست کې نه وه پام شو دا څوک دی چې صبا سره دومره په تماس کې دی؟ د پیغامونو صندوق ته لاړم د همدې شمېرې څخه پیغامونه راغلي وه.

اول پیغام لیکلی وه: ها ها بیا دې هم مبایل خاموشه کړی بلاګکې.
دوم پیغام: مه ډارېږه نه شم دې لیدلای.
دریم مسج: د ظاهره خو ډارنه ښکارې
څلورم مسج: هللووو ...

لومړنې پیغامونو ته لاړم ټول مې وویل او پوه شوم چې دا هر څوک چې دی شناخته دی او د صبا د ازارولو نیت لري. په ځواب کې مې ولیکل: د صمد خان ښاغلې زومه جرئت وکړه نوم دې ووایه چې پوه شم نوم دې څه دی؟
لس دقیقې تېرې شوې نه وې چې پیغام راغی...
— تاته همدا چې قبوله دې کړه چې د کاکا صمد زوم یک کافی ده.

له دې چې کاکا صمد یې ویل ګمان مې وشو چې د کاکا زامن کېدلای شي خو امکان نه لري موږ که څومره یو بل سره ټوکې وکړو سهې ده خو نه تر دې اندازې ...اعصاب مې خراب شوه زنګ مې ووهه قطع یې کړ او پیغام یې وکړو
— څه تلوار دې دی چې زما اواز واورې؟
— کیدای شي ځواب راکړې.
— ټوله ورځ تا ځواب رانکړ اوس هم زما نوبت دی.

نه نکیدل زړه مې نه کرارېدی هر ډول چې کیدل باید پیدا کړی مې وای تقریباً لس واره مې زنګ ووهی تر دې چې په خبرو راغی.

فرشاد....

مازدیګر مې مور دوی سره چای څښلې محبوبې مور هم خجور پاخه کړې وه ..
فرشاد- مننه مور جانې لاس دې درد مکوه.
محبوبه ـ نوش جان دې فرشاد جانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محبوبې مور خجور واړه واړه خوښيږي چې جوړ يې کړي نو ما هم دوه دوه خولې ته اچول او خوړل مې، مور مې راته غوسه شوه او ويې ويل: ځان وژنې خجور خو نه تښتي کرار يې وخوره...
دا چې کور يوه نه ويشل شوې برخه وه اعصاب يې راخرابوی او بې له کومې اضافي خبرې مې خجور واخيسته او خپل په مبايل په ګيم باندې بوخت شوم .صبا زنګ ووهی جواب مې ورنکړ خو پرله پسې زنګونه يې ووهل مبايل مې بې اوازه کړ او د کوره ووتلم.

د ظالم لور ته مې ټوله ورځ زنګ ووهی مسيج مې وکړ ځواب يې رانکړ او اوس زنګونه وهي.غوښتل مې خبرې ورسره وکړم خو نپوهيدم د کوم ځای نه يې شروع کړم زړه نا زړه مې پيغام ورته پرېښود. صبا اول خو د نن د ازار دپاره مې وبخښه او دويم دا چې هر څه چې زه درته وايم کوښښ وکړه چاته ونه وايې. بيا يې هم زنګ ووهی .. ايیی نجلۍ ولې داسې ورخطا يې پيغام مې پاک کړ او مې ليکل يو دقه صبر وکړه ورخطا نجلۍ..

ښه زه چېرته وم... هو.. پيغام.... صبا .... اول د نن د ازار دپاره وبخښه او دويم دا چې کومې خبرې چې تاته کوم کوښښ وکړه څوک خبر نکړې ... او دريم ان که دې د دا اوسه ځواب رد وي کومه ستونزه نشته خو هيله کوم زما پيغام ته غور وکړه دا چې څنګه د مبايل تر شا درته وايم نه پوهېږم پدې مې ليکل ښه لاره وګڼله.
اوس که درنه پوښتنه وکړه چې واده راسره کوې ځواب به دې څه وي؟

پيغام مې ولېږه او په تمه شوم ترڅو پيغام ووايی دوه دقې وروسته مې بيا پيغام ولېږه ..
– څه نظر لرې صبا؟
صبا مستقيم زنګ ووهه زړه نا زړه وم چې ځواب ورکړم يا نه؟ ..
زنګ مې قطع کړ او ورته مې وليکل که ښکنځل راته کوې همدلته يې راته وليکه او که ځواب دې هو وي نو بيا زنګ ووهه.

د پيغام پانې دا راته ښودل چې څه ليکي.. ځان ته مې وويل بې عقله ځان دې ريشخند کړ ..اوس که هر څه ښکنځل وکړي په ارام مغز يې ووايه.
– ته څوک يې ؟
د صبا دې پيغام حيران کړم يعنی صبا تر اوسه نه وم پيژندلی؟
– فرشاد ...
يو وار د نوم د ويلو پښيمانه شوم خير خو نن يا سبا د شمېرې نه يې پيژندلم او دا چې جرګه ورته وکړم کومه بده خبره نده.
په بل پيغام کې مې وليکل:صبا جانې هر وخت چې وغواړې جرګه درته ليږم ما غوښتل پوه شم چې ته راضي يې کنه.

توکې ټکالې وې تر همدې حده تر دې وروسته يې بده ګڼم او شايد خبره غټه شي .
نپوهيږم څنګه قناعت درکړم صبا..

ځواب رانغی او د بلې خوا حيران وم چې که دا صبا ده دا ولې داسې ارامه ده حداقل يو وار خو يې جنګ کاوه ښکنځل يې کول او که منتظره ده چې جرګه ورته ولېږم؟

– ګوره صبا دا چې څه فکر کوې نپوهيږم خو غوښتل مې مطمئنه شم چې بل څوک دې زړه کې نشته، که دې خوښه وی ووايه يا هم زه جرګه درلېږم او که دې ځواب نه وي بايد قناعت لرونکی ځواب راکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امهمممم سنګه چل وشو؟ مسجونه خو اغلی ثنا جووو وویل او فرشاد هم فکر کوی صبا ده😱 اوس به څه وشی؟ څه به ورته ووایی؟

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#اتم برخه.
____________🖤
بِسمِ اَللّٰهِ اَلرَحمٰنِ اَلرِحیم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

– ګوره صبا دا چې څه فکر کوې نپوهیږم خو غوشتل مې مطمئنه شم چې بل څوک دې زړه کې نشته، که دې خوښه وی ووایه یا هم زه جرګه درلېږم او که دې ځواب نه وي باید قناعت لرونکی ځواب راکړې.

#اوس نوی برخه...

فرهاد....

شپږ بجې مو تولګی ختم شو زه خپل دوه همکارانو سره امین چې د کابل څخه راسره وو او بل صفی چې دلته ورسره شناخته شو لاړو د شپې ډوډی د خوړلو دپاره. نژدې هوټلونو کې مو ډوډۍ وخوړله امین خپل کارت راوایسته او د ډوډۍ پیسې یې ورکړې د بټوې د خلاصولو په وخت کې یې د ښځې او دوه ماشومانو عکس ته متوجه شوم څومره بختور وو چې دوه زامن هم لری. او صفي هم چې د دهلی اوسېدونکی دی تلو کې یې کورنی ته د ډوډۍ فرمایش ورکړ او که چې هوټل ته ورسېدو د امین د اطاق خوا ته لاړو امین سګریټ راته ونیوه ما نه کړه ورته.
زه اعتیاد نه لرم او دا چې څومره تاوان لري هم پوهېږم خو کله مې سګریټ ته زړه کیږي.

فرهاد- صفي ښه او محترم سړی دی کنه امین؟
امین په خندا وویل: ولا زما اندازه خو ښه سړی ندی خو بیا هم ګوزاره کوی، بد هم ندی.
په خندا مې ورته وویل: اعتماد به نفس وروره، ستا څخه بهتره ده زما څخه هم.
امین ـ هو ستا څخه یو ښه والی لري هغه دا چې یو دوه کاله له تا کشر دی او یوه لور لری ماشاءالله.
فرهاد ـ خدای دې ورته وساتي.
ما چې د سګریټ دوه دوده کش کړي نه وه امین سګریټ خلاص کړ او دویم یې راواخیست. چې ما ورته وویل: موږ ډاکټران هم یو خو بیا هم د حد نه زیات سګریټ څکوو.

امین وخندل بیا یې وویل:  هو یو خو دا هم د ژوند نه د خوند اخیستلو یوه طریقه ده.
فرهاد ـ ههمم هوو خو دا خوند ذلت هم لري.
امین-   اوس څوک کولای شي ستا غوندې ځان د ټولو خوندونو محروم کړی ته یې چې په هیڅ خوشاله یې ټول ستا غوندې نه وي.
فرهاد- بس دی بیا یې مه پیلوه ...
امین- ګوره فرهاده پدې چې زما ملګری یې درته وایم پښیمانه کېږې دا ځواني به دی لس کاله نور نه ویی درسره بیا به یواځې ګرځې هلت  به زما د خبری په مطلب پوی شی. ته فکر کوې هېڅوک ستونزه نلرې، ټول یې لري خو د حل لاره یې پیدا کوي نه چې تړې تښتې د  چا کورنۍ راضي ده چې ستا نده یا دا چې خپل ځان دې د لذت او خوند نه محرومه کړی ایا د ذلت دې کم شوی؟  اوس دې عمر همداسې تېر کړه و بیا سهار شکایتونه کوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد افففف کړه او چوپ شو شاید پوهېده چې یو ورځ به حتمن پښېمانه کیږي.
صبا د هغو نجونو وه چې دنیا اوبه یوړه او دا خبره نشوه.

اصیلا ـ پورته شه نجلۍ ماخستن شو او ته تر اوسه ویده یې.
صبا- پنځه دقې بعده ....
اصیلا ـ نه نکیږي کاکا دې زنګ وهلی راځي زموږ کور ته، بې له هغه دومره ویده شوې یې چې توله شپه ویښه پاته کیدای شې.

صبا.....

د مور به اواز پورته شوم او دا چې پرې یې نه ښودم چې ویده شم عصاب مې خراب وه په غوسه مې وویل: دا د راتلو وخت دی مورۍ؟
اصیلا ـ ډېرې خبرې مکوه فقط چې پسه ورته کبابوې پورته شه ..
صبا ـ زه یې ونکړم نو څوک یې کوي..
اصیلا- هرڅه تیار دي یو ته شهزادګۍ نه یې..
مبایل پسې مې ګرځېدلم مور مې چې دهلېز ته تللې وه ږغ مې کړو
ـــ مورې زما مبایل دې نه دی لیدلی؟
اصیلا ـ ثنا سره دی سبا یې درته راوړي

دا خبرې که زه مړه نه کړم زهر مې هم نه وژني. دا چې ثنا غلطه پوه شي ډېره ډارېدم او غوښتل مې ډېر ژر ورځنګه ورشم.
اصیلا ـ نجلۍ تراوسه خپل پر ځای ناسته یې؟
بیا مې هم مور اطاق نه راغله او منتظره وه د ځایه پورته شم .
پورته شوم او مې ویل:اوس وګوره مورې نوره نه ویده کیږم خو اجازه راکړه چې جامې مې تبدیله کړم.

ثنا....

فرشاد مسیج کوئ او ما ویل خو زه نپوهیدم چې فرشاد ټوکې کوي که جدي دی خو که ټوکې کوي کار یې ډېر بد دی دا چې مسیج ګورم او ځواب نه ورکوم زنګ یې ووهی دری زنګونو وروسته مې ځواب ورکړ..
فرشاد ـ بلی صبا اورې...
ثنا ـ بلی
فرشاد په مشکوک انداز وویل: صبا؟
ثنا ـ نه ثنا یم..

فرشاد....

دا چې ثنا سره مې خبرې کولې ډېر شرمنده شوم. خاورې دې زما بخت شي یعنی دا دومره وخت مې ثنا ته مسیج کوی د غلا کار خو داغه ځای یې بد دی شاید شمېره مې غلطه اخیستې وي.
فرشاد- ثنا خورې ت... ته ی....
ثنا ـ هو د پلار زومه څه ویل غواړې؟
فرشاد ـ وبخښئ ثنا خورې ما فکر وکړ صبا...
ثنا ـ هو صبا څه کړې؟
خبره مې هېره شوه دا چې څه ووایم نپوهېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثنا ـ فرشاد..!

فرشاد ـ بلی.

ثنا ـ نورې دا ټوکې ونکړې ډېره بده ده. شکر وباسه چې د صبا مبایل دلته پاتې وو که هغه خبره شوې وای اوس یې قیامت جوړوه.

فرشاد ـ اوس ته په هر څه خبره یې ثنا خورجانې ستا په نظر صبا ما قبلوي؟

ثنا ـ زه څه خبره یم خو که نیت دی نیک وي کاکا جان دوی له لارې مخ ته لاړ شه  نه د مبایل د لارې.

فرشاد ـ قسم ده چې جدی یم که وواېې دا اوس مې پلار دوی درلیږم خو ډارېږم صبا یې ونه مني.

ثنا ـ زړه یې نو چې قبلوی دې او که نه.

فرشاد ـ نه حق نه لري چې ما قبول نکړي او قبلوي مې نه باید قناعت لرونکی ځواب ولري. ثنا خور مرسته مې وکړه ...

ثنا ـ سمه ده څه غواړې چې ویکړم؟

فرشاد ـ د صبا څخه پوښتنه وکړه چې څه نظر لري.

ثنا ـ زه څه پوښتنه وکړم ته اول جرګه راولېږه بیا به زه پوښتنه  ترې وکړم.

فرشاد ـ نو بیا همدا نن شپه درځو او ته هم راشه ثنا خورې هیله کوم! !

ثنا ـ زه خو ډېره سترې یم.

فرشاد ـ پخدای خورې دا مرسته به مو هیڅ وخت هېره نکړم.

ثنا۔ سمه ده زه حسیب سره خبرې وکړم چې څه وایي.

فرشاد ـ ته هغه سره کار مه لره زه حسیب ورور ته وایم چې رادې ولي ته فقط تیاره اوسه او هېره دې نه وي چې ته د زوم له خوا ځې.

فرشاد...

ثنا ته چې مې د راتلو وعده ورکړې وه اوس حیرانه وم چې پلار ته څنګه ووایم که مې مور ته ویلی وه شاید بهانه یې کړې وای او نن شپه نه وای تللې ځکه نه یې خوښېږي د چا مخ کې بې قدره شي باید هر ځای په شان او شوکت لاړه شي یوازینی لار محبوبه مور وه ژر یې د اطاق خوا ته لاړم د ماښام لمونځ یې کاوه په تمه شوم تر څو لمونځ خلاص کړي او بیا خبرې ورسره وکړم.

فرشاد ـ سلام مورجانې ښه یې ..

محبوبه ـ علیکم سلام .. د مور نفس.

محبوبې مور چې عادت درلود بعده لمانځه ډېرې دعاوي ووايي شروع کړه او وروسته یې زما په مخ چف کړه .. بلاخره تول دعاوی او ذکرونه یې خلاص شول. او ویې ویل: څه دې غوښتل فرشاد زویه..

فرشاد ـ هو مورجانې غوښتل مې پلار مې راضي کړې چې نن شپه د کاکا صمد کور ته لاړ شی.

محبوبه ـ ښه ... دا د خیر کار د چا دپاره؟ اها صبا .... صبا ښه نجلۍ ده ماشاءالله

په خندا مې وویل: هو ماشاءالله ښه ژبه هم لري.. ګوره مورې وعده مو کړې وه چې زما دپاره په جرګه ځی اوس یې وخت دی باید پلار سره مې خبرې وکړی.

محبوبه ـ سمه ده زویه زه خبرې کوم خو فکر نکوی چې مور دې باید دې مسله کې خبرې وکړي؟

فرشاد ـ نو ته خو مې هم مور یې؟ ته باید پلار سره مې خبرې وکړې نور یې پر ما ... ځکه که مې پلار مورته ووایي چې همدا نن شپه لاړ شو هغه یې نه ردوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبوبه ـ سمه ده زویه.
فرشاد ـ نو زر راځه موري پلار ښنګه چې ناوخته کیږي.

دا چې محبوبې مور مې پلار سره ښنګه خبرې وکړې نیوهیږم خو لس دقیقې وروسته محبوبې مور زه وغوښتم او پلار ښنګ ته لاړو.
پلار ـ ښه نو ښاغلی غواړی چې زوم شي؟
فرشاد ـ هو پلار جانه
پلار- ماشالله د زوم ژبه خو هم اوږده ده ماته چې مې پلار ښځه کوله ما ان هو یا نه نه شوه ویلی.
محبوبه ـ ښایسته زوی مې مه ازاروه!
فرشاد ـ ښه نو لاړشم تیار شم؟
پلار- ته چیرته پخیږ؟ اول ځل مشران ځي او خبره خلاصه وی بیا ته.
فرشاد ـ زه دروازې مخ کې درته په تمه کیږم.

امهمممم عجب چالاک شی دی دا فرشاد خبره یی جوړه کړه همدغه نن شپه یی خپل مور و پلار واستول😕 ستاسو په نظر د صبا جواب به چشی وی؟ ایا هغه به یی ومنی او کنه؟

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#نهم برخه.
🖤______________
بِسمِ أَألَلّٰهِ أَأَلّرِحمٰنِ أَأَلّرِحیم

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

پلار- ته چیرته پخیږ؟ اول ځل مشران ځي او خبره خلاصه وی بیا ته.
فرشاد ـ زه دروازې مخ کې درته په تمه کیږم.

#اوس نوې برخه...

صبا....

زړه نا زړه مې د مور په مبایل خور ته زنګ ووهی هغې جواب راکړو.
— بلی خورې ښه یې
ثنا- فکر مې نه کوی د زړه ټوټه دې یوځای هېر کړې..
د خور مطلب مې مبایل وو ځکه هیڅ ځای مه نه هېروه خو قسمت دی نو هر څه مخ ته راځي.
صبا ـ خورې کیدای شي مبایل مې بند کړې سبا پلار ته مې وایم رایې وړې یا زه خپله یې راوړم.
ثنا ـ نه لازمه نده زه او حسیب راځو ستاسې کورته.
صبا ـ عجبه ده نن د هره خوا میلمانه راځي؟!

ثنا- ولې کوم بل څوک هم راځي؟
صبا ـ هو کاکا سعید مې پلار ته زنګ.وهلی راځي دلته.
ثنا ـ اووهوو ښه کاکا سعید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا۔ کوم ځای يې اوهو درلوده؟
ثنا۔ هيڅ هيڅ سمې جامې واغونده پزه مو پرې مه کړې.
صبا۔ ولې؟؟؟
ثنا۔ ښه نو د هغو جامو سره چې د ښار نه راغلې يې ګښېنه.

فرشاد دوعدې سره سم خپل مور او پلار سره د کاکا صمد کور ته راغله وروسته حسيب او ثنا هم راغله فرشاد چې تر اوسه موټر کې ناست وو د حسيب د ډېرو ويلو سره کور ته راغی ټولو ډوډۍ وخوړله او دا چې فرشاد محترم او دروند شوی د چا څخه پټه نه وه.
صمد ـ فرشاد زويه شه يې؟
فرشاد ـ هو کاکا جانه مننه تاسې شه ياست.
صمد ـ نو ولې موټر کې ناست وې نه چې زموږ د کور نه پرهېز شوی يې؟
فرشاد ـ نه خدای دې نکوي کاکا جانه تاسې مشران ياست فقط غوښتل مې چې د مشرانو د کار  مزاحم نه شم.

ددې په اورېدو حسيب او ثنا چې په خبره خبر وه وېخندل
ثنا ـ ماشاءالله فرشاد جانه ښه هنرونه لرې.
حسيب هم غوږ وهنه شروع کړه او په ټوکو يې وويل: د مشرانو کوم کار...؟
دا وار سعيد هم په خندا شو او ويې ويل: دا هلک کار تمامه دی که چوپ وي ښه به وي.

دا چې فرشاد حاضر ځوابي نه کوله څو کسو ته چې د جريانه ناخبره وه عجيب شکارېده، صبا تولو ته چای ورکړې فرشاد ته يې هم ست وکړ فرشاد هماغسې دروند ناست وو او تماشا يې کوله.
سعيد ـ لالا صمده که څه هم زما نه مشر يې او تل دې زموږ سره شه کړي دا وار هم ان شاءالله هم موږ خالی لاس نه استوې.
صمد کاکا۔ ان شاءالله که خير وي.
کريمه مخکې شوه او ويې ويل: خير دی او ان شاءالله په خير به مخ ته ځو، که څه هم موږ خپل يو او دی خبرو او تشريفاتو ته اړتيا نشته.

سعيد ـ ولې اړتيا شته صبا لور مو پر موږ حق لري..
صبا چې تر اوسه خپل خيالونوکې وه خپل د نوم په اورېدو يې تعجب وکړ او فرشاد ته يې وکتل فرشاد چې ټوله شپه په غلا صبا ته کتل تر څو ورسره سترګه په سترګه شي اهسته يې صبا ته سترګک ووهی صبا هکه حيرانه پاتې شوه او غير له چې کوټه کې کښېني او ددوی خبرې واورې بله چاره يې نه درلوده .......

سعيد- که څه هم لومړی ځل سوک د هو او د نه جواب نه ورکوی خو زه خبر رامخکی کوم چې پوی شم ايا بل ځل ته د راتلو موقع شته او کنه؟ لالا زه ستاسو څخه صبا جان خپل نالايق زوی فرشاد ته غوارم.

اصيلا...

دا ناڅاپه راتلل او دا د کريمه د کالو داسې پرقيدل لکه چې واده ته روانه وه بی دليل نه وه نو، اخير هم خپل د راتلو موضوع يې ووېل د صبا مرکې ته راغلې وه ما کوم خبره د ويلو لپاره نه درلود، ځکه فرشاد ښه زحمت کش هلک وو او کوم بدی ورڅخه ما نه وليدلی صمد هک حيران وو او نه پوهيدی څه جواب ورکړی نو ما تلوار وکړو او ومې ويل:

اصيلا- مننه سعيد لالا چې موږ مو خپل لايق وبللو او زموږ کور ته په جرګه راغلې، خو ولای نه پوهيږم څه جواب درکړم.
فرشاد جان ماشالله ښه زحمت کش هلک دی خو اخيری پريکړه چې سوک کوی هغه صمد جان او بيا صبا جانه ده. که

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوانان راضي وی مورِ به پکی سه ووایو؟ زه خو يې د مور په حيث په دی مرکی راضی يم.

حسيب خپل لاس د فرشاد پر اوږه کيخود او ويې ويل: دا هم ستا د بخت څخه.. زه يې يو مياشت خوب ته پرېنخودم د زيات تشويش له لاسه چې ايا خپل لور راکوی او کنه؟ او تاته ګوره اول ځل کی درته ووېل چې خواښې دی راځې ده؟ دا ظلم دی..

پدی خبره ټولو وخندل بی غير د صبا څخه چی په دوو لارو کې پاته وه چی آيا اتاق کې پاته شی يا بيرون ته ووځې؟
ثنا: که چيرته ډيره شرميدلی وی ..کولی شی اتاق ته د لاړه شی خورجاني ستا نظر به بل ځل پريږدو ..
صبا له ځای څخه يی پورته شوه ټولو پچ پچ خندل .

محبوبه- ښه إن شاء الله چی کار د خير به وي او پخير د دغو دوو ځوانانو به وی
دا ځل خو بی معرفی راغلم ومی بخښی. اما بل ځل په پوره آمادګي سره راځم إن شاء الله. اصيلا جانې تر هغه وخته ته هم له صبا جاني ، الطاف جان او مور جاني سره ( د شيرين ميرمن د صبا انا ) مشوره وکړي مورِ يی هم د فرشاد جان د خويندو او ورور سره خبری کو او دا جريان وايو..

اصيلا- مه مي شرموه محبوبه جان ، ما خو خپله خبره وکړه چی پلار او ورور يې رضا شی زه يی حتمن در کوم..
سعيد- ښه پس ټول يو ځای خپله کور ته ځو إن شاء الله بل ځل خو به مو حتمن خوله خوږه کوی ورېندار جانې.

صبا...

د کاکا سعيد د خدای په امانې غږ را ځی او زړه می ډير نا آرامه کيږی .. اوس می مور ته څه جواب ورکړم .. که له ما پوښتنه وکړی ..څه به ورته وايم ؟
زه د مرکی غوښتلو تجربه نه لرم دری کورنۍ زما غوښتلو ته را غلی چی دري واړه می پلار له خوا رد شوي . او هيڅ ضرورت پيدا نشو چی زه خبره وکړم د اتاق دروازه می ورو ورو تک تک شوه ..او د ثنا غږ وو ، چی اجازه د داخيليدو يی وغوښته ..

صبا- راځه خوري له کومه وخته د اجازه غوښتله؟
ثنا- فکر می وکړو چی ميرمن صبا شايد وغواړی چی تنها ووسي .. او د خپل راتلونکي په اړه فکر وکړي.
صبا- د څه شی راتلونکی خوری تر اوسه ډير لاره پاتی..
ثنا- اصلاً هم ډيره لاره نده پاتی وګوره صبا جانی هره خبر چی لري ويی وايه له اوله ..ځکه مور د خپل طرف نه هو ووېل پلار هم چی شايد موافقت وکړی ځکه وراره يی دی او مينه ور سره لري او زه چی راضی يم ځکه زه پوهيږم فرشاد در سره مينه لري ..(صبا خپلی سترګی ګردی کړی او خور ته يی وکتل چې ثنا ووېل: بده خبره می وکړه ؟

صبا- د کوم خوا مينه خوری؟ هغه بيزو...؟!
ثنا- متوجه ووسه صبا جانې ..لدی نه وروسته شايد دا خبره دی نا خوښه تمام شی ..وګوره که څوک دی خوښ وی ماته ووايه زه درسره کمک کوم ..
صبا- توبه خوری ...غوښتل څه معنا؟

ما په ټول عمر کی د مينی لرلو خبره نده اوريدلی ..څه ورسيږی چی زه دا خبره په بل چا پوری وترم ..

ثنا- وګوره ..فرشاد هغه سړی دی چی پخپله خبره ولاړ دی ..حتا په ښه نوم سره يی خواستګاران را وليږل تر څو پوی شی چی جدی دي ، څوک په لومړي ورځ چاته مرکه ليږی ؟ دا چی نيک بخته به شی وبه يی وينم ..وګوره ژوند له هغه چا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی مینه در سره لری ، ډیر ساده دي .

صبا- اوووووف خوري زه د بیخی وشرمولم ..مینه مینه لرل بیخی د نفس را تنګ کي.

ثنا....

– نن درته په یو نمبرو مسیج شوي چی څو ځلی یی درته زنګ کړی.(د صبا څیری تغیر وکی ، او زاری یی پیل کړی: په خدای خوري زه یی نه پیژنم.

ثنا- پوهیږم ...چی ته یې نه پیژنی.. خو زه یې پیژنم چی څوک دی؟

صبا په شک او تردید باندی راوکتل او سر  یی چپ طرف ته واړوی ..

ثنا- فرشاد....

او دغه نوم د خطر زنګ وو.

ثنا- پوهیږم شاید غوسه شې چې ولې می ستا موبایل ستا بې اجازه کتلې او چک کړی، اما د ما ستا د مشری خور په حیث سره دا کار وکړو ، هر مسیج چی فرشاد کړی هغه می ذخیره کړي کولی شی چی ویی وایی ، او هغه خبري چی دلته نشته په مجلس کي واوریدي ، پریکړه ستا لاس کي ده ، هر څه د چی وکړل سبا یی ماته او مور ته ووایه ،

صبا همداسی چوپ وه ، ثنا نږدې نږدی وره ته نږدی کیده او صبا ته یی مخ کړو او ویې ویل: او هو فرشاد دا هر څه غوښتل تر څو په بیړه سره خواستګاران راشی څکه ویره یی لدی لرله چی تا له لاس ورنکړی.

د ثنا له تللو وروسته صبا په ډک زړه او پوښتنو او فشار سره د موبایل طرف ته لاړه او دا چی لامل د ددی هیجان حس څه وو ، نشی درک کولي شاید دا چی یو هلک د هغی سره مینه درلود او دومره حد چی په یو شپه یی تول کورنی خواستګاری ته راستولی وه.. صبا د غرور احساس کوه..

امهممممم ولای ښکاری څو دسی چی صبا جووو هم  راضی ده😕

بدبخت فرهاد بل سوک نه وه چی دواړه باید په یو نجلی مین شوی وایی؟

ای بدبختانووو اوس نو دی ورینداره کیږی بیا څه کوی خیرن هند ته لاړو چی درس ووایی مینه یی هم ورور ناوی کړل😕

هغه درس دی ستا ▯▯😒

شه کار وسو دغه دی حق دی😕😒

#جهنمي مینه.

#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.

#لسم برخه.

________________🖤

بِسمِ ٲٲٲللّٰهِ ٲٲٲلرحمٰنِ ٲٲٲلرحیم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

چی یو هلک د هغی سره مینه درلود او دومره حد چی په یو شپه یی تول کورنی خواستګاری ته راستولی وه.. صبا د غرور احساس کوه..

#اوس نوې برخه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد د زړه ټول خواږه په اوبه کړی وو ، لحظه په لحظه یی سترګي سهار ته نیولی وي ، شاید په زړه کي یی دا لویدلی وو چی صبا د هو جواب به ورکړی وی. فرشاد په ناکراره انداز د صبا موبایل ته مسیج وکړو له ښه بخته فرشاد وو، یا بدبختی د صبا چی موبایل د ثنا لځایه د صبا لاس کې وو او د فرشاد مسج یې ولیده..
او دا چی مسیج یی ولیدل شو نو فرشاد بل مسیج هم وکړو..

اول مسیج : سلام ع
دویم مسیج : ثنا جان کولی شی موبایل صبا ته زر ور کړې ، غواړم زر یی په جواب پوی شم ، هیڅ خوب نه لرم ، دویم مسیج ، شاید لړ لړ ګرمی د صبا په زړه کې جوړه کړم ، او سبب د خندیدلو یی شی ، له خپل ځان سره وایی، چی رشتیا تر دي حده ..غوښتل یی لدی وضعیته سو استفاده وکړې او د هغې لپاره یی ولیکل .
—موبایل صبا ته نه ورکوم .
—ولی ثنا جانې !
—ځکه زړه مي نه غواړي.

له خپلو مسیجو یی صبا د خندا له لاسه زړه درد کوی ، او نا چاره یا بی موقع ویده شوه ، او فرشاد یی له یوې نړی سوالو سره همداسی تنها پریښودو ..

له دی مخکی چی د فرهاد بحث خلاص کړو ، په ویره کې یم هغه فرهاد ته چې یواځېتوب یې دویم نوم جوړ شوې.هغه تنها لوی شو، تنها په پښو ودریدو ، تنها په تنها نړۍ کې بی ملګریه را وګرزیدو ، اوس هم شاید تنها یی تیره کړي ، تنها یی زخم خوړلي وو ، اما ممکن ندی تر څو یی حوصله د تنهایی ولري. هغه د صبا خیال لرلو ، اما فرشاد صبا غلا کړي وه او ځانته یی ناوی کړی وه ، شپی دوو بجو فرهاد د ښځو غړو را ویښ کړ او په تیاره کی د اوبو په طرف ته چی د تخت چپ خواته یی وي ، دوه دری څاڅکی د اوبو یی تیري کړی..

او هغه خوب یی ذهن ته ازار ورکولو ، شاید دا یی لومړی ځل نه وی چی دا بد خوب وینی، ځکه ټول عمر یی په بد خوب کابوس توره تیاره ولیدل خوب کي ، اما لومړی ځل وو چی هغه توره تیاره ورته صبا شوی وه ، او صبا یی په هغه کشتی کی چی د طوفان غوندی روانه وه ولیده ، عجبه زړه یی ریپیدلو ، خپله که خبر نه وو مګر روح یی له پټ کیدلو څخه خبر وو ، تر سهاره یی سترګو ته خوب ورنغی، او د سهار لمونځ ته منتظر شو ، تر څو وکولی شی له مور سره یی زنګ وکړي ، او تعجب اوس ټولو ته وو ، همدی وخت کی یی د صبا ټولنیزي صفحی مخ په مخ وکتلي ، که هر سنګه صبا خپل عکس هلته نه وو، خو د فرهاد لپاره یی نوم کافی وو.

فرهاد چی ساعت ته یی فکر شو نو مور ته یی زنګ وکړ ، او د ټولو پوښتنه یی تری وکړه ، میرمن محبوبه چی غوښتل چی ښه زیری یی زوی ته ډالۍ کړی، په نه مړه حالت کي یی په قبر ته وغورځولو ، رشتیا زما فرهاده !
فرهاد- اها مورجاني !
محبوبه- غوښتل می چی ووایم چی ورور د له خیره نامزاد کیږی، همدغه تیره شپه مرکي ته لاړو ، إن شاء الله چی سیوری د فرشاد جان پر تا هم وغورځېږی.

فرهاد- رشتیا مبارک موشه فرشاد خو ماته څه ندي ویلي ، إن شاء الله نیک بخته به شی.
محبوبه- حتمن یی وخت ندی پیدا کړی ، د خوشحالی نه په جامو کې نه ځاییدو. آخر د زړه مقصد ته یی ورسیدو..
فرهاد- خدای د ټولو ارمانونه هدفونه پوره کړې. رشتیا ومو نه ویل چی څوک ده ؟ محبوبه- بیشکه زویه ، الله ج د زما نازولي زوی هم خپل مراد مقصد ته ورسوي تیره شپه د کاکا صمد کورته تللي وو، د صبا غوښتلو لپاره ...او څنګه چی معلومیږی شاید رد مو نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد چی کله د صبا نوم واوریدي ټول حواس یی له لاسه ورکړل ، اګر چی په بد ترین ډول مجازات کیدو ، حتا اخ یی هم له خولي و نه ووت .فقط یی وکولی شول چی موبایل یی قطع کړ ،او خپله یی لعنت پری وویلو ، هغه درد چی چپ طرف ته یی حس کړ ، پخوا غوندی نه وو ، روح یی په مثال د شیشی زره وره شو ، او دا چی جسم یی څه ډول ولاړ دی ، بیخی نادره کړو ..توره تیاره یی مخکی له مخکی ډیریدله ، تر دي پوری چی د صبا عکس یی هم نه شوی جوړولی ،

دا فرهاد وو چی په یوه ثانیه کې په سل هاوو ځلی مړ شو ، مګر په نړۍ کی نجونې کمي دی ، چی ورور یی مینه انتخاب کړی ده ، په ناتوانی سره فرهاد له خوب ځایه جګ شو ، او حمام ته داخل شو د اوبو په خلاص کولو یی خپل کنترول له لاسه ورکړ . او شروع یی په ژړا او فریاد کړه ، ددی څخه بده ورځ هم راتلی شی هغه ځای چی حتا اوبو یی هم د اور ځان نشوی مړ کولی ، دوه ساعته وروسته چی فرهاد لږ خپل پخوانې حالت ته راغي ، له حمام بیرون شولو او د امین کوټی ته لاړو تنها دا خبره یی وکړه چی غوښتل یی کابل ته وګرځی..

دغه اور یا جهنم د څه وخته فرهاد بندي کړی نه پوهیږم ، خو دا ځل دا اور د میني اور وو ، چی هغه یی نا توانه کړی وو......

امین ....

سهار وخته فرهاد په یو ناسم وضعیت سره زما کوټی ته راغې او ویی ویل: چی زه غواړم افغانستان ته لاړشم، دا چی څه کیسه وه نه پوهیږم خو ما هیس وخت فرهاد تر دی حده پریشانه نه وو لیدلی حتا که به په بدترین مشکل کي هم وو له فکر او عقل به یی ګټه اخسته، د فرهاد خراب حالت زما حال او طبیت هم را بد کړو
فقط دومره می وویل: صبر زه هم در سره ځم.
فرهاد- نه ته پاتي شه.

امین- لیوني کیږه مه زه تا په دي حال نه شم پریښودي ، چی لاړ شي راځه داخل ته چی وګورو چی څه وخت تکت پیدا کو.
فرهاد زما خبره ومنل او کوټي ته راغی اما د فرهاد ځان کی هیڅ د صبر اثر نه لیدل کیږی ، نه پوهیدم چی ولی دومره بی قراره دي ، چی یوه دقه ورته انتظار مشکل او سخت دي ، په سایتو کی می پلټنه وکړه او نږدی پرواز کابل ته سبا ته دي ..
امین- ښه وسایل دی را ټولو کړه ځکه سبا لسو بجو پرواز لرو.

فرهاد- زه تر سبا صبر نه شم کولی ..زه ځم ..
امین- پس څه وایی چی په موتر کی لاړشو ،

فرهاد له ځای څخه جګ شو او ویې ویل: سمه ده راځه چی ځو .....
امین- کله چی سیند ته ورسیدو بیا په کښتۍ کی ځو او پاتي لاره بیا پیاده ځو ...
فرهاد- امین ته پر ما ریخشند وهی...

هغه فرهاد چی زما په بی خوند ترینه ټوکه هم خندیدو ، نن ورځ می ورک کړی وو ..ژر می خبره بدله کړه او ومې ویل: نه خدای د نه کوی ورور مي ، اما کومه خبره چی ته کوي درک کوي یی هم ، هغه وخت چی پرواز تر سبا نسته .څه رقم غواړی لاړشی ؟
فرهاد خبری نه کولي نو مجبور شوم چوبتیا یی ماته کړم او بیا ووایم: لالا مي ووایه څه مرسته کولی شم ? بیا هم کورنۍ مشکلات دی ؟
فرهاد- امین یوازي دعا کوه چی ناوخته و نه رسیږم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره فرهاد دومره مظلومانه ووله ووېل که تیره هم وی اوبه اوبه کیدله ، هغه هیڅکله هم لدغه رقم عاجزي سره مخ شوی نه وو..هیڅ وخت می دومره ناچاره او او ستړی نه وو لیدلی رشتیا دا ورځ زما لپاره هم قیامت وه ، هغه خوږ دوست ملګری می چی پیژندلو زما مخکی اوبه اوبه کیدو ، ولی هیڅ می هم نه شوی کولی بیغیر له تسلی او ډاډګیرنی څخه ..

امین- پخدای توکل کوه ، او خیر غواړه..

فرهاد- یوه شه چی د صبا پرته زما لپاره هیس خیر نشته...

په حیرانتیا مې ووېل: صبا؟؟

فرهاد- صبا.....

پښتو‌ناولونه:

#جهنمي مینه.

#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.

#یولسمه برخه.

——————🖤

بِسمِ اَللّهِ اَلرحمٰنْ اَلرحیم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

فرهاد- یوه شه چی د صبا پرته زما لپاره هیس خیر نشته...

په حیرانتیا مې ووېل: صبا؟؟

فرهاد- صبا.....

#اوس نوی برخه...

د لومړۍ ځل لپاره ژړا د فرهاد زړه ونیو او سترګی یی له اوښکو ډکی شوی،او ویی نشوی کولی تر څو یی خبره پوره کړی ، نه دا رقم انتظار می نه وو، هیڅ د دنیا زحمتو نه شوی کولی فرهاد وژړوی ، فرهاد چی د یو محکم غر پشان کلک وو، هغه د صبر او حوصلی چی بد ترینه طوفانونه یی تیرول ، دا دنیا بی وفا وه ، چی هرګز یی د فرهاد طرف ونه کړ.....امین غوښتل د فرهاد غمو ته ملهم شی اما هره خبره یی ورته لکه په زخم چی مالګه اچوی داسی وو ، د فرهاد په ټپی زړه باندی...

امین- فرهاد ....

فرهاد- فرهاد مړشو....

امین- خدای دي نکوی دسی خبری مه کوه.

فرهاد له ځای څخه جګ شو او د وره طرف ته لاړو او امین ورپسی شاته ...

امین- فرهاد چیری ....

او جواب یی وا نه وریدو ..دا چی اتاقونه یی په یوه دهلیز کې وه او ده ولیده چې فرهاد خپلې کوټی ته لاړو ..نو خیال او فکر یی لږ راحت شو ، فرهاد سیګریت ته لاس وروړو ..او څو واری یی پوه کړو....څکه د سګریت څکولو تجربه ورته نه وه ، او په توخیدو یی شروع وکړه ، او غاړه یی وچه شوه ، اوښکی یی د سترګو له طرفه را روانی وي ، او د فرهاد اور یی نور هم تازه کووو......

فرشاد ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

7 بجو می سترګی را وغړولی موبایل می لاس کی وو او زه ویده شوی وم لومړی ځل وو چی موبایل په لاس خوب وړی وم، او خپل پدی حال می پر خپل ځان وخندل.. او ځان سره مې وویل: فرشاد بچی لا ډیر لاره د عشق او عاشقی پاتی دومره ژر تسلیم شوی؟

سهار پخیر مي ثنا ته ولیکل او دویم مسج مې د زاری ولیکو تر څو نن ورځي له صبا سره خبری وکړي او راضی یی کړي ، ځکه زر می غوښتل چی هو یا نه د صبا څخه واورم ..خو ثنا بیا هم ماته جواب را نه کې دا ځل مي ورته مخامخ زنګ وکړ او زنګ یی قطع کړو

دا چې موبایل یې بند کوی پوه شوم چې شاید صبا موبایل اخیستی وی؟ هسی نه منفی جواب راکړی ، نه خدای دی نه کوی ..
بیا هم د موبایل په صفحه می مسیج وکړو،
—صبا.... که صبا ته خپله یی نو خبری مه کوه مشکل نشته یواځی که لږ هم زه دی خوښ یم نو خالی یو دری نقطی مسج راواستوه خواهش کوم.

زما مسیج یی ولیدو اما جواب یی را نغی ... دا ځل مي بل تخنیک وکاره وی او ومې ویل: که چیرته را سره مخالفه وی نو مسیج وکړه..
خو بیا هم هیس جواب رانغی او د صبا دې چوپتیا زه حیران کړم دا چوبتیا زه څه تعبیر کړم؟ نه دغه رقم نتیجي ته نه رسیږم... د حسیب شماره ته مي زنګ وکړو ، او پوښتنه څخه وروسته مې ورته وویل چې موبایل ثنا ته ورکړی.

فرشاد- الو سلام ثنا خوري څنګه یی ښه یی ؟
ثنا- ښه یم شکر مننه د انجینر صمد کورنۍ زومه ته څنګه یی ؟
فرشاد- ښه یم ، څنګه د وکړل له صبا سره وغږیدی خورجاني څه یی درته وویل ؟
ثنا وخندل او ویی ویل : تر اوسه 24 ساعته ندی پوره او ته محترم غواړي له صبا هو یا نه واخلی؟( بیا یې په خندا وویل: تر اوسه دی یو شل جوړې چپلکې نه یې څیری کړی موږ درته نجلۍ نه درکو ښاغلیه.
فرشاد- ته زما زړه را جمع کړه، هغه وخت تخو شل یادوی زه درته زر جوړی چپلکی شکوم په تګ راتګ یواځې وایه چې هغه راته هو وایې بس.زه به ستاسو د کور مخی ته خیمه ووهم یواځې هغه دی راته هو ووایې..

ثنا- رشتیا وایې؟
فرشاد- ته شک لري؟
ثنا- نه نه یې لرم.
فرشاد- ثنا خورجانی زما زړه ډیر نا آرامه دي ، صبا زما لپاره د یو آزاده او بی بنده. مرغه پشان ده که هغه زه خپل د مینې په جال کې راګیره نکړم ویریږم له لاسه یې ورکړم
ثنا- او ماشالله عاشق صیب دا حسیب په شاګردی قبول کوی کنه فرشاد جانه ؟
حسیب- په څه دلیل ؟
ثنا- تر څو می په قدر پوی شی ، وګوره له صبا سره می بخیلی پیدا شوه ، تر اوسه ہی هو ندی ویلی مهربانی یی د فرشاد زړه کی ځای لری ...

فرشاد- ته ما صبا ته ورسوه ، زه حسیب خپل استاد کوم... شاګرد لری..
دا خبره مي وکړل او په خندا مې ورته وویل: منې کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد او ثنا سره پریکړه وکړه تر څو 5 دقیقې هم که کیږي باید صبا او فرشاد یو بل سره ووینی. د همدی لپاره ثنا صبا د خرید او بازار په بهانه له کوره بهر ځان سره ویوړل.

صبا....

زما د خوب دښمنه(ثنا) زما سرته ولاړه وه او چغې وهلي ویښه شه،هغه بی خبره له دینه چې زه ټوله شپه ویښه وم او سمه نتیجه ته ونه رسیدم..
صبا- پریده لږ ویده شم خیره ده ...
ثنا- نکیږی باید لاړي شوو سوداته ځکه سعید کاکا نن شپه بیا راځي..
ثنا به خبرو نیغه کیناستم سعید کاکا بیا راځي؟
صبا- ماته لږ وخت راکړي.
ثنا- خدایه څخه شکرر وباسه چې ما درته لږ وخت واخیسته کنه مور مي هغه شپه ستا شیرنی ورکوله .

صبا- افففف خوری ..
ثنا- ای دروغ وایم درته  مور می راضي ده پلار می هم راضي کیږي.
سهار لس بجي وي خور سرمی بازار ته لاړم وروسته سامانونه کور سودا لږ شیان می ځانته واخستل ثنا څپل نس کلک ونیولو او ویې ویل: نور توان نلرم راځه ډوډی وخورو هغه پوري حسیب هم راځي بیا کورته لاري شوو ...

رستورانت ته ننوتم زه لاسو مینځلو لپاره لاړم د لاسونو مینځلو وروسته بیرته د میز سرته راغلم ثنا پورته شوه او ویې ویل: زه هم ځم لاسونه مینځم ....
لس دقیقی ثنا دتللو تیری نوي آشنا غږ می واوریده:
فرشاد: اجازه ده .....
سر می پورته که فرشاد می ولیده یو دم ماشوم توپ دوره، ځواني دوره، جنګ بحث کولو ټول خاطرات می ذهن ته راغلل خوو نن ورځ هغه ټولو ورځو سر توپیر درلوده  حیرانه فرشاد جرعت ته پاتی وم څنګه دومره زړه وکه دلته ناست وه زما جرعت سوال لاندي وړي وه نشو می کولی پورته سترګو ته وګورم خوله می خلاصه ورته پاتی وه.

فرشاد- سلام ... څنګه یی ؟
صبا- س . سلام
فرشاد- ته ولی  زما جواب نه راکوی ...

امهمممم دا فرشاد عجب بی شرم بیحیا انسان دی😒

#جهنمي مینه.
#ژباړونکي: خواجه زی خپروندیه اداره.
#دولسمه برخه.
________🖤
بِسمِ اَاَلَلَهِ اَاَلَرحَمَنُ اَاَلَرِحَيَم

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

فرشاد- سلام ... څنګه یی ؟
صبا- س . سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- ته ولی  زما جواب نه راکوی ...

#اوس نوي برخه...

تمه می نه درلوده دا خبره دومره زر وکړی... اوسي څه جواب ورکړم.. ډیر فشار ذهن  باندی می وه  دي سبب شوو لاس پیښو می رپیدلو باندی پیل وکړل ...حتا ځان می نیژنم هغه حاضر جوابه صبا چیرته ده؟
فرشاد- صبا ....
صبا-ه.....ها...

فرشاد- که غلی اوسیږي درنه ځم  زه خبرو کولو لپاره راغلي یم.
اوس ثنا وږي کیدلو دلیل باندی پوهه شوم فرشاد کار وه زما اعصابي خراپ کړل
فرشاد- لږ څودقیقی خبري کولی شوو ...
صبا- لطفا لار شه.
فرشاد- سمده ځم یوازي دوه کلمی خبري درته کوم ....
صبا- سمده آورم ..
فرشاد- نپوهیږم تا زما څخه د واده وراندیز  تمه درلوده یا نه، خوو ډیر وخت کیږي ما ستا په اړه فکر کوه غواړم پوی شي زه دي غواړم زما خوښه یی داسی فکر ونکړي چې کورني خوښه وه ده او ته مجبوره یې ما قبول کړې که چیری .......

که چیری ته بل څوک غواړي یوازي ماته ووایه زما څخه که ښه وي، باشخصیته وي، انتخاب حق لري ژوند کولی شي ورسره او که چیری داسي نه وي نو خبره به هم نکوی راته..

یوازي می د فرشاد خبرو ته غوږ نیولی وو او کتل مې ورته داسې په غرور خبري کولی چې لکه د همدا اوس څخه هغه زما مالک دی او زه د هغه د لاس لاندی یم او هغه زما څخه حساب غواړي ....
فرشاد- دومه خبره دا چې دا ژوند دی او ژوند په ګرنټې او ضمانت مخکې نه ځی ، هرشي اول آخر لري ، اوله مرحله پیل نکړو آخر مرحله ته نه رسیږو.. ما د ډیر وخته ته د نظر لاندي  نیولی وي خوی ، عادت ، سره دي بلدیم  زما قبوله یی ، ته هم نادیده جلی نه یی که تراوسه د ماته پام نه وه  اوس  راته وګوره زر جواب راکه ترڅو ژر ژوند پیل کړو.. ته حاضره یې د یو ښایسته با استعداده هلک ښځه شي وجلی .....

فرشاد خپل د خبرو خلاصیدو وروسته په خندا شو او عجبیه نظر یې ماته راوکتل شاید دا کتلي پخوا په خیر وه خو ماته عجبیه ښکاره شوو... د فرشاد ټول خبري ښه وي زیاتر یې د شوخي بڼه درلوده  ترڅو ما وخندوي خو هغه یاده باسلی وه کله چې ما هغه ولید ما خپله خندا ورک کړه... فرشاد خبرو ته می جواب ندرلوده شاید تاثیر لاندي تللی وم غلی شوی وم .. ثنا او حسیب راغلل زما څنګ که کیناستل ثنا لاس می کلک ونیلو فشار می ورکړو او په کرار مې ورته وویل:

– کورته لار شوو بیا درسره پوهیږم هممم...
ثنا  په جګه جګه  غږ وخندل او ویې ویل:  له دي لځایه چې زما څخه مننه وکړې ماته ګواښونه کوي نن او سبا واده وکړې بیا راته وایي مننه کوم خور جانی .

دی خبري سری دری واړه په خندا شول فرشاد خندا بنده کیدله ناا ثنا حسیب د ډوډی فرمایش ورکړي وه هغه راورسیده ټولو اشتیا باندی ډوډی خورله پرته مانه ډوډی می ستوني که بنده کیدله ټوخي باندی می پیل کوه بل خوا زړه می نغوښتل اسراف وکړم او ډوډی هسی واستوم او وینخورم.
فرشاد- صبا ډوډی یخه کیږي غواړي بل څه راوغواړم؟
صبا- ناا مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موبایل ته می  زنګ راغی ، بهرنی شمیره وه. دومره مې فکر خراب وو چې بیخی پوه نشوم چي سوک امکان لری د خارج څخه ماته زنګ ووهي؟نپوهیدم څوک دی؟ کوم ځایه دي؟ څشي غواړي؟ څه ستونزه لري؟ څپله وضعیت می ښه نه وه ترجیح می ورکړه جواب ورنه نکړم موبایل می بی غږه کړو او بکس که می کېښود.

ثنا- څوک وه ؟

صبا- شبکه .....

فرهاد.......

صبا شمیري می مبایل سکرین باندی راوسته بله لاره می نه درلوده پرته اړیکه نیلو څخه زنګ می ووهه یو واری، دوه ، دري،  جواب رانکه ، ولی جواب نه راکوي ؟  داسي نه څشي ورباندي شوی وي؟  یاهم مصروفه وي. نه امکان نلري که مصروفه هم وي مبایل ورسره وي هغه صبا څه زه پیژنم هیڅکله مبایل ځانه لري کوي ناا

فېسبوک پاني ته لارم میسج می ورته وکه...

فرهاد- سلام صبا ، .... کولی شوو خبري وکړو .

فېسبوک ملګري نه وه کولی می نشوو ورته زنګ ووهم .. یو ځلي می بیا ورته مستقیم زنګ  وواهه اړیکه نیولی خو جواب نه ورکوه مبایل می تخت باندی واچوه  خدای څخه می ګیله وکړه زما تقدیر ولی داسی تور او بدبخت دی که زه اوس هلته کابل کي وایې اوس ټول موضوع توپیر کوه بیا ...

فرهاد- خدایه څه کیږی یوازي یو ځل زما زړه غږ واوره ....

فرهاد د مبایل زنګ غږ پورته شوو باور یې نه کیدو چې دومر زر یې دعای قبوله شوه  په منده منده مبایل خواته ورغی پرته د نوم لیدو یې موبایل الو کړو او ویې ویل: الو   آورم  ... صبا

مور- الو زویه جانه

بدبخت کله فرهاد پریخودلې و چې اوس یې پریږدی؟ د موبایل شاته اړیکه نیونکې ړ فرهاد مور محبوبه وه نه صبا...

محبوبه- څنګه یی زوی جان ښه یی؟

بیاهم اوښکي فرهاد سترګو څخه راوانی شوي ځان په سختي کنترول کړو او کرار یې وویل: اه موری...

محبوبی خپل د زوی نارمی احساس کړو مورګانې تل خپل د اولادونو بی قراری احساس کولې شی د هغوی احساس دومره قوي دی چې هیڅ نشي ورنه پټ کیدلی..

محبوبه-  فرهاد زویه کوم څه شوي  ؟

فرهاد- ناا موری..

محبوبه- فرهاده...

شاید فرهاد صبر تمام وه په ژړا شوو ورته او ویې ویلچ: ښه نه یم موری هېڅ ښه نه یم.

د فرهاد د سلګو سلګو غږ د مهربانه مور زړه یې ناتوانه کړو او په تلوار یې وویل: مور دی ستا نه زار شي وواېه څه شوي زویه.

فرهاد- دعا وکه موری.

امهمممم بیچاره فرهاد هغه ۴۲۰ فرشاد جنی د لاری وباسل دی بدبخت دلته وریسی زاړی ای توف په دی شانس😒

#جهنمي مینه.

#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

#دیارلسمه برخه.

________________🖤

بِسمِ اَاَاَللّٰهِ اَاَاَلرحمٰنْ اَاَاَلرحِيم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

د فرهاد د سلګو سلګو غږ د مهربانه مور زړه يې ناتوانه کړو او په تلوار يې وويل: مور دی ستا نه زار شي ووايه څه شوي زويه.

فرهاد- دعا وکه موری.

#اوس نوې برخه...

محبوبه- خدای دی ما ستا څخه مخکې کړې چې ستا داسي ناتوانه ورځ ونګورم څه شوي زويه؟

فرهاد- هېڅ درپسی خفه شوی یم موری بس...

ددې خبرې وروسته فرهاد اړیکه پریکړی وه، ځکه نه يې غوښتل چې خپل مور پريشان کړې.. څو دقيقې وروسته امين راغلو او ويې ويل: د شپې 9 بجو ته می درته تکت واخسته ضرورت نشته سبا پوری پتمه پاتی شی.

کریمه...

فرشاد 2 بجو ماسپښین وه چې کورته راورسېده په منډه منډه زما خواته راغی.

فرشاد- سلام مور ....

کریمه- سلام دی مور زمري څنګه یی؟

فرشاد- ښه یم ، ښه یم ، ته څنګه یی؟

کریمه- الحمدالله ښه یمه.

فرشاد: موری کاکا ښځه ته دي زنګ ووهلو؟

کریمه: کومه کاکا ښځه دي؟

فرشاد: موری ...

په خندا مې وویل:زما بی طاقته زویه..صبر وکړه زویه یوه ورځ تیره شي بیا زنګ ورته وهم کومه پریکړه نیولی.

فرشاد: نا مور جانی څوک دومره ناوخته کوي نا ، یوه ورځ مرکه ورځي بیا هرځلی زنګ ورته وهلي ..

فرشاد مې د غوږ څخه راکش کړو او ومې ویل: ته اوس ماته عقل راښایی مور زویه..

محبوبه ډیر خفه وه بلی کوټي ته لاړه او شیانی راټوله ولو باندی لګیا شوه، د هغې دا خراب حالت زما و د فرشاد سترګو څخه پت نه وه فرشاد د هغې خواته ورغی.

فرشاد: محبوبه موری څنګه یی؟

محبوبه: ها؟ زویه مننه ښه یمه.

فرشاد: ولی ستړي یی؟

محبوبه: زه ښه یمه خو فرهاد ښه نه وه ، نپوهیږم څه شوي؟

فرشاد: ربښتيا ورسره غږیدلی یی موری ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبوبه: هو نن سهار مې ورسره خبرى وکړل خو هيس ښه راته معلوم نشو.
فرشاد: اندیښنه مکوه مورجانی اوس زما واده څخه خبر شي ښه کيږی .

فرشاد د فرهاد شميري ته څو ځلي زنګ وواهه خوو فرهاد جواب ورنکړو .
فرشاد: ښه خير شايد درس ويلو باندی بوخت وي.
محبوبه لږ خبري فرشاد سرى وکړي موضوعي بدله کړه ، محبوبه خپله پوهيده فرهاد غټ غم لري که چيرى غټ غم او شخصي نه وه کوچنو زخموته يی هيځکله نه ژاړل محبوبه د فرهاد راتګته سترګو په لاره کيناسته صمد کور څخه هم د تلو څخه يې تنکار وکړو او د سر درد بهانه يې وکړل د فرهاد راتګ څخه هم چاته ونه ويلی ځکه هغه پوهيده فرهاد هيځکله صبا مرکه ته نځی محبوبه مور ده خپل زوی زړه خبرو باندي ښه پوهيده که چيرى فرهاد به خوله هم نه راوړي ..ځکه نن ورځی فرهاد خوله نه صبا نوم اوريدلي وه...

يوه ورځ دومره زړه که رقم رقم فکرونه خبري راغلي خپل تير وختي ذهنته راغی کالو، کالو زجر باسلی وه سعيد دومه ښځه وه سعيد منت په ځان وړي وه هغی صرف اولاد لپاره کړی وه ځکه اوله ښځي مور نکيده محبوبه زړه يوازي فرهاد شتون باندی خوشحاله وه نن ورځ فرهاد هم ناتوان ګل په څير مراوړی شوي وه تقدير څخه مقابله کولی نشوه ...فرشاد کورني ټول خوشحاله وه ځکه کريمه زنګ وهلی وه راضي جواب ورکړي وه لکه چې نن شپه بلی جواب هم لاسته راوړی .. ټول فرشاد کورني صمد کور ته ورغل يوازي محبوبه سترګو په لاره يوازينی زوی ته ناسته وه ..

ثنا او موری شپه چمتوالی لپاره بوختی وي يوازي صبا خپلي ګوټي که مبايل که بوخته وه هغه شميري يادته ورغله نن ورځ زنګ ورته راغلي وه شميري ته پام وکړ هندوستان شميري وه هغی هلته هيڅوک نپژندل حدس ووهه فرهاد دي ونيغوښتل زنګ ورته ووهه فکر وکه فرهاد هم غواړي خپل فرشاد وروره مرکه په اړه خبري وکري وسره..

فرهاد....

لعنت دی په دی ورځ وي نه تيريږي خپل لاس ساعته ثانيه ګير ته په زير زبر ګوری ، ثانيه هم خپلو مينځکی جنګدلی عقل ويلی ناوخته کړي دی ده زړه ويلي لا وخت پاتی ده کاشکی مخکي راتلو څخه مور سره می خبري کړي وي آخر څه کيږی څو ورځو شاته وخت لارشی ؟ څه کيږی شاتی وخت کيلي می درلودله؟
امين: فرهاد
فرهاد: عاا
رامين: نديښنه مکوه روستي پرواز زموږ دي.

امين نپوهيده زه ولی تشويش کي يم خوو زړه ته می ښه تسلي راکوله لاس می امين اوږه باندی کيښود يوازي پرنښودم مننه می وکړه پرواز اعلان شوو په منډو منډو ترمينل ته ورغلو.

فرشاد....

نپوهيږم خپلو مرکه هرچېرته داسي وي ؟ ماته خو هيڅ مرکه نښکاری زموږ کورکي خپل ځان پريدي حساب کوم ناا اوس خپل تره کورته راغلی يم پرون شپه می پلار مرکه خبري کړي وي زړه می ټول وه پلار می مور د مرکه خبري کوي لږ ځند روسته صبا راغله پام می صبا ته شوو په جګ غږ يي سلام واچوه لاسکی ميوه پتنوس يی ميز پر سر کيښود خپل ځاني زر زما د سترګو څخه پناه يو کونج کي کيناسته هغه بی خبره دينه وه زه لس کيلو متر کي که هم سمه په زير کتلي شم ژير رنګه جامي شين رنګه تکری اغوستي وي داسي رنګونه يو ځای شوي وه لکه شپه ورځ صبا ښايسته ښکاره کيده ډير شرم څخه لکه ميز

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرسر ګلاب پښان شوي وه

نن اوله ورځ وه چې ما صبا ته یو بل نوم خوښ کړو"ګلاب مې:

زر می لاس جیب ته که مبایل پسي کرځیدم لاس ته می راغلی مبایل زر می صبا ته میسج وکه: سلام ګلاب می..

زما میسج سند شوي نه وه هغه ځایه څخه پورته شوه..

فرشاد: ترڅه وخته تښتېدی ګلاب می...

اهمممم ولای د فرشاد مینه هم پاک ده په مرکه ورغلی په حلال نکاح یې غوارې خو نه پوهیږم زما ولی ورځخه بد راځی یو رقم ۴۲۰ او بیحد چالاک راته ښکاری 😕

#جهنمي مینه.

#ژباړونکې: خواجه زی خیروندیه اداره.

#خوارلسمه برخه.

_______________🖤

بِسمِ أاألَلّهِ أاألَرحّمَنْ أاألَرحّيَم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

صبا ته میسج وکه: سلام ګلاب می..

زما میسج سند شوي نه وه هغه ځایه څخه پورته شوه..

فرشاد: ترڅه وخته تښتېدی ګلاب می...

#اوس نوی برخه...

صبا....

باید نن شپه چای میلمنو ته ما وړې وایې تول شیان په ظاهر د مخکې پښان وه خو ما ته یې توپیر درلوده هغه هم 180 درجه توپیر درلوده کولی می نشوو هغوی مخته ورشم ډیر کوښښ کوم ځان پټ کړم چای وینسم آخ آخ خور می زه آرامه چیرته پریښودم مجبوره کړم میوه ویسم سلام تولو ته واچوم پنځه دقیقی مجلس که هلته کینم روسته ګوتي ته لاره شم میوه می واخسته لاس می رپیدلو باندی پیل وکړه تر ګوتي پورې 1000 کالورې لاس څخه می ورکه همدا څه ګوتي ته ورسېدم جګ غږ می سلام واچوه زر نږدی دروازه یو کونج کې کیناستم ترڅو زر ووځم شیبی می شمیرلې ترڅو پنځه دقیقی څه خور می ویلی پوره شی او لاره شم ....

همدا چې پنځه دقیقی پوره شوی خپل کوټي خوا ته مې منډه کړل، په تخت باندی پرته وم مبایل غږ می پورته شوو صفحه می خلاصه کړه فرشاد وه اول میسجی صحت پوښتنه وه دومه ګل ګلاب لیکلي وه خندای می ورته راغی یعنی اوسي ځانته دا حق ورکوي ماته په هر نومي څه خوښیږي غږ وکړي؟ کومه پوښتنه مانه کړي وه جواب می ندرلوده "ترڅه وخته تښتېدی رانه؟"

د سعید کاکا د تلوو وروسته ځان می ګوته که بندی کړي وه غوښتل می ځان به ویده توپ واچوم ځکه توان می ندرلوده پلار سره څنګه مخامخ شم بلي خوا سوالونه ته می جواب ندرلوده که پوښتنه وکړي راضي یم او کنه څه جواب ورکم دا اولین پریکړه وه ما باید نیولی وي تمه می درلوده هرڅلی پښان وتښتم خو ونشوو خور می راغله وویل: راشه پلارمې درته غږ کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار ګوتي ته ورغلم سلام می ورته واچوه....
پلار: علیک سلام زما سپوږمی.... ویښه وي....
صبا : هو پلارجانه
عجبیه سواله وکړل هیڅکله دا پوښتنه رانه کړي نه وه نن شپه رانه وکړه شاید

کوښښ کوه مرکه خبري پیل کړي؟
صبا: هیڅ پلار جانه لږ شیان می واخستل
پلار: ښه مبارک دی پخیر ګټه واخلئ.
صبا: مننه.
مور : صمد جانه اصلی قضیه ووایه.زما خوږی لوري پلار دی ځکه راغوښتي ترڅو د فرشاد په اړه ستا د نظر پوښتنه وکړی زموږ خوا مشکل نشته ښه هلک دی خوو ستا نظر مهمه دي.
مور غوږ کي می کراره وویل: زه څه ووایم موری ؟؟
پلار: هرڅه زړه دی غواړي ووایه لوري مخکي بلي جواب څخه می سعید ته وویل اول صبا سره خبري کوم راضي نه وي، نو هسی ځانونه مه په تکلیف کوی او ځي راځي مه، ځکه دوستی په زور نکیږی که ستا خوښه وي مشکل نه وي مسله به مخته ویسوو

مور: اول خدای دی خیر کړي دوم زه کوم دلیل نګورم فرشاد ته نه جواب ورکوه ښه هلک دی معتاد ندی کورني روزنه هم موږ ته معلومه ده .زما نظر مثبت ( ) دی او هو.
صبا: تاسو مشران بهتر پوهیږي مور جانی..
صبا دا خبره وکړل او په تلوار د کوټې څخه ووتل..
صمد: یعنی صبا راضي ده ؟
اصیلا: که راضي نه وه داسي نه ویلي هرڅه تاسو خوښه وي.هغه داسي څوک نده چې د هر چا خبره ومني ... ښه مرکه بیا خپل نیږی کورني ده ..

فرهاد.....

نیمه شپه وه کورته ورسیدم زړه می نه غوښتل امین یوازي دا وخت خپل کورته لارشی بله چاره می ندرلوده نه می غوښتل رسوا شم شاید امین خپله هم پوی شوی وي زما وضعیت ښه نه وه زما بیک دهلیز دروازه که کیښود یوازي وویل: کوم څه غوښتل یوازي زنګ ووهه امین تکسی ته پورته شوو هغه تکسی موږی هوای دګر څخه رانیولی وه .آرامه دروازه لاستی می خلاص که دوه ګامه مخته تللی نه وم صالون چراغ بل شوو هوو مور مي وه یوازي زما یوه کلمه هغه بی خوبه کړي وه.

مور سترګي مي کاسې څخه ووتی زما خراپ وضعیت په لیدلو خپل ځانته می لعنت وکه زما مور چیرته دومره خوشحاله لیدلی وه زه خپل غمونه بار هم ورباندي زیاد کوم؟ مور خواته نیږدي شوم په سخته می خندا شونډو ته راوسته. او کلکه غیږي می مور ته ورکه یوازي آرامښت مور غیږي ده زما زخمونه مرحم ده .
مور: زویه څنګه یی ؟
فرهاد: ها مورجانی.

څوشیبی مور غیږیږی وم مور ځان رانه جلا که وویل: خپلي ګوتي ته لارشه ږوږی دروړم ..
فرهاد: اړتیا نشته موری زه وږي نه یم .
مور : امکان نلري حتما کوم څه دي خوړلي ندی داسي ډنګر ضعیف شویي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مي تېروتنه کول ما خپل حق خوړلي وو بی حسابه غمونه می خوړلي وه، ډیر دردونه، زړه وینه  می خوړله مګر ځومره می نور هم باید خوړلي وي ؟
فرهاد:موری که خوب درغلي نه وي کولی شي خبري وکړو ؟

محبوبه....

سعید دوې د صبا له کور څخه راغلي وه ټول خوشحاله وه لکه چې هغوی ورته " هو" ویلي وه؟ خو مه جرعت کولی نشوو پوښتنه وکړم هغه جواب څخه وریدم زړه می غوښتل دنیا ته آور واچوم ځکه ویریدم فکر می کوه فرهاد هم صبا غواړي ، نا‌ا امکان نلري، که صبا غوښتله ماته حتما ویلی، او که داسي وي بیا څنګه وکړم ؟

سترګو څخه می خوب تښتېدلي وه لس ثانیه می هم سترګی ترلی نشوی کله دهلیز ته تلم کله فرهاد کوټي ته آخر هم فرهاد لاره څخه راورسیدی هغه په لیدو می احساس وکه کلونه کیږي هغه څخه لري یم زما فرهاد څو ورځو که ځومره توپیري کړي ده یاالله ژوند هغه سره څه کړي دي؟

فرهاد می کلک خپلي غیږي ونیولو هغه مهربانه کوچني زړه  سینه که درزیده، هغه ډیر سوالونه خبري درلودی خو زما هغې خبرو اوریدلو توان ندرلوده نه جوابونه جرعت می نه  درلوده،  سترګي پرسیدلي وه جامو څخه یې د سګرتو بوی راته مطمینه شومه ټول فکرونه می حقیقت لري  فرهاد درد بیحده ډیر دی هغه سره کوټي ته لاړم خپله دروازه بنده کړه پوښتنه وکړه: موری صبا څه وویل؟
مور : هیڅ زویه څه ووایي؟

فرهاد: زه پوهېږم هغه صبا دا مرکه قبوله کوي نا  فرشاد سره هغه ډیر توپیر لري.  دا فرشاد څه لپاره د صبا نوم واخسته ؟ حتما غواړي ریشخندی وکړي دا هلک هیڅکله هوښیار کیږي نا‌ا،

اوس فرهاد ماسری خبري کولی یوازي خپل ځان قانع یا ډاډمن کوه ښکاره نه وه ، خوو زما تشویش درلوده خپل زوی له لاسه ورکړم هغه هېڅکله چاسره مینه ندرلوده هیڅ شی سره مینه نه پیدا کوله ځکه هرشي به خوښ شوو هغه ورنه خراپ کیدو  او ډیر به ورته غمجن کیده.
مور: ولی پوښتنه کوي زویه؟

سعید: مرکي مسله که ریشخندی نکیږي فرهاده.

اهممممم پلار يې راغی😱 ایا پلار به یی خبر شی چی دواړه زامن یی په یو انجلی مین دی؟ 😱🙈 اوس به څه وشی؟ صبا جانی خو هلته هو جواب ورکړو😕

[#جهنمي](#) مینه.
[#ژباړونکې](#): خواجه زی خپروندیه اداره.
[#پنځلسمه](#) برخه.
________________🖤
بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرحمٰن اَاَاَلرحِیم

[#د](#) تېرې برخې وروستې لفظونه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورنه خراپ کیدو او ډیر به ورته غمجن کیده.

مور: ولی پوښتنه کوي زویه؟

سعید: مرکې مسله که ریشخندی نکیږی فرهاده.

#اوس نوې برخه...

د سعید غږ زموږ خبري پایې ته ورسولي..فرهاد سلام ورته وکه پلار لاسونه یې ښکل کړل ، سعید هم فرهاد وضعیت سکرت بوی ناکی جامو څخه پوی شو چې زوی یې یو مشکل لری چې ویې ویل: څنګه یی فرهاد ؟

فرهاد: ښه یم پلارجانه .

سعید:  کومه ستونزه لري؟

فرهاد په بنده ژبه ورته وویل: ناا

سعید: آخر ځل دی وی سکرت بوی درنه ځې داسي فکر مکوه غټ شوي یی ، کوم څه درته وایم نه.

فرهاد:  اوبخښی ..

سعید شونډو که لږ خندا ښکاره شوه او ویې ویل: ښه وشوو راغلی سبا ته مرکه باندی ځوو هسی زړه کیدی د کشر ورور د مرکي ارمان پاتی نشی. ښه وه چی راغلې. اوس ویده شه ناوخته ده سبا ته خبري کوه.

فرهاد:  پلاره صبا

فرهاد....

د صبا په نوم اخیستلو مې ذهن هک پک پاتی شوو او نه پوهیدم څه ووایم؟

سعید : صبا څه ؟ سبا ته کوم چیرته ځی ؟

پلار می زما هدف وانخسته یا قصد یې زما خبري ته پام ونکړو زما درد نور هم ډیره وه تر دي اندازه چې مخامخ بغیر له کوم ډار څخه می پلار ته وویل: زه صبا غواړم... پلار زه غواړم صبا ماته مرکه وکړي نه فرشاد لپاره..

سعید: پوهیږی فرهاده څه وایې؟

فرهاد: پلاره خیر دي اجازه مه ورکوئ فرشاد صبا رانه واخلي..

سعید: ولی؟

فرهاد:  زه ...... ( زه سکوت می وکه) پلار غواړم صبا سره واده وکړم.

سعید: افرین په هغه شیدو شه چې تا خوړلي نن او سبا زما عمر برابر کیږي خو خوی او عادت دی تراوسه د ماشوم توپ ده دا کوم موټرک یا د لوبو سامان ندي چې فرشاد ځانته غواړي او ته د هغه له ضد ځانته غواړې.

محبوبه:  قربان دی شم سعید کراره ټول دي راویښ کړل.

سعید: ماته مه وایه زوی دی  پوی که.

فرهاد: پلاره زه ماشوم نه یم ، ارتیا نشته څوک می پوی کړي، زما پریکړه وه هند څخه راشم تاسره خبري وکم درته ووایم صبا زما لپاره...

سعید:  بس فرهاده ، هر ډول پریکړه وه مخکي وه نوو ، اوس فرشاد مخته شوي درنه، مرکه یی کړی ده،  نوو اول حق دی هم هغه دی ، که چیری صبا یا کاکا لخوانه څخه دی فرشاد  رد جواب شوو  ته هم  کولی شي ته هم حق لري خپل نوبت باندی صبا مرکه وکړي.

فرهاد:  مهمه نده پلاره  سبا ته خپله کاکا سره خبري کوم مطمینه یم فرشاد څخه بهتره یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریمه: اه بخیلو زما زوی خوشحالی زغملی نشي ځنگه ونه شرمیدی خپل زوی دی رامخته کړو ؟
سعید: کریمه ته نور موضوع مه کش کوه.
کریمه: ولی ونکړم ؟ دا هلک په څشي باندی غرور کوي خپل ځان زما فرشاد ځخه ښه گڼي؟ او مور یې بیا زما زوی ته غټې غټې وعدی ورکولی چی صبا ستا ناوی کوم درته راولم یې اوس هضم کولی نشی بخیلی لپاره خپل زوی رامخته کوي؟

اوښکي وي چې د فرهاد تور سترگو ځخه راوانی وي خپل دردی کم وه مور باندی تهمت هم وزغمي خدای شاهد دی محبوبه ارواح هم خبره نوه کومي وعده څه فرشاد ورکړې وه زړه ځخه وي.

محبوبه: همدي حالت څخه ویریدم اوس زموږ پرسر راغی فرهاد فرشاد دواړه صبا غواړي ای خدای دا ورځی هم دلیدلو وې چی تا زه ژوند پریخودم ورته؟

فرهاد یوازي ناهیلې د کوتي کونج که ولاړ وه یوازي ماته سترگي نیولی وي هرځلی زما لپاره مجبوره وه غلی پاتی شی عذاب راکوه هرځلی خپلو زخمونه همراز کوم همدای دلیل شوو فرهاد غلی پاتی شی کنه حق هم درلوده خپل زړه خبره وکړي
مگر داځلی ناساپه مور لخوا ضربه وخوړه شاید دا خپل کار هیڅکله ونبخښم.

کریمه: سعید جانه خدای شاهد وبوله روسته پریگړه ونیسه اول حق دی فرشاد دی
سعید: کریمي غلی شه گوتي ته لاره شه.
کریمه مور په خبرو او گیلو سره د کوټې ووتل او ویل یې: هند څخه په منډو راغلی تر څو زما د کورني خوشحالی خراپه کړي.

د هغې دتلو وروسته سعید فرهاد ته ښکاره وویل: زما زوی که چیری یی زما او مور عزت غواړي تر صبا جواب پوري غلی اوسیږي ځکه اسلام که ویل شوي: کله چې اول نفر جلی مرکه ته لار شي بل هلک حق نلري مرکه ورلیږی باید انتظار اوباسي.

یو ځل بیا هم فرهاد خپلي مور لپاره غلی پاتی شو سهار کیدو انتظار اوباسه سباته څه کیږی اخر ورځ دی گټونکی اونه گټونکی معلوم کیږي کوم وروره تاج تخت اخلي یا هم تابوت ....کوم څه تقدیر په نوم شته ټول ورته سترگو په لار وي هر څومره کوښښ وکړي څوک تقدیر بدلولی نشي همغه اولنی خط ته ځی تقدیر انسان سره ډیری لوبي کوي ژوند به امید خوړلي شوي تقدیر تقدیر....

هغه شپه د دواړو ورونو لپاره یو مهمه شپه وه، فرشاد لپاره خوشحالی راتله شاید فرهاد لپاره غمونه؟ ایا تقدیر فرهاد ته ماته ورکړل یا هم د زمانی دوکو او لوبو؟

فرهاد ټوله شپه خپل د مور د اوښکو ډکو سترگو غوسه وخوړله ځکه ټول عمر د مور اوښکو شاهد وه سهار لمر ختولو لپاره دواړه بیقراره وه فرهاد سترگي دروازه ته کندلی وي ترڅو موری راغله مور او زوی سترگو څخه ښکاره وه سخته شپی تیره کړي وه. د محبوبی محبت ناکه خبرو او لاسونو لږ د فرهاد بی قراره زړه ته کرار ورکړو.

مور: سلام زما د سترگو توره.
فرهاد: سلام موري.
مور: زما فرهاده مااوبخښه زما بدبختی ده چې خپل د زوی د زړه څخه خبره نه وم.
فرهاد: زما گناه ده، مه باید تاسره خبري کړي وي خپلو لاسونه می دا بخت خپل دروازه ته راوړي .
مور : ای کاشکی زویه کاشکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد: دعا کوه موری ناوخته شوی نه اوسي.
مور : دعا کوم خدای دی خیر راپېښه کړي زویه نور ته سوچ مکوه.
فرهاد: نشم کولی موری دا خیر پرته له صبا نه زما لپاره خیر نشته.

سعید دروازه تک تک کړه.
محبوبه: سلام
فرهاد: سلام پلاره.
سعید: علیکم سلام( سعید د لږ خند چوپتیا وروسته په کراره لهجه پداسې حال کې چې فرهاد ته کتل ویې ویل: لمانځه وروسته صمد سره می خبري وکړي.... ویل یې دسمال راوړو لپاره یوه ورځ وټاکو او لاړشو.... راغلی وم ووایم تر څو خبردار اوسیږی.

امممممممم وای وای صبا یې ورکړل فرشاد ته 😱😒
بدبخت فرهاد دومره راغلو دومره چغی کړل خو بی فایده هی هی..

#جهنمي مینه.
#ژباړونکي: خواجه زی خپروندیه اداره.
#شپاړسمه برخه.
______________🖤
بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرِحمٰنْ اَاَاَلرحیِم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

فرهاد ته کتل ویې ویل: لمانځه وروسته صمد سره می خبري وکړي.... ویل یې دسمال راوړو لپاره یوه ورځ وټاکو او لاړشو.... راغلی وم ووایم تر څو خبردار اوسیږی.

#اوس نوې برخه...

د پلار خبره سم د جوشو اوبو پشان وه چې د فرهاد په زخمي بدن باندی توي شول، سعید یوځلي بیا فرهاد اعدام لور ته کش کړو د دي ورځی ته وروسته نور فرهاد ژوند معنا ندرلوده فرهاد سترګي نور خپل بدبختی زغملی نشو دواړو هغه ته نظر نیولی وو محبوبې په ډکو سترګو د ژړا خپل زوی ته کتل او سعید په ناتوان نظر... فرهاد په تلوار خپل دموټر کیلي راوخیسته او د کور ووت. سعید د دواړو زامنو مینځ که بند پاتی وه او حیرانه وه چې څه وکړي؟

دنیا ډیر حشتناکه ده یوازي شي همدا ده هرڅوک خپل ځانته دلیل لري او دا ځلی د خفګان دلیل فرهاد صبا وه او خوشحالی دلیل فرشاد ته هم صبا! فرشاد و فرهاد دواړه یو څوک غوښتل هغه هم(صبا ) هی هی نوو کاشکی صبا دی موضوع خبره وي سم انتخاب کړی وي کاشکی فرهاد فرشاد زړه یو صنم ته ورکړي نه وي دا صنم څه لری چې دومره غوښتونکی لری؟ دومره ښایسته هم نه وه خوو دا دواړه وړونو ورته زړه ورکړی وو!

فرهاد مبایل، موټر کیلي میز سر نه واخسته او د کوټې څخه ووت ناا کور څخه نه بلکه د ښار څخه هم لري لاړ ... اوښکي محبوبه سترګو کی راټولی شوي خو و نه بهیدی اجازه ورنکړه شاید بیګاه شپه ډیر ژړلي وي سعید نه پوهیده چې د فرهاد په غم وژړای که د فرشاد په خوشحالی و خاندی او خوشحالی وکړی. داسي حالت که پلاره ته دواړه اړخه سخته وه ، سعید ته دواړه زامن کران وه بله چاره نه وه تقدیر ته تسلیم کیدل یوازي تقدیر...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد....

سهار می د مور په ښو خبرو پیل شو مور مي غيږي ونيوله زار قربان صدقه ورځخه شوم، اول ځل لپاره می مور څخه می محبوبه موری نوم واوریده چې ویې ویل: لاړ شه هغې څخه مننه وکړه زما څخه نااا ، هغه مور حق ځای ته راوړه که محبوبه نه وه زه دومره مخته نه تلم دی ځای ته رسېدلي نشوم.. هغه وه چې انصاف یې وکړو او تاته یې دا خوشبختی درکړه.

فرشاد: موری څه وخت د دسمال او د هو جواب اخیستو پسی لاړشو؟

کریمه: لیوني هلکه(بلي ) ښکرونه او لکۍ نلري همدا چې وویل هو او ویې منل یوه ورځ ټاکو او دسمال راوړوچ.

فرشاد پخلنځی لور ته لاړ ځکه سهار چای هروخت محبوبه مور تیار کوه مننه لپاره محبوبه مور لاسونه ښکل کړل محبوبه څخه دعا غوښتنه وکړه محبوبه کومه دعا څه فرهاد لپاره کړی وي هغی فرشاد حق کې وکړه.

محبوبه: انشاءالله یو ځای خوشحاله عمر تیر کړي یو بل سره زاړه شي زویه...

صبا چې خپل ځان تقدیر ته تسلیم کړی و، د ژوند د نويو لوبو په تمه کېناسته. او د هغې د واده پریکړه چې پلار او مور یې نیوله د خلکو له نظره معقول او سمه وه.

د الطاف د راضی کسدو او ښوې له اوریدو وروسته پریکړه یې وکړه چې دوه ورځې وروسته به د شیرین خوري محفل لمانځي او له هغه ځایه چې الطاف یوه میاشت وروسته رخصتي لري او دلته راځي او واده وکړي. د ټولې کورنۍ غړو ته د احوال ورکولو وروسته ټول په کارونو او په سودا اخیستلو بوخت شول. تګ او راتګ د نورو وختونو په څیر ډیر شو ټول یو کار پسې تلل او پدې مینځ کې یوازې فرهاد وو چې ورک وو او هیڅوک هغه پسې نه وو. حتی د هغه په راتګ سره د پلار او میندو پرته یې بل څوک خبر نشول.

محبوبې دوه ځلې فرهاد سره اړیکه ونیوله او دا چې فرهاد پوهیدو که نمبر یې بند کړي د مور قیامت یې پیلیږي هر دوه ځلې یې په آرامۍ او صاف غږ سره د مور ځواب ورکړو مګر هی افسوس اوسل افسوس د فرهاد په یواځېتوب چې خپل د ځان او یوازیتوب پرته بل ملګری نه درلود. حتی تنهایي له هغه نه تنګ شوې وه او د تیښتې لاره یې لټوله. دا چې فرهاد دوه ساعته پرله پسې موټر چلولی او کوم ځای ته رسیدلی نه پوهېږم. مګر هغه د وجود له تله یوازې وه. تر ټولو لوړ ځای کې ولاړ و ښکته یې کتل د هغه عقاب په شان چې وزر یې مات شوي او په هوا کې سقوط کړی وي.

مګر فرهاد د سقوط کولو اجازه هم نلري هغه که سقوط وکړي خپله پرېشانه مور او او بې کسه خویندې د چا امان ته وسپاري. د موبایل لرزې هغه د فکرونو له نړۍ څخه راویست. سره لدې چې توان یې نه لرلو چې خپل احساس کنټرول کړي غږ یې صاف کړ او موبایل یې په لاس کې واخیست تر څو یو ځل بیا د خپلې مور اندیښنه له منځه یوسي. خو کوم نوم چې د موبایل په صفحه راغلی وو غریبو یې ډیر شوی و.صبا وه، هغه صبا چې څو شېبې وړاندې فرهاد خپله ګڼله. مګر د تیرو دو درې ساعتونو څخه وړاندې صبا له پردیو څخه هم پردۍ شوې وه.

اوښکې یې پاکې کړې غوښتل یې اړیکه وصل کړي، خو د څه لپاره؟ صبا چې د فرشاد لپاره هو ویلي و نو اوس فرهاد څه غوښتل واوري او حتی که هغه پوښتنه وکړي چې د څه لپاره دې مسج پریښی وو څه ځواب ورکړي؟

هغه هیڅ یوه ته هم ځواب ویونکی ندی. موبایل یې په ځمکه وویشتو. او چیغې یې زیاتې شوې... خدایه دا دومره درد بسنه نکړي؟ زما ځوریدل درته خوند درکوي؟

ځان دې رانه واخیست نو روح مې هم واخله....زه دې له مرګ پرته ووژلم خدایه.....

خپله مې روا وګڼله چې هر څه مې په سر راغلل زه د تقدیر په باور کیناستم او دا تقدیر دی چې د ظلم کولو نه لاس نه اخلي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا....

ژوند هره ورځ رنګ بدلوي له نن پرته چې د سهار نه راپدې خوا همغه رنګ او تازه ګي لري مور مې له پرون راهیسې داسې کارونه بیړه مخ ته وړل چې ته به وایې لومړۍ ځل دی لور واده کوي. ټول ته به یې زنګونه وهل خپلوانو ته یې د راتلونکو دو ورځو لپاره بلنه ورکوله، زموږ په کور کې د پاتې کیدو لپاره یو ځل بیا ثنا بهانه پیدا کړې وه. هره ورځ درې څلور وارې به یې تګ او راتګ کاوه، نن مې مور او ثنا د سودا، ګل او شیرینو د فرمایش لپاره ولاړې زه پاتې شوم او د کور کارونه، په دو ساعتونو کې مې ډوډۍ پخه کړه نا مینځلې لوښې مې ومینځل او حتی نا مینځلې جامې مې په ماشین کې واچولې او د خویندو د راتلو په تمه کیناستلم.

پس له دو درې ورځو مې موقع پیدا کړه چې سر فیسبوک او مسنجر ته ښکاره کړم او له بلې خوا مې باید ملګرو ته خبر وکړم چې د مجردانو له لیست څخه مې نوم وباسي او د متاهلانو په شمار کې مې اضافه کړي.لس دقیقې وروسته مې فکر په مسنجر کې یو رالیږلې مسج ته شو خلاص مې کړ فرهاد وو.دا چې فیسبوک کې ملګرې نه وو مسنجر ته یې مسجونه نه وو راغلي د مسج ترلاسه کولو وروسته دوه ځلې مې زنګ ورته وکړ په لومړي ځل اړیکه وصل شوه خو دوهم ځل نه ښکاریده چې آنلاین دی. شاید کومه جلسه څه کې وو مزاحمه شوې وم ورته. یوازې مې مسج ورته ولیکو: سلام وبخښه تاسو زنګ وهلی وو او زما فکر نه وو شوی. اوس هم فکر کوم مزاحمه مو شوم.

امهمممم بیخی نامی کار دی وکړو اغلی صبا اوس یی هغه بدبخت ته جواب ورکړو😒 کله چی کار تر کار تیر شو ایا تیر شو؟ یا لا پاتی؟ یعنی صبا لاړه د فرشاد شول؟ یا په ۹۰ دقیقه کی خبر بدل کیږی؟ تا څو څه فکر کوی🙄

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#اولسمه برخه.
________________🖤

بِسمِ اَللَّهِ اَلرَحمَنِ اَلرَحِیم

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

یوازې مې مسج ورته ولیکو: سلام وبخښه تاسو زنګ وهلی وو او زما فکر نه وو شوی. اوس هم فکر کوم مزاحمه مو شوم.

#اوس نوې برخه...

د هغه ورځې په ماښام ثنا او صبا د سودا اخیستلو لپاره تللې وې هر هغه جامې چې صبا لیدلې هغه یې غوښتل چې واخلي او واغوندي مګر له دو دریو جوړو یې زیات حق نه درلود چې واغوندي.
حسیب: ولا صبا که همداسې دوام ورکړې، فرشاد به راتلونکې میاشت پښیمانه شي. هر هغه جامې چې ووینې وایې واخله او بس.. که د پلار بانک مو راوړی وای، اوس به وخته خلاص شوی وای، او په خپله مخه به تللی وای.

فرشاد هم د زومان په رقم ځان ته دریشي واخسته او بیا یې خپلې ټولې خویندې او کوچنی ورور له ځانه سره سودا اخیستلو ته بوتلل او په لاره کې د سمن په فکر کې شو لاړو او هغه یې هم ځان سره واخیستله. مېرمن محبوبې هم د ځان او فرهاد لپاره جامې چمتو کړې، هغه اټکل کوي چې ښایې فرهاد به هم په محفل کې ګډون وکړي.فرشاد دوه ځله فرهاد ته زنګ وواهه او موبایل بند ښکاریدو. او دا چې هغه د خپل مشر ورور پرته د زوم جامې واغوندي د هغه لپاره ناخوښه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد د شپې په دولسو بجو کابل ښار ته ورسېد او هلته یې د سخت سر درد له امله موټر ته سترګې پټې کړې هغه یوازې درې ساعته خوب وکولی شو، چې د فرهاد د ستړي بدن او روح لپاره کافي نه و. د هغه ستړې سترګې د پخوا په پرتله لږ دید کولو شاید ژور خفګان اخیستی وو. هغه د پاتې کیدې لپاره هیڅ ځای نه درلود، او حتی که یې لرلو هم هغه نه غوښتل چې د چا په کور کې خپل ماتم سرای جوړ کړي. فکر یې امین ته شو، او له امین څخه ښوک ښه دي؟هغه په چټکۍ سره د امین کور ته ځان ورسو او شاید فرهاد واقعیا د بې وسۍ احساس کاوه او د هغه ته یې ټولې ستونزې تعریف کړې.

صبا سهار وختي له خوبه راویښه شوه او د ثنا سره نږدې د آریشګاه ته ولاړه خپل د ورځو لږ کونجونه مې لرې کړل او د سترګو په سر لږ نازکې کړې. او د ثنا په غوښتنه، دوی دوارو خپل سرونه او مخونه منظم کړل او کور ته لاړلې. صبا هغه ارغواني رنګه جامې چې نوې اخیستې وې واغوستلې، د سترګو خط یې لږ بدل کړ څو د جامو سره یې سمون وخوري. د ګل یو ښاخ چې په میز کې وو واخیست او ډیر عطر یې پرې ووهل او د بکس په لاس کې وتړل. تر څو په هر ځای کې د هغې سره ښه بوی ولري.

فرشاد او د هغه میندې، د هغه ورور او خویندې ټول د وتلو لپاره چمتو وو او د نورو ټولو په څیر یې د شپې ترتیبات نیولي وو اصلي محفل د شپې د زوم په کور کې دی. فرهاد چې پوهیده تر څو چې مور یې په حالت کې نه وې خبره، ارام به نلري د امین له موبایل څخه یې ورته زنګ وکړ تر څو خیال یې راحت شي که څه هم مېرمن محبوبې د فرهاد پر ورتلو ټینګار کاوه، خو هغه ونه منله.

امین: خو که فرشاد پوه شي چې ته دلته یې او ته نه یې تللې، هغه به خفه شي.
فرهاد- مهمه نده.
امین- هغه حتی ما ته د شپې لپاره بلنه را نکړه...
فرهاد - ستا لپاره کومه مانې نشته، ته کولی شې لاړ شې، امین، زه یوازې ښه یم.
امین- توبه وباسه وروره، پاڅه چې لاړ شو
فرهاد- زه د تګ حوصله نه لرم.
امین- سمده راځه هغه ځای ته ځو چې ته یې حوصله لرې
فرهاد- نلرم، زه د هیڅ ځای حوصله نلرم
امین- نو لږ تر لږه راځه چې لاړ شو یو موبایل واخلو، محبوبه خاله ستا د غږ نه اوریدو طاقت نلري.

د موبایل له اخیستلو وروسته امین بیا د فرهاد سمیکارت شرکت ته ولاړ او بیا یې ورته همغه شمېرې واخیسته. انټرنیټ یې ورته فعال کړ او هغه ته یې وسپارل.
فرهاد چې یوازینۍ شتمني یې صبا وه، هغه یې هم له لاسه ورکړې وه. خپل مسنجر یې خلاص کړ او د صبا مسج.....
صبا- سلام وبښئ، تاسو زنګ کړی و او زما فکر د ندی شوی، اوس هم فکر کوم مزاحمه مو شوم.

د صبا د میج په لیدو فرهاد ځان سره وویل: ای کاش ستا دا مزاحمتونه زما په نصیب کې وای. خو داسې نه ده. ما غوښتل ولیکم چې ته مزاحمه نه یې، بلکې زما د هر زخم مرحم یې. ستا د یادونو پرته بل څه مصروفیت؟ خو دې ظالم برخلیک له ما سره ظلم وکړ. زه څنګه کولی شم دا ظلم د خپل ورور لپاره روا وګورم؟ ای کاش چې زه پوهیدی او لږ وخت مخکې مې له صبا سره خبرې کړې وای، نو شاید اوس زه د فرشاد په ځای وم، خو فرشاد څه؟ هغه به زما په ځای وو؟ هغه هم داسې په خاموشۍ سره درد ایستو؟ یا به یې چیغې وهلې او اجازه به یې نه راکوله چې خپله خوښې ووینم.

امین: زه داسې خبرې نه کوم، فرهاد، چې غلط یې درک کړې، خو فرشاد ستا ورور دی او دا چې ته دلته یې هیڅ ښه نه ده. باید د هغه په څنګ کې واوسې حتی که ستا زړه خوشحاله هم ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا مور کریمه خاله، او کاکا سعید ټول پوهیږي چې ته په کابل کې یې، که فرشاد ته ووایي څه؟کومه خوښي چې د فرشاد لپاره ده مه یې ورنه اخله.راځه چې له دې ځایه بازار ته لاړ شو،دیو جوړ ښایسته جامې واخلو او تر هغې چې غرمه نده شوې محفل ته لاړ شو.داڅه اوسه چې ټول به خوشحاله وي چې تا هلته وګوري. حتی که ...

فرهاد- حتی شتون نلري ... خو راځه چې لاړ شو...

امین- ځې؟

فرهاد -هو

جهنمې مینه، بې ځایه شوې د هر طوفان څخه او سوزونکې د هر اور څخه..

امهمممم اوس یعنی دا بدبخت فرهاد باید د خلکو د شرم خپل د مینی په واده کی هم شرکت وکړي😒 دا ظلم دی پخدای 😕

#جهنمي مینه.

#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.

#اتلسمه برخه.

🖤________________

بِسمِ اَاَللّهِ اَاَلرحمٰنْ اَاَلرحیم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

امین- ځې؟

فرهاد -هو

جهنمې مینه، بې ځایه شوې د هر طوفان څخه او سوزونکې د هر اور څخه..

#اوس نوې برخه...

فرشاد د خپل ساعت سره لوبې کولې ترڅو د وخت په تیریدو سره مرسته وکړي. یو ساعت کیدو چې چمتو دی، مګر نور د زوم څخه ډیر خپلو ځانو ته رسیږي او آرایش کوي.او پای کې دا د سعید غږ وو چې ټول یې په زور له کوټې څخه وایستل او د صبا دوئ کور ته ولاړل.

فرشاد....

که څه هم زموږ ټول خپلوان زما تر څنګ وو، د کاکا زامن،عمه، خاله په هر څلور لارو کې ولاړ وو او نڅا یې کوله او سندرې یې ویلې، خو زما زړه ورور پسې مې پټنګ شوی او زه واقعیا د هغه خالي ځای احساسوم، ای کاش چې موږ د هغه راتلو ته انتظار شوي وای. هغه ورور چې حتی په خبرو کولو ورسره بریالی نه شومه، خو ما له محبوبې مور څخه اوریدل چې هغه ډیر بوخته ده.

صبا....

راغلل راغلل او ټولو په راتګ سره په نڅا پیل وکړ، او مور مې سپیلني دود کړل او د فرشاد ښبو مخې ته یې وروړل ما یو څه په زړه کینه واخسته یعنې زما مور ته فرشاد له ما څخه ډیر ښکلی وو چې نظر شي او زه نه؟

ثنا- یو ځل بیا د خپل آرایش چک کړه او وګوره چې کومه خرابي یې نه وي کړې چې ښکته لاړې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- زه نه ځم

ثنا- ولې؟

صبا- ولې مور فرشاد ته سپيلني دود کړل او دننه يې بوتلو، ته به وايې چې کوم شهزاده دی، او بيا ته ما داسې کش کش کوې او بيايې؟

ثنا په خندا وويل: بخيلې کوی؟

صبا- بخيلي نده خو بدې سترګې په ما هم اغيزه کوي

ثنا په خندا باندې سپيلنی واخيست او عمه دو لروګانو، فرح او سمن سره د ناوې ورلو ته راغلې، واه، صبا دومره زړه راښکونکې وه چې د فرشاد زړه يې يوور.

لا يې خپل پښه يې کوټه کې نه وه ايښې چې د فرشاد زړه کمزوری شو، د هغې د عطرو بوی په ټول ځای کې خپور شوی و او دا د دې لامل شو چې دوست او دښمن هغې ته وګوري. تر دې چې فرشاد څنګ ته نږدې ودرېده، ټولو يو په بل پسې عکسونه واخيستل او ښه راغلاست ورته پيل شو. لږ تر لږه، د فرشاد خويندې دوی نڅا پيل کړه او د فرشاد او صبا شاوخوا نسبتا موقع پيدا شوه او فرشاد له شيبې څخه د خپلې ګټې موقع وګټله او پيسې له جيب څخه راويستې او درې ځله يې د سبا له سر ته تاو کړې.

فرشاد-له بدو سترګو ليررررري، د دښمن سترګې ړندې، د بخيل کور د اور واخلي...

صبا- دا ته څه کوې؟ بده ده مه کوه داسې.

فرشاد په خندا وويل: چاته يې څه زه مې د خپلې ميرمنې له سر څخه بلا ليرې کوم...

صبا- توبه مه کوه، فرشاد بده ده.

فرشاد- څه دې وويل؟

صبا- ومې ويل چې بده ده

فرشاد- نه، نور د څه وويل؟

صبا- ما وويل، دا کار مکوه بد دی.

فرشا- له هغه پرته...

صبا- فرشاد...

فرشاد- جان.. فرشاد...، فرشاد درنه ځار ګلاب مې..

صبا د فرشاد په دسی لهجه د شرم حخه سر ښکته واچوی چې فرشاد کرار وويل: اوس ولې خپل سر شپږ سانتي ښکته کوې، آرايش به د خراب شي.

صبا.....

دا څومره عجيبه خبره ده چې څو ورځې وړاندې مې له دې سرې سره په جګړه کوله، د کوم حيوان نوم نه وو پاتې چې په فرشاد باندې مې ايښی نه و. مګر نن يوازې د ګلابې په ويلو سره په اوبو او خولو غرقه شوم. که څه موده وړاندې وای، اوس به مو څه حال کړی وای؟

فرشاد په شيطنت وويل: د تاثير لاندې مه راځه، ميرمن جانې، لا ډير څه پاتې.

صبا- زه ستا تر تاثير لاندې نه راځم. خو دا ښه ده چې خپلو خبرو ته متوجه واوسې

فرشاد- له ګلابي غمبورو څخه د روښانه ده چې څومره تر تاثير لاندې راغلې يې ګلابې مې.

صبا-ماته ګلابي مه وايه

فرشاد- نو څه درته وايم؟ زما ګرانه! يا هم درته ووايم زما مينه! يا ژوند مې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- توبه چوپ شه کنه باسپړم او خم ددي ځای ښخه..
فرشاد په خندا وویل: سمده سمده دا دي چوپ شوم ګلاب مې...

امین....

کله چې موږ لومړي هټۍ ته ورسیدو، فرهاد د سر ښخه تر پښو پوري تور اغوستي و. او ما هم سمدلاسه یو ښه جامې خوښې کړې وامې غوستلې او د ګل فروشي خواته لاړو، هلته مو د ګلانو یو تازه ګیډۍ او بیا یو ساعت د مبارکي لپاره واخیستل.فرهاد تر اوسه په خاموشۍ ناست و او زما کار ته یې کتل. یوې طلا فروشي ته نږدې، هغه له امین ښخه وغوښتل چې هلته یې ښکته کړي.دا د فرهاد د ښه ذوق وو یا د صبا د بخت له امله، د فرهاد پام په یوه ښکلې او شاید هم ډیر خورا ځانګړي لاس بند ته شو او له ځنډ پرته هغه یې واخیست.

امین- ایا دا ډیر نه دی، فرهاد؟ کاش یوازې دې یوه ګوتمۍ اخیستې او بس
فرهاد- ډیر نه دی، دا د هغه لپاره لږ هم دی
امین- اوس چې ستا دا خوښ شوی، وایخله، خو د واده ډالۍ په توګه یې کیږده

د فرهاد سترګې نمجنې شوې او امین ته یې وکتل او ویې وویل: زه پوهیږم چې دوی واده کوي او کوژده یې کړې او واده هم کوي.
امین- ورور جانه ته غلط پوه شوې
فرهاد- اصلا، که د هغې لپاره نږۍ هم واخلم بسنه نه کوي.
- خپله پوهېږې، راځه ددې ښخه مخکې چې بیا منصرف سې لاړشو..

فرهاد...

زه د کاکا صمد د کور دروازې ته رسیدلی وم او هغه پخوانیو ورځو په یاد چې تر خو دروازې ته رسېدم خدای خدای مې ویل چې کاش صبا ووینم خو نن زه له خدای ښخه غوښتنه کوم چې هغه ونه وینم. ما د خپل زړه ټول قوتونه راټول کړل و دلته راغلم، اوس دا غم د خپل زړه په کوم ځای کې کیږدم او هغه زړه سمندر ته وغورځوم او هغه سالون ته ننوځم چیرې چې دوی زما د مینې لاس د بل چا په لاس کې ایږدي.

خو څه چې کیدونکي وو، هغه وشول او پیښیږي، خو لدې بدتر ممکن نه دي.د هر وخت په خلاف، د کور دروازه نن خلاصه وه، هرڅوک په یوه لوري ته تلل او د موسیقۍ غږ د کلا د دروازې ښخه د اوریدلو وړ وه. کاکا صمد زما په لیدو سره

وقفه وکړه او ودرېد او د خوښۍ په اظهار یې او ښه راغلاست یې وکړ او لاړ، شاید د هغه کارونه ډیرې وي. دوهم کس چې ماسره مخامخ شو زما پلار و، چې زما د لیدو لپاره داسې ترې ښکاریدو لکه روژه کې چې اوبه لیدلې وي.

اهمممم عجب شیطان او ۴۲۰ فرشاد دی 😒 کنه حق خبره ده اوس وخت دنیا د همدی چالاک خلکو ده هر څوک چې عاجزی وکړي د فرهاد پشان بدبخت به شي 😕

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپرونديه اداره.
#نلسمه برخه.
__________🖤
بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرَحمٰنَ اَاَاَلرِحیِم

(c) ketabton.com: The Digital Library

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

وقفه وکړه او ودرېد او د خوښۍ په اظهار يې او ښه راغلاست يې وکړ او لاړ، شايد د هغه کارونه ډيرې وي. دوهم کس چې ماسره مخامخ شو زما پلار و، چې زما د ليدو لپاره داسې ترږې ښکاريدو لکه روژه کې چې اوبه ليدلې وي.

#اوس نوې برخه...

هو، امين په حقه و، زما پلار او مور زما د نشتوالي له امله ناراضه کيدل. هغه خپل لاس زما په اوږه کېښود او يو دم يې کلک غيږ کې ونيولم. دا غيږه څو کاله کيده چې زه يې خپل لور ته نه وم ايستلی، ما هم د پرديتوب احساس نه کاوه. د هغه پلارنی حس د دې سبب شو چې زموږ څخه يو قرباني شي، او دا چې زما برخه بده ده نو زه د دې برخليک قرباني شوم او دا زما د پلار ګناه نه وه.

فرهاد- سلام پلاره.
پلار- پخير راغلې، د پلار زمريه، زما د اوږو ځواک، ستا په ليدو بيرته تازه شوم.
حق يې و چې خوشحال واوسي دا د هغه د زوی محفل دی، او شايد لومړی او وروستی زوی، زه له نن څخه وروسته د واده کولو پريکړه نه لرم، او سهراب هم ډير کوچنی دی. د پلار سره مې يوځای تکاوی ته لاړو او کله چې ما د فرشاد څنګ ته صبا وليده، زما پښې سستې شوې او ټول بدن مې په لړزيدلو پيل وکړ. بايد فرهاد واوسي او صبا د هغه سترګو وګوري، د هغه کوچنۍ معشوقه څومره خپل ځان ته رسيدلې وه. ډير ښکلې او ځانګړې، د هغې بادامي سترګې، د سترګو تر شا خط او نازکې ورځې ډيرې ښايسته ښکاريدې. د هغې لوړ قد د هغې ارغواني جامو ښکلا زياته کړې وه.

د هغې د مخ سپينوالی د هغې په شرم او حيا کې پټ کړی دی او په يوه داسې ورځ کې ښکته سر ولاړه وه. د يوې شيبې لپاره، ما فکر کاوه چې دا هغه صبا نه ده چې زه يې تور پوښلی يم، خو امان د دو ورځو او تورو سترګو چې په حرکت کولو يې زما د وژنې امر وکړ. د زړه درزا مې معمول څخه ډيره شوه او ګمان مې کو چې دلته شته ټول خلک زما د زړه د درزا غږ اوري.که څه هم په محفل کې څوک پردي نه و، خو زما په تېنګار سره، ما امين له ځانه سره راوړ څکه چې هغه يوازينی کس و چې زما د لاسونو قوت او د پښو ځواک راکړې هغه دی.

فرشاد زما په ليدو خپله خوله خلاصه کړه او د هغه د خوښۍ کچه له لرې څخه معلومه شوه، خو کاش نيمايي درک ددې احساس چې زه هغې لپاره لرم هغې هم زما له لپاره دا حس درلودی، شايد هغه وخت به د خپل ژوند دومره لوی جشن په ډيرو سندرو نه لمانځلو. د هر قدم سره چې څومره زه نږدې کيږدم، د ګلابو عطر بوی ډيريدو. د سبا قد په ښکاره ډول څرګند و او ما د کنټرول څخه بهر، سترګې خلاصې پريښې وې که وې ډاريدم که وې ترم اوښکې به ترې راشي او ما به رسوا کړي.

زما او فرشاد تر منځ واټن ښايي له لسو څخه تر پنځلسو مترو پورې نه وي خو په همدې مسير کې سل ځله مړ شوم. په دې هوا کې زما ساه بنده شوه. زما په نيږدې کيدو سره فرشاد کلک غيږ کې ونيولم، خو ما په کې د هغه سره په همراهي کې توان نه و.
فرشاد- زه پوهيدم چې ته راځې..
فرهاد- خو زه نه پوهيدم...
فرشاد-ته ښه يې ورور مې
فرشاد يو ځل بيا فرهاد به غيږ کې ونيولو..
فرشاد: مطلب ټول پوهيدل چې ته راځې او ماته يې ونه ويل.
فرهاد- نه، راتګ مې سم د لاسه شو، ستا په خير د پټو کارونو کولو عادت نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- باور وکړه لالا ناڅاپه وشو ټول کارونه.

فرهاد نه شوی کولای چې له سبا څخه سترګې واړوي او له بلې خوا یې ځان ملامت کاوه تر څو ورته ونه ګوري. د فرهاد زخمي زړه د صبا د اواز اوریدو تاب نه درلوده مګر دا ظالمه نجلۍ نن په خوږه ژبه راوتلې ده...

صبا- سلام ښه راغلاست،

او دا سلام فرهاد د خپل مات زړه په توان ځواب کړ.

امین مخکې توب وکړ او ځان یې راورسوه او لومړی یې صبا ته د ګلانو ګیډۍ وړاندې کړه او بیا یې وویل: سلام، مننه، مبارک د وي مېرمن صبا..

صبا- مننه، ژوندی اوسې.

او له هغه وروسته د فرشاد لور ته ولاړ.

امین- وبخښه چې بې خبره راغلم.

فرشاد- د څه بې خبره ښه راغلاست امین وروره.

او امین هم ساعت فرشاد ته ونیولو او ویې ویل: اصلي ډالۍ د قرض وي فعلا همدا ناچیزه ومنئ.

فرشاد- واقعیا مننه.

فرهاد چې هلته د ودرېدو توان ځان کې نه لیدو، غوښتل یې چې ژر تر ژره په یوه کونج کې کیني، خو له بلې خوا یې وېره درلوده که یو ځل لاړ شي نو دلته دوهم ځل راتګ به ورته قیامت شي. د لاس بند قوطی یې له خلتې نه راویست او د صبا خواته یې ونیولو.

فرهاد- ستاسو وړ نه دی..

صبا- برعکس، ډیر هم مننه ...

فرهاد یو څو قدمه شاته شو او له تکاوی څخه پورته ته لاړ او ځان یې یو تشناب ته ورسو. سرې اوبه یې په مخ واچولې تر څو لږ د خپلو سترګو د سوروالي مخه ونیسي او بیرته بهر لاړ.

محبوبه، چې د هغه له راتګ څخه خبره شوه ژر یې ځان ورته ورساوه او په ډیر جان او قربان یې د زوی خواته ورغله.هر څوک په نڅا کولو مصروف وو، خو فرهاد زینې شمېرلې، کله به پورته تلو او کله به ښکته، نور یې د دوی د یوځای اوسېدلو زغم نه درلود. هغه حتی د حجاب او قبول په شپبه کوټه کې کیناستلو او د زنګ وهلو په بهانه له هغه ځای څخه ووت او په موټر کې په خاموشۍ سره ژړل.

خو دې اوښکې د فرهاد لمن چیرته پرېښوده. تر دې چې فرهاد بیا محفل ته راستون شو او د صبا لاس یې د فرشاد لاس کې ولید او کرار یې ځان سره وویل: په ما د په ماتم کې تورې جامې واغوستې، کافي نه وه چې اوس مې سترګې د رڼدې کیدو خواته بیایې.ټولو د سبا او فرشاد په شاوخوا کې نڅا کوله، کله چې فرح فرهاد هلته ولید، نو له هغه یې وغوښتل چې میدان ته راشي، که څه هم فرهاد هغه منع کړه خو خور یې تر هغه ډیره ضدي وه.

د عشق طواف مې وکړو د هغه صنم چې بل یار یې ونیو.. ما د فرشاد ګل په لاس کې واخیست او څو ځله مې په خپل لاس پورته کړ. که څه هم دا یوه ګناه وه، خو هره شیبو به مې چې فکر صبا ته کیدو، ځان به مې د فرشاد په ځای کې تصور کاوه، څه کیدل چې نن د هغه په ځای زه د صبا سره لاس په لاس دې ځای کې ولاړ وای او هغه زما په څنګ کې وای، ګل مې د خپلې خور سمن په لاس کې کېښود او هر څومره پیسې مې چې په جیب کې وې واخیستې او د دوی په سر مې په هوا وغورځولې. یوه لنډه شیبه مې د صبا درانه کاته په خپل لوري حس کړل. شاید هغه زما د درد له شدت څخه خبر نه و، خو د هغې مهربان زړه بې خبره زما درد احساس کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ممکن شاید زه په زرګونو ځله پښیمانه شم چې ما له هغې سترګې پټې کړې او مخ مې ترې واړو ځکه زه د کلونو پخوا په دې جامو کې د هغې د لیدو په حسرت کې وم. خو نن، نن باید دا ومنم چې هغه د فرشاد میرمن شوه، او لدې وروسته د هغې په وړاندې هر ډول احساس د ګناه څخه هم ډیر خطرناک دی.

هغه یار چې خپل په غم کې تور جامو اچولو ته مجبور کړم او زما د سترګو دید یې واخیست.. عشق_ یعني_ خپله _ انتخاب _ کوی_ چې _ سوک_ دی_ برباد— کړی.

ما پخپله صبا غوره کړه او دا ظلم مې په خپله روا ولید. چې هغه دې له فرشاد سره خوشبخته شي او زه بې کوره در په در... هغه د کور جوړ کړي او زه دې د هغې په نشتون په اور کې وسوځم.دا د مینې په نوم دوزخ دی چې ما په ځان کې سوځوي.

زه فرهاد، د دوزخ لرګی شوم چې د صبا مینه له هغه اور جوړوي. زه، فرهاد، هغه ورک شوی مئین یم چې بې نومه ورک به له نړۍ ځي. او زه، همغه بې ځایه شوی سړی، طوفان راوړی او دوزخ لیدلی...

امهمم بدبخت فرهاد ولای زما خو ورته زړه درد وکړو😕
خدای دی د زړه صبر ورکړی اوس یعنی فرهاد به کوشش کوی چې صبا لیاده وباسی؟

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#شلمه برخه.
___________🖤
بِسمِ اَاَلّلّهِ اَاَلّرحمٰن اَاَلّرِحیّم

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

زه، فرهاد، هغه ورک شوی مئین یم چې بې نومه ورک به له نړۍ ځي. او زه، همغه بې ځایه شوی سړی، طوفان راوړی او دوزخ لیدلی...

#اوس نوې برخه...

زه نور د هغې موسکا نه شم زغملی، هغه موسکا چې د بل چا د ښېښتن کیدو لپاره وي. ما د وروستي ځل لپاره خپل سر پورته کړ او د هغه سترګو صاحب، هغه څېره او هغه شخصیت مې له سترګو تیرې کړې. زه نه پوهیږم چې ولې مې زړه غوښتل هغې سره خدای‌پاماني وکړم. ما د هغې په غاړه کوم حق نه درلود چې هغه دې ما حلال کړي مګر که کوم حق هم شتون ولري، سل ځله مې ورته حلال کړی.ما په دې پلمه محفل پریښود چې زه عاجل ناروغ لرم، که څه هم فرشاد ډیر ټینګار وکړ چې زه له بل چا سره نوبت تبادله کوم. خو زه نور نشم کولی، نور نشم کولی د ماتم پر ځای مې د فرشاد خوښۍ ته ونځم..

زه هم د خدای مخلوق یم، زه هم زړه لرم او زما تاب او توان تر همدې حده و. زړه مې د نړۍ په اندازه تنګ وو او یوه ازاده فضا مې غوښته تر څو چیغې وکړم.

امین....

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه له فرهاد سره د صبا دوی له کوره ووتلم، که څه هم زه پوهيږم چې هغه غوارې يوازې پاتې شي، خو زه ويريږم چې په خپل سر باندې کومه بلا رانه وړي.زه دا فرهاد نه پيژنم. هغه فرهاد چې کلونه راهيسې په زړه کې راز درلود او هيچا ته يې نه وو ويلي. حتی خپلې مور ته...ای کاش زه مخکې پوه شوی وای او يو څه مې کړي وای.
فرهاد- ما سره مه راځه...
امين- ته غواړې چيرته لاړ شې؟
فرهاد- مګر زه د تګ لپاره کوم ځای لرم؟

امين- له همدې امله زه وايم چې يو ځای لاړ شو ترڅو خيال د راحت وي ، زه قسم خورم چې زه به تاته مزاحمت ونه کړم او يوازې له تاسره کينم.
فرهاد- اړتيا نشته، زه ښه يم.
امين- نو لږ تر لږه اسد خوا ته لاړ شه، هغه په کوټه کې يوازې دی، ته خو پوهيږې..
فرهاد- نه، زه نه غواړم چې هغه ته څه ووايې، او زما په اړه انديښنه مه کوه، زه په کلينيک کې ډاکټر(....) يم...
امين- ښه ده، خو ستا موبايل بايد بند نه شي، که تا لومړی زنګ ته ځواب رانه کړ، نو مجبور زه تا پسې راشم.
فرهاد- سمه ده.

له هغه وروسته چې ما هغه په غيږ کې ونيو، موږ يو بل سره خدای پاماني وکړه هغه يې موټر کې او زه په ټکسي کې پورته شوم او هر يو په جلاو لارو ولاړو.

صبا....

زه نن ډير ستړې شوم، په وروستيو ساعتونو کې واقعيا نه مې شو کولی د ميلمنو سره د خدای پاماني لپاره ودريږم. لږ لږ، ټول تلل ځکه محفل د شپې د فرشاد دوی په کور کې وو. د فرشاد خويندې ژر کور ته لاړې او محبوبه ترور هم ورسره لاړه هغه په ريښتيا چې يوه با مسئوليته ښځه ده. د يوې شيبې لپاره، ما فرهاد ته فکر وکړ دا چې ولې داسې وشول نه پوهيږم. مګر ما احساس وکړ چې هغه يو پټ درد لري او يا هم يوه لويه ستونزه! حتی د هغه موسکا له درد څخه ډکه ده. کله چې هغه نڅا کوله، د هغه پټو اوښکو پام ځانته راواړوه. په نا پامۍ سره ما شايد هغه له خپل کنجکاوۍ حس څخه خبر کړی وې. فرشاد زما د لاس په نيولو سره د هغه له تصور څخه را وايستلم.

فرشاد- څه شوې محترمې ميرمن؟
صبا- هيڅ ...
فرشاد- لاهم د خپلو نيکو اعمالو شميرلو لپاره ډير وخت لرې ځکه چې حتمن د خدای په وړاندې دې کوم نيک کار کړې وو چې زه د په برخه شوم.
صبا- څه څه؟؟؟ لومړی دا چې، زه خدای ته ګران يم، هو، خو ته لاړ شه د شکر سجده وکړه چې ما ته د خپل غلام په توګه ومنلې. کني مجرد به مړ وې.
فرشاد- د نجونو قطار لاهم د دې غلام څخه ځانونه قرباني کوي، نجلۍ جانې، غواړې امتحان کړې؟

صبا- نو د همغه قطار پسې به تللې وايې محترم زما په شاوخوا کې به د کرښه نه ايستله.
فرشاد- افسوس چې هغه قطار کې صبا نه و، نو ځکه مجبور شوم د صبا لپاره دې قطار ته راشم.

د تللو وخت شو او صبا له خدای پامانۍ پرته خپلې کوټې ته لاړه. او دا د دې لامل شو چې فرشاد خفه شو او حتی هغه ډالۍ چې هغه د صبا لپاره اخيستې وه هغه يې هم هغې ته ورنه کړه. شپه بيا له خپل ټولو ښکلاو سره راغله ساز او سندرې د سعيد اشرفي په حويلۍ کې تر دې حده وو چې حتی په ونو کې د مرغانو ځالې په نڅا راوستې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک په خپل وار سره نڅا کوله او نڅا کوله. محبوبه او سعید دواړه د فرهاد لپاره خفه وو خو دوی د ټولو مخ کې خوښۍ
ښکارندويي کوله. فرهاد ټوله شپه د سګريټو په لوګي او د یو څو ګیلاسه ترخې قهوې په څښلو تیره کړه، که ځه د هغه په
ځای وم شاید مې د عصابو رګونه د لوړ فشار له امله چاودلي و.

صبا....

د کوټې دروازه نیمه خلاصه شوه، یو څوک زما کوټې ته راننوت، غوښتل مې چې د هغه نوم واخلم، خو هغه له ما څخه
وغوښتل چې چوپ پاتې شم. همدا چې هغه له کوټې څخه ووت، د هغه په لور مې منډې کړې، زه نه پوهیږم چې هغه څوک
و، مګر هغه ژړل، ما خپل لاس د هغه په اوږه کېښود او هغه په سلګو شو..
- فرهاد..
زه له خوبه پاڅیدم، شاید زه د هغه په فکر کې ویده شوې وم او دا ډول بې معنی خوبونه زما ذهن ته راځي.

صبا چې په ډیر ټینګار سره بیا هم کاکا دوی کور ته یې ولاړه نه، اصیلا او صمد د څو دقیقو لپاره د مبارکي په خاطر ولاړل
او ثنا د مخه محفل ته تللې وه ځکه چې هغه له دواړو خواو سره مینه لري، طۀ چې څنګه د شپې ډوډۍ وخوړله او ویده
شو.

پښتو‌ناولونه:
#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#یو ویشتمه برخه.
__________🖤

بِسمِ اَاَاَللّٰهِ اَاَاَلرحمٰنِ اَاَاَلرحیم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

ثنا د مخه محفل ته تللې وه ځکه چې هغه له دواړو خواو سره مینه لري، طۀ چې څنګه د شپې ډوډۍ وخوړله او ویده شو.

#اوس نوې برخه...

...... یوه اونۍ وروسته ....

فرشاد: موری هغې هم کولی شو چې مبارکي راکړې، خو را یې نه کړه.
کریمه- ښه، هغه حتمن شرمیده...
فرشاد-هغه او شرم ډیر لري دي.
کریمه- وګوره، فرشاد زویه، اوس ماشوم نه یئ غټ سړی شوی یې، اوس هر څه زه در زده کړم. خلک چې څنګه کوژده شي
، چکر ته ځي خبرې کوي او یو بل سره ډیر ویني تر څو یو بل ښه وپیژني. نه دا چې کیني او په تمه شي چې صبا لومړی
زنګ ووهي یا زه زنګ ووهم.
فرشاد- هغه د هر شي لپاره ژبه لري، خو د مبارکۍ لپاره نلری؟

کریمه- ښه نو نه یې لري، که ته اوس هم خوشحاله نه یې، ووایه چې کوژده ماته کړو.
فرشاد- توبه مورجانې، دا څه وایې ته؟
کریمه- ولا نو دا کار د همدا معنی لري. د محفل څخه یوه اونۍ تیره شوې، مګر ته تراوسه د کاکا دوی کور ته دی نه یې تللی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د صبا خبر د ندی اخیستی. دا د کاکا ښځه به دی څه فکر کوي؟
فرشاد- همداوس د صبا انستیتوت پسې ځم نور وایه مورجانې..
کریمه- شابه د مور زمریه زویه، مګر خالي لاس مه ځه.

صبا...

دا دریمه ورځ ده چې زه انستیتوت ته ځم او هر څوک زما د کوژدې په اړه پوی شوي دي. زما ملګرو او خپلوانو زما د عکسونه غوښتنه کړې او هر یوه ماته نظر راکاوه. او دا یې هم ویل چې یو بل سره ښایو. زړه مې خوشحاله وو چې لږ تر لږه د هغه سر او د وضعیت له ماسره جوړیږي، که څه هم ذهنیت او فکر یې زما سره ځمکې تر آسمان فرق درلود.. هغه غرور له حده ډیر دی او هغه له ځان راضي او لیونی دی.نجونې ټولې شله وي چې زما او فرشاد د مینې کیسې په اړه ورته ووایم، مګر کله چې ما د هغه د خبرو کولو تجربه نه درلوده، حتی زه نه پوهیږم چې څه ووایم، نو زه به څه تعریف کړم؟ ما په لسو بهانو راوړلو بلې ورځ ته مې وځنډول.

ثریا- اوس بهانې مه کوه... یا داچې نه غواړې وغږیږې که څنګه؟
فریحه- ضرور خو نه ده چې خپله شخصي کیسه تاته وکړي.
صبا- موافق یم هر څوک ځینې خپلې شخصي خبرې لري.

مګر زما زړه کې شک ولوید هسې نه چې هغه په ریښتیا ما نه غواړي؟ خو که هغه نه غوښتل نو دومره ټینګار یې نه کو، او د هغه خبرې په رستورانت کې او مسجونه یې.
بد فکر مه کوه نجلۍ، شاید هغه به هم شرمیږي چې څنګه تاسره په خبرو شي دې وخت له مخکې څخه فرق کړی.ما د پیغام په صفحه یو سلام ولیکو او هغه ته مې واستاوه. زه باید ډاډ ترلاسه کړم چې دا ټول بدلونونه د څه لپاره وو؟ دوه دقیقې وروسته، هغه ځواب راولیږو چې زما لیدو ته راځي.
فرشاد- علیکم سلام ګلاب مې، په لاره کې یم درځم لیدو ته دې.

یعني دا لیونی په تمه وو چې له ما څخه یو اشاره ترلاسه کړي؟ اوففف زه څومره احمقه شوم. کاش چې څو شیبې نور مې هم صبر کړی وای.اوس تاوان ورکړه وګوره چې ووایي د لرې کیدو طاقت د نه درلود څه به وایې ها؟ اففف بې عقلې صبا، که څه هم په راتلونکي ساعت کې درس نه لرم خو باید د جناب عالی په تمه کینم تر څو دلته راورسیږي. نیم ساعت انتظار او په پای کې د فرشاد زنګ.

فرشاد- سلام ګلاب مې.
صبا- سلام ښه یې؟
فرشاد- مننه ګلابي جان.
صبا- شکر.
فرشاد-زه ورسیدم، بیرون په تمه یم چې صنف د خلاص شو راځه.
صبا- سمه ده...

خو ما له ځانه سره وویل ستا لوده له امله تراوسه په تمه ناسته یم. او اوس وایې چې صنف د خلاص شو. لس دقې نوره هم دېخوا او هغې خواته لاړم، او چې لږ لږ نور هم د صنف څخه راووتل، زه هم ووتلم. په دوهم قطار کې فرشاد ولاړ و او یوازې یې د موټر کړکۍ ښکته کړه او زه یې خپل لورې ته وغوښتلم.
صبا- سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- وبښه د موټرو بیرو بار هغې خواته ډیر وا، ومې ویل چې دلته یې ودروم.
صبا- کومه خبره نده.

ما له فرشاد څخه هیڅ تمه نه درلوده، لکه څنګه چې نورو تعریف کاوه، خپل د نامزدانو زموږ دیدن داسې نه و. نه فرشاد خوش خویه وا نه هم مهربان، هماغه پخوانی مغرور او د خپل سر فرشاد و. او د هغه موټر څخه د خوږو بوی راتلو، حتی هغه خپل خواږه وخوړلي و او راغلی. دواړه چوپ پاتې وو او د ویلو لپاره مو څه نه درلودل. ما خپل سر د موټر په دروازه تکیه کړ او لږ مې شیشه ښکته کړه.
فرشاد- د AC کچه لوړه کړم؟
صبا- نه، یوازې د خوږو بوی دی، د موټر هوا لږ بدله شي..
فرشاد- حتمًا وږې شوې یې، د خوږو بوی دربانديې ښه لګیدلی، واخله دا خواږه، مور مې راته ویلي و چې خالي لاس مه ورځه او غرمه درته ډوډۍ درکړم.

په دې خبره ماته خندا راغله، د خوږو بسته مې ترې واخیسته او مننه مې وکړه.
فرشاد- ته ولې خاندې، ګلابې؟
صبا- هیڅ..
فرشاد- وواسه زما ګل ګلابې ولې خاندی؟
په خندا مې وویل:ستا په ساده توب.
او نور مې کنټرول کولی نشو ډیر مې وخندل.
فرشاد- څه خبره شوې؟ ما څه کړي؟
په خندا مې وویل: په لومړي ځل زما لیدو ته راغلې او هغه هم د یو خوراک برګر سره.

فرشاد- ښه، که ستا خوښ نه وي، زه به بل څه واخلم.
په خندا مې ورته وویل: پریږده چې ثنا ته ووایم چې هغې ستا د مینې ډیره ستاینه کړې واوري. خوشحاله کیږي.
فرشاد خپل تندی تروش کړو او ویې ویل: سمه ده زنګ ورته وکړه.

په کوم ډول چې هغه خبرې وکړې، ما بد احساس وکړ او زما خندا له منځه ولاړه او په خاموشۍ سره مې بهر ته وکتل او هغه هم د کور لاره یې ونیوله او کور ته یې ورسولم. کله چې ښکته شوم مننه مې ترې وکړه هغه د خپلې ژبې پر ځای خپل سر وخوځاوه او لاړ.

امهمممم دا ۴۲۰ فرشاد او دومره بیعقلی؟ د منلو وړ نده دا کار یې واقعا لدې لځایه چې یو رستورانت یا هوټل یې دعوت کړې ورته برګر یې اخیستی؟؟ بیا سومره تند خویه دی دا خیرن😒

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خیروندیه اداره.
#دوه ویشتمه برخه.
______________🖤
بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ښکته شوم مننه مې ترې وکړه هغه د خپلې ژبې پر ځای خپل سر وخوځاوه او لاړ.

#اوس نوې برخه...

فرشاد...

کوم کار چې ما وکړ په خپله مې هم خندا راغلې وه، خو ما خپل سر ښکته واچو او هڅه مې وکړه چې ونه خاندم له لومړۍ ورځې باید اجازه ورنکړم چې زما په هر کار وخاندي، حتی که زما کار د خندا وړ وي.په کوم عقل ورته یو برگر واخلې، لیونیه... کاش لږ تر لږه دې یو ست ورته کړی وی چې راځه یو ځای به لاړ شو او ډوډۍ وخورو. هغې خوارکۍ حق درلود چې وخاندي او دا چې زه په خپل کار وشرمیدم ما خپله خندا کنټرول کولی نشو. څومره مې چې کولی شو ومې خندل بیا مې پریکړه وکړه چې هغه واخلم او یو رستورانت ته ولاړ شم او له هغه ځایه د وتلو وخت کې هغه ډالۍ چې ما د هغې لپاره په شیرین خوري کې اخیستې وه ورکړم.
ما د صبا شمیره ډایل کړه او وروسته له هغه چې یو ځل یې زنګ تیر شو، ځواب یې کړ.

صبا- بلي
فرشاد- سلام گلاب مې ښه یې؟
صبا- ښه یم، څه شوي؟
فرشاد- ما ویل چې د کاکا له ښځې اجازه واخله چې لاړ شؤ بیرون، زه بیا درځم تا پسې.
صبا- مننه، مگر...
فرشاد- مگر بگر نلري... له کوم پردي سره خو نه ځې یا که غواړې ما وگورې؟
صبا- نه، داسې نده

په خندا مې ورته وویل:مه ویریږه دی ځل له برگر سره نه راځم.
په دی خبره باندی موږ دواړو وخندل..
صبا- سمه ده راشه....
فرشاد-صبا؟
صبا-هاا
فرشاد-نن ورځی کیسه چاته ونکړی پوزه به راته پری کړی،پوهه شوی.
صبا-د څشی کیسه؟
فرشاد-خو همدا برگر کیسه

صبا په خندا وویل: خو نن هر څه له کیسو او ټوکو ډک وو،د برگر څخه تیر شو،مگر کولی شم چې نورو یې تعریف کړم.
فرشاد-سمه ده هر څنگه چې دی زړه وی هغمه څیر یې تعریف کړه،خو پام کوه هر کار دی یو جزا (سزا)لری گلاب مې.....
صبا- ته غواړی چې ما وډاره کړی؟
فرشاد -نه نه دی ډاروم خو صرف ومې ویل چې هر کار خپله بدله لری...
صبا-ښه مثلاً؟
فرشاد-مثلا... سزا یې دا چې نن ورځ کیسه دی هر چاته وکړه سرې غومبرې دی کش کوم..... هوم؟ الو...څه وشو لکه چې خپله ژبه دی وخوړه؟؟؟
اریکه پری شوه....

صبا....

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه نا زړه وم چې څنګه له مور څخه اجازه واخلم،فرشاد بیا زنګ ووهلو چې لاندی درته پتمه یم،ما نشو کولی چې له مور څخه اجازه واخلم،غوښتل مې چې له فرشاد څخه هیله وکړم چې راشی زما له مور څخه اجازه واخلی،فکر مې وکړو داسی نه چې د برګر ستونزه بیا ځلی تکرار نشی،مجبوره شوم چې خپله اجازه له مور څخه واخلم،مور مې د اشپزخانې وسایلو ټولو په حال کې وه،چې ځواب یې راکړو،

صبا-مور جانی.

مور- هاا

صبا- فرشاد راغلې دی.

مور-پخیر راغلې صالون ته ویسه،زه هم راځم.

صبا-دننه نه دی راغلې.

مور-ولی؟؟

صبا- هغه..... وایې چې بهر لاړو شو.

مور-ښه ډیر ښه،لاړ شې هو ناوخته نکړې،د پلار له راتګ نه مخکی تاسو کور کې اوسی.

صبا-سمه ده مور جانی.

مور-او هو داسی په دی بد حالت کې لاړه نشی،لږ خپل ځان سم کړه.

په سترګو مې وویل او لاړم جرائت مې نشو کولی چې ووایم همدی حالت کې لیدلی وم چې تر دی ځایه را ورسه ولم.

همدا چې کور دروازه مې خلاصه کړه د کور مخې ته د فرشاد موټر ولاړ وو،زما په لیدو د موټر مخکې دروازه خلاصه کړه،چې مخکی سیټ کې کیناستل راته شرم راتلو،چې فرشاد غږ وکړو: غواړې چې دلته دی ګاونډی انجلۍ کینوم؟

صبا- تا کې شک هم نشته.

فرشاد لاس له سیټ(څوکۍ) لری کړ،زه هم کیناستم،چې زما کمر بند په بندلو،فرشاد موټر چلان کړ،او پوښتنه وکړه: ښه چیرته غواړې چې لاړ شو؟

صبا- کولی شی چې صبا په نوم غږ وکړې.

فرشاد-ګلابې ولی؟

صبا-خوښیږی مې نه دا ګلابې څه شې دې؟

فرشا- ګلابې یعنی ګلاب ګل دی،او هغه هم زما دی خوښیږی ګلابې د ګلاب ګل.

صبا-له کوم وخت نه دی ګلابې شوی یم؟

فرشاد- هغه ورځ چې زما لیدو څخه دی ځان د ګلانو په پرده کې پټ کړو،هغه ورځ نه مې د ګلاب ګل شوی.

شک مې هم نه درلوده چې هغه ورځ هم سترګو لاندی راته کتل،او دا چې اوس کوم کار کوی، د شا ښیښه ته د کتلو په پلمه هره دقیقه یو نظر راکتل،چې دی کار کولو سره ماته شرم راتلو، موټر کې خاموشی وه، د پنځه دقیقی وروسته هم د موټر خاموشی ما ختمه کړه او ومې ویل: زیات راته مه راګوره.

فرشاد- ولی؟

صبا- نه مې خوښیږی.

فرشاد- یو لست راته جوړ کړه چې کوم کار دی خوښیږی او کومه کار دی بدی شی ټول راته ولیکه پکې.. او هو خواهشً ګلابې نوم زما لپاره خپل د خوښې په لیست کې ولیکه..

صبا- صحیح ده خو ودی ونه ویلې چې چیرته به ځو؟

فرشاد- تا چې تراوسه نه دی انتخاب کړی چې چیرته به ځو،نو زه دی هم تر ماښام پوری په سړکونو باندی چکر درکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- نه،نه کیږي،باید کور ته لاړه شم،پلار مې له ماښام مخکې راځې.

فرشاد......

نیم ساعت له صبا سره په موټر کې چکر ووهلو، له چکر وهلو وروسته مو جوس وڅکل،او جوس له څکلو وروسته کارته چهار یو له هغه رستورانت ته لاړو چې غوښتل شوی خواړه موږ ته راورسیده خاموشی څخه ووتلو،حیران دیته وم چې له ډیرو خبرو څخه موږ په خاموشی کې خوشحاله وو.

فرشاد- واخله صبا جانی...
هغه له خپل نوم په اوریدو تعجب کې شوه،او د پوښتنې په بڼه راته وکتل،ما هم ورته په سلو اواز سره ورته وویل: چې نه شم کولی چې هر ځای کې درته ګلابی په نوم غږ وکړم زما ګرانې،ځینې وخت په خپل نوم په اورید هم طاقت کوه.

زما له خبرو وروسته موسکا د هغه سپین غومبری بیا ګلابي شو،سر یی ټیټ کړو په خوړلو پیل وکړه، صبا ته به مې د هرې لقمه خوړو سره یو ځل کتل.
صبا- خپله ډوډۍ وخوره.
فرشاد- پریږده ستا خوراک وګورم چې زما اشتها هم خلاصه شي.
وروسته له ډوډۍ خوړلو د خواږو او چای غوښتنه وکړه، چې صبا ونه منله،دواړه له رستورانت څخه بهر شو.

دی ځل صبا زما له وینا پرته د موټر مخکی سیټ کې کیناسته، او حرکت مو وکړو،د لاری په اوږدو کې څو ځلی مې د چکر وهلو او د ایسکریم خوړلو،حتی خرید لپاره هم وویل خو صبا نه منله، بس نو کور ته رسولو نه بله کومه چاره نه وه، کور ته نژدی کیدو نه مخکې د شاته سیت څخه مې خلطه راوخیسته او د صبا په لور مې ونیوله.

امهمممم ولای همداسی چالاک شخصیت د فرشاد سره خوند کوی هسی فرشاد بچه عیش کوی مزی کوی فرهاد خو لاړو بدبخت شو تخو ځان خوشحاله وساته اوس وخت دنیا همداسی ده.

#جهنمي مينه.
#ژباړونکې: خواجه زی خیروندیه اداره.
#دري ويشتمه برخه.
________🖤
بِسمِ اَاَاَللّٰهِ اَاَاَلرحمٰنْ اَاَاَلرِحیٖم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

بس نو کور ته رسولو نه بله کومه چاره نه وه، کور ته نژدی کیدو نه مخکې د شاته سیت څخه مې خلطه راوخیسته او د صبا په لور مې ونیوله.

#اوس نوې برخه...

فرشاد- واخله دا هم د دوهم ځل ملاقات د ډالی په توګه
صبا په خندا وویل: دا ځل دی لکه چې دشپی ډوډۍ راوړې.
فرشاد هم وخندل او ویې ویل:  نه دا ځل خو مې ډوډۍ خوړلی ده نو.
صبا- مننه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- خلاص يې کړه.

صبا- کور کې بيا ګورم.

فرشاد- سمه ده غواړې چې زه درسره تر کوره پورې لاړ شم؟

صبا- نه مننه.

فرشاد—ښه نو زما سلامونه کاکا ښځې ته کوه.

صبا- حتماً ....

فرهاد.....

فرهاد- دوزخ تل "اور" نه وی!

ځینې خلک د نورو خلکو دوزخ جهنم وی، لکه زما کورنۍ چې زما لپاره دوزخ جهنم شوی. جهنم يعنې زما د ورور (فرشاد) خبرې، جهنم یعنی زما د پلار زما په حق کې قضاوت وکړو، اصلاً، ځينې خلک د خپلې کورنۍ د بغاوت قيمت انسان وي، لکه زما مور او د کريمه مور ...او جهنم (دوزخ)د هغو زړونو وينه ده چې لامل يې صبا ده،او زه دا زغمم خلک بې انصافه دي او له اور څخه بدتر سوځي. مګر د ځينو لپاره چې حتی اوسيدل (شتون)په يو ځای کې سخت او خورا الهی عذاب دی لکه زما او فرشاد شتون په يوه لاره کې ....

ما د اونۍ اوه ورځې د اوه نوي دردونو سره تيرې کړې دا غلطه ده چې وايې يو انسان څومره درد ووينې په همغه اندازه ورتيا يې زياتيږی، مګر زه له خپل هر درد سره بی صبره کيدم د دې لپاره چې څوک زما له وضعيت څخه خبر نه شي، ما د يو څه وخت لپاره يو هوټل کرايه کړ او ټولو فکر کولو چې زه په کار کې يم.مګر زه له دی وروسته څه کولی شم چې کار وکړم؟ ما حتی په خپل زړه کې د خود غرضۍ له امله امين له پروګرامه لرې کړ، ما څو ځله هڅه وکړه چې هغه قانع کړم چې بيا هند ته لاړ شی او په ورکشاپ کې برخه واخلم، مګر هغه بيحد ډير ضد دی، او قبول يې نکړ چې لاړ شی هند ته. هره ورځ راځي او زما پوښتنه کوی.

هره ورځ مې مورته موسکاه کوله، چې هغه زړه خاطر جمع وی،په دی خاطر چې زه راحته يم او کوم مشکل نه لرم،مګر هغه مور ده،هر څه درک کولی شې، مور زما غمونه د زړه په کونج کې دفن(پټ)کړ ،هره ورځ راته مور مې خفه ښکاری، او دی لپاره چې زړه يې ورته نور مات نکړم،نو شپې به يو ساعت کور ته تلم،او بيرته به خپل جهنم ته راتلم، څه سخته شپې چې ورځ شوی او ورځې چې د شپې شوه شپی او ورځی يو بل پسی بدلی دی،څوک خپلی خوښی لپاره خوشحالی کوی،او څوک خپل غمونو لپاره ماتم کوی،دنيا هيڅ انصاف داری ونکړه او نه به انصاف وکړی،ځينی وخت حيرانه شم،چی يو انسان خوښی وليکم او د بل انسان غم .....

فرهاد په همغه ګډوډ ژوند پورې ځان تړلی دی،وروسته د فرشاد له کوژدی پلار يې څو ځلې ورسره خبری وکړی،که وکولی شی چې فرهاد هم کوژده وکړی،چې هم دی توګه دواړو زامنو يو ځای واده وکړی، مګر هر کله چې پلار يې فرهاد ته واده مسله وړاندی کړی، هغه له کور څخه لا زيات تښتي.او بلی خوا د ميرمن کريمه ډير تلوار د فرشاد واده ته وه داسې چې هره شپه د ډوډی خوړلو په وخت کې ياد ول، هره خبره چې له خولی وځی د فرشاد واده پورې اړونده وی،رښتيا ايا هغه همدومر هيله او ارمان لری خپل زوی واده ته؟ يا د فرهاد په زخمونو مالګه شيندی، خدای پوهيږی.....

څکه چې دوه نوری هفتو وروسته الطاف راشی، او هغه راتګ وروسته د واده پريکړه وکړی، صبا چې له خپلو زدکړو څخه يې تيښته کوله،چې خپلو زدکړو ته ادامه ورکولو فکر کې نه وه،شايد غواړی چې واده وروسته کور سمبال کړی، او پوره حق هم لری چې ځينی انجونۍ واده شی بيا دی زدکړو او کار کولو لپاره بهر اجازه نه لری.

فرشاد.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد په دي ورځو کې هر اړخ کی بدلون کړي وو.نه پوهېږم چې څه ستونزه لري او ولی؟له کوم وخت نه چې هند نه راغلي دي دنیا رنګ یې بدل شوي،زیاتره وخت خپل خیال کې غرق وي،حتي زما او کورني لپاره هم وخت نه لري،ځیني وختونه زما ذهن پدي کې ښکیل کیږي،چې همېشه هغه زما په پاملرنه(خیال)کې وو،او اوس یې راته هیڅ توجه نه کوی، له ما څخه مشر وو،ما نشو کولی چې په راحته د هغه ستونزې پوښتنه وکړم،مګر دا چې هغه مشر وی، دا د دي لامل نشي کیدی چې هغه کومه ستونزه نلري..

خاص توګه پرون شپه چې یو دم له میز څخه پورته شواو خپلي کوټې ته لاړو، اصلا مخکی داسي نه وو،هېڅکله هغه به چاته سپکاوی او بی احترامي نه کوله، کوټې ته لاړم دروازه مې ټک ټک کړه،خو جواب یې رانکړو، دروازه مې په قراره په دننه خوا خلاصه کړه

امهمممممم زه به درته ووایم فرشاد جان کاکا دی جارسی ستا ورور ستا په شزی مین دی پوی سوی😕🙄

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خېروندیه اداره.
#خلور ویشتمه برخه.
________________🖤
بِسمِ اَاَللّٰهِ اَاَلَرحمَٰنْ اَاَلَرحِیم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

کوټې ته لاړم دروازه مې ټک ټک کړه،خو جواب یې رانکړو، دروازه مې په قراره په دننه خوا خلاصه کړه

#اوس نوې برخه...

فرشاد-اجازه ده؟؟
کوټه کې دننه څوک نه و، لپ ټاپ یې خلاص او روښانه وو،فکر مې وکړو تازه له کور څخه وتلی، غوښتل مې د هغه د لپ ټاپ صفحه بنده کړم چې سترګې مې په یو ]و اشعارو چې د کمپیوټر په صفحې وه وولیدل..

لړ لیکم خو ښه لیکم
بد چا پـسې نه لیکم

ډېر یـې کړولی یم
درد به مې د زړه لیکم

یار په لف یو نه پوهیږي
بیا به انګلیـش نه لیکم

لا مـې هیـلې پاتې دي
ژوند که و، ډېر څه لیکم

زه بـه ګیله نـه کوم
هر څه به په زړه لیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمر یم لیـونی به شم
غم مې د لالی لیکم

هری صفحه ته په رسیدلم زما حیرانتیا زیاتی ده،یعنی ما خپل وروړ نه پیژنده، ماته ناشونې ښکاره شوه،چې فرهاد د داسې شعرونو او مینی(عاشقی) چارو څخه خبر وي، زړه مې غوښته ادامه ورکړم او ټول لیکنه یی ولولم،خو که چېرته فرهاد دلته وی نو هیڅکله یې راته ددې کار اجازه نه راکوله...

مازیگر پنځه بجی فرهاد بیرته کور ته راغلو،دا چې خبرو کولو حوصله یې نه درلوده غوښتل یې په خاموشه توګه خپلی کوټې ته لاړ شې، خو د فرهاد ویده تقدیر د څو ثانیو د ارامتیا لپاره اجازه هم نه ورکول،له اشپز خانی څخه تیریده چې مور اواز یې واوریده...
محبوبه- کریمه جانی بی معنا خبری مه کوه.......خپلو خبرو ته دی پام کوه.
کریمه- ما هر څه ته توجه کړې ده،خو ستا له غوږو تیروم،چې دوه ورونه په یو کور کې دی،باید خپل رفتار ته دی پامه کوی،چې سبا ورځ خبره لاندی او پورته نشی....

فرهاد....

دا چې کریمه مور څه ویل، هغه ما مخکی واوریده،هغه شپه چې ما له خپل درد باندی ژړل، او کریمه مور یو نیم ساعت له خپل زوی دفاع کوله،غوښتل یې چې هغه زوی خوښی زه ورته خرابی نکړم،دا چې زما پلار یې زما خلاف کړ، چې زموږ منځ کې خبرې وشوی چې نباید هغه شان خبری کړې وی، ستړې شوی یم له دی ښځی او کارونو د لاسه،د ایوب صبر هم نور ختم شو...

چې همداسی اشپزخانی ته دننه شوم او ومې ویل: کوم رفتار ته پام وکړم؟؟
کریمه- علیکم السلام فرهاد جانه.
او بیا زما مور ته وکتل او ویې ویل: ودی لیده محبوبه میرمنی ما دغه بدلون یاده وه.
محبوبه د کریمه په ځواب کې وویل چې اوس یې وخت نه دی..
محبوبه- څنګه یې زما ګرانه......راځه چې لاړ شو ستړې یې..

فرهاد- کریمې موری که څه ویل غواړی،ماته یې خپله ووایه،مور مې ولی مخاطبه کوی؟
کریمه- زه وغواړم هر چاسره خبری وکړم له هغه سره خبری کوم فرهاد زویه، د چا اجازه اخیستلو ته ضرورت نه لرم.....او پاتی دی مخاطب خبره دا زما له خوا ستا مور ته مشوره ورکول و،چې د زوې عمر یې دیرش(۳۰)څخه پورته شو،نو حتماً ښځه وکړې،څکه د خلکو خولې نه بندیږی،که اوس فرشاد خپله ښځه صبا دی کور ته راوړی، بیا خلک خبری کوی.

فرهاد په غوسه او په بیحد تیزه اواز وویل: د فرشاد په ښځې زما څه؟
کریمه- دا چې ته ښځه راوړی،موږ کور پریږدو، چې خلک خبری ونکړی؟؟؟
محبوبه- زویه ارامه اوسه خیر دی.
فرهاد- موږ د ژوند کولو حق نه لرو،څکه فرشاد خان تاسو ته ناوی راوړی ها!؟په خلکو یې څه چې زموږ ژوند کې دخالت کوی...؟

سعید.....

لا د دروازی قفل مې نه وو خلاص کړی چې کور کې شور ماشور اواز بهر راتلو،زر کور ته ننه وتم،چې فرهاد او کریمه دواړو بحث کولو،شاید بحث یی ختم کیدونکی نه و، او له دې وروسته به هره ورځ دا زموږ د کور کیسې وي..

(c) ketabton.com: The Digital Library

سعید- فرهاد څه خبره ده؟؟
کریمه- ښه شو سعید جانه چې پخیر راورسیدی وګوره څه حال یې اچولی دی....
فرهاد په چغو ویل: ما څه حال اچولی ما ها؟؟اصلاً تاته څه؟ خپل زړه مې دی چې هر کار کوم او که هر ځای کې یم؟؟ او په پورته اواز یې وویل: ته خو دی خپل زړه مراد ته ورسیدی؟نور څه غواړی له ما څخه هاا؟؟

درنه سپیره د فرهاد په مخ ووهل شوه چې ټول یې خاموشه کړه،یوازې دی سعید اواز اوریدل شو: بې ادب مور دی ده ...

فرح او سهراب په خپله کوټه کې په لوبو وو د فرهاد او پلار په چیغو وډار شول او په بیړه اشپزخانه ته راغلل
محبوبه- د مور ګرانه غلط پوهه شوی یی....ما او کریمه ستا واده په اړه خبری کولې مور غوښتل چې ستاسو دواړو ورونه یوځای وکړو..

سعید- ته د هیچا طرفداری مه کوه......مخاطب(محبوبه) او په همغه غوسه ناکه نظر کریمه ته وویل: تا څه خورلی چې هضم کولی یې نشي هاا؟؟ اوس ستا کوم برخه تاته نده درسیدلې چې داسې چغې وهې؟
کریمه شکایت کوې او وایې: که چېرته فرهاد خان اجازه وکړی بیا......
سعید- خپل غږ ټیټ کړه....او هو فلسفه هم مه غړوه.

کریمه خپل ځان په ژړا کې ووهلو او ویې ویل: ما څه کړی فرهاد په سلو کالو کې هم له دی خبرو نه تیریږی،په کومه لاره راغلی په همغه لاره بیرته ځې(په طعنه لروونکې په خیر محبوبه ته وایی: خدای دی مورې ته خیر کړی فکر نه کوم چې دا ښځه وکړی،ته ووایه سعید جانه چې زما تشویش په خپل ځای نه دی؟

اهمممم هغه زموږ د خلکو خبره میره وی او هیڅکله د مور ځای نه نیسي😕 او د فرهاد میره بیا بیخی زدنی میره ده سم هتلره😒

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#پنځه ویشتمه برخه.
________________🖤
بِسمِ أَأَأللّهِ أَأَألرَحمَنْ أَأَألرِحيِم

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

محبوبه ته وایی: خدای دی مورې ته خیر کړی فکر نه کوم چې دا ښځه وکړی،ته ووایه سعید جانه چې زما تشویش په خپل ځای نه دی؟

#اوس نوې برخه...

دا چې کریمې مور خبره مې دغې په خوله که نه وچ کول یوائې د مور او پلار د عزت لپاره وه. کنه ما ښه جوابونه درلودل هغې. ځومره خود غرضه ده ښه پوهیږی چې زما په زړه کې زخم دی او بیا هم مالګه تویه ویی دنیا آخر شوی ده خو دی ښځې په سترګې کې ویره نشته. دا چې سبا ستا زوی د ښځې خاوند کېږی آیا تا دا هېره کړې، چې دا د چا نعمت دی؟ ماته نمک به حرام وایی نمک به حرام خو پخپله یې، سره له دې چې ما ستا لپاره څومره څه وکړل، خو ته نه پوهېږې، که ما نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واي پريښى ، نو دا ټولې کنايه به دې څنګه کړې واى؟ واده لپاره خو ناز کوى حتى د هغې ناوې سايه هم نه شئ ليدلى که زه بلې خوا ته وم. اوه، هى قسمته اور دى د ايرو محتاج کړو..

سعيد- که ښځه ونه کړي نو تاسې مورګانو ملامتې ياست چې لدى لځايه چي رشته ورته ولټوې او ښځه ورته پيدا کړى ناستې ياست او چټياټ وايست.نجلۍ ووينئ او خوښ يى کړئ، ته د هغې مور يې، هغې  خپله ناوې جوړه کړه...
فرهاد- خو پلار... خو... زه ...
سعيد- دا مه هېروه فرهاد چې زه ستا د خبرو مخالف يم...
فرهاد- بيا نو سمه ده هر هغه څه وکړئ چې تاسو زړه غواړئ.

لومړى فرهاد او بيا يو يو له پخلنځي څخه ووتل، د فرهاد خبرو د محبوبې زړه دومره خوشاله کړ لکه چى تول نړى په لاس راوړې ده. خو خداى خبر چې دا خبره د فرهاد له زړه څخه څنګه راووتله. د هغه مات شوي زړه انځور  فکر مې ژړوي... ما د فرهاد په ژړا سترګو ليدلى دى... دردونه... او ټپونه... کاش چې قسمته زما په لاس کې واى او د هغه لپاره يوه له خوښيو او خوشحاليو  ډکه نړۍ مې ورته ليکل.

ډېرې ورځې تېرې شوې، خو کريمې خپل طعنې ورکول بنده نکړل او محبوبه په دې خوشاله شوه، چې فرهاد له واده سره موافقه کړې ده.فرهاد لس ورځي کيدل چى تخار ولايت ته تللى وو هغه خلکو ته چى له زلزله کى بى ځايه شوي وه مرسته وکى. فرشاد او کريمه په سودا بوخت وه دى لپاره چى محفل يى مخکي وو. سيمن او ميره يې هرات ته د خپلې اندرو لور د واده لپاره تللي وو.

اصيلا او صبا د کور د توکو په اخيستلو بوخت دي او د لويو محفلونو لپاره چمتوالى نيول صمد د الطاف د راتګ لپاره يوازې ثانى شميرل . او له بلې خوا د اغلې شيرين بې آرامي هره شيبه مخ په زياتيدو ده او هيڅوک نه پوهيږي چې هغه څه غواړي. محبوبې د فرهاد لپاره څو کورنۍ په پام کې نيولې چې له هغوى سره موافقه وکړي او د فرهاد هيلې په پام کې ونيسي.

فرهاد....

پرته له خدايه، هيڅوک نه پوهيږي چې بغير له تا دا شيبې څنګه پر ما تيريږي او څنګه به تير شى. زه ټول عمر د خلکو د دردونو ډاکټر وم او زما د درد ډاکټر چيرته دى...عقل وايي، له هغه څخه لرې اوسئ، له غم څخه لرې اوسئ، له درد څخه لرې اوسئ. بيچاره عقل نه پوهيږي چې زما زړه له تا پرته د ژمي له سړې هوا څخه بدتر دى. زما زړه له تا پرته له تور ځاه څخه هم تور دى.
ما ته وګوره....
ما ته وګوره....

هغه واورى ته وګوره چې زما په ويښتانو پاشل شوې او زما ويښتيان يې نور هم سپين کړې...
زما هغه سترګو ته وګوره چې د اشنا د کوځې لاره يې ورکه کړې او په ناشنا لاره روانه ده...
زما د لاسونو لرزېدلو ته وګوره، زما د ګنګه ژبې حال واخله د هغه په اړه څه ووايم؟هغه اوښکې چې زما په سترګو کې وچې شول او هغه چغې چې زما په ستوني کې پاتې دي ....
ته د دې هر څه لامل يې ...  ته زما ليلا يې ... ليلا زما له خوبه غافل ده ،هغه خوبونه چې ما زموږ لپاره ليدلي وي...
لکه هغه ماشوم پشان مې زړه تنګ دې چې خپل نوې جامو ته انتظار او خفه دى...

خلاصون او ازادي زما لپاره هيڅ معنى نه لري....
زما جنت او زما دوزخ ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول هماغه زندان دی....دا څلور دېوالونه....
په ورځ کې زر ځله زما دغه ماشومانه زړه له تا نه عذرونه اخلي.
او هغه تاسو سره په خپلو خوبونو کې ملاقات کوي...
هره لحظه ستا سره پاتې کیدل د راتلونکي په پرتله لیونې او مجنون کیږم...
دلته یوازې ژمی دی، بې له تا ورځې......

فرهاد..

د دې ځاې هوا خپګان څخه ډکه ده، له هر چا لرې ځای دی، خو د کابل هوا سره شوې، او دهغه ځای هوا نوره زما لپاره مناسبه نه ده. هلته بې رحمه شکارچیان زما د کوچني زړه ته انتظار باسي چې بیا یې ونیسي.زما لپاره هیڅ ځای نشته. زه نه په ښار کې ځای لرم او نه په کور کې، صبا فرشاد ته په"هو" ویلو سره زما څخه ټول شیان غلا کړل زما پلار زما ژوند، زما کور، زما خوښی او حتی زما خوبونه زما څخه غلا کړل او د فرشاد په غیږ کې یې وغورځول. خو هغه ورځ زما پلار زما وروستۍ هیله له ما څخه واخیسته. هغه په هر ځلي داسې فیصله زما حق کې کول چې دښمن یې لا نکوی.

هغه یو ځل د صبا په اخیستلو سره زه په کفن کې اچولې وم خو هغه ورځ کامل زما د دفن کولو او خاورو کولو حکم یې وکړو...نامیدی تر ټولو سخترینه وخت دی کله چې انسان غواړي ژر تر ژره ترې را ووځي خو زما د ژوند ټول وخت په همدې وخت تېر شو. د ژوند دېرش کاله مې په غم او خپګان کې تېر کړي دي.... دا لیکنې د درد درملنه نه شي کولای، خپل لاسونه مې په میز  کېښود ما دا په خپل سر کې ساتل چې زه خوشحاله یم یا غمجن یم چې

ما په لسو ورځو کې خپل کار پای ته ورساوه.ایا زه باید بیرته لاړ شم یا په هغه کور کې پاتې شم چیرې چې زما ساه اخیستل سخت وي مګر زه باید بیرته لاړ شم؟ نن د صبا له سایه څخه وتختیدلم مګر کوم ورځ چې هغه کور ته راشي زه به څه وکړم ؟ زه نن ولار نشم ، سبا به ځم. زه که د هیچا لپاره که لاړنشم، زه باید د خپلې مور لپاره لاړ شم.

فرشاد...

د صبا سره مو هوکړه کې وه چې د الطاف له راتګ وروسته به واده کوو، خو زما د مور د دیر کوشش له امله یې د واده  نېټه چې ټاکلې وه هیچاته نشوو ویلی. زموږ د پلان له مخې به د پنجشنبې په ورځ الطاف راځي او د جمعې په ورځ به موږ میلمستیا کوو او هلته به ټولو ته وینا کوو.راتلونکې اونۍ واده دی. په دې ټول وخت کې صبا او ما هر څه چې زموږ د اړتیا وړ وو وامو خیستل، کوټه مو د صبا له خوښې سره سم رنګ کړل.ما هغې ته د خوښې جامی می واخستل. او هغې هم زما هر خبره چې ورته کول مې بغیر له کوم انکار او نه ویلو څخه زما خبره منل.

سیمن هرات ته تللې ده او د محبوبې مور حالت په دې ورځو کې ښه نه ده، نو زه به هغې ته زړه ښه نه کړم او پلار مې اجازه نه راکوله چې فرهاد ورور ته خبر ورکړم، ځکه هغه وایي چې باید خپل کار ته ورسی او له بلې خوا چی وګورم چې هغه واقعیا دیر مصروف دی هغه حتی د تلیفونونو او پیغامونو ځوابولو لپاره وخت نلري.

فرشاد- مورې، زه باید لالا فرهاد ته زنګ ووهم چې راشه... الطاف به سبا راشي، ښه به نه وي چې نور له خولی  لالا خبره واوري.
کریمه-  هغه نه راځي. د واده په هماغه شپه که هم راغې لویه خبره به وی.
فرشاد- هغه زما ورور دی او زه پوهیږم چې هغه به زما په خوښۍ کې یوازې نه پریږدي.
کریمه- اه ماشالله، یوه ورځ هغه ستا څخه پوښتنه ونکړل چې ورور کوم کار لری کنه لری؟ کوم کمک غواړی کنه غواړی؟ او اوس ته لګیا یې ورور ورور وایې... هیڅکله د محبوبې او فرهاد ګرمو خبرو ته مه ځه.... پام کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امهمممم عجب کینه یې ښځه ده دا کریمه😒
سم د فساد جرړ ده او بدبخت فرهاد دا کم وو چې خپل مینی ته ونه رسیدی اوس غواړي ورته په زوره ښځه هم وکړي😕
واقعا زه شک لرم دا اغا سعید دده د رښتیا پلار دی؟ نو بیا ولی فرشاد ورباندی دومره ګران دی او فرهاد څخه یی بد راځی؟
😕

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپرونديه اداره.
#شپږ ویشتمه برخه.
________________🖤
بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

کوم کمک غواړې کنه غواړې؟ او اوس ته لګیا یې ورور ورور وایې... هیڅکله د محبوبې او فرهاد ګرمو خبرو ته مه ځه.... پام کوه.

#اوس نوې برخه...

صبا...

سهار وختي له خوبه راویښه شوم او ټول ځای مې جارو کړو د بی بی جان مخالفت با وجود می هم د هغې کوټه پاکه کړه او بې ګټې شیان مې وغورځول، که څه هم هغه شیا زما په نظر بیځایه شیان وه مګر دا د بی بی جان لپاره مهم وه.ثنا، خور مې هم زموږ کور ته د ګرم ډوډۍ سره راورسېده، د ګرمې ډوډۍ بوی مجبور کړم چې د پخلنځي خوا ته ورشم او ټولو ته مې ښه راغلاست ووایه، د ډوډۍ یوه ټوټه مې په خوله کې کېښوده او بېرته خپل کار ته راغلم. په یو ساعت کی می باید ټول ځای می صفا کړي وایی ځکه چې الطاف لالا می نن راځي.

په نهه او دېرش دقیقو ټول له کوره ووتل او د الطاف د اخیستلو لپاره ولاړه او زه د ټولو د راتګ لپاره تیار پاتې شوم. فرشاد چی څو ځله مسج کړه چې راځم چې ته به یوازې نه شې، خو ما له شرمه انکار وکړ چې که څوک کور ته راشي بد به وي او قسم مې وکړ چې تر هغه به زموږ کور ته را نشي..

فرهاد...

فرق څه دی...د زندانونو شاته اوسئ یا د ښار په بې پایه کوڅو کې د تګ په حال کې. کله چې ستاسو خوبونه په زندان کې وي ...

ټول د دسترخوان شاوخوا راټول شوي وو او ډوډۍ یې خوړله، پرته له فرهاد، چې د دروازې تر شا ولاړ و او لاس یې مرسته نکول چې دروازه وټکوي. د کله څخه چې هغه د دروازې شاته رارسیدلې و، یوازې د کړکیو او دیوالونو څخه منعکس شوي غږ یې اوریدی. چې الطاف به د خپلو سفرونو کیسې کولې، او اصیلا جار او قربان ورته ویل صمد خپل د ژوند حساب نه کاوه او ثنا او صبا مېلمه پالنه کوله. فرشاد بیا خپل خوش اخلاق شخصیت خلکو ته په نمایش کیخودو او ټوکې ټکالې شروع کړلې..

حسیب- الطاف جان که به دې لخیره د زوم په جامو کې وګورو؟
الطاف- امممم یو لس کاله وروسته..

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصیلا- وا دسې خبرې مه کوه بچیه زه په همدی اونۍ کې ستا لپاره خواستګاري ځم.
ثنا- لالا جانه ته غواړې چې زه بوډۍ شم او بیا ته ښځه وکړې؟
صبا د اوبو راوړلو لپاره پخلنځي ته ولاړه او د دهلیز د دروازې شاته یې د چا سیوري ولیده او سمدستي یې دروازه خلاصه کړه.
د فرهاد جهنم په لاره کې په دې انتظار وو چې خپل وجود یی یو ځل بیا وسوځوي.

صبا- سلام..
فرهاد د څو ثانیو لپاره ودرید او ورو یې وویل: سلام.
خو هغه موسکا چې د صبا په شونډو د میلمه پالنې په دود راښکاره شوه د فرهاد توره سترګې له منځه ولاړې، د فرهاد په تنفس کې د صبا عطر ګډ شو تازه توب ورک شو او ټولې خوښۍ یې په ذلت بدلې شوې.صبا د مېلمه پالنې د دود د پوره کولو لپاره په شونډو مسکا کېښوده او په ډېره نرمۍ یې ښه راغلاست وواېه. د صبا دې کار د فرهاد په زړه کې یو بل قوي خنجر واچاوه.
صمد- اوو فرهاد جان پخیر راغلې.

فرهاد نېغ په نېغه الطاف ته ورغی او سترې مشې ورسره وکړه.
الطاف- مخکې راسه چې په غیږ کې دې ونیسم زما ملګري.

د للالا په خبره چې فرهاد ته یې وکړل زما هغه وخت را یاد شو چې فرهاد او الطاف په ګډه فوټبال کاوه. یوازې دوه ځله له دې امله چې فرهاد په لوبې کولو نه پوهیده، الطاف له هغه سره نور لوبې بندې کړې. ټولو د فرهاد راتګ ته پام شو ځکه چې ټول د دسترخوان شاوخوا ناست وو، د فرهاد لپاره هیڅ ځای نه وو ،صمد له ځایه پاسیدل له فرهاد څخه یی وغوښتل چې هغه پر ځای کېني، خو فرهاد انکار وکړو
فرهاد غوښتل چی په کوټه کې د حاضر خلکو څخه بیحد لرې کېنې. خو اصیلا د فرهاد څخه و غوښتل چی د هغې څنګ ته کېنې او فرهاد ونشو کړې د هغې خبره رد کړې..

ثناء فرهاد ته یو قاب وړاندې کړ او اصیلا هم د فرهاد د سل منع کولو وروسته د فرهاد قاب له ډول ډول خوړو څخه ډک کړو. تر څو ویخوري.

کریمه- ولای اصیلا جانې ته د فرهاد دومره ناز وړې او دومره په زړه پورې خواړه ورکوې، نو د هغه لپاره ښځه همم وګوره..
اصیلا- واقعاً که درې لوړګانی می وای نو فرهاد به مې خپل زوم کړی وای...
اصیلا شاید دا خبره یې د ټوکې په توګه ویلي وه، خو د فرهاد د زړه ځینې ورې ټوټې، چې پاتې وې، ماتې کړې. فرهاد خپلې ډک سترګې خپل پلار ته پورته کړې او لکه سعید چې د فرهاد زړه ولوست، دواړو یو بل ته وکتل. د دوی تر منځ د کتابونو اندازه خبرې په چوپتیا کې تبادله شوه.

محبوبه- ډېره مننه اصیلا جانی انشاالله خپل د زامنو زوم توب هم وینم.
صمد- زه خو وایم  هر ځای ته چی ځی تاسو دواړه د لیوره ښځې ولاړ شی او دوه خویندې پیدا کړی لکه ثنا او صبا شایسته او تر ټولو غوره...
اصیلا- د خپلو لوړګانو دومره ستاینه هم مه کوه، زه خپل زامنو ته ستا تر لوړګانو شایسته تره او بهتره پیدا کوم.

ټول وخندل، پرته له فرهاد، چې په زړه کې یې وویل: "زه بهتره نه غواړم، زما لپاره یوازې د صبا درلودل هر څه وه. او دا هم ناشونی شول"

(c) ketabton.com: The Digital Library

امهمممممم بدبخت فرهاد اصلا زما زړه خو دغه ناول ووهی زه درته یو مفته مشوره درکوم شه فرهادجووو غوژ سه شاید غلط هم ويې د څينو خلکو له نظره خو زما خبره ومنه صبا وتخته وه 😕 هسی ددی لځایه چې هره ورځ یې وګوری او افسوس وخوری یوه ورځ د ټول کنځل پر خان واخله او الفرار😁😂

#جهنمي مينه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#اوه ويشتمه برخه.
___________🖤
بِسمِ ٱلْلّٰهِ ٱلرحمٰن ٱلرحِيم

#د تبرې برخې وروستي لفظونه...

ټول وخندل، پرته له فرهاد، چې په زړه کې يې وويل: "زه بهتره نه غوارم، زما لپاره يوازې د صبا درلودل هر څه وه. او دا هم ناشونی شول"

#اوس نوې برخه...

د بلې جمعې په خير، دا جمعه د جوش او خروش څخه ډکه ده. الطاف له دوو کلونو وروسته خپل کور ته راستون شو او لومړۍ ورځ سعيد ميلمستيا وکړل.

د پرون ستړيا لا نه وه ختمه شوې چې نن وريسی راورسيدی، ميرمن شيرين چې له ډېر تکليف سره د صمد له کور څخه د سعيد کور ته راغلې وه، ويې ويل: چې د فرشاد او صبا تر واده به بيرته نه ځي او همدلته د سعيد کور کې به پاتې کېږي. او خپل د اينګور څخه يې وغوښتل چې د دس لپاره يوه کوټه جوړه کړي.
فرهاد ژر وويل:چې بي بي جانه زما په کوټه کې پاتې شې، زه به د امين کور ته ځم.
سعيد- نه... دا اړينه نه ده چې دا لوی کور وي، زما مور بايد د فرح په کوټه کې وي يا ته د سهراب سره د دهليز په خونه کې ويده شه.
فرهاد- پلاره، شايد مورې چيرته لاړ شو، دا اونۍ کوم نوی سيمينار راغلی او زما لپاره دا مهمه ده چې هغه ټولګې واخلم.

سعيد- يوه اونۍ وروسته درس پيل کړه، اوس په کور کې ستا شتون ته اړتيا ده چېرته مه ځه.
سعيد فرهاد ته اجازه ورنکړه چې خپلې خبرې وواېي او صمد ته يې وويل: راځه صمد وروره. الطاف جان هم راغی پخير اوس څه وخت د واده لپاره راشو ستاسو کور ته؟
صمد- هر کله چې ته غواړې صبا ستا لور ده او فرشاد زما زوی دی.
سعيد- نو که تاسو موافق ياست، د نن ورځې په اړه فکر وکړئ او راځئ چې د جمعې په شپه د واده مراسم ولرو.

اصيلا- دومره ژر هم نه، پريږدی مورې خپل خريد خلاص کړو.
سعيد په خندا وويل: وريندار جانې دا د ښځو خريد مريد خلاصون نلري ، ستاسو د خريد لپاره که انتظار وکو درې نور کاله به تير شي.
صمد- هغه هر څه چې مورې نارينه لرو او که نه لرو، دا ښځې په خريد کې خلاص کوي.
حسيب ثنا ته سر وخوځاوه او ويې ويل: "ته ګورې چې ستا پلار هم په دې خبره راضي دی چې خدای په تاسو ښځو سره کافي وي" او فرشاد وويل: "خدای دی زما په نصيب هم کړی چې داسی شکايت وکړم". ټول په دی خبری ښه وخندل او فرهاد هم د دروغ يو مسکا وکړل او ولاړ شو د پخلنځي په لور روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستړګو له کونج څخه یې اوښکې په ګوتو لیرې کړې او خپل په لاسونو باندی د الکولو بهانه وکړل، په ستوني کې یې هغه درد او ژړا چې هره شیبه به یې په چاودلی وه، دا ځل وچاودی او اوښکې یې د غم او خپګان څخه ډک، محبوب او صبا هغه ته د اوښکو پاکولو لپاره دسمال ورکړو خو کاش د سترګې سوی نه بلکې د هغه مات شوی زړه روغ کړی وایی .ټولو هڅه وکړه چې له فرهاد سره مرسته وکړي، خو اجازه یې ورنکړه او ویې ویل: "دا کومه جدي خبره نه ده، زه فکر کوم چې زما لاسونه په الکولو وه او هغه مې خپل په سترګو ووهل، زه به خپلې کوټې ته لاړ شم که اجازه راکړئ.

د فرهاد غم لاپسې پراخ شو او سترګې یې وترلې، تر څو څوک یې اوښکې ونه ویني. او د زینو پورته شو، بیچاره خپل د غم څخه تغذیه کول. آخر هغه څه کولې شو؟ هغه پر خپل لاسونو باندې صبا بل چاته ورکړی وه او خپل ځان یې بدبخت کړې وو. هغه مجبور وو چې لدې درد سره ژوند وکړی.

د چهارشنبه ورځ ده او ما اوریدلي چې پدې شپه بیا دعا قبول کیږی. کاش چې د فرهاد دعا قبوله شي او دا ژوند په دې ټولو درد او غم سره له یوه اړخه و، یا کاش ژوندي پاتی شی او صبا یې نصیب شې یا هم کاش مړ شې او یو ځل به له درده خلاص شی .
فرهاد بیا د صبا لپاره لیکلي وو ...
زما لیلا....
ستا سره مینه کول زما لپاره دوزخ دی، او دا دوزخ د جنت ضد دوزخ څخه توپیر نلري.

دا ستا بیلتون دی چې زما د غمونو اورونه زیاتوي.
نه دا درد چې خپور شوی دی.
زما صبا ...
زما رګونه له رنګینو اوبو پرته بل څه نه دي، اجازه راکړه چې ستا د لاسونو د نکریزي رنګ شم. زما وجود ستا د پښو له خاوړی نه مهم نه دی، اجازه راکړه چې ستا د پښو لاندې د خپل روح غالۍ آوار کم .

خدایه، زما خطا وبخښه او دا نړۍ له ما سره بغاوت وکړي او ما ملامت کړي لکه څنګه چې یې غواړي زه د دنیا له ظلم سره عادت یم، خو ګناهګاره مې مه ګرځوه، دا درد او دا رسوایي چې زما په وجود کې راښکته شوې ده، له خپل مې وباسه، ما د دی مینه له دوزخ څخه می وباسه، ما له دی اور چی د صبا په نام دی وباسه.دا زغمل چې صبا په لاس کی د بل چا په نامه نکریزي دی د فرهاد لپاره دردناک دی. فرهاد  چې نه یې غوښتل د صبا لمر د ده له اجازې پرته وویني، نن یې په لاس کې د بل چا په نامه نکریزي دی، خو دا هلک په خپل ځان کې دومره پیاوړی ښکاریده لکه په زړو چاقو سره یې د وینې یو څاڅکی هم نشي تویيدلی، مګر په اصل کې، هغه دومره کمزوری دی چې د ستنې سره کولی شې خپله وروستۍ ساه واخلئ..

اصیلا...

په رښتیا چې له کومې ورځې چې الطاف راغی هم میلمستیاوی پرله پسی شوه ،هم  د صبا د واده محفلونه پیل شول، که څه هم ما  فکر نه کاوه چې دا به دومره ژر ترسره شي، خو ټول راضي وو، نو مور هم  بیړه وکړه، له سهار راهسی د کار د لاس چې سر مې درد کوي، ټول بوخت دي. بوخت دي. مېرمن صبا چې سهار کار نه کوي  ځکه وایي چې لاسونه به مې خرابېږي او د شپې نکریزي ښه نه ښکارېږي.

ثنا په خندا وویل: اوس نو ناز وکړه ځکه اوس دې ناز چلېږي.
صبا- ورځ زما ورځ ده.
اصیلا- خدای دې له دې ورځې وروسته هره ورځ ستا ورځ کړې او خوشحاله اوسېږی لور مې.
صبا یې غیږه ونیوله، مور او لور دواړه وژړل او ثنا هم ورسره یوځای شوه او درې واړوهم ژاړل او هم خندل ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا...

که څه هم زړه مې غوښتل چې د نکریزي یوه لویه محفل ولرم، خو پلار مې ویل چې ټول مراسم باید په هوټل کې وي، له همدې امله د مخکې له واده شپه ټول خپلوان کور ته راغلل او زما په لاسونو یې نکریزي ایخودل فرشاد وویل چې زما د پلار سره خبرې کوی ، مګر هغه بریالی نه شو ځکه چې موږ سره دیر وخت نه وو ، ما یوازې دا کار وکړو چې د سور جامې د نکریزي لپاره واخلم ما دیر شوق درلود چې هغه یو ځلي واغوندم.

نن شپه صبا ځان باندي ډیر رسیدلې وه او فرشاد هم د صبا څخه څه کمی نه درلودل. دواړه دیر ښکلی شوی وه د دوارو خورګانی او ورونه، تره عمه ګانی خاله ګانی.او ماماګان ټول په میدان کی ګدا کو. خوشحالي دلته دومره دیره وه. چې د فرهاد غم یکې نه ښکاره کې دی.

د نورو خویندو او ورونو په څیر، فرهاد نوې جامې نه وو اغوستې او ځان به یې په کار او محفل کې بوخت ساتلی و. شاید داسې له خپلو غمونو څخه تېښتیدل ډېره سخته ده د زړه آرام کول چې فرهاد هم د راضي کېدو هڅه کړې وه...

اهممممم زه نور خبره دا فرهاد ته نلرم هر بلا چې دی په سر راځې حق یې دی اخ دومره یو سړی غوا کیدي شی ایا؟؟ دی باره د غوا څخه اوریدلی بیخی ورڅخه چهار پایه جوړ شوی اخیرررزز ولی دی باید دومره عاجزز وی؟ ولی؟ اصلا زه سر له نن د فرشاد طرفدار شوم 😕

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#اته ویشتمه برخه.
________________🖤
بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرِحمَٰنِ اَاَاَلرِحیِم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

د نورو خویندو او ورونو په څیر، فرهاد نوې جامې نه وو اغوستې او ځان به یې په کار او محفل کې بوخت ساتلی و. شاید داسې له خپلو غمونو څخه تېښتیدل ډېره سخته ده د زړه آرام کول چې فرهاد هم د راضي کېدو هڅه کړې وه...

#اوس نوې برخه...

نن شپه یې د خپل ورور د زړه له کومې د خدمت کولو هوډ کړی و، کله کله به. پخلنځي ته ولاړی او کله ناکله هغه د DJ تنظیم کولو ته لاړ او په هر ساعت کې یو ځل کور ته لاړ او خپله انا احوال یی اخیست ځکه چې هغه نور په تالار کې د ناستې ورتیا نه لیدله، هغه دلته هیڅ نه و راغلی. اغلی محبوبه او اصیلا د فرهاد لپاره چی د صبا ګاونډې وه هغه انجلۍ سترګې لاندې کړې وه او له همدې امله دوی غوښتل چې فرهاد دلته او هلته لاړ شي ترڅو د انجلۍ کورنۍ هم د فرهاد سره وګوري که چیرې د فرهاد رایه مثبته وي د فرشاد وروسته د فرهاد لپاره اقدام وکړی..

فرشاد....

صبا په لاسونو کې نکریزي لګولې وه او هغه رقم چی غوښتل یکی نقش اچولی وو  زما مور هم د معمول په څېر د سبا په لاس کې ګوتمی کېښوده او عمه قند چې د تکاو په کونج کې وه وویل: تاسو خو رسم او رواج هېر کړې دي. دا سنګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نکریزو شپه ده ؟" ورشې اوسپنې کاسه راوړی چی نکریزي خیشته کوو ترڅو د صبا په لاسونو او پښو ک نکریزي ولګوو. دا قلمک باندي خو نکریزي نه کیږي..

اصیلا د کاکا ښځه می ،لاړه او د نکریزو یوه کڅوړه یې راوړه، او د نکریزي له چمتو کولو وروسته، د کاکا ښځه می عمه قند څخه وغوښتل چي موږ تر څنګ راشي. اوه اونجونی مخکي له دی چی راشي نکریزي کیږدې د صبا په لاس کی اصیلا زما د کاکا ښځه صبا ته یې وویل: چی ژر لاس خلاص نه کړي کنی تول ژوند کي د هم دی اول څخه دی  بایللی ده( دا رسم به معلوم ویې تاسو ته؟ موږ ورته موټ یا د هم د لاس خلاصه ول وایو)

فرشاد- مکوه د کاکا جان ښځي پرېږده لږ زړه راباندې وسوزه وی.
اصیلا- زره سوزیدل بیا څه دي؟
صبا هم خپل لاس پورته کی سر باندي کیخود او لاس یی موټ کی ما هم کرار کرار هڅه وکړخ چی لاس یی خلاص کړم په دی خاطر چی نوکان یی درلود نه می غوښتل لاس یی ژوبله شې. همغسی چی دهغې د موټ خلاص کولو کوښښ مې کو کرار مې د هغې د غوږ څنګ ته وویل: صبا د غیږي میدان خو ندی دوه دقیقه لپاره لاس خلاص کړه .

خو د اونجونو اواز پورته شو او چیغي وهل صبا لاس دی خلاص نه کړي او تسلیم نشي.
ثنا- د صبا لاس مفت نه خلاصیږي باید شیریني کیږدې.
فرشاد لاس یی جیب ته کی هر څومره یی چی پیسی درلود را ویباسل او ویې ویل: اوس دی لاس خلاص کړه چی عزت او احترام می ولاړی ټولو وخندل.. صبا هم لاس خلاص کړو او هغه اوه اونجونی هم ورته نکریزي ایخودل خو کله چي نکریزي یی کیخودلی فرشاد نوبت شوو فرشاد وویل: عمه جانی کوم بل رسم نشته چي زه هم لاس می موټ کړم او صبا زما هغه پسی بیرته راکړی؟

د فرشاد په خبری ټولو وخندل او حسیب په خندا وویل: د دې څخه وروسته عادت وکړه چې پیسی دی تل د ښځې لاس کې اوسیږی.
شریف- زموږ مارانو په منځ کی ښه راغلی هههههه.
فرهاد اولین نفر وو چی د فرشاد په لاس کی نکریزي کیخودلی او هغه بل لاس کی یو کارت چی نامحدود پیسی وه پکې کیخودل او ویې وویل: خوشبخت شي لالا جانه انشاالله د یو بل سره یوځای زاړه شي.
فرشاد- ډیر مننه فرهاد لالا خو دا کارت نه قبلوم.
فرهاد- مقدار یی ډیر ندی خو کولی شي یو موټر ځان او میرمني لپاره تحفه واخلي.

ټول حیران وه چي څه ووایی محبوبه چی ټول عمر کی یو خبره هم فرهاد ته نده کړي د فرهاد پدی کار سخته خفه شوه. هغې نه غوښتل چې فرهاد دي خپل د څو کالو زحمت وباسلو وروسته چې هغه پیسی پیدا کړو په یوه شپه کی ټول د فرشاد په لاس کی ورکی وروسته له فرهاد هغه شپږ هلکان نورو هم نکریزي ایښودل سیعد هم د فرهاد په سی روان شو او ورته نارې کړل:
سعید- فرهاد ..
فرهاد- بلی پلار جانه.
سعید- تا خپل بانکی کارت فرشاد ته ورکړې ؟
فرهاد- هو

سعید- څومره پیسی پکی وه ؟
فرهاد- پلار تحفه له مقدار نه معلومیږي
سعید- تا خپل ټول سرمایه د هغه لاس کی کیخودل؟ ته خپل آینده نلری ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد....

زړه مې غوښتل ووایم زما آینده خو زما مخکې تاسو د فرشاد په لاس کی ایخودل صبا مو هغه ته غوښتل او ما هم هغه پیسي چی د صبا لپاره ټول کړي وه د صبا لاس ته می ورسول بس.. خو څه مې ونه ویل او روان شوم.. کله چې کور ته راغلم نو انا جان ویده وه زه هم په خاموش خپل د کوټې خوا ته روان شوم ترڅو خپل اوښکې د تل پشان پخپل خلوت او خاموشۍ کې تویې کړم، او ځان تیار کړم ترڅو خپل یار خپل د زړه سکون خپل د ورور څنګ ته د واده په جامو کې د اخیر ځل لپاره ووینم او نور هیڅکله ورته ونګورم...

صبا....

ټوله شپه مې خوب ولیده چې د لاسونو نکریزو مې رنګ ندې اخیستې؟ سهار همدا چې سترګې مې خلاصې کړې په تلوار مې خپل لاسونه ووینځل او لدې چې لاسونه مې تک سور رنګ اخیستې وو بیحد خوشحاله شوم. لا د کوټې څخه نه وم وتلې چې د مور غږ مې واوریده چې ویل یې:

اصیلا- بې خیره نجلۍ ټول کور یې په نکریزو ککړې کړو لس دقې صبر ونکړو چې د ښو نکریزی وچ شې او ډب ډب به زغاستل.
ثنا- پریږده مورې اوس دې ملا بیا په درد کیږې واده خلاصیدو وروسته استو خشک شوې ته ترڅو یې مینځې.
اصیلا- یو کال لا تیر نشو زما پدی غالیو باندې. ددې نجلۍ له لاسه ټول خراب شول.

لدې چې پرون شپه مې دومره خوب ته تلوار وو خپله هم نه پوهیدم شاید د آرایشګاه لپاره وبریدم چې هسې نه خوب پاتې شم، له کوټې بهر شوم او ومې ویل: پریږده مورجانې زه یې خپل مینځم.
ثنا په ریشخند وویل: دا یو هفته دې لوښو او کالو ته لاس ونه وهې ترڅو لاسونه او نوکان دې خراب نشې او اوس غوارې غالې پریمنځې؟

اصیلا- دا غالې اوس پریږده لاړشه یو شې وخوره چې اوس آریشګاه ته ځې.
صبا- په سترګو.
لا دوه ګولې ډوډی مې نه وه خوړلې چې د کور دروازه وټکیدل په تلوار باندې پاسیدم او خپل حجاب مې واغوندې او تیار کړې د کور مینځ کې ودریدم چې ثنا راته کرار وویل: د تلو مخکې لاړشه د مور او پلار سره خداې پامانې وکړه ځکه اخیر ورځ دې په کور کېده.

د ثنا په خبره مې تازه و دې خبرو ته فکر شو او د مور و پلار کوټې ته لاړم د هغوې لاسونه مې ښکل کړل او ورته مې وویل چې فرشاد منتظر دې ترڅو ورسره اریشګاه ته لاړشم.
پلار- پخیر لاړشې لور جانې خو د تلو مخکې خپل د انا ملاقات ته یوځل لاړشه.
فرشاد چې هم د ثنا په بلنه پورته راغلې وو زما د څه ویلو مخکې ژر وویل: په سترګو کاکا جانه.
د دهلیز څخه چې ښکته تلو نو فرشاد زما لاس کلک ونیو او کوښښ یې وکړو ترڅو زما سره یوځاې د زینو څخه راښکته شې.

صبا- څه کار کوې؟ بده ده؟
فرشاد- اممم دشپې د جشن لپاره تیارې نیسم او تمرین کوم هلته باید په تالار کې ستا لاس ونیسم او جوړه ښکته شو د زینو څخه ځکه غوارم د اوس څخه امادګې ورته ونیسم.
صبا- پریږده زما لاس بده ده پلار مې وینې.
فرشاد- اوس ته زما ښځه یې او پلار که دې وهم وینې کومه ستونزه نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهمممم ربښتیا وایې ښځه یې اوس نو سوک څه کار لري چې لاس دې نیس که .... افرین فرهاددد جووو وګوره کوم بل شی نسته هغه هم ورکړه فرشاد ته ښځه یې درنه ویوره کم نه وو تا خپل ټول بیسی هم ورکړل😒

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#نهه ویشتمه برخه.
——————🖤
بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرحمٰنْ اَاَاَلرحِیم

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

صبا- پرېږده زما لاس بده ده پلار مې ویني.
فرشاد- اوس ته زما ښځه یې او پلار که دې وهم ویني کومه ستونزه نشته.

#اوس نوې برخه...

موټر ته نږدې شو او په مخکې سیټ کې مې سترګې د کاکا په ښځې ولږیدې هغې زموږ په لیدو د موټر ښیښه ښکته کړل او ما هم ورته سلام واچوو..

صبا- سنګه یی د کاکا ښځې ښه یی؟
کریمه- مننه لوری..
صبا- تاسو به کور ته راغلې وایی او چای به مو څښلي وایې.
کریمه- ناوخت ده کښینه چې لاړ شو.
د کاکا ښځې فرشاد ته د یوځای آدرس ورکړه او فرشاد هم د همغه ځای پخوا روان شو.
صبا- فرشاد..
فرشاد- جان.
صبا- انا جانه مو ونه لیده.

کریمه- ماښام چې کور ته راغلی، لورى بیا به یې وګوره، اوس ډاکټر ته تلل پکار دي.
فرشاد- راځه چې مور مې ډاکټر ته بوځم بیا به ځو، ګراني.
له دی چې فرشاد ماته ناز راکول شرمیدلم ځکه چې مېرمن کریمې د فرشاد د هر "جان او جیګر په ویلو سره خپل وریځې پورته کوله.نیم ساعت وروسته، موږ هغه آدرس ته ورسیدو چې د کاکا ښځې ورکړی و، دا نسبتا کوچنی روغتون و، مګر دننه ډیری ځانګې درلودې. کاکا ښځه می  مخکې روان و او فرشاد او زه وروپسې روان وو د ډاکټر نوم یې وویل او لیست ته په کتلو موږ دننه ولاړو.

زه نه پوهېدم چې موږ ولې دلته راغلو؟ او زړه مې بد وو شاید  زما له مخ څخه څرګنده وه، زما وېره نو ځکه د کاکا ښځې می وویل: مه وېرېږه، موږ یوازې د وینې معاینې لپاره راغلي یو، ځکه ته او فرشاد د تره لور او زوی یاست له دی امله راغلی یو.
فرشاد- اندیښنه مه کوه، زما ګرانه، ته چې کوم فکر کوئ، زه به یې اجازه ورنکړم ...
صبا- زه د هیڅ شی په اړه فکر نه کوم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- دا ستا ګلابي غومبرو څخه معلومېږي چې ته څه ته فکر کوې..
موږ ډاکټر ته لاړو، هغه یو څه معاینات وکړل او وینه مو واخیسته او پایله به یې په دوو ورځو کې معلومه شي.

فرشاد....

له روغتونه ووت او لومړی کار چې ما وکړ، هغه دا وه چې صبا مې د انا جانه لیدو ته ویوړل انا جانه صبا ولیده او په مخ یې ښکل کړه، بیا یې له کڅوړې څخه یوه بکسه وغوښته او هغه یې څخه هغه ګوتمی صبا ته ورکړه، کوم چې زما نیکه انا جانې ته اخیستې وه. د هغه وروسته صبا د انا جانې سره خداي پامنې وکړو..د انا جانه له کوټې څخه د وتلو وروسته، صبا له ما څخه وغوښتل چې د فرهاد کارت بیرته هغه ته ورکړم ، صبا هغه شپه هم ډېر ټینګار کړې وو او ویلې وه چې ما نه باید دا کارت  د فرهاد څخه اخیستې وایي ..

زه د فرهاد کوټې ته لاړم او هغه ویده و، ما هم کارت د میز په سر کېښود او ژر تر ژره ښکته شوم او د صبا سره د سینګارتون سالون ته لاړم، که څه هم ما نه غوښتل. زه له صبا څخه جدا شم خو نه کیده. د صبا لاس مې ونیول او ښکل مې کړه
فرشاد- څوک به تر شپې پورې انتظار وکړي ... چې بیا دې وګورم؟
صبا- که دا ورځ سل ساعته هم اوږده شي، نو بیا هم ختمه کیږي فرشاد..

("لس میاشتې وروسته")

صبا....

څومره ژر ژوند رنګ بدل کړو په یوه شپه باندې د څمکې تر ټولو بدبخترینه ښځه شوم ترڅو دقیقو د مخکی د دې خبرې هیجان او خوشحاله وم چې خاوند مې د دوه میاشتو وروسته کور ته راځي او غواړې چې موږ ټول یو ځای ووینې، زما په زړه کې یو عجیب احساس وه. داسې چې هیس بد خبر نشو کولې زما دا ښه احساس راخراب کړي. خو افسوس چې زما دا دومره خوشحالي او مسکا د لس ثانیو څخه ډېر وخت و نه نیوی. د دروازې په ټک ټک، زه او فرح دواړه پورته شوو، خو زما لکه چی ډیر بیړه وه چې دروازه خلاصه کړم.

یوازې لس ثانې یوازې او یوازې لس ثانې زما د خندا او خوشحالې وه، د دروازی خلاصه ولو وروسته حتئ دومره توان راکې نه وو چې پر پښو ودریږم. هغه څه چې ما ولیدل یوه نرۍ د هغه خوب څخه توپیر درلود چې ما د هغه له راتګ څخه څو شیبې مخکې لیدلی و. زره می بې وسه شو او ذهن مې له دې زیات باور نه شو کولای.د فرشاد په شونډو وروکی موسکا هغه وخت ورکه شوه چې زما څهره یې ولیده فراح چې وضعیت اندېښمنه کړی وه زما پسې راغلی وه چې وګوری څه خبره ده ولې یو دروازه خلاصه ول دومره وخت ونیو؟

هغه خبرې او فکرونه چې زما ذهن کې ګرځیدل زه یې لیونې کولم، زړه مې غوښت چې په دروازه کې د دغو دوو ولاړ کسانو په سر دا ټول کور وران کړم، خو هلته! زما په زړه کې غږ راغی چې بې عقله کېږه مه.فرشاد ستا سره دا کار نه کوي، حتی که هغه وغواړي، نه شي کولی، ځکه چې هغه له تا سره ژمنې لري. خو د هغه د چوپتیا له امله زما اندیښنه نوره هم زیاته شوه، په شونډو مې یوه موسکا راځرګنده شوه او لږ انرژي می ونیوله او فرشاد ته مې وویل:

صبا- ایا ته ټوکې کوې؟ یا ته غواړئ ما خره کړئ؟ (ما د هغه دواړو ترلو لاسونو ته اشاره وکړه او ومې ویل: ایا ته  فکر نکوې فرشاد چې دا د ټوکې لپاره ډیر نه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې فرشاد د بت غونډې شوی وو او خبرې يې نکول، حتی خپل نظر يې هم زما ځخه غلا کړ، دا فرح و چې د موضوع په جديت باندې پوه شوه او زما د پیاوړتیا لپاره يې لاس ونیو او له ما څخه یې وغوښتل چې دننه لاړ شم.
صبا- صبر، فرح ته څه کوې؟

ما د خپل غږ لرزه احساس کړه خو مهم نه وه چې نن شپه زه څنګه او له چا سره خبرې کوم. زما په زړه کې یو ګډوډې وه چې زما د ژوند عذاب یې له خطر سره مخامخ کړ، ما ولیدل چې زما نیمه لاره کښتی ډوبه شوی وه .
فرح- صبا جانې راځه دننه لاړ شو..
صبا- فرح ته هم د دوی پر خوا یې ؟؟؟

اهمممم وای وای من بوی خیانت احسای میکنم اووووو مردم سنکه چل دی؟ 😳😱😕

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#دیشمه برخه.
🖤________________
بِسمِ أَلّلَهِ أَلّرحمٰن أَلّرحِيم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

فرح- صبا جانې راځه دننه لاړ شو..
صبا- فرح ته هم د دوی پر خوا یې ؟؟؟

#اوس نوې برخه...

زما د چیغې د غږ سره فرهاد او پلار یې دهلیز ته راغلل او د هغوی وروسته محبوبه او هر هغه څوک چې کور کې شتون درلود د دراوزی خوا ته راغله تر څو وګوري څه چل دې؟ کریمه د کاکا ښځه چې په لاس کې یې قرانکریم نیولی و بغیر لدې چې زما بد حالت ته کومه توجه وکړي فرشاد ته يې وویل: ولې دې خپل ناوې پر پښو دره ولې فرشاد جانه؟ بسم الله کړه او د قرآن کریم د ښکل کولو سره دننه کور ته راشه.

فرهاد....

زموږ ژوند له هغه فلمون څخه بدتر شوی کوم چې د هغه په لیدو به صبا ژړل، د صبا ژوند اوس خپل یو غمجن فلم جوړ شوی وو. د صبا پریدلی رنګ ما ته هغه ورځ را په یاد اچوی. کوم ورځ چې ما صبا د فرشاد تر څنګ د واده په جامو کې ولیده په ټول کور او ټول خلکو کې زه بهتره د صبا دا حالت درک کولای شم چې سومره له درده ډکه ده هغې د دویم ځل لپاره خپل میړه د زومانو په جامو کې ولید هغه هم د بل ښځې سره.

هغه لکه بې روح جسد پشان شوې وه. او زه د دویم ځل لپاره مړ شوم. لومړی ځل هغه وخت چې صبا مې په سپین کالیو کې د بل چا د ښځې په صفت ولیده، او دوهم ځل نن چې د صبا بې جانه جسد مې ولیده.ولې دروغ ووایم ما ته هیس مهمه نه وه چې څه کار شوی او فرشاد څه کړی؟ ماته یوائې مهم صبا وه چې زما په مخ کې په کفن شوې وه؟

په ژوند کې مې د لومړي ځل لپاره داسې سور کفن ولید چې زما په بې ګناه معشوقه یې اغوستی وه، هغه اوښکې مې چې په سترګو کې وې د هغه ورځ لپاره وه دا چې زه د خپل حق نه دفاع نشم کولی، ځکه چې زه نشم کولی صبا له دې مشکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه وباسم، نه دا چې زه یو له هغو کسانو څخه وم چې هغه یې دلته وغورځاوه او اوس زه ننداره کوونکی یم ځکه چې له دې څخه هرڅه ښه کیدی شي. که زه د فرشاد پر ځای د هغه خاوند وای، اوس به هر څه بل ډول وو.

کریمه مور چې په دې واده کې یې زړه راښکونکی رول لوبولی، مخې ته راغله او ویې ویل: چې ناوې او زوم دې د قرانکریم تر سیوري(سایه) لاندې تېر شي، دا ښه شګون نه دی چې ناوې دې یو ساعت د دروازه مخې ته ولار ویی.

خو امان له صبا څخه چې تر اوسه د فرح په لاسونو کې د بې روحه بدن په څېر وه، ناڅاپه په یو نه کنترول کیدونې شلیتې او وحشې ښځې بدله شوه.خپل لاسونه یې د فرشاد ګرېوان باندې کیخودل او په سینه یې دومره ووهله چې څومره یې کولی شو. او چغې شروع کړل.
صبا- تا څنګه دا کار وکړې شو لعنتې بې انصافه؟؟ ایا دا زموږ ژمنه وه؟

ټول لړ لړ پوهیدل چې د کریمه میرمنی ناڅاپه مریضی هغه هم یوازې فرشاد سره مزار ته تک بی دلیل نه وه کولی شم ووایم یو بهانه وه د هغې مریضتیا تر څو فرشاد ته دوم واده وکړې.

صبا.....

څومره می چې لاسونو کې توان وه فرشاد می وواهه خو هغه پرته له کوم حرکت څخه ولاړ وو او بغیر لدې چې زما بد حالت ته کومه توجه وکړې ویې وویل: ټول شیان قبول کړه صبا ترڅو ټولو ته آسانه او ژر دا خبرې تیرې شي.
صبا- لعنتی څه ومنم؟ دا چې پر ما دې بنه راویستل؟ولی ومنم؟ انشاءالله چې مړشي فرشاده...
کریمه- بدبختی بس که هغوی واده اوله ورځ باندی داسي بی معنا خبري کوي.

فرهاد...

زما صبر هم حد درلود او نن شپه زما د صبر حد هم ختمه شوي وه د کریمه مور خبري می ذهن ته راغلي او ددې سبب شوو چې دصبا څخه حمایت وکړم ځان می مخکې کړو او ومي ویل: چا بدبخته کړه؟ تا صبا بدبخت کړه. مګه ته نه وي؟ ته یواځې خپل د زوې خوښې ته ګورې نن د صبا سره خوښ دی بل ورځ د بل کوم چا سره. او ته هم ورته ځې او هغه جنۍ ورته کوې..
فرشاد - خولی خبرو ته د پام کوه وروره.
فرهاد- ته نامرد بیغرت زما سره خبري مکوه ، دی کار وروسته زما ورور خو لرې زه دې د سړی حد کې هم نګورم.

د فرهاد او فرشاد د خولې شخړې زور واخیست او تا ویلی ماویلی لفظي جنګ پیل شوو. ختمي هم په تهدید باندی وه د دوې ترمینځ یوازې سعید او محبوبه هغه نفران وه چې غلی پاتی شوی وه او د وضعیت نظاره ګر(تماشا) کوله صبا نور توان ندرلوده دهلیز کونج کې په دواړه زنګنونه غیږې ونیول کیناسته څنګ کې یی فرح هم کیناسته، ولی دروغ ووایم بغیر کریمه څخه نور هیڅوک د وصلت څخه خبر نه وه
بیا ولی هیڅا صبا لپاره کوم کار نه کوه ؟ شاید یو ډول ټولو قبوله کړي وه کار تر کار تیر شوی...

کریمه....

بغیر لدې چې د چا خبرو ته کوم توجه وکړم خپل ناوی مې د لاسه ونیولو او مهمانخانې ته می بوتله او ومې ویل: زما ګرانی دلته کینه ترڅو زه درته سپینلی لوګی کړم..

پخلنځلی خوا ته روانه شوم چې یو دم صبا مې مخې ته شنه شوه، په ویره مې وویل: وجلی زړه دی رانه وباسه ولی انسان پشان نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- خاله خیر دی پښو ته دی غورځم ووایه دروغ دي، ووایه فرشاد لوبي کوي ِ
کریمه- توبه استغفرالله وجلی خوبونه خیالونو نرې نه راووځه ځانته ښځه شه .
صبا- خاله خیردی زما حق دا ندی .
کریمه- ای خدایه نوي ناوی لرم ، او تاته ګوره ، اجازه راکړه لاړه شم ترڅو سپینلی لوګې کړم خلاص نشي د هغوې څخه یې تاو راتاو کړم ترڅو بلاوی ورڅخه لري شي.
صبا- بلاوی لري کوي خاله ؟ زما ځانته څه بلا غورځیدلی څه؟ هغه بلا زما کور خراب کړو هغه څه ؟

فرهاد....

ځانته می لعنت ویل پیل کړل هغو ورځو لپاره چې چوپتیا مې وکړه. هغو شیبو لپاره چې سترګي مې پټي کړي وه هرڅه نه ، مخکي څخه هم صبا راته ډیر ارزښت پیدا کړي وه عادت می ورسره کړي وه نیوهېرم ولی ، دا دوه ساعته تیر شول تراوسه خپل ځان سره په جنګ کې وم ، یو ځل بیا مې صبا خپل د ځان حق وګنه، بیا می احساس وکه چې د صبا مسولیت زما سره دی. د کوم څشي د مات کېدلو غږ راغی بی اراده می وویل: صبا؟ ؟؟
نیوهېږم زما د غږ ټن څومره لوړ وو خو دومره وه چې ټول د صالون کې حاضر کسان یې د پخلنځلی لورته هدایت کړل ...

صبا د کریمه برقی سپینلی ماشین په ځکمه وهلي وه دا سبب شوو چې کریمه غږ پورته شي...
کریمه- نور بس که لیونی جلی؟ که چیری ته ښځه واې نو ماشوم به دي نرې ته راوړي وه نه کراره غلی کیني او وژاړې، اوس باید د ماشوم غږ په ټول کور کې اوریدل شوي وایې نه ستا د ژړا غږ ..
فرهاد- کریمي موری ....
کریمه- څشي دي؟ دروغ وایم؟ مګر دا نازا (وچه) نده ؟ ها؟

لدې مخکې چې کوم جواب ورکړم مور مې نیږدې راغله او زما د غوږی څنګ کې وویل: "زویه مداخله مکوه پریده خاوند یې راشې او طرفداري وکړي." د مور دومه جمله څه وه ما زغملی نشوه جګ غږ می وویل: بس موری بسسسسس ، څه خاوند؟ هغه خاوند چې د بلي جلی لاس نیولی او کورته یې راوستی؟ هغه بیغرت نامرده خاوند یې؟(ټولو ته می وکتل او ومی ویل: تاسي ټول نن شپه ملامت یاست ؟ ته هم موری ... تا غوښتل غلی پاتی شم .... ته موری ، پلار می ، خور می ، کریمه مور مي یا ناسکه مور حتا خپل ځان مې..

پښتو�ناولونه:

[#جهنمي](#) مینه.

[#ژباړونکې](#): خواجه زی خیروندیه اداره.

[#یو](#) دیشمه برخه.

🖤________________

بِسمِ اَاَاللّهِ اَاَالَرحـّمَنْ اَاَالَرحِیم

[#د](#) تېرې برخې وروستې لفظونه...

ته هم موری ... تا غوښتل غلی پاتی شم .... ته موری ، پلار می ، خور می ، کریمه مور مي یا ناسکه مور حتا خپل ځان مې..

[#اوس](#) نوې برخه...

فرهاد حالت دومره خراب وه هرڅا فکر کاوه چې د فرهاد ښځې دویم واده کړي وي ...... بیا هم فرهاد صبا څنګ ته ورغی،صبا چې د کریمي پښو لاندې په زنګنونو ځکمه باندی ناسته وه دواړه لاسونه یې دصبا نه راتاو کړل اول ځل می وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاید هم آخر ځلي می وي چې د صبا د ساه آواز مې خپل سینې پورې حس کړو خدای شاهد دي هیڅکله می دي ورځی ته سوچ کړي نه وه خدای څخه می غوښتي نه وه دا لحظه خو خدای راته په نصیب کړه او دا لحظه پرته له مهرباني او زړه سواندی بل هیڅ کوم حس می د صبا لپاره نه درلود.. د صبا خواته می اشاره وکړه او مخاطبه مې کریمه میرمن کړل او ومې ویل:

فرهاد- مګر څومره خوند او مزه درلوده چې صبا دی تباه کړل میرمن کریمي؟

پلار غږ می نن شپه اول ځل و چې پورته شوو او ویې ویل: فرهاد بس که بی حرمتي مکوه .....
فرهاد- پلاره لږ لږ مې لیاده وتل چې ته هم دلته یي؟ تراوسه ولې غلی وي؟ کوم نوم ستا دې خاموشې ته ورکړم؟ بیخبرې؟ حیرت؟ یا هم د ټول خبرو څخه باخبری؟ عه پلاره ....
فرهاد بیاهم خبرو ته پیل ورکړو او ویې ویل: لکه چې ټول په دی کور کې خبر وه، او ټولو په ګډه د دې د تباه کولو پلان جوړ کړې وو.؟
محبوبه- زویه..
فرهاد- مکوه موری پخدای د دې ژوند څخه راته مرګ ښه دی....

فرهاد خبري ټولو ته داسي نامعلومي وي او د ټول کورني خلک یي حیرت که اچولی وه فرهاد د صبا څخه ډیر چغې، ناری او ژړا کول لکه چې د صبا نه بلکې د فرهاد ژوند خراب شوې وی..فرهاد کراره غږ باندې د شوندو لاندي وویل : کوم انصاف دی چې زما حق کې ونکړو هغه به دې د صبا په حق کې کړې وایې پلاره...

کریمه....

کریمه- بس کړې عه .. پخدای ماتم سرای مو جوړ کړي کور ناا نور بس دې..( د سمن خواته ورغلم غیږې څخه می هلک ترې واخیسته او ومی ویل: ترڅو ناوخته نشي رنګین( د فرشاد دویم میرمن نوم) غیږې ورکړم یو رسم خو سرته رسولي وي....

ماشوم مې د رنګین غیږې ورکوي صبا بیا راپیدا شوه دا ځلی د رنګین ته زاری کول شروع کړل.
صبا- خدای ته وګوره ووایه دروغ دي، هرڅه عبادت کوي ووایه کومه بلا زما پر سر نده راغلې....بیا فرشاد مخته کیناسته او ویې ویل: فرشاد ووایه کوم کار دی کړی ندی؟ ووایه کوم کار دی کړی ندی ؟ زما پرسر قسم درکوم
فرشاد- صبا ...
صبا- قسم درکوم د صبا په ځان قسم درکوم ووایه واده دې ندې کړې.
فرشاد د صبا اوښکي پاکې کړې او ورته ویې ویل: سخته کوه یې مه صبا خیردی .... بیا غلی شوو او کرار یې ورته وویل: ستا د اوښکو د زغملو توان نلرم.

صبا- پوهیږم نشي کولی زما اوښکي وګوري چې تویږي پخدای باوري لري وګوره نوره ړنده شوم ووایه ټوکي کوي مسخری کوي..
کریمه- صبا پورته شه.( هغې هیس عکس العمل ښکاره نکړو بیا می وویل: وجلۍ ستا زړه دی چې د ربښتیا ماتم پیل کړې؟ مګر ما محبوبه ونه ومنله؟ ته هم رنګین ومنه. ولې هغه نشې منلې؟ ما هم بن په ځان ومنله ...ته هم زیاته زما څخه نه یی ......

فرهاد....

نپوهېږم یو دم می فکر وکړو چې کریمه له قصد څخه دا بلا د صبا په سر باندی نازل کړی. په لوړ غږ مې وویل: صبر.... صبر...... ته ځان له صبا سره پرتله کوې؟(بیا مې مخ د فرشاد خواته وګرځاوه او ومې ویل: لعنتی بی غیرته ولی غلی یې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته نه وي  چې د عاشقی ناری دی وهلي؟  څنګه مینه ، لعنت په تا وي هغی مینی باندی څو میاشتي تیرې شوي ندي او ختمه شوه؟

فرشاد- زما ژوند کې کار مه لره فرهاده، په تا يې څه؟ ومی غوښتل ښځه وکړم ومی کړه ، ته څوک يی ي زما مور سره او ښځي سره داسي خبري کوی؟ ته څوک یی چې زه تاته حساب درکړم؟ زه یوازي خپل ځان د صبا مخکي د سوالونه مسوول ګورم نه تاته.

فرهاد- صبا نوم مه اخله لعنتی ......

فرشاد- وګورم ستا تکلیف څه دي؟ ستا ستونزه څه ده؟ چې معلوم شي؟ زما خپل زړه، ښځه می.

صبا- ښځه دي؟ ها ښځه دي؟ هغه ښځه دي چې یوازی دوه میاشتي واده څخه کیږي؟( مطلب يې رنګين) یا هغه ښځه دي چې لا تراوسه واده کال هم پوره نه وه؟ او خپل د خاوند دوم واده شاهده شوه؟ لعنت دې په تا وي؟ او ښځي ويلو باندي..

فرشاد- مکوه صبا ، پریده یوازي خبري وکړو .....

صبا- څشي یوازي حل کړو؟ دا چې دوه میاشتي مور مریضی دي بهانه کړل او لاړې مرکه دي وکړه؟ او ښځه دي راویستل؟

فرشاد- صبا.

صبا- لعنت دي په صبا باندی وی.. لعنت دی په تا وي فرشاده ، لعنت دی په هغه ورځ وې چې ستا ښځه شوم ، خپله طلاق درکوم همدا اوس .....

فرشاد- صبا د څه طلاق لیونتوب مکوه.

صبا- فکر کوي حق نلرم طلاق درکړم؟ آها زړه دی خپل په سرِی توب باندی خوشحاله دی ؟ فکر کوی یوازي تاسو طلاق ورکولو حق لري؟ پخدای دا درى ورځو کي می له تا څخه طلاق اخیستی نه وي خپل د پلار لور به نه یمه....

محبوبه- لوري قسم مکوه ګناه لري.

صبا خپلي خبري وکړي او د کوټي څخه لاړه فرهاد دویم نفر وه چې د کوټې څخه ووت او د هغه وروسته کرار کرار دا نور هم ووتل پرته د محبوبي اا هغه ناوی ښه راغلاست لپاره نیردي ورغله او ویې ویل: اوبخښی لوري صبا ته حق ورکړه صبا بده جلی نده یوازي زړه نیولی د ژوند خرابېدو ....

رنګين- حق ورکوم خاله جانی.

محبوبه- قربان دي شم کرانی.

محبوبه زر مخ کتلو رسم لپاره خپلو غوږونو څخه ګوشواری لري کړې او د رنګين لاس کي ورکړې او ويې ويل: لوري ستا لیاقت دینه ډیر دی خوو مخکینه مو تیاري نیولی نه وه اوبخښی....

رنګين ـمننه کوم !

امهمممم صباجوووو طلاق غواړي وای وای 😱

د واده کال يې لا ندی پوره شوی نچ نچ خیرن فرشاد هی بیچاره فرهاد اوس به څه وشی؟ 🙄

#جهنمي مینه.

#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.

#دوه دیشمه برخه.

________________🖤

بِسمِ أاأللّهِ أاألَرحمٰنْ أاألَرِحيِم

(c) ketabton.com: The Digital Library

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

لوري ستا لياقت دينه ډير دی خوو مخکينه مو تياري نيولی نه وه اوبخښی....
رنګين ـمننه کوم !

#اوس نوی برخه...

فرح....

پرون د مور له خبرو څخه مشکوکه وم خو دومره نه هيڅ فکر نه وو چې وغواړې ورو‌ره ته می دومه ښځې وکړی دومره بده می راغله ای وای نوو صبا کور وران شوو دروازه شاته ورغلم دروازه می تک تک کړه جواب رانکه...
فرح ـ صبا ويښه يی ؟ پخدای صبا انديښنه دی يمه جواب راکړه.( جواب می وا نه وريدو بيا مې په تشويش ورته غږ کړل:
صبا يوازې وګورم ښه يی وعده درکوم مزاحمه کيږم نه.
کراره دروازه راخلاصه شوه او صبا می سترګو ته ودريده...
صبا- انديښنه مکوه تراوسه ژوندی يم
فرح- خدای دی نکوی ګرانی چې درباندې کوم شئ وشې..

صبا- خدای دا ظلم وکړو فرح .... زه چيری لاړشم؟ زه د تللو لپاره ځای هم نلرم... که لاړه شم چيرته به لاره شم ؟ مړه هم شم څوک نشته زما پرسر اوښکي تيوی کړي.... زما بخت او تقدير می که چيری ښه وه واده اوله ورځ مور کور ته بيا نه راونيدلم.
فرح- مکوه صبا جانی خدای دی نکوی دومره درد غم ستا لمنه نيسي دومره بېځايه فکرونه مکوه ....
صبا- تيروتنه کوې زما لمنه غمونو څخه ډکه ده هر چيرته ځم غم ورم ...
فرح- صبا جانی خيردی...
صبا- کريمه خاله ريښتيا وايی زه بدبخته ښځه يم .... حق نلرم خوشحاله اوسم.

همدا وخت دروازه ټک ټک شوه دواړو د دروازې خوا ته وکتل فرشاد وه. د هغه په ليدو فرح له کوټې څخه لاړل ترڅو فرشاد او صبا يوازې خبرې وکړي....
فرشاد- صبا..
صبا- کولی شې زما له کوټې څخه لارشی..؟
فرشاد- صبا خير دی زما خبروته غوږ ونيسه؟
صبا- څشي ته غوږ ونيسم ؟ دا چې دوه مياشتې دې ماته دوکه راکړه؟ دا چې څنګه دې چل راکړو؟ يا دا چې هرورځ می درته زنګ وهلو څنګه دې خره کولم؟
فرشاد- صبا بس که هيڅوک ستا ځای نيولی نشي..
صبا- تيروتنه کوې، زما ځای نيولی شوې دې او هيڅ ځای ماته نشته، ورک شه زما له کوټې څخه...

فرشاد خپل لاس د صبا په لاس باندی کيښود او کرار يې وويل: خير دی....
صبا- په کوم لاس چې دې د بلې ښځې لاس نيولی وه ماته مه نيږدې کوه بد می راځې ورنه.....
فرشاد- ياد ته راوړه هغه واده په ورځ آرايشګاه مخه کله چې دې زما لاس ونيو او راته و دې ويل:" نور هيڅکله دې لاس نه پريږدم."
صبا- مګر هغه ورځ داسې څوک زما څنګ که ولاړو چې زما يوه لحظه لري والی څخه يې ډار او وحشت درلود..
فرشاد- زه اوس هم همغه يم ، اوس هم ستا لاسونه ته اړتيا لرم غواړم لاسونه دې زما لاسونو کې بند اوسي. اوس هم لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکولو نه دي ډاريږم انديښنه لرم. خير دی صبا درک می کړه ستونزه می درک کړه قسم درته کوم رنګين ته هيڅ احساس نلرم يوازينی دليل مور مي وه او بس..

صبا- قسم مکوه لعنتی ، قسم مه خوره ، ستا رضا نه وايې نو هيځکله دا پيښه نه رامينځته کېدل.
فرشاد- مجبوره وم صبا مور بدبختی می واوريدی هغی نغوښتل ځان پشان خو کاله زه هم د اولاد څخه محروم شم، هغې يواځې غوښتل زما اولاد وګوری خپل ملسې پريده مورمی خپلو آرمانونو ته ورسيږي...خير دی صبا..
صبا چغې ووهل او ويې ويل :مګر لس کاله زما له واده نه تير شوي وه او زه مور کيدلی نشوم او وچ وم؟ ستا مور پشان خومره ډاکترانو را ته د نه جواب راکړی وو؟ مګر خوکاله اولاد څخه نامحروم پاتی شوی ته ؟
فرشاد- کوښښ وکړه وزغمې صبا يوازې همدا درنه غوارم صبا....
صبا- زموږ د واده يو کال لا ندې پوره شوې...لعنت دې پر تا وې فرشاده ستا درک کولو باندی... لعنت دې ستا په مور وې چې اولاد غوارې......

امهمممم عجب به ښځه ده دا کريمه😒

#جهنمي مينه.
#ژباړونکي: خواجه زی خپرونديه اداره.
#دري ديشمه برخه.
🖤________________
بِسمِ ٱلْلَّهِ ٱلْـرَحـمٰنْ ٱلْـرَحـيٖم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

صبا- زموږ د واده يو کال لا ندې پوره شوې...لعنت دې پر تا وې فرشاده ستا درک کولو باندی... لعنت دې ستا په مور وې چې اولاد غوارې......

#اوس نوې برخه...

د صبا په دې خبره فرشاد صبا په خپېړه ووهل او په غوسه يې ورته وويل: د څه لعنت؟ ها..؟ ولې زما مورته رسيږي ها!؟ څو دقيقې لا تيرې نشوې چې صبا خپل د وهلو قصد او غچ واخيست او فرشاد يې په همغه شان په خپېړه وواهه...! او په غوسه او نفرت يې ورته وويل: په همغه حق باندی چې ته لاړې او ښځه دې وکړه .... آخر ځل دی اوسېږې چې پر ما باندې لاس پورته کوې زه ستا کنيزه نه يمه...

د دواړو سپړيړو ضربه برابره نه وه ، خوو زخمې کول يې يو ډول وه، فرشاد سپړې صبا مخ چاپ که ... خو د صبا سپړې فرشاد زړه ....صبا د کوټې څخه ووته باندی خواته روانه شوه شايد هغې غوښتل خپل خور کور ته لاړه شې...

("10مياشتی مخکې")

صبا....

فرح او سمن زما څخه وروسته آرايشګاه ته راغلې ټنا هم وعده راکړې وه چې د غرمه څخه وروسته راځي ځکه لور يې نارامه وه آرايشګاه ناوی ګانو شمير 15 دانو ته رسېدل... هيڅ کومې ناوی ته زما پشان توجه نکيده هر لس دقيقې فرح

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمن صبا پوښتنه کوله هر نیم ساعت فرشاد زنګ میسج ورته کوه آرایشگره هم په تنګ راغلي وه همدا چې فرشاد میسج به راغی هغه به بسم الله وویل هیچاته اجازه نه ورکوله ماته راشي ورته او تولو ته یې ویل چې پتمه اوسېږی...آخري ناوی چې تیاره شوه زه وم ځکه خوښیدل می آرایش می تازه وي...

ټول لړ لړ تلل ترڅو نوبت ماته راورسیده څومره بی قراره چې فرشاد زما د لیدلو لپاره وه هغومره هم زه بی قراره وم او غوښتل مې ټول د آریشګاه انجونې وګوری چې ما د چا سره واده کړې خصوص هغه آرایشگره چې ویل یې: زوم حتماً ګنچی دي یا هم بوډا دي چې دومره درته توجه کوي ....

فرشاد آرایشگاه دهلیز که ولاړ وه په لیدلو یې نرۍ می لاسته راغله اول ځل وه چې بخیلی حس می وکړو او نه می غوښتل پرته زما څخه دې فرشاد بل چاته وګوری او همجنان نه می غوښتل نور څوک هغه ته وګوری... څو عکسونه اخیستو وروسته له آرایشگاه څخه ووتو فرشاد زما ټکرۍ راباندي واچوه ...

صبا- مکوه آرایش می خراب شوو.

فرشاد- نه می خوښیږي بل څوک دي آرایش سره وګوری.

صبا- هغ وخت باید ته هم ټکری پر سر واچوی ځکه تا زما څخه هم زیات آرایش کړې دی ...

فرشاد خپل وریځه پورته کړل او ویې ویل: ښکه که خوښه دې وې د ناوی جامي به هم زه واغوندم؟

صبا- که واغوندي نو د زومانو لین او قطار به درته ودرېږی..

دواړو په خندا موتر ته پورته شول موتر که هیڅوک موږ سره نه وه خوشحاله وم بېواره یوازي موتر که وه ازادانه خبري کولی شوو ....

فرشاد- ګلاب مې ...

صبا _جان...

فرشاد په خندا وویل: خبره می هیره شوه...

صبا _ولی ؟

فرشاد- دلیل یې ستا جان ویل وه ګلاب مې...

صبا _جان.... بدرنګه جان...

فرشاد- بدرنګه راته مه وایه غوسه راځی...

صبا _ښه نو تخو بدرنګه یې کنه..

فرشاد - بدرنګه راته مه وایه کنه مستقیم کور ته ځوو..

صبا په شیطنت وویل: بدررررررنګ جـــــــان...

فرشاد- مکوه صبا .....

صبا بیا په خندا وویل: بدررررررررنـــــګ جااااان..

فرشاد لدي لځایه چې موټر د تالار او هوټل خوا ته وګرځه وې خپل د کور خواته راون شو چې صبا په اندیښنې وویل:چیر ته فرشاده؟؟

فرشاد- څه نظر لرئ کور ته به لاړشو پرېږده خلک په تالار کې ډوډی وخوری نڅا وکړې او خوشحال اوسیږی... ځکه زه نغوارم په دې بدرنګ څهری هلته لاړشم ځکه هسې به دی مجلس خراب کړم ....

صبا _لیونی کیږه مه ... هله موتر وګرځاوه. اوس مو مور و پلار په ناوخت راتلو بیابه کوي..

کورته نیږدې ورسېدل او فرشاد صبا ته وویل: ښکته شه ګلاب مې..

صبا- فرشاد مسخری مکوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- تاته مې وویل چې ماته بدرنګ مه وایه... اوس ښکته شه کوم څوک چې بدرنګ وي او ښایست نلري ورسره مه څه واده ته.....
د صبا له څهرې څخه ښکاره وه چې خومره وېرېدلې وه کرار یې وویل: فرشاده زموږ واده مه خراب کوه خیر دی...
فرشاد- تا خراب کړو نه ما.. اوس هرڅومره غوارې بدرنګ راته وواېه زه درنه لارم...
صبا حیرانه پاتې وه دا همغه فرشاد و چې د مینې دعوې کولی؟ په ژړغوني غږ یې ورته وویل: اوبخښې فرشاده...
فرشاد- پرېږده اعصاب مې آرام شي بیا ...

فرشاد دا خبره وکړل او د موټر څخه راښکته شوو او کورته لاړو. صبا دوه ځلي فرشاد ته زنګ وواهه خو هغه جواب ورنکړو. پنځه دقیقې صبا موټر که یوازې وه نېوهیده کورته ورشي یا حویلی که پتمه اوسي؟دواړه لاسونه باندی سر لاندي خواته کلک ونیلو ترڅو اوښکې آرایش ورته خراب نکړي د موټر د دروازی خلاصیدو سره یې سر پورته کړو..

فرشاد- زما کلیزه دې مبارک وی ګلاب مې...
فرشاد یو لاس که سره ګلانو غنچه..بل لاس که دوه غټې ډالی موټر مخکې ولاړ وه ...

د هغه په لیدو صبا په غوسه وویل: د ښځې کلیزه لعنتې زه دې مرګ ته پرېښودم  اوس وایې کلیزه مې مبارک؟ لس دقیقو کې لس ځله مړه شم ...فرشاده...

فرشاد ډالی شاته سیټ که خطا کړل د صبا د سترګو له کونج څخه یې خپل پر لاس باندې اوښکې پاکې کړېطا او ویې ویل: اوبخښی زما خوږی یوازې مې غوښتل لږ هیجان درکړم ښکلی شې...
صبا- یعنی دا خفه کیدل دې دا خبرې دې دا ټولی بهانه وې؟
فرشاد- اوبخښی نه مې غوښتل پعذابه شي تا چې ماته کلیزه ونه نیوله ما خپله ونیوله..!
صبا ـ زما آرایش دې خراب کړو بدرنګ...
فرشاد په خندا وویل: ښه وشو ته هم زما پشان بدرنګه شوی..
فرشاد- صبر صبر زه زر راځم....
او کیک شمع سره بیا راغی ...

امهمممم ای ورک شی په دی کلیزی نیولو دی خیرن😒

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپرونديه اداره.
#څلور دیشمه برخه.
🖤_______________
بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرِحمٰنْ اَاَاَلرِحیم

#د تبرې برخې وروستې لفظونه...

فرشاد په خندا وویل: ښه وشو ته هم زما پشان بدرنګه شوی..
فرشاد- صبر صبر زه زر راځم....
او کیک شمع سره بیا راغی ...

#اوس نوې برخه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- نه نو....
فرشاد په خندا وویل: هو، کلیزه د واده په جامو کې..
صبا- ښا نو د شپې به دې کیک ټوټې کړی و نور د دې کارو ته څه حاجت وو؟
فرشاد- زما خوښیدل چې ته راته ډالۍ‌واخلې، خوښیدل مې کلیزه مې له تاسره وې. خو ما چانس نه لرو ته حتی زما په کلیزه نه پوهیدې. نو ځکه مې خپل ځان په خپله سوپرایز کړ.
صبا- خپله دې خپل ځان ته ډالۍ هم اخیستې عجیب یې ولا...
فرشاد- اوس نو زر که چې کیک ټوټې کړو او لاړ شو ترڅو مې چې مور دوی پولیسان نه وي خبر کړې...

فرشاد زما او خپل عکس له کیک سره واخیست. او د وټساپ سټوري ته کیښود.
او بیا یې ماته وویل: مننه زما میني، زما ژوند له هیجان ډکولو څخه، د نن محفل او د نن ورځې لپاره. تر ټولو ښایسته کلیزه مې تاسره ولمانځله، او دا ته یې چې په خپل راتګ سره دې زما د بې معنا ژوند ته مې معنا وربښې..
صبا- مګر ما خو کوم کار ندی کړی..؟
فرشاد- خو خیر بل کال ته کیک واخله اوس مې نه خوښیدل ملګري مې ووایي چې میرمن دې په کلیزه نه پوهیده.

صبا...

زما په نظر د کلیزې پوهیدل یا نه پوهیدل ماته هیڅ مهم نه وو خو فرشاد ته یې ډیر اهمیت درلود. حتی زموږ د واده ورځ یې له خپلې کلیزې سره برابره کړه. دا چې پدې کار سره یې زه په ژړا کړې وم باید مې نه وای ښخلی خو څه مې نه شو کولی. که مو جنګ کړی وای فرشاد خفه کیدو او آن تر دې چې شاید زموږ په واده کې یې هم ګډون نه وای کړی.په بیره مو ځان هوټل ته ورسوو زموږ مخې ته فرهاد سپیلني راوړ او فرح سپینلي دود کړو تر څو زموږ بلا لرې کړي

فرهاد...

مینه ده نو...
کله درته جنت جوړ کړي..
او کله درته دوزخ شي چې ترڅو ته ژوندی یې ودې سوزوي...

زما مینه هم له جنت څخه وتلې او هغه دوزخ شوې چې باید سوزول وکړی. له نورو وختونو څخه ډیر په حال وم. بلاخره زما صبا نن د واده جامې اغوستې څه فرق کوي که زما لپاره ندي. خو زما له خوبونو څخه یو خوب پوره شو، د صبا لیدل په دې جامو کې.تر ټولو مخکې اول هوټل ته ولاړم ترڅو وګورم څه کم نه وي. ټولې تیارۍ یې نولې وې او لړ لړ ساز او سرود شروع کیدا.خورګانې مې له آریشګاه څخه راغلې او د سمن زوی چې نوی په خبرو راغلی وو راته وویل: ماما ړیله دیله مه پریده... ( ماما ړیره ډیره مه پریږده)

ړیره مې د هغه په مخ ووهله او ومې ویل: د دې لپاره مې پرېښې ده چې تا پرې وځوروم او بیا مې ښکل کړ.ملیمانه هم یو په بل پسې راتلل او زه کله په مردانه صالون کې وم او کله هم زنانه..فرح له شا څخه ماته غږ وکړ: فرهاد لالا ماته خو لږ ذغال راوړه غوارم دود یې کړم صبا دوی راغلل.
د صبا نوم لکه خنجر وو ماته.. همغه عادت چې زه ترې تښتم. خو دا نوم به ما هېڅکله پرېښوډي او باید ټول عمر د هغې نوم د فرشاد له نوم سره په اوریدو زخمي شم.

شاید یو څو شیبې کیدې چې هیره کړې مې وه نن د همغه بې خبرې معشوقې مې واده دی.اه فرح ته هم له غمونو سره یو لاس شوې یې، یو ځل بیا دې زه زخمي کړم.
فرح- فرهاد لالا..

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- ته څه زه يې راوړم....
د هغې لپاره سپيلنی دود کوي ترڅو له بد نظر نه لرې وي. خو زه څنګه؟ زما بلا به څوک په خپل ځان واخلي؟ هغه بلا چې زه يې د خپل ځان بندي کړی يم....
د هوټل له آشپزخانې مې ذغال او سپيلني را واخيستل او راغلم زما صبا د واده په جامو کې د فرشاد تر څنګ ولاړه وه.

زما د خيالونو شهزادګی زما د خيالونو له نظره هم ښايسته ښکارېده. دروغ ولې حتی په خوبونو کې مې هم دومره ښايسته نه وه ليدلې. د سترګو ځلا يې، د مخ ښايست يې، د کتلو جذابيت يې او د ناز کولو ادا يې، ومې منل چې مجنون حق درلود چې د خپلې ليلا پښې ښکل کړي. خو ای کاش زه د مجنون په ځای وای او د صبا په قدمونو کې مې خپل ځان ورکړی وای.

هيڅ څوک نشي کولی زما د صبا په څير ښايسته ښکاره شي. سترګې مې د هغوی په ترل شويو لاسونو ولګېدې. صبا ددې ورځې او خوښۍ حق درلود. دومره يو د بل تر څنګ ښه ښکاريدل چې وډار شوم صبا مې نظر نشي او عاجل مې سپيلني په ذغالو واچول او د صبا مخ ته مې ونيول.فرح زما له لاس څخه سپيلني واخيستل او د فرشاد او صبا له سر يې تاو کړل.

فرهاد د ټولو له منځ څخه بيرون شو او خپل ځان يې د خپل موټر خواته چې د هوټل په پارکينګ کې درولی وا ورسوو. زړه يې لدې زيات زغم نه درلود که هر څو نه يې غوښتل اوښکې توې کړې خو خپل لاس کې يې نه وو د فرهاد مړی د چوپ پاتې کيدو لپاره بې روحه نه و.سر يې د موټر په اشترينګ کيښود او د سترګو په ترلو يې غوښتل د صبا ليدلی تصوير هير کړي.خو کيدی شوای؟ نه، نه کيدل د سترګو په ترو يې درد نه تمامې دا، فرهاد په هغه ورځ مړ شو چې صبا د واده لپاره رضايت وښود.

خو جنازه يې نن بهر کيږي زړه يې عجيبه درد حس کاوه.

لکه مات شوي هډوکي چې هري خواته حرکت ورکړې درد کوي. فرهاد چې هري دروازې ته ولاړ شي دردويني. او دا درد چې نوی شروع شوی زر نه خلاصيږي. نيم ساعت يې اوښکې توې کړې او بيا داسې چې هيڅ نه وي شوي په يوه تريخه خندا چې جزا ته ورته وه ځان يې جوړ کړ او په خوشاله څيره محفل ته ولاړ، محفل ډير ښه په مخ روان وا او نکاح هم تمامه شوه.

امهمممم ملګرو غلط نشی ناول موږ اشتباه ندی نشر کړی بلکی ليکوال کله لس مياشت مخکی ځی د فرشاد دويم واده ته او کله لس مياشت وروسته بيرته راځی د هغه واده ښبی ته چی د صبا سره يی وو هسی چپه ليکوال دی 😁

#جهنمي مينه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#پنځه ديشمه برخه.
_______________🖤
بِسمِ اَاَلّلَهِ اَاَلَرحمَنْ اَاَلَرحِيَم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

په يوه تريخه خندا چې جزا ته ورته وه ځان يې جوړ کړ او په خوشاله څيره محفل ته ولاړ، محفل ډير ښه په مخ روان وا او نکاح هم تمامه شوه.

#اوس نوې برخه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد یې میدان ته راوست او په شاوخوا کې یې ونخیدل، فرهاد په نکاح کې ګډون ونکړ. خو چې څنګه صالون ته داخل شو. دا ظالمان یې په غم ونخیدل او دی یې هم نخیدو ته اړ کړ. هغه له درده نخیدو، د خپلې مینې د لاسه ورکولو... د زړه له ماتیدو یې...اخرینه ضربه چې فرهاد یې له پښو وغورځوو د صبا سپین کالي و. هغې سپین اوغوستي و خو د فرهاد کفن شو. هغه د بل چا ناوې شوه او فرهاد د دې مینې قرباني شو. هیچا د فرهاد درد یاد نکړ، ټولو د فرشاد له خوشالۍ خبرې کولې.

مینې یو ځل بیا د فرهاد سترګې لندې کړې او په کوششونو یې ونشو کولی اوښکې پټې کړې. زه د هغه درد له بیان څخه عاجز یم چې فرهاد یې په ژړا اچولی و، شاید په ریښتیا چې دوزخ همدا دی، مینه ورسره ولرې او نصیب کې د نه وي.

شده تقدیر کسی باشی و قسمت نشود؟
سالها گیر کسی باشی و قسمت نشود؟

پشت یک قلب به ظاهر خوش و یک خنده‌ی تلخ
شده زنجیر کسی باشی و قسمت نشود؟

در میان تپش آینه پنهان شوی و
تصویر کسی باشی و قسمت نشود؟

شده در اوج جوانی با همین ظاهر شاد
تا گلو پیر کسی باشی و قسمت نشود؟

شده آزاد و رها باشی و تا عمق وجود
رام و تسخیر کسی باشی و قسمت نشود؟

می شود با همه ی ریشه و رگهای تنت
سالها گیر کسی باشی و قسمت نشود؟

هغه حس یوازې فرهاد کولی شو درک کړې. او فقط له خدایه غوارم چې هیڅوک په داسې شرایطو کې خاموش پاتې کیدو ته اړ نکړې.ای کاش هغه چوپ پاتې کیدو ته مجبور نه وای، ای کاش خپل درد یې بیان کولی شوی، ای کاش فرهاد کولی شوی چې له ځان څخه دفاع وکړې، ای کاش د چیغو وهلو حق یې لرلی، ای کاش ټول پوهیدلی چې د فرهاد د مینې جنازه ده او دومره سرمستی او خوشحالې مه کوئ.

چیرته دې هغه د نجات فرشتې چې وګوري، فرهاد په خپله جهنمي مینه کې سوزي. او پرېښږدي نور په دې دوزخ خپله جنتي مینه وسوزوي.

رفت و غزلم چشم به راهش نگران شد
دلشوره ی ما بود، دل آرام جهان شد

در اّول آسایش مان سقف فرو ریخت
هنگام ثمر دادن مان بود خزان شد

زخمی به گل کهنه ی ما کاشت خداوند
اینجا که رسیدیم همان زخم دهان شد

(c) ketabton.com: The Digital Library

آنگاه همان زخم، همان کوره ی کوچک،
شده قله ی یک آه، مسیر فوران شد

با ما که نمک گیر غزل بود چنین کرد
با خلق ندانیم چه ها کرد و چنان شد

ما حسرت دلتنگی و تنهایی عشقیم
یعقوب پسر دید، زلیخا که جوان شد

جان را به تمنّای لبش بردم و نگرفت
گفتم بستان بوسه بده، گفت گران شد

یک عمر به سودای لبش سوختم و آه
روزی که لب آورد ببوسم رمضان شد

یک حافظ کهنه، دو سه تا عطر، گل سر
رفت و همه ی دلخوشی ام یک چمدان شد

با هر که نوشتیم چه ها کرد به ما گفت
مصداق همان وای به حال دگران شد

د فرهاد له حده زیات درد او بې شماره اوښکې حتی نور یې شاید نه غوښتل چې له نورو څخه پټ وژاړي. په ټولو سرکونو او لارو کې یې اوښکې توې کړې، فرهاد له صبا سره د اخر ځل دیدن نه وروسته پدې بهانه چې کور ته ځي او د راتلو تیار یې نیوو له محفل څخه بیرون شو. پلار او مور یې دواړه د هغه د زړه له حالت نه خبر وو خو یو یې هم د هغه لپاره هیڅ کار نشو کولی. د همدې لپاره د هغه د تګ مخنیوی ونکړو. محفل ډیر لنډ شو و او یوازې نږدې خپلوان په محفل کې و او اخره ډله یزه نڅا یې کوله.نیم ساعت د فرهاد له وتلو څخه کیدا خو هغه کور ته ولاړو نه سېده امین ته ورغی. امین یوازینی همدم یې چې نن شپه په واده کې د فرهاد حالت د لیدو شاهد وا او دا چې د فرهاد په درد خبر وو وه یې نشو زغملی او کور ته ولاړ.

کومې اوښکې چې فرهاد د الله ج په حضور کې توې کړې شاید هم ځان او هم نړۍ سوزونکې وې. څکه زړه او نړۍ یې له هغو سره وسول او ایرې شول

اصیلا...

د لور سره مې د خدای پامانۍ وخت وو خو ما بیرته خپله لور کور ته راوستله، هیڅ مور نه غواړي د خدای پامانۍ په ورځ خپله لور بیرته بیا کور ته راولي. خو زما د لور بد قسمت وو چې میرمن شیرین وفات شوه. لا د هوټل څخه نه وو وتلي چې سعید ته یې زنګ وکړ او ویې ویل چې میرمن شیرین وفات شوه. او په کوم کور کې چې مړی شوی څنګه مې خپله لور لیګلې وای؟ ټولو وویل پټ یې کړئ او پریږدئ چې ناوې کور ته بوزو خو زه پوهیدم که مې لور هغه کور ته ولیږم یا ونه لیږم ټول به مې لور بدبخته ګڼي. ټول به وایي د هغې بد قدم وا چې داسې وشول، هغه د میرمن شیرین د مړینې ملامته ګڼي. د خلکو خوله بندیدونکې نده او په هر حال ورپسې خبرې کوي.

زه مې د خپلې صبا لپاره ځوریدم، شاید اوښکې توې کړې د هغې ورځې لپاره چې باید رخصت شوې وای خو بیرته د پلار کور ته راستنه شوه خو زه ددې اجازه نه ورکوم چې د یوې لوې بدبختۍ سیوری پرې ولویږي..

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د صبا له بد قسمت څخه وو که د فرهاد له اوښکو څخه چې دا عذاب د دوی کور ته راغی. د میرمن شیرین ناڅاپه مرګ باندې چا باور کولو میرمن شیرین چې صبا په خپله نن سهار له کوره د ناوې کیدو لپاره ولیګه. او فرشاد یې مازدیګر رخصت کړ چې د صبا لاس ونیسي صرف په دریو ساعتونو کې وفات شوه.

سعید له فرهاد سره اړیکه ونیوله خو فرهاد له مخکې څخه ماتم درلود. د ناوې شوې معشوقې ماتم یې....د همدې لپاره یې د موبایل ځواب نه ورکوو. صمد او سعید دواړه پدې پریکړه ورسیدل چې صبا بیرته د خپل پلار کور ته ولاړه شي او د میرمن شیرین د ختم او فاتحې مراسم د سعید په کور کې وي.ددې توري شپې نه نور څه پاتې نه و. پرته له دو شومو ساعتونو څخه چې نه تیریدل صبا د ناوې په جامو کې بیرته خپلې کوټې ولاړه او هم فرشاد د صبا دوی کور ته ولاړ. میرمن اصیلا چې نه غوښتل لور یې تنا پاتې شي خپل کور ته راغله او صمد له سعید سره ولاړل تر څو د وروستي ځل لپاره خپله مور ووینې.

فرهاد د سهار په دریو بجو کور ته راغی د کور خاموشي او د میرمن کریمې رفتار ورته مشکوک وا. هغه میرمن کریمه چې اوس باید فرهاد ته طعنې ورکړې وای. ځکه میرمن کریمه د خپلې خور سره په چیشو غریدله چې د صبا په اړه وو.
فرهاد له اوښکو ډکو سترګو د اول منزل نه دوهم منزل ته ولاړ او سعید د فرهاد غاړه غیږ کې ونیوله او ویې ویل: اخر غم مو د شي.

ښنګه ممکن ده چې د فرهاد اخر غم وي دا یې تازه شروع ده د غمونو....
د نن ورځې لمر د سلو بدبختیو سره راپوته شو او ټول ورو ورو د تسلیت ویلو لپاره راتلل. صبا د تینګار کولو په غږ د میرمن اصیلا لپاره هغه راضي کړه چې جنازې ته ولاړه شي.

امهمممم باور وکړی دا ټول اسمانی بلاوی چې پر دوی راځې دا ټول د فرهاد د مات زړه له امله دی😕 بدبخت بوډی دغه ورځ د مرګ وو؟ خو شه وخت مړه شوی خدای دی وبخښه هسی ددی فرشاد ارمان خو ونه ختی😁🙈

#جهنمي مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#شپږ دیشمه برخه.
______________🖤
بِسمِ اَللّٰه اَلرحمٰنِ اَلرحیم

#د تبرې برخې وروستې لفظونه...

د نن ورځې لمر د سلو بدبختیو سره راپوته شو او ټول ورو ورو د تسلیت ویلو لپاره راتلل. صبا د تینګار کولو په غږ د میرمن اصیلا لپاره هغه راضي کړه چې جنازې ته ولاړه شي.

#اوس نوې برخه...

فرهاد...

د شپې په نیمایي کې کور ته ولاړم او د اناجانې له مړینې خبر شوم. څه کیدل چې زړه مې یوازې یو درد لرلی. کاش کولی مې شو یو ځل بیا د اناجانې خلاصې سترګې ووینم.په کومه ورځ چې د فرشاد شیرینې وه اناجانې مې له ما وغوښتل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واده وکړم او زما ناوې هم ووینې. خو کاش زما له بد قسمت څخه باخبره وای چې زه بدبخت یم، او ای کاش چې اناجانې ته مې نه وای ویلي چې زه د واده کولو تصمیم نلرم. ای کاش چې زړه مې یې نه وای ازار کړی. او هغه نازک زړه مې ورته څو شیبې خوشاله کړی وای.

وروسته د سهار له لمانځه څخه د خپلوانو راتګ ورو ورو پیل شو. له کومه ځایه پوی شوی وای چې پرون د واده مبارکۍ او نن د تسلیت لپاره ټول دلته ټول شوي. د کوټې دروازه مې بنده کړه او کیلۍ مې په لاس کې وې. نه مې غوښتل څوک مې په شخصي شیانو کې لاس ووهي.او له کومې خوا چې تګ او راتګ ډیر وا د شیانو له ورکیدو او د لیکنو له رسوا کیدو مې ډاریدم. پلار مې چې د غم ماتم نیولی و. د انا له بې ځانه جسد سره ناست و او ژړل یې. صمد کاکا قرآن کریم لوستو او د هغه سترګې هم نمجنې وې. د یوې شیبې لپاره مې ځان د میرمن شیرین په ځای راوست کاش نن زما جنازه وای. د اشنا عطرو بوی مې حس کړ. راغلم د حویلۍ خواته، هغه وه، صبا... سر تر پایه تور یې اغوستي و. پرون د شپې مې له خدایه سل ځلې وغوښتل چې تور واغوندي.

خو نه دا چې د بل چا ماتم وي. ای کاش زما د مرګ په ماتم یې تور اغوستي وای. خو له بلې خوا فرق یې زما په مړینه هم نه درلود پرون زه مړ شوم او نن حق نلرم چې صبا ته وګورم. هغه سر له ننه د فرشاد ښځه ده او بس.

فرشاد...

هغه شپه چې هیڅوک نه غواړي چې هغه یاده کړي زما د واده شپه، کوم چې د اناجانې له مړینې سره برابره ده. خدای ج خوښي او غم یوځای زموږ په برخه کې لیکي و. او دا سبب د دې شو چې د کاکا ښځه مې پوره څلویښت ورځې صبا په خپل کور کې وساتي. د دې فاصلې منځ کې د صبا لیدو ته تلم او یا هم هغه مې د خوږو خوړلو لپاره بیرون بیوله. د اناجانې په ختم او خیرات کې مو ګډون کوو خو ټول له غم پرته څه نه و. صبا هیڅ خوشاله په نظر نه ښکاریده شاید د همدې لپاره چې د خلکو له خبرو ویریده.

حتی په کومه شېبه به چې ماسره وه ډاریده او په دې موده کې ما هم ترې ونشو غوښتلی چې کور ته راشي ځکه د کاکا ښځه مې اندیښمنه وه چې د صبا لپاره کومه پیښه رامنځته نشي. له بلې خوا مې د مور اندیښنه د صبا د وضعیت لپاره چې له واده یوه هفته وروسته یې زما او د صبا د ازمایښت نتیجه اخیستې وه، هغې غوښتل چې ژر تر ژره صبا یو ډاکټر ته بوزي.

سعید...

له هغې ورځې څخه دوې میاشتې تیرې شوې وې او ټول ورو ورو خپل عادي ژوند ته راغلي و. د مور په څلویښتمه ورځ مې د صمد سره خبرې وکړې او له هغه مې وغوښتل چې د اصیلا میرمن سره مې ورور مشوره وکړي او یوه ورځ وټاکي چې د صبا د ورلو لپاره ورشو. که څه هم زموږ غم لوی دی خو نشم کولی چې ددې غم لپاره مې نګور ټول کال د پلار کور کې پریږدم. مګر له تلو مخکې مې وغوښتل چې د فرهاد سره خبرې وکړم او ترې غوښتنه وکړم چې ماسره د صبا د راوستلو لپاره ولاړ شي.

د فرهاد کوټې ته ولاړم خو د کوټې دروازه یې بنده وه. حتی کله چې فرهاد مسافرت ته هم تلو د کوټې دروازه یې خلاصه وه څه پاتې شي چې په کور کې وي او خپله کوټه قفل کړي. دوه درې وارې مې ورو دروازه وټکوله. د فرهاد غږ وو چې راتله ویل یې صبر راځم.

فرهاد- سلام

سعید- علیکم سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- ښه يې پلار جانه
سعيد- ښه يم مننه... کولی شو خبرې وکړو؟
فرهاد- هو تاسو خپلې کوټې ته ولاړ شئ زه درځم.
سعيد- ولې ستا په کوټه کې؟ پلار دې ستا کوټې ته د ننوتلو اجازه نلري؟
فرهاد- استغفرالله پلاره خپل کور د دی صرف لږ بیروبار ډیر دی.

سره لدې چې فرهاد نه غوښتل خو په زور يې کوټې ته ننوتم او د هغه شخصي حريم مې له سترګو تير کړو، سره لدې چې پخپل دې کار پښيمانه هم شوم. ای کاش هغې کوټې ته نه وای ننوتلی خو لدې عذاب وجدان سره بيرته نه وای وتلی.
نا منظمه د خوب تخت چې سابقه يې نلرله چې فرهاد خپل د خوب تخت منظم نکړي زه د کرکۍ تر څنګ په څوکۍ کيناستم او فرهاد خپل تخت منظم کا او ددې لپاره چې کوټه يې نامنظمه وه ښښه يې وغوښتله. په کوټه کې د کاغذ ځينې ټوټې وې چې د فرهاد د زړه خبرې پکې ليکل شوې وې.

دا ټول پيچلي او غورځول شوي و.په ديوال کې د رنګونو يوه تابلو وه چې ډيره کمرنګه ښکاريده. دا په دې وروستيو کې اخيستل شوې، په نقاسی کې يو شين چاپيريال وو چې لمر يې د غرونو له سرو څخه را پورته کيدو. د څو مياشتو دې بدلونونو زما د مشر زوی د کوټې ټول نظم له منځه وړی و. نو د هغه د ژوند نظم څه ؟ زه اټکل نشم کولی چې منظم د وي. او د دې احتمال چې دا منظم وي ډير لږ دی. يوه ورځ تر ستوني په مينه کې غرق وا.. هغه څوک چې د ميني له خمار څخه خلاص شو.. هغه کس چې نور ځان سره د مينې کولو حوصله نلري...

فرهاد- وبخښه د کوټې په کثافاتو مې تاسو هم سرګردانه کړئ.
فرهاد زما له لاس څخه کاغذونه واخيستل د کوټې کونج په کثافات دانۍ کې واچول. ښه پوهيدم چې ددې خبرو ځای د فرهاد په زړه کې دی نه کثافات دانۍ کې... يعني زه پلار وم؟ زه ظالم شوم او د خپل فرهاد په حق کې مې ظلم وکا؟ فرشاد څه؟ که نن د فرهاد په ځای وای په چوپتيا سره به يې درد ايستو؟ اصلا د فرهاد په اندازه به په خپله خبره ولاړ وو؟په کوم جرأت سره زه دلته راغلی يم او د فرهاد نه غوښتنه کوم چې صبا کور ته راولو؟ د خبرو کولو لپاره څه پاتې نشول، او يا مې جرأت ونکړ چې بيان کړم.

موضوع مې په مکمل ډول وګرځوه او د بحث موخه مې فرهاد کړو.
سعيد- ښا زويه ووايه څه تصميم لرې؟
فرهاد- د څه په اړه؟
سعيد- هر تصميم چې لرې ووايه اورم د هر څه په اړه چې وي.
فرهاد- نه پوهيږم څه غواړې واورې. خو که ستا مشکل د ميرمن کريمې سره يو رکم وي نو زه دې درک کوم او تصميم هم لرم چې له کوره جدا شم. فقط يوه هفته وروسته زما کور اماده کيږي.
سعيد- د ميرمن کريمې مشکل؟ که د مور دې؟
فرهاد- که مې مور وای نو په کور کې له اوسيدو سره مې مشکل نه درلود.
سعيد- څه مشکل لرې؟

امهمممم عجب ظالم پلار دی راغلی  وو چې بدبخت فرهاد ووايی راځه خپل ورېندار کور ته راوړه اوس کاش د فرهاد له مينی خبر نه وايی😟 خو پداسی حال کې چې خبری بيا هم داسی کارونه کوی😒

#جهنمي مينه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

#اوه دیشمه برخه.

________________🖤

بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرِحمٰنْ اَاَاَلرِحیٖم

#د تېرې برخې وروستي لفظونه...

سعيد- د ميرمن کريمې مشکل؟ که د مور دې؟
فرهاد- که مې مور وای نو په کور کې له اوسيدو سره مې مشکل نه درلود.
سعيد- څه مشکل لرې؟

#اوس نوې برخه...

فرهاد- له هغې څخه پوښتنه وکړې.

فرهاد...

هره ورځ او شپه خپل ځانته دلداري ورکوم چې کوم فرق نکوي، او دا قسمت وو چې هغه د فرشاد ميرمنه شوه خو دروغ ولې ووايم هيڅ درد زه تر دې حده نه يم زوره ولې او نه يم ژړه ولې....
نن ماښام ما بيا صبا په خوب کې ولېده او نيمه شپه د هغې د نوم په ويلو له خوبه پاسيدم ای کاش د دې څخه مخکې چې له لاسه يې ورکړم صبا .... صبا... مې ويلې وايې چې شايد خداې مې دعا را قبوله کړې وايې او هغه يې ماته راکړې وايې..

يوه ورځ تر مرې پورې په مينه کې ډوب وو کله چې د هغه خمار را ووت نور يې د ځان حوصله لا نه درلود. نور مې د ځان حوصله لا نه درلود څه ورسېرې عشق او عاشقې ته. په دې دوه مياشتو کې مې هيڅ پرمختګ ونکړو البته بايد ووايم پس رفت مې وکړو خپل کارې ساعتونه مې را کم کړل خپل د مقام څخه ښکته راغلم نور علمې سمينارونو او جلسو ته نه ځم ما خپل روح له لاسه ورکړې. د هغه ساعت څخه چې راويښ شوې وم تر هغه دقه چې پلار مې کوټې ته راغلو ما يواځې ليکل او لرې مې ختا کول...

ما فکر کاوه چې په ليکلو سره هغه احساس چې صبا ته لرم کم به شي، خو هيڅ شي مې لاس ته رانغلو يواځې د هغه دومره ورقو د ګوزار کولو څخه مې کوټه خيرنه شوه او بس. د پلار په راتلو مې تازه فکر شو چې کوټه مې سومره نا منظمه او خيرن ده په شرم مې ورڅخه بخښنه وغوښت او لږ مې خپل شاوخوا منظم کړل، او دا چې هر خوا ورقې پاشل شوې وه پلار ته مې د خوش نويسې بهانه وکړل خو پلار مې زما ليکل شوی يو څو ورقې اشعار ووېل او په قوی اند باندې پوه شو چې زما درد څه دې ځکه راڅخه يې زما د زړه خبره پوښتنه وکړل.

مګر زما د زړه خبره د نن وه چې اوس هغه راڅخه پوښتنه کول؟ اوس چې هيڅ زړه ندې پاتې ترڅو کوم هيله او ارمان ولرې. په دی کوټه کې موجود کس نور هيڅ ارمان د صبا څخه وروسته نه درلود هيڅ کرار مې ورته ووېل: نه پوهيږم د څه خبرې د اوريدلو لپاره دلته راغلې ياست. خو که ستاسو ستونزه هم د ميرمن کريمې پشان ويې نو زه تاسو ته حق درکوم او ما پريکړه کړې چې را روانه هفته لدې ځايه لاړشم. نو تشويش مکوی زه چاته کومه ستونزه نه جوړه ومه.
سعيد- کوم ځای ته دتللو اراده دې کړې؟
فرهاد- هغه ځای ته چې وکولاې شم ازاده ساه واخلم او ژوند وکړې شم. هغه ځای چې احساس کړم زما کور دې.

سعيد- فرهاد.... ته غوارې يواځې ژوند وکړې؟ او مورږ يواځې پريږدې؟
فرهاد- زه نغوارم ستاسو مينځ کې بيلتون راوړم تاسو... ورونه مې، خويندې مې، مور مې ټول دلته اوسيږی يوځای يوازی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لدې ځایه ځم. غواړم مستقل او آزاد اوسیږم همدلته ستاسو د کور څنګ کې یو آپارټمان نیسم ډیر لرې نه ځم.

سعید...

نور مې کومه خبره ونکړل ځکه کوم لفظ مې نه درلود ترڅو فرهاد ته یې وکړم یواځې مې ورته وویل: چې د صبا د راوړلو پریکړه مو کړې.
فرهاد- پخیر یې راوړې...
فرهاد د دې لفظ څخه بغیر بل کومه خبره نه درلود..

فرهاد....

جهنمې مینه ورک شوې د هر طوفان څخه سوزه ونکې د هر اور څخه.
غلط خبره به ویې که ووایم ستا څخه وروسته ژوند نشم کولې...
بلکې خبره دا ده چې ستا څخه وروسته ژوند کول نغواړم....
ما د صبا وروسته یواځې ساه اخیستل او دغه ساه اخیستل هم زما لپاره لویه خبره وه. کله ناکله مې افسوس ایستو په دې اکسیجن باندې چې زما پشان یو بدبخت سړی هم ژوند ساتو ما د صبا څخه وروسته د دې ژوند لیاقت نه درلود...

مور مې په وار وار راته ښکلې نجونې مخکې مخکې کول ترڅو زما فکر له صبا څخه واړوی او راته واده وکړې. هغه نجونې مې چې مور راته ښودل ځېنې حتا د صبا حخه لا ښایستې او ښکلې وې. خو ما صبا غوښتل نه د هغې څخه ښکلې نجلۍ... هر ځای ماته صبا ښکاریدل.. خپل په سترګو کې، خپل په روح کې، خپل په زړه کې، په هر هغه لاره او کوڅه باندې چې ما د هغې په فکر قدم وهلې وو، په هر هغه میلمستیا کې چې د ط دلیدو لپاره مې پکې ګډون کړې وو ما صبا په نا ممکن کې لیدل او هې افسوس چې دغه ناممکن لا ماته د صبا په ښکاریدو کې ښه معلومیده...

رښتیا هم ترڅو چې یو شئ له لاسه ورنکړو نو تر هغه وخت د هغه په ارزښت نه پوهیږو..

امهمممم دغه لفظ منم موږ انسان ترڅو چې یوشی له لاسه ورنکړو د هغه په قدر نه پوهیږم مثال همدا زه ترڅو چې ګوشکیانې مې جوړې ویې اخو دیخوا مې ختا کول خو اوس چې خرابې شوې تازه وربسی ارمان کوم په ۶۰۰ افغااااانې مې اخیستې وې 😭😁

#جهنمې مینه.
#ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.
#اته دیشمه برخه.
__________🖤
بِسمِ اَاَاَللّهِ اَاَاَلرحمٰنْ اَاَاَلرحیم

#د تېرې برخې وروستې لفظونه...

رښتیا هم ترڅو چې یو شئ له لاسه ورنکړو نو تر هغه وخت د هغه په ارزښت نه پوهیږو..

#اوس نوې برخه...

صبا....

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د ژوند بدترینه وخت زما د نکاح کولو وروسته پیل شو. تل مې اوریدلې وه چې د نکاح کولو وروسته تقدیر بدل کېږی او ای کاش انسان نیکمرغه شې.. خو افسوس زما کیسې فرق درلود د نکاح وروسته بدبختې زما خوا ته لاره پیدا کړه. زما د واده په ورځ زما انا جان وفات شوه. زه د اوده په جامو کې لدې لځایه چې خپل د خاوند کور ته لاړشم بیرته خپل د پلار کور ته راستنه شوم. په همغه شپه هر کس زما په اړه خبرې کول که هغه خپل وو که بیگانه ټولو په یوه خوله ماته بد قدم او منحوس ویل..

زما مور زما څخه لا ډیر و دی خبرو ته اندیښمنه وه زه یې لځان سره کور ته راوړم د فرشاد خبرو ته چې غوښتل یې ما کور ته لځان سره ویسې هېڅ پاملرنه یې ونکړل. پوهیدم چې مور مې د خلکو د بیځایه خبرو څخه ډاریږی لدې چې زما قدم بد گڼې.. حتا تر هغه شپه چې کاکا او د کاکا ښځه مې د دوه میاشتو وروسته زما پسې راغله ترڅو کورته مې ویسې مور مې په کلک لهجه هغوې ته وویل:

اصیلا- زما لور زما د زړه ټوټه ده.. او زما د کور څراغ دې د هغې شتون زما کور کې رحمت دې که هر څوک فکر کوې زما د لور قدم بد مرغه او منحوس دې نو اوس لا وخت شته همدلته به خبره پاې ته ورسه وو او واده به لمینځه ویسو.
سعید- وریندارې لدې چې اجازه مو درکړل صبا یو څه وخت لپاره د واده وروسته هم خپل کور کې وساتې په دې معنا نده چې تاسو اوس مورږ ته زمورږ ناوې رانکړې.. که په خوښې را نکړې ولا چې په زوره یې درنه ورم. او هو پاتې شوه د خلکو خبرې خلک چې هر څه وایې و دې وایې ماته مهم نده زه خپل صبا لور د خکو په خبرو باندې نه قضاوت کوم...

کریمه په خندا وویل: زه غوارم خپل ناوې ویسم تر څو ژر تر ژره د ملسې صاحبه شم اصیلا جانې او مورږ ملسې مو بوډی کړې...
صمد- وروره زما لور ستا لاسونو کې امانت ده هر کله دې چې زما د امانت ښه ساتنه ونکړل ندې بخښم.
سعید- صبا ما ته امانت نده هغه زما د لور ده او زما د کور ښایسته گل ده..
کریمه- نو بسم الله به کړو او جنۍ به بوځو...

د دهلیز نه یې راته ږغ کړ زه کوټې ته ننوتلم خو چې کاکا مې ولیدلم لاس یې جیب ته کړ او څه پیسې زما تر سر وگرځولې او کریمې خاله ته یې ورکړې تر څو غریبانو ته یې ورکړي زما لاس یې ونیوه مور او پلار سره د خدای پامانۍ وروسته خپل نوي کور ته راغلم، کوم انتظار چې ما خپل د ښه راغلاسته درلود هغسې نه و شاید شرایطو له وجې د هرې عادي ورځې غوندې د کاکا کور ته مې راغلم فرشاد کور کې نه و فکر مې وکړ چې شاید زما دپاره یې سوپرایز تیار کړی خو نه هغه حتی کور کې نه و ټولو یوځای د شپې ډوډۍ وخوړله د کاکا د ښځې نه مې واورېدل چې ویل یې فرهاد اوس مستقله شوی او دا چې جلا کور یې کرایه کړی کوم فساد حتمن لري.
زما په نظر که څه هم کوي ورسره ښه ښکاري مالي استقلال لري ډاکټر دی نو حق لری چې یواځې ژوند وکړي.

د شپې اته نیمې بجې فرشاد کور ته راغی او دا چې زه یې ولیدلم تعجب یې وکړ، د خوشالی حس مې مخ کې ځینی ونه لیده سلام مې ورکړ او مخ ته یې ودرېدم
فرشاد ـ علیکم سلام .. گلابو
خو دا یې اوس هم یاد وه چې ماته گلابو وواییي هغه په دې اونۍ کې حتی زما لیدلو ته هم نه و راغلی دې دپاره حس مې وکړ چې خفه دی ځکه څو واره یې رانه وغوښتل چې کور ته راشم خو ما ونه منل د مور اجازې ته منتظره وم.

محبوبه ترور د فرهاد کور ته تللې وه چې راغله زه یې ولیدلم ډېره خوشاله شوه او هغه ډالۍ چې یې ماته د واده دپاره اخیستې وه راکړه د فرشاد مور هم د فرشاد د راتلو وروسته زمورږ تر سر اوبه اوپیسې وگرځولې. فرح یو ساعت مکمله زمورږ کوټه کې مصروفه ترڅو د فرشاد گډوډې ټوله کړې بلاخره کوټه لږ منظمه شوه. ډار مې په بدن باندې حمله کوله، ددې ډار

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دې کور ته په وار وار راغلې يم او شپې مې سبا کړي خو دا راتګ فرق درلود نن شپه د فرشاد د ميرمنې په حيث راغلې وم او خدای پوهيږي چې څومره مې ستونی ډک و...

کوټې ته راغلم هر څه د پخوا په شان عادی و د خوب تخت او ټوله کوټه چې فرح منظمه کړه نو د واده د ورځې په ياد کې ډوبه شوم چې فرشاد ددې دپاره چې د تخت ګلان يې ولې سپين کړي ولې يې سره کړي نه دي جنګ وکړ حتی قسمت مې ياري ونکړه هغه ګلان د نژدې ووينم غير له عکس نه يې ....

فرشاد مې اهسته اړخ ته کښېناست او وې ويل:

فرشاد ـ څه ته فکر کوې ګلابو مې؟

صبا۔ هيڅ ..

شايد نااميده شوې وم او نه مې غوښتل څوک پوه شي د فرشاد نه مې دا تمه وه چې لږ تر لږه د راتلو په ورځ مې راته ګلان واخلي او ښه راغلاست مې وکړي خو نه که د فرشاد په خوښه دې کار ونکړ حتی تا هم نه ويني.

فرشاد۔ هغه ګلانو ته چې مړاوي شوي فکر کوې؟

صبا۔ نه..

فرشاد ـ نو ما نشوه کولای چې د دوه مياشتو دپاره هغه ګلان تازه وساتم.

ځان سره مې وويل کولاې دې شوه يو ښاخه ګل واخلې او د ميرمنې ښه راغلاست وکړې. خو کرار مې وويل: پوهېږم

فرشاد ـ زړه کې به دې څومره راته غوسه وي چې کور کې نه وه ها رښتيا ووايه؟

صبا۔ نه غوسه نه يم.

ـ قسم وکړه ګلابو مې

بارخوګان مې سره شول غير له قسم خوړلو بله چاره مې ندرلوده؟ که مې قسم کړی وای نو څه؟

فرشاد ـ ګلابو مې!

صبل ـ بلی ...

فرشاد ـ صبر اوس راځم ...

فرشاد خپل موټر ته لاړ او د دوو کځوړو سره راغی.زموږ د واده عکسونه يې راوړي وه، او يوه وړه کېډی ګلان چې زما د خوشاله کولو دپاره بس وه.

فرشاد ـ اوس پوهه شوې چېرته وم؟!

صبا ـ چېرته؟

فرشاد ـ د مازيګر نه چې مې پلار وويل په تا پسې ځو زه ورسره رانغلم ځکه غوښتل مې تر ځو ته راځې زموږ د واده عکسونه هغه چې تا ويلي وه اماده وي.

صبا ـ ښه نو دا عکسونه دې په دې څو ساعتونو کې جوړ کړه؟

فرشاد ـ هو ګلابو مې، غوښتل مې يوه ښه ډالۍ درته تياره کړم، خو پوهېږې چې د دواړو کورنيو وضعيتونه ښه نه دي او د جشن د نيولو او د کوټې په ګلونو پوښل به دواړو کورنيو ته د زغم وړ نه و.خو وعده کوم ګلابو مې د بهترين هوټل کوټه درته ونيسم او د اونۍ په پای که به هوټل ته ځو او يا هم هر ولايت چې ستا خوښېږي هلته به لاړ شو.

صبا ـ نه اړېنه نده مننه

فرشاد ـ رښتيا وايې اړينه نده؟

صبا ـ هو د عکسونو دپاره مننه همدا راته بس دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد ـ ګرانې میرمنې که په یو عکس خوشاله کېږې زه به هره ورځ درته عکسونه چاپوم.
صبا ـ مننه کوم
فرشاد- او هو دومره ډېره مننه مکوه زه د دومره مننو عادت نه لرم لکه که زه سهار د خوبه پورته شم او تا راته د سهار ډوډۍ تیاره کړې وی زه درنه مننه نه کوم، که دې جامې راته تیارې کړي وی بیا هم مننه نه کوم حتی که مې کوټه ګډوډه کړې وي او تا منظمه کړه بیا هم مننه نه کوم.
صبا ـ زه دې مجبوره کوم تر څو زده یې کړې.
فرشاد ـ نه نه یې زده کوم.
صبا ـ بیا نو زه ستا ټول کار په تا کوم.
فرشاد په خندا وویل: پوه شوم اوس هم هغه شیشکه صبا یې بدله شوې نه یې.

صبا ـ هغه صبا یم او اوسم به، د ادب له مخې مې یو څو ورځې ښه رویه وکړه اوس فکر کوې سایه دې راباندې لوېدلې او ښه شوې یم؟
فرشاد ـ نه ولا صبا او ښه والی؟! سل مایله لرې خبره ده.
صبا په خندا وویل: لرې دې وویل ...زررر مایله ...

سبا سهار همدا چې محبوبه د خوبه پورته شوه د فرشاد کوټې ته یې سپیلني یوړه او دود یې کړه.
محبوبه: د شپې ناوخته راغلم لورې بخښه کوه باید ستا په راتلو مې سپیلني دود کړې وای.
صبا د میرمن محبوبې لاس ښکل کړ او مننه یې ترې وکړه، فرح هم د مور د راتلو وروسته دوی کوټې ته راغله او هغه سهارنۍ چې میرمن محبوبې تیاره کړې وه راوړه او پر میز باندې یې کېښودل، فرشاد چې د حمام نه راووت د سهارنۍ نه یې یوه ګوله په خوله کړه او ویې ویل: مننه محبوبم د حلوا خوشبوي تر حمامه راتله او نور یې هم وږی کړم.

محبوبه ـ نوش جان زویه .. که نن کور یې خو ښه ده چې سمن او نور د صبا لیدلو ته راځي.
فرشاد ـ ولا نپوهیږم صبا نن وخت لري که نه ما خو یوه اونۍ رخصتي اخیستې ، د واده وروسته رخصتۍ نه خوند واخلم.
صبا- خاله جانې خدای دې راولي زه کور کې یم هر وخت چې راځي.

کریمه...

د صبا او فرشاد اطاق ته راغلم خو زما نه مخکې محبوبه راغلې وه او سهارنۍ یې ورته راوړې و، ښه ده چې پر ما د ښه میرمنې اوسیدل ژخ وهي.
کریمه ـ د سهار چای دې تیارې کړی کاش یو وار دې زما څخه پوښتنه کړې وای.
محبوبه ـ ته ویده وې نه مې غوښتل مزاحمه شم.
کریمه ـ غوښتل مې صبا خپله سهار ته څه خواړه تیار کړي.
محبوبه- تر اوسه وختې دی یو څو وخته وروسته به یې د لاس پاخه شوي خواړه هم وخورو.
کریمه ـ رښتیا ستا انږور بختوره ده داسې خواښې لري چې کار ته یې نه پرېږدي او میړه یې هم جلا شوی او جلا ژوند لري.

محبوبه- شک نه لرم چې زموږ دواړې انږندې به یو تر بل بختورې وي.
فرشاد- انږور، انږور مه کوئ اوس خو یوه انږور لرئ زما ګرانو مېندو خو د اوسه وایم تاسې اجازه نه لرئ زما د میرمنې سره ډېره مینه وکړئ ...هاهاهاها یو څه بدماشي خواښیانې شئ چې وګورم انږور مو څومره تحمل لري.
محبوبه- کله چې د باغ نه یو ګل شکوې او کور ته یې راوړې نو بیا ددې حق نه لرې چې د پښو لاندې یې کړې اوس صبا هم ستا میرمن ده او حق نه لرې چې خپه یې کړې ځکه تا دا د خپل کور نه جلا کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریمه...

د محبوبې همیشني نصیحتونو خلاصئ نه درلود اخر سعید هغه لاندې راوغوښته او دا چې څه کار یې ورسره درلود پوه نشوم، خو دا چې ووتل دروازه مې بنده کړه او صبا مې د لاس نه ونیوله او خپل ارخ ته مې کښېنول.
کریمه ـ ګوره لورې د نن نه نوره زه ستا د مور په ځای یم هر څه چې زه وایم هغه به کوې او د څه نه دې منعه کوم لرې به اوسې.
صبا ـ په سترګو.
کریمه ـ نه غوارم د هر چا خبرو ته غوږ ونیسې او زما خبرې دې هېرې شي.
دا چې فرشاد هلته و نمې شو ویلای چې د محبوبې خبرو ته غوږ مه نیسه. خو صبا هوښیاره وه موضوع یې درک کړه او پوه شوه.

کریمه ـ نه شي چې یو ورځ زما و د زوی تر منځ څه بد پیښ شي او هغه وخت بیا ته ملامته یې ، او اخر دا چې ستا او د فرشاد نتایج راغلي نن یا صبا ځانونه بیکاره کړی چې ډاکټر ته لاړ شو.
صبا- سمه ده ترورې.
کریمه ـ او هو دا خبره باید همدلته پاتې شي.
صبا ـ سمه ده ترورې.

صبا...

د ترور د ځانځانۍ نه مې بد راغله، میرمن محبوبې په چا څه کړي وه چې دا یې داسې بد وایي که پردۍ وای باور به مې کړی وای خو زه ددوی خپل یم او پوهېږم چې اوبه د کومې خوا خړې دي خو د ادب په خاطر چوپ وم او یوازې مې هو، ورته کول،تر څو ونه وایي چې په دا اوله ورځ ژبه راسره چلوي.

فرهاد...

د صبا د راتلو دوه اونۍ تېرې شوې وې او دا ټول وخت زه کور ته نه وم تللی ځکه ډارېدم مه د صبا سره مخ شم څه به ورته ووایم؟ اصلاً خبرې نه کوم ورسره؟ یا یوازې ورته مبارکي ورکړم، او بل یوازې مور مې وه چې زما لیدو ته تېېدل، هر څه چې مې ورته ویل راشه زما کور ته خو نه یې منل، شاید پلار مې اجازه نه ورکول چې کورنۍ یو بل نه لرې شي، دا اونۍ یې دوه وارې زنګ راته وکړ تر څو کور ته راشم.نن باید خپل د تول ډار سره مخ شوی وای او هغه څه چې مې زړه کې وه باید دفن کړې مې وای، اووه بجې کور ته ورسېدم ، وخت مې ضایع نه کړ د دروازې پر زنګ مې ګوته ټینګه کړه او که مې هغه شیبه زنګ نه وای وهلی پښېمانه شوی به وای.

او ددې ځای نه تللی وای، همیشه غوندې فرح دروازه خلاصه کړه، سلام نه وروسته یې کلک غېږ کې ونیولم او ویې ویل چې څومره راپسې خپه شوې ده، سهراب هم راغی او د پیتزا فرمایش یې راکړ ویې ویل چې پیتزا ته یې زړه تللی. مبایل مې په لاس ورکړ ورته ومې ویل خپله فرمایش ورکړه پیسې زه ورکوم. فرشاد دریم کس و چې د دروازې خوله ته راغی او کلک یې غېږ کې ونیولم شاید ورور پسې خپه شوی وم ډېر وخت و چې نه مې و لیدلی.

فرشاد ـ شکر چې مور خوران دې هم یاد کړو
فرهاد ـ زړه دې خوار نه وي پیسې ډېرې دی..
فرشاد ـ ان شاءالله چې ته هم د زړه د خوارئ ووځې وروره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد شونډو باندې ترخه خندا وه خو څه يې ونه ويل.
فرهاد ـ ښه زه خو ورې يم ډوډۍ تياره نده او يا مو هېڅ ندي پاخه کړي او پيزا ته منتظره واوسو؟
کريمه- پر خوابنې دي ګران يې نن به زما د انړور د لاس خواړه وخورې.

فرهاد بې ځوابه پاتې شو، د صبا د د لاس پاخه شوو خوړو ته منتظره و، لس دقې وروروسته صبا خواړه تيار کړه ټولو ډوډۍ وخوړل او د خوړو تعريف يې وکړ به غېر د فرهاد نه چې دوه ګولې يې وکړې او نور يې خوړو ته لاس ورنه وړ. پيزا چې راورسېدل فرشاد ژر يې د پيزا بسته خلاصه کړه او په خوړولو يې شروع وکړه.
فرح- صبا خواړه تيار کړي او ته پيزا خورې؟
فرشاد ـ ولا د ګلابو نه مې مننه خو د لاس خواړه يې پيزا ته نه رسي.

شايد رښتيا يې ويل صبا ښه پخلی نه شو کولای ټولو غوندې عادي پخلی يې و، خو داغه عادی اوسېدل يې هم فرهاد ته زهر شوه. محبوبې يو بل قاب کې د پيزا يوه ټوټه فرهاد ته مخ ته کړه.
محبوبه ـ واخله زويه لږ له دې نه وخوره.
فرهاد ـ مننه مورې زه موړ شوم.
کريمه- صبا جانې که هره شپه داسې خواړه تيار کړې د کورنۍ د اقتصاد دپاره به ډېر ښه وي البته که فرهاد داسې د ټولو زړه تور کړي.
فرهاد- وبخښئ که مې د چا زړه بد کړی وي

محبوبه- لږ تر لږه نن شپه خو خپل کور کې اوسه.
فرهاد- نن شپه مې نوکری ده بايد کار ته لاړ شم مور جانې.
صبا- ډوډۍ خو مو ونه خوړل حد اقل د پيزا يوه ټوټه درسره واخلی.
فرهاد په ډېري مهربانۍ مننه وکړه او ويې ويل: که وږی شوم د بهر نه به څه واخلم تل پيزا تل خورم هيڅ اشتها مې نه ورته کيږي خو که د هغه پلو نه دې چې پوخ کړی راکړې نه يې ردوم.

صبا...

واده نه وروسته تولې نجونې بدليږي او ماتيږي ځکه هر څومره چې بې عيبه اوسي بيا هم هېڅ يې، که بهترينه هم واوسې بيا به هم مجبوره يې خسرګنۍ دې راضي وساتې او که غواړې احترام ووينې بايد د هغوي په ميل واوسېږې ما خو تول پيژندل ټول زما خپلوان وه غوښتل مې هميشه ما بهترينه وګڼي، او دا کار زما دپاره ډېر سخت و، هره ورځ انستيتوت ته تلم او د تلو نه مخکې او راتلو نه وروسته به مې د ټولو احوال اخيسته، ډوډۍ پخه کړه او تياره يې کېږده خپل او د فرشاد د کار نه به غير د ټول کور کار به مې کاوه، هغو ورځو پسې چې مور مې د خوب ځای ټولوی او ډوډۍ به يې د کوټې دروازې ته راوړه تر څو يو ګوله وخورم او وږې ولاړه نه شم خپه شوې وم.

اوس مجبوره وم دا ټول کارونه د ځان او فرشاد دپاره خپله وکړم او بيا هم فکر کوم څوک رانه راضي نه دی. که څه هم په ما کار نه لري خو د ترور د عکس العمل نه پوهيدم چې رانه خوشاله نده. او په ځانګړې توګه دا درې څلور ورځې چې ماته وايي چې ډاکټر ته درځه تر اوسه مياشت هم نده پوره تېر وار هم چې لاړو دوه ورځې وروسته و چې دې کور ته راغلم دا چې څه تلوار لري درک کولای يې نه شم حتی ډاکټر هم د ترور په کار حيران و، هغه توقع لري چې د واده په دا اوله مياشت کې موږ د ماشوم صاحبان شو.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې لارې شروع هیڅوخت ساده او اسانه نده دې لپاره فرهاد هم وخت ته ضرورت درلود تر څو بیا په پښو ودریږي او د پخوا په ډول شي، هغه عشق چط دین او دنیا یې ځیني له منځه یوړه باید د زړه نه وباسي، هغه حس چې یې صبا ته درلود باید له منځه یوسي، د هغو زړونو یو کیدل چې خیال کې هم ممکن نه و باید هیر کړي ، همدې لپاره

فرهاد د اونیو او میاشتو تنهایي ومنله او د صبا نه لرې شو د کورنۍ نه د پلار، مور، خور، ورونو نه لرې شو ترڅو بېرته خپل عادي حالت ته راشی، الطاف خپل د دوو پاتې سمسټرونو دپاره بیرته خپل شار ته لاړ، میرمن اصیلا او صمد هم پنځه میاشتې د میرمن شیرین د مرگ نه وروسته خپل د وروکي زوی سره هند ته د صمد د تداوي دپاره لاړل ، صبا او ثنا دوه تنا خویندې چې دلته د یوبل په امید پاتې وې. صبا او فرشاد ډیره ښه اړیکه درلوده خو کله کله یې منځ کې غرور لمبې کولې او یو باندې به ډیر غوسه کېدل، ژوند د اول نه ښه یا بد ندی دا زموږ خپل شخصیتونه دی چې زموږ ژوند ته زنگ ورکوي ..

فرشاد د صبا سره مینه کوله خو د بېځایه غرور نه یې هم لاس نه اخیسته او صبا هم بد عادت درلود د یوې ورې خبرې په مقابل کې یې غوسه کوله او خپه کېدل، همیشه د صبا د مور او خور نصیحت و چې صبا سر ورته ښکته کوی او بیا به یې اړیکه بهتره کیدل، ځکه اکثره افغاني میرمنې په دې چې ښځه باید قرباني ورکړي او صبر وکړي تر څو ژوند په خوشالۍ مخ ته لاړ شي، که څه هم میرمن اصیلا لرې وه خو هره ورځ به یې صبا ته نصیحتونه کول چې حتی خپل کاکا او ترور ته لوږ ونه گوري د فرشاد په وړاندې صبر وکړي او د فرهاد او اندرېندو احترام دې وکړي...

فرهاد....

ژوند مې بیځایه لاړو او زړه مې حوصله لرې.
دا د مینې منطق دې چې زما څخه گیله لرې.
ستا بیلتون ماته کومه ستونزه نده.
ځکه سپوږمۍ هم خپل د میاشتې څخه فاصله لرې..

کرار کرار مې د دې بیلتون سره عادت وکړو پنځه میاشتې د صبا له واده تېرې شوی او ما لکه چې د دې درد سره عادت کړې وو! ځکه نور د پخوا پشان زیات نه درد‌ېدلم او زغم و تحمل مې پیدا کړې وو. مور مې هره شپه زنگ وهې او زما څخه غواړې چې بېرته کور ته لاړشم خو هر ځل زه انکار ورته کوم. ما خپل پریکړه نیولې ده دغه یواځېتوب زموږ دواړو لپاره ښه دې. هفته کې دوه شپې کور ته ځم و د کورنۍ سره یوځای ډوډۍ خورم. زړه مې زه او ما مې زړه بوډا کړو. فرشاد خپل د مینې څنگ کې نمیکرغه او زه خپل د مینې له لاسه بدبخت شوم. کله ناکله خپل د مور د زیات تېنگار له سببه همدلته شپه کوم خو زیاتر اوقات بیرته کور ته راځم..

شاید د دې لپاره چې تراوسه د دې خبرې هضم کول راته سخته وي چې صبا د فرشاد میرمن ده او د هغه سره یوځای یوه کوته کې څملي.. خداې په سر شاهد دې چې خپل بیحد کوښښ کوم چې د هغې د مینې څخه لاس واخلم ځکه د هغې خیال اوس راته گناه ښکارې زه خپل تر حده خپل کوښښ کوم چې هغه لیاده وباسم.

ثنا...

د مور او پلار د تلو وروسته صبا مې اغلب اوقات په تصویري زنگونو کې لېدل یا هم کله چې انستیویت کط درس نه درلود نو ورسره بیرون تلم او هلته مې لېده. صبا خپل د واده په دومره وقت کې زما کور ته نه وه راغلې ځکه هغې نه غوښتل زما کور ته خپل د ژوند ستونزې راوړې. فرشاد بیحد د صبا سره مینه لرې او پدې خبره ټول خبر یو خو یوازې د مینه درسره لرم په لفظ باندې ژوند نه تېریږي صبا چې هر ځل زما سره خبرې کول نو د فرشاد بیځایه غرور او بیځایه خبرو یادونه به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول د کاکا د ښځې د بیخایه لاسو وهنې څخه به یې راته شکایت کاوه. د صبا په خبرو به زه بیحد حیرانه کېدم فرشاد ولې اجازه ورکوې چې مور یې صبا وزوره ویې؟

حتا تر دې حد چې هره میاست به یې صبا ورېل ډاکتر ته او رسوا کول به یې، هېڅکله د دوه نفرو ژوند کې مداخله کول ښه کار ندې او هغه هم تازه واده شوې کسانو مینځ کې بیا تر دې حده چې خواښې دې تا ډاکتر ته ویسې او هر ځل ستا حساب ونیسې چې سومره ورځو کې د هغه د زوی سره ته وېده کېږې؟ او ولې ماشوم نه راوړې؟ خو کریمه د کاکا ښځې مې هر کار کې کار درلود یوځل مې فرشاد ته لږ نصیحت په توګه دا خبرې وکړل چې خپل ژوند خپل اداره کړه او اجازه مه ورکوه نور کسان دې ستا ژوند کې لاس وهنه وکړې.

خو زما نصیحتونه چپه کار وکړو او د هغوې جنګونه نور هم زیات شول په یوه میاشت کې زه هغه فرشاد ته چې زما لاس اوپښې شکل کول ترڅو د صبا څخه د هو جواب تر لاسه کړې یو بیګانه کس شوم ورته. له بلخوا څخه صبا راته خبرې وکړل او ویې ویل: چې نور فرشاد ته زموږ د شخصې ژوند به اړه نصیحت مه کوه هغه بد راځې.. کله ناکله د حسیب خبره مې یاد ته راځې چې راته ویل یې: د هغوې ژوند کې کار مه لره او پرېږده خپل په خوښه ژوند وکړې. خو ما نشو لېدلې چې خور مې ورځ تر بلې لمینځه ځې. خپل مور او پلار ته مې هم شئ نشو ویلې ځکه زموږ څخه زیات لرې په یو بیګانه وطن کې د ډاکترۍ لپاره تللې وه او بد خبر زما د پلار صحت ته بیحد تاوان درلود..

هر ځل صبا ته نصیحت کوم چې د صبر څخه دې کار واخلې ځکه هر ژوند په پیل کې لځان سره ستونزې لرې او د وخت په تېریدو سره هغه ستونزې لیمنځه ځې. ما خپل دا ستونزې لیدلې وه او اوس هم کله ناکله هغه ستونزې راته مخ کېږې. خو د دې خبرې هېڅ باور مې نه کیدو چې فرشاد دې دویم واده کړې وې..! هغه هېڅ کله داسې کار نشو کولې خو د صبا خراب حالت دا راته څرګنده کړل چې فرشاد دا کار کړې..

زما خور بغیر له کوم خاص پوشش څخه سهار وخت زما د کور مخکې ظاهر شوه داسې چې جیب کې یوه روپۍ نه وه ترڅو د ټاکسې وان کرایه ورکړې. زما څخه یې غوښتنه وکړه تر څو موتروان ته کرایه ورکړم تر هغه وخت زه خبر نه وم چې څه بلا زما په ماشومې خور راغلې خو دومره پوهېدم چې بیحد درد لرې.. نه پوهېدم چې په دې سهار وختې هغه ولې داسې حال کې زما کور ته راغلې؟ غوښتل مې د پوښتنو باران ورباندې وکړم خو زما مې کنټرول کړو او صبا مې خپل کوټې ته ویوړل ترڅو د هغې دا بد حال څوک ونګورې.

ثنا- ښه یې خور جانې؟
صبا- هو ښه یم کومه خاص خبره نشته.
ثنا- په کور کې مو هم خیرت وو؟
صبا- هو هلته هم خیرت وو تول ښه وه البته باید ووایم بیحدددد ښه وه.
ثنا- ښه د خداې شکر ما فکر وکړو کوم خبره شوې.
صبا- بغیر زما د تباهې څخه نور هېڅ کار ندې شوې او خیرو خیرت وو..
ثنا- څه؟
صبا- ثنا غوارم طلاق واخلم...

ثنا- وای وای چوپه شه که خلک یې واروی څه به ووایې؟
صبا- پرېږده واوری که زما څخه یې واوری ښه به ویې.
ثنا- صبا لیونتوب مه کوه اوس یو وړوکې جنګ د ې د فرشاد سره کړې او داسې غوسه یې، خو هر کله چې هغه بخښنه وغواړې بیرته صلح کوې پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- خو دا ځل خبره د بخښنې څخه وتلې ده.... فرشاد بل واده کړې..
ثنا- څه......؟؟؟؟

هېڅ خبره مې د ویلو لپاره نه درلود ترڅو صبا ته یې وکړم. هېڅ مې د دویم واده د لفظ د اوریدلو توقع نه درلود.. فکر مې کوې بی د تل پشان په کوم خبرې کې به د د دوې جنګ شوط ویط یا به د کاکا ښځې کومه خبره کړې وي او د صبا پر خوا به بده لږیدلې وې. د صبا لاس مې خپل لاسونو کې ونیو او غوښتل مې ورته دلدارې ورکړم خو د هغې لرزان لاسونو زما په لاس کې زما زړه په لرزه راوست. هغه لکه یو بې پناه مرغې پشان لرزیده د هغې ماشوم زړه ددې دومر درد او غم برداشت نه درلود دهغې د لاسونو لرزه د هغې د جسمانې کمزوروتیا څخه نه وه بلکې د هغه درد څخه وه چې په زړه یې درلود، پداسې حال کې چې د زیات کنجکاوی او پوښتنو څخه لیونې کېدلم خو بیا مې هم یوه خبره ونکړل.

لدې چې صبا به د څه حالاتو څخه تېره شوې وی فکر مې لا نشو ورته کولې..څومره ساده یې وویل فرشاد دویم واده کړې..که زه د صبا لځاې وایې حتا فکر ول ورته لا ما مړه کوې.. څنګه صبا دا خبره کامل وویل شوه؟ غیږه کې مې ونیول او د هغې سره مې یوځاې اوښکې تویه ول شروع کړل... دا دومره بدبختې ستا حق نه وو صبا جانې.. زما شایسته خورې... خپل پر ځان مې لعنت ویل لدې چې د دې سبب شوم چې فرشاد او صبا واده وکړې..

نیم ساعت خپل په کوټه کې د صبا سره ناسته وم او ژړل مې، نه هغې خبرې کول او نه هم ما. د حسیب مور میرمن شهلا چې د صبا راتګ یې لېدلې وه زما د کوټې دروازه وټکول او بغیر لدې چې کوټې ته راننوځې ویې ویل: چې سبا نارې تیار دې..
ثنا- صبا جانې همدلته اوسېږه زه درته سبا نارې راوړم خور دې قربان شې درنه..
صبا- زه مړه یم.
ثنا- مهم نده یو دوه ګولې زما په خاطر وخوره.
صبا- که زړه مې غوښت لاندې راځم ځان مه په زحمت کوه نه یې خورم..
ثنا- سمده یوازې که لاندې راتلې یوځه خپل ځان منظمه کړه..
صبا- زما حالت خراب دې؟ زما کالې خراب دې؟

ثنا- نه خورې پخداې غلطه پوه شوې زما مطلب هغه نه وو.
صبا- هغه ښځه چې خاوند یې بل ناوې کور ته راوړې څه ورسره خوند کوې؟  کوم موډ کالې واچوم؟ کوم فیشن وکړم؟ کوم ارایش وواهم؟
ثنا- صبا زما موخه دا نه وه. ته زما خور یې او نغوارم ستا د ژوند موضوع څوک په ریشخند ونیسې..
صبا- حق ورکوم چې ټول دې پر ما باندې ریشخند وواهې.. ترڅو ووایې هغه صبا چې په اسمانونو کې ګرځېده اوس پر ځمکه ولېدلې... حتا باید ووایې تر پښو لاندې شوه... نور زما څخه څه پاتې؟  ... زه د ټولو څخه بدبخترینه یم خورې نګورې؟

صبا په چغو شول او ویې ویل: نور کسان حق لرې چې پر ما وخاندې پر هغه نجلۍ وخاندې چې بدبخته ده. او هغه کسان چې ستا پشان نرم زړه لرې حق ورکوم چې زما پر حال وژاړی خکه د کوم وخت څخه مې چې واده کړې د خیر ورځ مې نده لېدلې... خداې زما انا جانې ته د یل کالو څخه زیات عمر ورکړو خو کوم ورځ چې زه ناوې شوم همغه ورځ یې ساه ورڅخه واخیستل.. چا خپل پر خوښه چا هم د کورنې پر خوښه واده وکړو خو د هیچا غرور زما پشان مات نشو.زما بدبخت ته وګوره چې زما د واده وروسته مور مې لا ددې وطن څخه لاړه..

حتا د پلار کور ته لا خپل غمونه نشم وړلې ځکه په دې نوم ځاې نلرم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا واده وکړو ماشومان لرې تول یې لرې د کاکا لورګانې مې ماما، خاله، عمه، سمن ټولو همدا چې واده یې وکړو د ماشومانو مورګانې شوې خو زه... زه بدبخته لا مې واده کړې نه وو چې راته یې وویل ته مور نشې کېدلې. خدایې مکې زه ټاکلې وم دې غمونو ته؟ لا مې د واده دوه اختر تېر نکړل چې راباندې بنه یې راوسته...

شهلا...

همدا چې صبا مې پر هغه حال ولېده پوه شوم چې ضرور کومه خبره شوې ده، خو خپل ځان ته مې دا اجازه نه ورکول چې د ده خویندو مینځ کې لاس وهنه وکړم. د صبا ژړا مې اوریدل خو بیا هم کوټې ته د تلو زړه مې نه کېده. زړه مې په بیچاره نجلۍ سوځېده نه یې مور وه او نه یې هم پلار یوه خور یې وه چې اوس د هغې څنګ ته راغلې وه. هر ځل چې د هغوې د کوټې خوا ته نږدې کېدلم بیرته شاته راتلم ځکه نه مې غوښتل د دوه خویندو د خبرو مینځ کې ځان واچوم خو کله چې د صبا چیغې مې واریدل طاقت مې خلاص شو او دراوزه مې خلاصه کړه، او کوټې ته ننوتلم صبا مې غېږ کې کلکه ونیول هغه مې خپل د لور بشان راته ښکاره کېدل..

شهلا- خدایې دې هېڅ مور ته خپل د لور غم ښکاره نکړې..

صبا ته مې یواځې ویل چې ژاړه مه، ځکه د صبا د ژړا او سلګیو وروسته بل خبره مې ذهن ته نه راتلل. اوس د صبا سره یوځای ما او ثنا هم ورسره ژړل دا د هغې حق نه وو چې فرشاد دېورباندې بله ښځه وکړې...

حسیب...

ماښام کور ته راغلم کور د نورو ورځو پر خلاف بیحد خاموش وو. نه زما د لور د خندا غږ اوریدل کېده او نه هم زما د مور د مکړه او وکړه غږ! ثنا هم د بت پشان په یوه کونج کې ناسته وه. کرار د هغې خوا ته نږدې شوم او غوښتل مې وه یې ډاره وم خو دهغې د اوښکو ډکې سترګې زما ټول د خوشحالې او شوخې حالت را خراب کړو..
حسیب- ثنا ښه یې؟ څه شوې؟
ثنا- هېڅ.
حسیب- بیا نو ولې ژاړې؟ زړه دې تنګ شوې؟ غواړې کوم ځای لاړشو چکر؟
ثنا- نه.
حسیب- نو څه؟ زه دومره سترې راشم ترڅو کور کې لږ خوشحاله اوسیږم آرام وکړم هغه وخت میرمن مبارکه ژاړې... ثنا خدایې نکرده ماشوم خو دې....
ثنا- نه کوم شې ندې شوېورباندې..

حسیب- نو ولې؟
ثنا- حسیب که دا ځل هم جنۍ راوړم څه کار کوې؟ ایا بله ښځه کوې؟ پر ما بنه راوړې؟
حسیب په خندا وویل: ای زه قربان ستا د نازک زړه څخه شم د لور په راوړلو ژاړې؟( حسیب پداسې حال کې چې د ثنا اوښکې پاکولې وویل: زما لیونې جانې خدایې دې هرڅه راکړې زه ورباندې راضیم یواځې روغ جوړ او صحت مند دې وې بس.
ثنا- په خبرو باندې نکېږی. کله چې څلور پنځه لورګانې راوړل هلته ستا واقعیت راته معلومېږی.
حسیب په شوخې وویل: هغه وخت د نجونو د کرکټ ټیم جوړه وم..
ثنا- ریشخند مه واهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسیب- اوس ولې ژاړې او په ژړا باندې ماشومان غواړې خو سم ووایه چې حلور پنځه ماشومان غواړم دا خو اسانه خبره ده.... غواړې صبا ته زنګ ووهم ورسره خبرط وکړه یوځه حالت دې ښه شي؟

ثنا- صبا دلته ده.

حسیب- د صبا سره دې جنګ کړی؟

ثنا- نه.

حسیب- ښه راپاسېږه چې دواړه یوځای لاړشو د مور څنګ ته اوس خو صبا هم شته دا خوش خبري به یوځای ورکړو.

ثنا- چیغې مه واهه.

حسیب- اوس د صبا څخه خبرې پټوې؟ وشرمېږه.

ثنا- حسیب خواهش کوم...

حسیب- خوښیني جانې .... چیرته یې.... سلام تاته یو نوې خبر لرم... زیرې....

حسیب د دې خبرو پر ویلو د دهلیز خوا ته روان شو او کوټې ته داخل کې دې چې صبا یې د مور په غېږ کې د اوښکو تویه ولو حال کې ولېده..

ثنا له شالخوا د حسیب لاس ونیو او خواهش یې ترې وکړو چې څه ونه وایې..

حسیب- په صبا څه شوې؟

ثنا- نه پوهېږم چې څه خبره ده خو صبا وایې چې فرشاد واده کړې.

حسیب- څ..... څه..؟ دا نو څه ریشخند دې؟

ثنا- سیس مه کوه حسیب چا ته زنګ وهې؟ بخداې صبا خفه کېږی مه کوه.

حسیب- ثنا خاموش اوسېږه دا د پټ کولو موضوع نده چې به کراره حل شي ... باید خبرې وکړو.....( مقابل کس د حسیب موبایل ته جواب ورکړو او ده وویل: الو!

فرشاد- سلام علیکم حسیب جان ښه یې؟

حسیب- شکر ده چېرته یې؟ غوښتل مې خبرې درسره وکړم.

فرشاد- کور کې یم ولې خېرتې خو ده؟

حسیب- خیر او شر به یې تاته معلوم یې صبر درځم.

ثنا- قربان دې شم حسیب جانه داسې کوم کار ونکړې چې خبره طلاق ته ورسېږی.

حسیب- که ضرورت وه خپل په زوره باندې د صبا طلاق ورحخه اخلم... د فرشاد دا کارونه بې جوابه نه پاتې کېږی تراوسه یو کال یې لا د واده ندې شوې څنګه کولې شې بل واده وکړې؟

حسیب صبا خوا ته نږدې شو او ویې ویل: صبا جانې...

صبا چې حسیب ولید خپل ځان یې راسمبال کړو او ویې ویل: سلام...

حسیب- ښه یې خورکی؟

صبا- شکر ښه یم.

حسیب- غواړې صمد کاکا یا الطاف ته زنګ وواهم؟

صبا- د اوس لپاره نه.

حسیب- نو زه غواړم د فرشاد سره خبرې وکړم او د هغه ددې کار تپوس ورڅخه وکړم اجازه شته؟

صبا- هر کار چې کوې ویکړې خو زما لخوا به هغه ته هېڅ نه وایست ځکه ما د بیل کېدو پریکړه کړې ده.

حسیب- زه هر هغه کار کوم چې ته راته ووایې زه ستا پلوې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا...

ژوند نه کنترول کېږي يواځې بايد اوسېږی او ننداره يې وکړې. حتا درد لا نه کنټرول کېږی يواځې بايد برداشت يې کړې. ټول په دی فکر کې وه چې ما خپل د ستونزو څخه وژغوری خو ما د ټولو خلاف غوښتل په هغه ستونزو کې ډوبه شم. د هغه ساعت څخه چې له کوره ووتلم قسم مې واخيست چې نور به هغه کور کې پښه نه ايږدم. خو اوس حسيب ورور غواړې ما د فرشاد سره مخامخ کړې. د هغه سرې س ه چې نور نغواړم حتا په يوه لاره ورسره قدم واخلم وروسته له هغه څپېړی څخه چې زه يې پر مخ ووهلم پوه شوم چې زما ارزښت د هغه وړاندې سومره دې. د هغه لپاره اول او تر ټولو مهم د هغه مور او د هغه د مور غوښتنې دې. که د مور غوښتنې سم وی که خراب خو دې پوره کوې. زما د نه ويلو وروسته حسيب يواځې ځان د فرشاد ملاقات ته روان شو. مخ مې د ميرمن شهلا خوا ته وگرځاوه او ومې ويل:

صبا- کېدې شې يو دوه شپې دلته پاتې شم؟
شهلا- دا نو پوښتنه ده چې ته يې کوې؟ دا ستا خپل کور دې د خور کور د دې. هر څومره چې غواړې پاتې کېدلې شې خو ای کاش يو ځل بيا هم فکر وکړې، نغواړم په بيړه پرېکړه وکړې او وروسته پښيمانه شې..
صبا- زه په بيړه باندې فکر نکوم زه خپل په پريکړې باندې کامل باور او يقين لرم.
شهلا- وس فرشاد يوه غلطې وکړل... ته يې بيا مه کوه خپل ژوند خپل پر لاسونو مه تباه کوه..

ته بيا لږ سرخندنه وکړه فدکارې وکړه د ټول د ژوند پيل يو شانتې نه وې. خپل تقدير ته تسليمه شه. خداې به درته خپل لارط هوارې کړې او مقصد ته به دې ورسه وې. په دې کار کې هم ضرور کوم خير شته چې مور يې نشو لېدلې.. هر کله چې دې غوسه سړه شوه يوځل بيا خپل پرېکړې ته فکر وکړه.
صبا- په سترگو.

د سترگو پر ويلو مې ځان د شهلا ترور د نورو نصيحتونو او خبرو څخه وژغورې، خو لځان سره مې وويل: زه دا خير نغواړم ... زه څنگه د نور کسانو د خوشحاله کولو لپاره ځان برباده کړم؟ ولې بايد هر ځل ښځې تسليم شي ولې بايد هرځل مور فداکارې وکړو؟ که هغه زما سره مينه درلود نو هيڅکله به يې دويم واده دومره ژر نه وايې کړې.. ولې هغه د خداې په ورکړې باندې راضې نشو؟ که هغه مور ته اولاد نه راکو نو دا خو د خداې کار وو ولې هغه د خداې د کار څخه مخ واړوی؟ شايد يواځې د مور د خوښې لپاره يې واده نه وې کړې، که خبره د مور لخوا وايې فرشاد يوځل ضرور ماته ويل چې مور مې په زوره راته غواړې بله ښځه وکړې. او که بيا هم يواځې د مور په خبره يې واده کړې ويې بيا نو بيا نو بيخې خبره خرابه ده..

زه د هغه کس سره وخت نشم تېره ولې چې خپل د مور د لاس نانځکه ده.

"دوې مياشتې مخکې"

فرهاد...

مينه په نورو کې نده بلکې زمور وجود کې ده. مور هغه احساس راوېښه و خو ددې لپاره چې ويښه شي نورو ته اړتيا لري نرې يوازې هغه وخت مور لپاره معنا لري چې وکولی شو يو څوک د خپل ژوند په هيجان کې پيدا کړو. ما دا حس خپل زړه کې د صبا د وجود لپاره حس کړو خو قسمت نشو او بايد ددې مينې لمبې په ايرو بدلې کيدې. او داسې هم کيدای شوی ما مې خپل زړه زخمي کړ او دا بيچاره د همدې زخمونو سره زما د ژوندي پاتې کيدو لپاره درزيدا. زه په ظاهر کې هماغه فرهاد يم چې وم. څه فرق کوي چې زړه مات او ژوند مې بې معنې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د مور لپاره مې ژوند کوم. تنها امید یې په هر وخت کې زه وم او یم او ددې لپاره د حده زیات کار کوم او کوشش کوم چې لدې څخه بهتره او ښه په ښښو شم. د څو میاشتو کې د ژوند رنګ او مخ بدل شو. د خیالونو له کهکشان څخه پر ځمکه په سر ولیدم. د سر له لوړو د فلک د سمندر په تورو ژورو کې غرق شوم. د ناميدۍ په ژورو کې وښوېدم او هملته مې ځان ورک کا. په نوي شخصیت چې ډیر پخواني حالت ته ورته دی وزیږیدم فقط د بې شمېره خاموشیو په ډیریدو، پایداره دردونه، د لویو ماتو، او ناسوره زخمونه. درې هفتې کیدې چې له مور مې اوریدل چې میرمن کریمه د زړه له درده شکایت کوي. او له درده یې په چیغو شوې. سره لدې چې نه مې غوښتل د بحث ارخ زه وم څو وارې مې پلار ته وړاندیز وکړ که وغواړې ښو ډاکټرانو ته یې معرفي کړم خو شاید هغې د خپل درد دوا بل ځای لټوله او ویې ویل زما درد د ډاکټرانو په ډاکټرۍ ندی. څکه ددې په وینا دریو ډاکټرانو ځواب ورکړی.

فرهاد کور ته راغی او خبره پدې شوه چې ټول یوځای بیرون ډوډۍ خوړلو ته ولاړ شي. څکه هغه فرح سره وعده کړې وه چې بل وار به یې بیرون بیایي. سهراب او فرح دواړه د محبوبې سره د فرهاد په موټر کې ولاړل او پاتې نور د فرشاد په موټر کې ولاړل. هوټل ته د رسېدو سره سم فرهاد لاس په کار شو او لوی میز یې ونیو ترڅو ټول په ارامۍ سره د یو د بل تر څنګ ډوډۍ وخوري.

سعید- ښا نو د نن ورځې میلمه پالونکی فرهاد دی نو تصمیم ونیسئ چې موږ د کومو خوړو میلمانه کوي.
فرح- د خوړو انتخاب له ماسره، څکه ما فرهاد لالا ته ویلي چې بیرون ته مې بوزي.
سهراب- زه خو پیزا غواړم...
کریمه- د پیزا په خوړلو خوړلو پیزا جوړ شوې.
فرهاد څوکۍ شاته کش کړه او کیناست: ښا چې اوس د هر چا هر څه خوښ وي راوغواړي.
سعید- نه نو موږ ډیر مصرف نکړو درباندې...
فرهاد- مصرف یې په شیریني کې حساب کوم.
محبوبه- بریالی اوسې زویه...

فرح- داسې خو نده چې زموږ خوله خوږوې کومه خبره ده؟
فرشاد- ویلي مې وي چې تنها په یوه مهماني نه کیږي چې واده دی وکړی.
صبا- مبارک د وي فرهاد جان...
فرشاد- د څه مبارکي حتمن نجلۍ یې ورته کتلې...
صبا- نه، محبوبه خاله مې ماښام له فرهاد سره خبرې کولې چې وامې وریدل.
فرشاد سترګک ووهو او وې پوښتل: څه دې واوریدل؟
صبا- فرهاد د طبیبانو سرپرست او مشر شوی.
فرهاد صبا ته وکتل او ویې ویل: مننه کوم. او هو فرشاد جانه که زما د واده شیریني خوړلو ته په تمه یې هیڅ مه په تمه کیږه څکه زه فعلا تصمیم نلرم.

فرشاد- مبارک د وي ورور مې له واده کولو څخه ښه خبر دی.
کریمه- فرهاد او واده دوه خطونه شوي چې هیڅ نه غواړي یو بل ته ورسیږي. خو اه عمر یې له دېرشو هم اوښتی به وي. واده وکړه فرهاد چې د ژوند موفقیتونه د ووینو.
سعید- موفقیت تنها په واده کولو ندی. او دا چې نن مهماني د رتبې اخیستلو لپاره ده له خدایه ج غواړم چې همیشه همداسې په سر خوش او په زړه خوشال د ولري.
فرهاد- مننه پلار جانه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

میز له رنګارنګ خوړو ډکه وه خو ټول په خبرو او خندا بوخت ول. ټول یو بل سره په خبرو او خندلو لګیا و. هر چا یوه خبره کوله او د زړه په ښادۍ ټولو خندل. دا کورنۍ نن شپه له خوشبخت ترینو کورنیو څخه وه. او یو دبل څنګ کې بیحد خوشحاله وه. که هر څو مې غوښتل ددې کیسې پای همدلته وای. مګر تقدیر همدا دی، بدبختي دقیقا چې ته خوشال یې د دروازې خولې ته رسیږي.

کریمه- کاش دا خوشالي دوه چنده شوې وای. حداقل د لمسي ښه خبر مو اوریدلی. بیا که مړه شوې هم وای کومه خبره نه وه.

د صبا په شونډو خندا لږ شوه او فرشاد هم صبا ته په کتو سره خپله خندا لږ کړه. ولې باید همیشه یو کس وي چې تازه ښه شوی زخم دې په وینو کړي؟

فرشاد- تر اوسه وخت دی ان شاء الله راتلونکی کال پخیر....

کریمه- زه چې ګورم په قبر به مې واښه شنه شي خو د لمسی څیښتنه به نشم.

د صبا تورې سترګې له اوښکو ډکې شوې. تر اخیر حده کوشش وکړ چې اوښکې یې څوک ونه ویني خو د معشوقې اوښکې د عاشق له سترګو پټې نه پاتې کیږي. فرهاد د سترګو لاندې صبا ته وکتل وروسته له څو میاشتو یې وکولی شو صبا ته وګوري. د صبا له سترګو چې اوښکې توې شوې. د فرهاد زړه یې په نښه کا.

فرهاد یو دم وویل: لمسی لپاره باید بوډۍ شې میرمن کریمې، او د بوډا کیدو لپاره دې تراوسه وخت دی.

شاید خپله هم ددې خبرو په دلیل نه پوهیدا مګر فقط د صبا د نه ژړلو لپاره یې وویل.

سعید هم وخندل او ویې ویل: ریښتیا دی وویل زویه ښځې چې څو د لمسیانو څیښتنې نشې ځانونه په زړو کې نه حسابوي.

فرهاد د مور په ټینګار سره نن شپه د خپل پلار په کور کې سبا کړه. خو د هغې ورځ یاد یې چې د صبا لپاره پدې کوټه کې اوښکې توې کړې وې نشو کولی هیر کړی او بل خصوص د شپې په سر کې چې د صبا نمجنې سترګې د هغه زړه په نښه کړی وا.

سهار ټول د ډوډۍ په میز کیناستل او په خاموشۍ یې د سهار چای وڅکا میرمن کریمې سعید ته وویل: چې هیر نکړې سبا د فرشاد سره یوځای مزار ته ځې. او یو دوې هفتې هلته پاتې کیږي او خوښیږي یې چې مزار کې زیارت ته ولاړه شي.

سعید سر وخوځوو. او نورو څه ونه ویل او دا منل شوې وه چې دا فرهاد متوجې شو چې ځینې پریکړې اوس له ده پرته نیول کیږي. او شاید ورو ورو ټول د هغه په نشتون پدې کور کې عادت کړی.

فرشاد- خیرت دی پلار جانه؟

سعید- هو مور دې کوم ښه ډاکټر هلته پیدا کړی هغه ته ورځي.

فرهاد په زړه کې خندل ځکه حس یې کاوه چې د کریمې ددې کار دلیل بل څه وي. ځکه ټول د تداوۍ لپاره د ولایاتونو څخه کابل ته راتلل اوس څنګه د کابل څخه ولایت ته د تداوي لپاره ولاړ شي.

فرشاد...

نن مور ته وویل او د مزار په طرف مو حرکت وکا. زړه مې غوښتو صبا هم ځان سره بوزم خو نه پوهیږم ولې مې مور ونه غوښتل چې هغه ځان سره بوزو. فقط یې وویل: صبا د په کور کې پاتې شي بهتره ده. ځکه مور چې ډاکټر ته ولاړ شو هغه به په کرایي اتاقونو کې تنا پاتې شي.لا د کابل له دروازې نه وو وتلي چې صبا پسې مې زړه تنګ شو مسج مې ورته وکا او خبر مې ې واخیست. دا چې د آنتن مشکلات و. مسج پس تلا او ځواب یې پس رتلا په ټوله لار کې یوازې شل مسجونه مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړل. هوټلونو کې هغه هوټل ته ولاړو چې روضې شریفې ته نیږدې وا. امپوراتوري باران. ښه ډیزاین یې درلود او راحت اتاقونه.

مور د خوړو له سفارش وروسته خپل اتاق ته ولاړه او ما صبا سره اړیکه ونیوله.
په غږ پسې مې زړه تنګ شوی و. یوار بلې وویل چې زما د ټولې لارې ستړیا ختمه کړه.

صبا- بلي
فرشاد- بلي ګلابي مې... ښه یې خوړې؟
صبا- ښه یم ته څنګه؟
فرشاد- غږ پسې د خفه شوی وم اوس ښه شوم
صبا- قدرشناسه اوس زما په قدر پوی شوې..؟
فرشاد- زه قدر شناس یم.
صبا- که وای زه به دې له ځان سره بوولې وم.
فرشاد- آه ګلابو مې مې زړه مې نه غوښتلا چې ستړې شې.... دلته اته ساعته لار وه..
صبا- که زه وای هیڅ نه پوهیدې پرې

فرشاد- په زخم مې نوره مالګه مه وهه صبا... سر له اوسه د ساعتونو په شمار یم... چې کله به کابل درته درځم.
صبا په خندا وویل: مګر ما د ازادۍ حکم اخیستی
فرشاد- زما نشتون درته ازادي ده؟
صبا په شیطنت وویل: همداسې یې وبوله.
فرشاد- ښه ده ښه ده.... زم ډیر خوشال یم....
صبا- زه هم ډیرره خوشاله.
فرشاد- ښا نو سمه ده خوند ترې واخله....
صبا- خوند اخلم... اوس هم قطع کړه غوارم ویده شم ستړی یم....
فرشاد- ویده شه، ویده شه زه هم ځم د شپې لپاره ډوډۍ پخوم.

صبا- پام د وي چې زما د بیلتون له غمه لاسونه د ونه وهې...
فرشاد په خندا وویل: شاید له ډیرې خوښۍ...
موبایل مې قطعه کا خو زړه مې غوښتل د صبا غږ مې په غوږو کې لالایي وای. خو که ډیر مې ورته ویلي وی چې خفه یم درپسې، شاید زړه یې موږ لپاره تنګ شوی وی. او که صبا وژاړي د اوښکو زور یې نلرم. ښه، اوس ویده شه، موږ سبا د ډاکټر نوبت لرو.. نیم ساعت نه ومه ویده شوی چې دروازه ټک ټک شوه او زموږ ډوډۍ تیاره شوې وه. مور مې له ماسره زما په اتاق کې کیناسته او دواړه ډوډۍ نوشجان کړه.

فرشاد- کاش صبا هم وای حتمن د مزار قابلي یې خوښیدل.
کریمه- خیر دی زویه بل وار صبا راوله زه به مې لمسی وساتم.
فرشاد- راځه خدای مهربانه دی د لمسي خیښتنه به هم شې مورې...
کریمه- کیږم پخیر چې باید هم شم. زه په تمه کیدی نشم اوس مې چې د زړه درد ډیر شوی شاید کال پوره نکړم.
فرشاد- مورې خیر وغواړه داسې مه وایه... او بیا خو ان شاء الله کال ته به د لمسي خیښتنه شې.
کریمه- زویه عمر بیرته نه راګرځي زما هستي او نیستي ته یې که ته هم زما په خیر له اولاد څخه محروم پاتې شې دا چې ومرم بهتره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- مورې داسې مه وايه خداى دې سل کاله عمر درکړي او ان شاء الله چې د سلو کالو هره شپه په خوښۍ تيره کړې.
کريمه- آه زويه... ته څه پوهيږې چې زما درد څه دی. د صبا په ځای زه ژاړم. نه ګورې هغه نجلۍ د راتلونکي په فکر هيڅ نده. د هغې لپاره خو هيڅ فرق نه کوي. چې د اولاد څيښتنه شي يا نه. تنها بلده ده چې ژبه وکړی او ووايي چې زموږ په کار کې کار مه لری.
فرشاد- مورې هغه حق نلري ستا په وړاندې ژبه وکړي. حتمن متوجه شوې نده. او بيا ولې ونه غواړي چې د اولاد څيښتنه شي. چې قسمت وي اولاد هم کيږي پخير....
کريمه- آه زما ساده زويه....

کريمه...

زما ساده زوی په ټولو باندې خپل ګومان کوي او فکر کوي چې ټول د هغه په څير ساده او پاده دي. همدومره درک نلري چې صمد د دوهم ځل لپاره موږ بدبخت کړو. اول خو ددې لامل شو چې سعيد دوهم واده وکړي. او دوهم دا چې خپله ناقصه لور يې زما په زوی تيره کړه. خو زه نه تسليميږم زما يوازينی زوی نه بايد چې زما په څير بدبختي ووينې. زه به هغه ته بهترينې نجونۍ قطار کړم. حق لري چې په ځوانۍ کې د اولاد څيښتن شي نه دا چې زما په څير کوم هغه سن کې چې بايد لمسيان ولري اولادار شي. فرشاد ته مې څو ځلې وويل چې لمسی غواړم خو د صبا مينې هغه په مکمل ډول ړوند کړې وا او ددې سترګو د خلاصولو لپاره ډير وخت ته ضرورت وا.

د همدې لپاره مې ډاکټر بهانه کړ او د فرشاد لپاره مزار ته د نجلۍ کتلو لپاره راغلم هغه ځای چې خور مې آدرس راکړی، نن د لومړي ځل لپاره کلينيک ته ډاکټر ته ورځم په همدې بهانه نجلۍ ګورم او راځم که زما د خوښې وږ وه فرشاد ته هم خبر ورکوم.

فرشاد...

سهار وختي مې مور د ډاکټر وخت درلود مور مې ډاکټر ته بوتله يو ساعت د کلينيک په دروازه کې په تمه پاتې شوم او بلاخره مور مې بيرون شوه. څومره مې چې خاله لدې ډاکټر نه صفتونه کړي و ما اټکل کړی وا چې بيروبار به ډير وي. خو برعکس لکه چې آدرس مې غلط کړی وا.
فرشاد- مورې ډاکټر څه وويل؟
کريمه- هيڅ زويه، د ډاکټر آدرس بدل شوی بل ډاکټر يې په ځای راغلی بايد يو څو ورځې په تمه شو ترڅو نوی آدرس يې پيدا کړو.
فرشاد- زه د کلينيک له فرصتي نه پوی شوم چې چندان د صفت وړ ندی.

کريمه- نه نه زويه هغه بل ډاکټر دی چې خاله دې آدرس راکړی صبر به وکړو په يو دوه درې ورځو کې به يې نوی آدرس راشي.
فرساد- ښا سمه ده مورې خپله پوهيږې.

صبا راته زنګ کړی و، خو د مور سره مې چې د شپې کوم بحث د صبا په اړه درلود نه مې غوښتل مخکې يې د صبا سره وغږيږم. شايد هغه له خوبه پاڅيدلې وي او زما غږ پسې خفه شوې وي.
کريمه- زنګ دی درته زويه
فرساد- هو مورجانې هوټل ورسيږو بيا زنګ ورته وهم..
کريمه- څوک دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرساد- يو ملګرى مې دى.

کريمه- کوم ملګرى؟

فرشاد- هلکان دي نو مورې فکر نکړم له نوم يې وپيژنې..

کريمه- ښا ښا خير فکر دې موټر ته ونيسه، ما فکر وکړ چې هغه بې کاره ښځه د ده. وګوره دوه ورځې وشوې چې له کور څخه لرې يو خو د يو زنګ وهلو زحمت نه وباسي.او فقط پدې دليل چې ورته ومو ويل ډاکټر ته ولاړه شه ځان يې خفه نيولى.

فرشاد- مورې هيله کوم صبا دومره هم بده نده چې ته وايې.

کريمه- نه يوازې ستا مور بده ده خداى دې همدا ما واخلي چې بې غمه شئ. زه مې د يو زوى لپاره د زړه وينې خورم خو تاته وګوره چې د هغې ښځې لپاره دې چې يو کال يې د راتلو ندى شوى خپله څو ويشت کلنه مور دې هيره کړې..

فرشاد- مورې ما څه کړي؟ ولې داسې وايې د صبا بيچاره ګناه څه ده؟

کريمه- آه چې تنها هغه بيچاره ده بل څوک نه . همدا بيچاره ما او تا بيچاره کوي ولې صبا کوشش نه کوى چې يو ماشوم راوړي؟

فرشاد- مورې هيله کوم.....

کريمه- غواړې مور دې د لمسيانو له ليدو پرته مړه شي ها؟ نو خوشاله اوسه دا ارمان د پوره کيږي شايد لدې درد سره نور مې په مرګ کې هم څه پاتې نه وي.

فرشاد- مورې له څه وخته چې راغلي يو همدا يوه خبره کوې... يو څو شپې مو ارامه مې پريده....

فرشاد- زه ارامي اخلم؟؟؟ د خداى به اميد او زوى ويلو مې راغلم ګورم اوس مې زوى هم ځواب کوي.....

فرشاد- مورې ستا دې په خداى قسم وي بس کړه هيله کوم....

فرشاد لاحول ويل او روان وو او هغه د خپل ځان لپاره افسوس کاوه. د فرشاد طوفان زما له فکر څخه ډير لوى شوى دى. هغه د ناروغې مور او ساده زړه لرونکې ميرمن منځ کې مجبور په انتخاب دى. ميرمن کريمه چې( قران دى ووهى) چې خپل  د زوى په ضعف پوهيده ځان يې په ناروغي وهلى و.او اوس د همدې لپاره د نجلۍ ليدو ته هلته راغلې وه. نن يې يوه نجلۍ په همدې آدرس کې وليده. د زړه خوښه يې نه وه. او د همدې لپاره يې خور ته زنګ وکا او ترې وغوښتل چې بله نجلۍ ورته وښايي. (د نګور په ارمان مړه شې ته کريمه.. ههههه دا ښيرا زما ژباړونکې ليکلى زه يې هم نه اصلاح کوم خکه واقعا شه خبره يې کړې.)

فرهاد...

له نن څخه چې فرشاد ولاړ مجبور وم ډير د پلار په کور کې واوسم ځکه شايد کوم ضرورتونه ولري چې سهراب يې ونشي کولى هغه پوره کړي. زما واړه خور او ورور زما په شتون هلته ډير خوشاله و او د مور په خبره ناز وړونکى يې راغلى.. کله به مې کور ته خواړه راوړل او کله به مې هم ټول د خوړو لپاره بيرون بوتلل. صبا هم د څو ورځو لپاره د خور کور ته يې ولاړه. مور مې خوشاله وه او پلار مې هم. شايد کومه خوشالي يې چې د خپلې کورنۍ لپاره غوښته په همدې ورځو کې يې نصيب شوې.. او له کينو لرې له غصې او خفګان لرې... زړه مې په سمن او اولادو پسې يې ډير تنګ شوى و. زنګ مې ورته وکا له خور مې وغوښتل چې زموږ کور ته راشي. د ماشومانو شور او شوق يې ماته بل روح رابښلو.

د شپې اوه بجې وې چې صبا ماته زنګ وکړ او وې غوښتل چې ورپسې ورشم. عجيبه وه د پردو په شان مې ورسره سړه رويه وکړه.

فرهاد- بلي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- سلام ښه یې فرهاد..
فرهاد- مننه..... کورنۍ د ښه ده.
صبا- شکر که زحمت نه کیدا راغلی به وې از به د کور ته بولې وم. نن شپه حسیب لالا پس راځي غوارم کورته راشم.
فرهاد- سمه ده درځم.
صبا- خو که زحمت کیږي زه سبا په خپله درځم کور ته.
فرهاد- نه هیڅ زحمت ندی

اړیکه مې پرې کړه او مور ته مې وویل: بیرون ته ځم.
محبوبه- چیرته ته ځې زویه....؟ اوس د خور راځې.
فرهاد- صبا یې له کور څخه راولم.
محبوبه- زویه پریږده چې په خپله راشي هسې نه ووایي خاوند مې نشته دوی مې بندي کوي.
فرهاد- نه مورجانې خپله یې زنګ وکا چې ورپسې ورشم
محبوبه- سمه ده زویه.... زر راشئ. درې شپې کیږي چې د خور کره یې وه ضرور زړه یې تنګ شوې..

فرهاد- حتمن مورجانې..... که څه دې پکار وي چې درته رایوړم....
محبوبه- نه زویه ډوډۍ مې تیاره کړې څه به مې پکار وي
فرهاد- قربان دې له لاسونو مورجانې....

د موټر کیلۍ مې د میز له سره واخیسته او سهراب ته مې وویل راځه چې ولاړ شو خو هغه په خپل ګیم مصروف وا نه یې غوښتل ولاړ شي. فرح هم خپلې ډرامې کتلې. نې غوښتل چې لاړه شي.خپله ځم. او زر راځم. نیم ساعت وروسته د ثنا دوی کور ته ورسېدم او صبا ته مې زنګ وکا که تیاره وي ښکته راشي ځکه رسیدلی یم. صبا وویل: درځم که غوارم یو ځل پورته ورشم.
فرهاد- نه همدلته سهي دی.
صبا-ښه سمه ده اوس درځم.

دوې دقې تیرې شوې چې صبا او ثنا دروازه خلاصه کړه. د پوښتنې لپاره د موټر څخه کوز شوم او د ثنا سره مې سترې مشي وکړل او د هغې او کورنۍ د حال پوښتنه مې ترې وکړه صبا چې ولاړه وه سلام مې ورته وکړ او ترې ومې غوښتل چې موټر ته لاړه شي
ثنا- زموږ له کوره پرهیز یې جنابه؟ چې د دروازې تر شا راځې او نور مخکې نه راځې.
فرهاد-خدای دې نکا .... صرف ویل مې مزاحم نشم.. او ان شاء الله یوه شپه چې حسیب جان په کور وا درځم.
ثنا- حتما حتما هر کله د چې غوښتل راشه..

د ثنا لور چې نوې په قدم اخیستلو راغلې وه ځان یې تر دروازې راورساوه او په خوږه ژبه یې سلام وکړ چې د فرهاد زړه یې خپل کا. فرهاد په ګونډو شو او له غمبورو یې د ځان خواته کش کړه. په ناز یې د نجلۍ په ویښتانو لاس تیر کړ او غیږ یې وینوله
فرهاد- جان کاکا ښه یې؟
ماشوم- بلې..
فرهاد- اووو قربان دې له بلې ویلو.
فرهاد له خپل جیب څخه پیسې چې شاید زر افغانۍ وې وایستلې او ثنا ته یې ورکړې او ویې ویل: دا د کاکا د خوږې لپاره چاکلیټ واخله.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثنا- د دې حاجت نشته فرهاد..
فرهاد- وخت نشته. ګني ما پخپله بووله او ورته اخیستو مې...
ثنا- ښه چې بل وار راغلې بویزه....
فرهاد- بل وار یې حتمن بیایم... خو دا یې د اوس لپاره وي.

نه پوهېږم ولې خو د ماشومانو مخکې عجیبه کمزوري پیدا کوم او ډېره مینه لرم چې د نړۍ ټول ماشومان په خندا ووینم شاید د خپل ماشومتوب د دورې تقاص او بد ورځې مې غوښتل د دوې په خوشالۍ کې پوره کړم.
صبا- وبخښئ چې تاسو مې سرګردان کړئ.
فرهاد- سرګرداني نلري... ښه شوه چې راغلم زما حال هم لږ تغیر وکا مننه...

په ټوله لاره کې مو نور یوه خبره لا ونکړه او یوازې د یو نیژدې دوکان تر څنګ کوز شوم او د خوریانو لپاره مې ځینې خوراکي او د څکلو شیان واخیستل. او د صبا لپاره مې هم صرف ککو او چپس واخیستل
صبا- دا ټول دې د چا لپاره راوړي؟
فرهاد - د سمن ماشومانو لپاره...
صبا- سمن خور راغلې؟
فرهاد- شاید تراوسه رسیدلې وي.
صبا- صحیح دی.
فرهاد- د کځورې په اخر کې ککو او چپس دي که وغواړې کولی شې واخلې او وخورې...

صبا- نه مننه د ماشومانو لپاره یې پرېږده...
فرهاد- هغوی چپس او چاکلیټ نشي خوړلی. هغه د تا لپاره دي.
صبا- مننه فرهاد جان.
صبا زر چپس واخیستل او خلاص یې کړل یو دوه یې ترې وخوړل او ماته یې ونیول ویې ویل: واخله...
فرهاد- نې خورم...
صبا- خوندور دي
فرهاد- پوهېږم..
صبا- نو واخله کنه... زه یې درکړم؟
فرهاد- نه نه مننه ...

صبا- ښا زړه دې مخصد بیا ونه وایې چې ګوشنګي د وکره.
فرهاد- نه نه وایم..
صبا- د فرح لپاره د څه واخیستل؟
فرهاد- نه؟
صبا- نو چاکلیټ به فرح او سهراب ته پریږدم دوی هم واړه دي خوشاله کیږي.
فرهاد- د هغوی لپاره بیا نور اخلم.
صبا- نه نه همدا ډېر دي مننه..

صبا...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چپس له خوړلو وروسته مې ستونی وچ شو د فرهاد نه مې اوبه وغوښتې هغه بیچاره د دوهم ځل لپاره موټر ودرولا او د اوبو اخیستلو لپاره ولاړ پس له لسو دقیقو کور ته ورسیدو چې څو دقیقې د سمن د راتلو سره فرق کاوه.. فرهاد د سمن ماشومان په غیږ کې ونیول او دواړو ته یې ناز ورکا. ما کځورہ د ماشومانو خواته ونیوله او ورته ومې ویل: فرهاد ماما مو درته راوړي.... د شپې ټول د فرهاد شاهد وو چې د سمن اولادونه یې څومره نازول. هغه د ماشومانو سره عجیبه علاقه درلوده او حتی زما د خورځې سره هم مهربانه وا. له زړه مې د خدای نه وغوښتل چې فرهاد ته د خیر ښځه او ماشومان ورکړي.

له بلې خوا مې پرون شپه د فرشاد سره جنگ کړی وا د خدای نه مې ځان ته هم خیر وغوښت.نه پوهېږم څه شوي فرشاد مکمل تغیر کړی په اولو ورځو کې زما د غږ د اوریدو په تمه وا او ماسره یې په ورځ کې څو ځلې اړیکه نیوله خو اوس حتی زما زنگونه په ځنډ سره ځوابوي.

فرهاد...

دوستاش دارم آن هم از حد گذشته...
و میدانم که در خیاالت زندگی میکنم

دیگرو بین من و تو غبار است و ابر
رعد است و برق آب است و آتش.

و چون من در اسارت تو يي كه، اسي
میدانم که رسیدن به چشمانات خیالی بیش نیست

و این را میدانم که رسیدن به تو
مرگ یست تدریجي ..ولی دل شاد میکند مرا که خود را

برای تو بمیرم ای لیلي بي همتا
من راضي ي حالم خودم هستم و
اگر اختیارم دهند عشقات را دوباره تکرار خواهم کرد...

نن شپه مې بیا د خپل دوزخ لیدلي زړه لپاره ولیکل، صبا مې په زړه کې ژور زخم جوړ کړی هر څومره چې کوشش کړم نشم کولی چې زړه ترې راټول کړم.
زه له زرګونو هڅو یو ځل بیا د زړه په طوفان کې مې غرق شوم. هغه ځای چې هره شېبه یې صبا ته غږ کو.

فرشاد...

سختې ورځې مې درلودې له یوې خوا مې مور او له بلې خوا صبا... مور مې د دریم ځل لپاره ډاکټر ته بوتله. دا ځل برعکس د نورو وختونه رانه یې وغوښتل چې ورسره د ډاکتر تر کوټې لاړشم ما هم لاس نیولي ډاکټر ته ولاړو. هلته په نوبت کې وو ډیره مجهزه شفاخانه نه ښکاریده. خو څو ښځې یو د بل سره ناستې وې ددې لپاره چې څو یې نوبت رسي سترې نشي کیسې یې کولې. د دوی منځ کې یوه ښځه چې د مور تر څنګ مې ناسته وه مور سره مې ډیر صمیمانه سلام و علیک وکړ. او مور مې هم زه ورته معرفي کړم. هغې ښځې ډیر زر زویه زویه راته غږ کاوه. او سم د لاسه مې مور راته وویل: چې زویه یو گیلاس اوبه راته راوړې ترې شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- هو راوړم يې

مور مې هغې ښځې ته په شاره: تاسو کوم څه غواړئ چې درته راوړې؟

ښځه: نه مننه...

دوه بوتله اوبه مې راوړې او د مور لاس کې مې کېښودل او مور مې راته وويل: که دلته سترې کيږې ورشه موټر کې کېنه اوس خو تنها نه يم دا ښځه راسره شته. که ضرورت شو بيا زنګ درته کړم.

فرشاد- نه سترې نه يم.

کريمه- نه زويه ولاړ شه سترې کيږې...

د مور په رويه مې پوه شوم هغه زه په زور لدې ځايه بيرون کړم او زه هم ناچاره په موټر کې کيناستم او ځان مې په موبايل باندې مصروف کا. د صبا زنګ ته مې فکر شو چې يو ساعت مخکې يې زنګ کړی و او زه پدې دليل چې مور مې حساسيت ښايي موبايل مې بې غږه کوم او صبا لدې خبرې ډيره خفه کيږي. او هر ځل شکايت کوي چې زه بې پروا شوی يم. خو نشم کولی ورته ووايم چې د مور په خاطر مې درسره خبرې وکړم. او نه هم له صبا غوښتلی شم چې مور سره مې خبرې وکړي ځکه هر ځل چې صبا غوښتي مور مې په وړاندې يو کار کړی او د صبا د خفګان لامل شوې ده.

او مور مې ورځې د درملنې په بهانه تيرولې کله به يې نسخه غلطه وه او کله به يې هم دوا نه وه اماده. مه وايه چې ټول مې د مور کارونه ول. او زه په هغه ورځ پوی شوم چې د رنګين په نامه يوې نجلۍ يې راته معرفي کړه. مور ته مې حيران پاتې شوم د شيطان عقل ته هم نه رسيدا چې مور مې داسې نقشه په سر کې يستلې ده. هغې زه له کابل نه تر دې ځايه راوستلم چې دا عملونه وکا. يوه مياشت کيده چې زه مې د خپل کور او ژوند نه لرې وم.ددې لپاره چې مور مې ښه شي. مسافرت مې تير کاوه. خو مور د ښه کيدو پر ځای زما د دوهم واده په فکر کې وه. حتی تر دې حده چې نجلۍ يې ډاکټر ته بوولې او ټيسټ يې ترې اخيستی تر څو وګوري چې اولاد راوړی شي که نه....

هغه ړنا ورځ راباندې توره شپه شوه. کومې خبرې مې چې اوريدې باور مې پرې نشو کولی. داسې لکه زما غوږونو مشکل پيدا کړی وي. د ښار او کور نه لرې مور مې ما لپاره د هوټل په يو اتاق کې يوه نجلۍ راته خوښه کړې وه. هغه نجلۍ چې په خپلو پښو زموږ تر دروازې راغلې. مرګې لپاره د هغوی په هلک ويلو زه په فرهاد شکمن وم. خو کله مې خپل نوم واوريدا هوش مې له سره وتښوو.

په کراره مې مور ته وويل: مورې .... دا څه وايې؟ د فرهاد لپاره د نجلۍ کتلې؟

کريمه- فرهاد خپله مور لري چې ورته نجلۍ وګوري

فرشاد- مورې هر څه حد لري او دا رشخندي له حده ووتله...

کريمه- زويه ته په هيڅ شي نه پوهيږې... غلی اوسه زه رشخندي نکړم...

فرشاد- تر دې ځايه د نجلۍ راوستل درته رشخندي ن ښکاري؟

کريمه- نه ځکه رنګين يوه ښه نجلۍ او د ښې کورنۍ څخه ده.

فرشاد- نو صبا بده نجلۍ د بدې کورنۍ څخه ده مورې؟ څنګه دې دا فکر سر ته راغی چې....(او خپل لاس يې د هوټل په ديوال ووهو....

کريمه- فرشاد زويه...

فرشاد خپل لاس د رنګين لورې ته ونيو او هغې ته يې وويل: ړنده يی نه وينې چې ما واده کړی. چله لرم بيا هم په منډو منډو دلته راغلې..؟

هغه ښځه چې مې په کلينيک کې ليدلې وه نه پوهېږم هغې نجلۍ سره يې څه اړېکه درلوده په ځای کې ودرېده: ويل يې مورې ستا او ستا د مور ريشخند نه يو مور دې راتله زموږ دروازې ته او زارۍ يې کولې اوس ته مورې ته توهين کړې..

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د نجلۍ لاس يې کش کا او وې ويل: مخکې شه نجلۍ چې لاړې شو هله...
کريمه- يوه دقه ميرمن کلثوم صبر وکړئ...
ميرمن کلثوم- اول به تاسو خپل منځ کې جوړ شوي وی بيا به مو موږ راغوښتو
نجلۍ خو مې د لارې له سره نده پيدا کړې چې ريشخند پې ووهئ.

کريمه..

د کلثوم له تګ وروسته مې فرشاد ته وکتل او ومې ويل: زړه د ښه شو ها؟ اوس ټول عمر بې اولاده کينه. ما دومره زحمت ويست د عمر کالونه مې خوارۍ وکړه چې لوی مې کړې اوس چې ځوان شوی يې زما پريکړې په نظر غلطې درځی.؟
فرشاد- موري فکر کوي دا کار د ښه دی؟ زما او د صبا په اړه د فکر ونکا؟
کريمه- زويه صبا اوښياره نجلۍ ده بايد يې درک کړي ګوره زه چې د اولاد څيښتنه نه کيدم پلار دې دوهم واده وکا. تر ننه ما څه وويل؟ حتی يوار هم نشو چې ما د پلار ته شکايت کړی وي.
فرشاد- هغې مثلې فرق کا دواړه خو پوهيږو کنه.
کريمه- يعني وايې ډاکټران په څه نه پوهيږې ها؟ او يا وايې چې اوه يا لس کاله په تمه کينې چې ښکاره شي چې صبا په ريښتيا مور کيدی شي که نه؟ زه له خپلې تجربې وايم ځکه وګوره د پلار په وړاندې مې د صبر وکا په بنه مې صبر وکا الله ج د اولاد څيښتنه کړم او يو زوی يې راکړ. اوس که صبا د يو اولاد څيښتنه هم نشي څه؟ ټول عمر غواړې صبر وکې؟

فرشاد- موري خدای ج خو زموږ په سر قسم ندی خوړلی چې موږ ته به يوائې اولاد نه راکوی؟
کريمه- قسم يې خوړلی يا يې ندی خوړلی د صبا نتيجه همدا ده. شايد خدای ج زما او د صبا لپاره يو رکم تقدير ليکلی وي..؟
فرشاد- موري هيله کوم دومره منفي فکر مکړه..
کريمه- ستا دې په مور قسم وي فرشاد د خپل ژوند سره لوبې مکړه... پريږده مور دې ښه ورځ ووينې.
فرساد- موري صبا هيڅکله نه راضي کيږي.
کريمه- ما هم ندي ويلي چې د صبا د رضايت پوښتنه وکړه صرف غواړم هغه کار د چې په خير وي هغه وکې.

فرشاد- پدې کار کې خير نشته.
کريمه- صبا چې کله ووينې خبره تر واده رسيدلې په خپله د خبرې جديتوب درک کوي. او بيا تاسو خو يو بل سره مينه لرئ هيڅ مشکل مخ ته نه راځي مينه بدترين حالت زغمې د خپلې مينې په خاطر...
فرشاد- موري راځه کابل ته ولاړ شو له هغه ځايه زه او صبا هند ته ځو. ما څېړنه وکړه د هغه ځای درملنه ډيره ښه ده شايد الله ج موږ هم د اولاد څيښتن کړو تراوسه خو ددې کار لپاره ناوخته شوي هم نده...
کريمه- وګوره رنګين يتيمه نجلۍ ده هغه بې کسه ده او دې ښځې هم چې په لاره کې پيدا کړې وه غټه کړې يې ده او اوس غواړې هغه واده کړي او د مهر او شيدو حق باندې ګټه ترې واخلي. په يوه نکاح هم راضي دي. او ما ډاکټر ته هم بوتله هيڅ مشکل نلري..

فرشاد- موري ګناه لري پخدای ګناه لري د ټولو له ژوند سره لوبې کول لويه ګناه ده.
کريمه- وګوره زويه داسې به ثواب هم وکړې د رنګين ژوند به له بدبختيو وژغورې.او بيا ما خو ندي ويلي چې هغه دې اول درجه ميرمن جوړه کړه. ميرمن دې همغه صبا چې پرې مئين يې ده. فقط وايم يوه نکاح وکه او د اولاد څيښتن شه کولی شې خوشاله او پرته د کوم درد سر نه ژوند وکړې.رنګين ټولو خبرو څخه حتا پوهيږي خومره صبا درباندې ګرانه ده خبره ده ما خپله ورته ويلي هغه تياره ده ځکه هغه غواړي صرف کورني او کور په نوم څه ولري..

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد_ موری ...

کریمه_ مور دی درنه زار قربان شي زویه.. راځه مور به حق کې یو لوې احسان وکړه.

هرڅه ښه کیږی یوځلي رنګین نږدي ناا وپیژني وګوره هغه ځومره مهربانه معصومه صبر ناکه ده. .

فرشاد_ افففف موری ..

فرشاد هوټل څخه باندي لاړه صبا شمیري ته زنګ وواهه..

صبا_ بلی

ځومره دی غږ ته می زړه تنګ شوي وه آرامه ساه مې وباسله او کرار مې وویل: ګلابمی

صبا_ جان

فرشاد_ دلته هوا زړه تنګه ده هلته څنګه؟

صبا_ دلته هم .... کله راځې؟

فرشاد_ نپوهیږم شاید همدی اونی کی .

صبا_ کریمه خاله ته می نن دری ځلي زنګ ووهه خو جواب رانکړو

فرشاد _ اممم حتما ویده وه، یا هم بازار ... ځکه نن ورځ مو لږ سودا وکړه

صبا _ وا وا ماته مو څه اخستی ؟

فرشاد _ماشومانو شیان.

دی خبري سره صبا غلی شوه او نور جواب ورنکړو..

فرشاد _ صبا...!

صبا _بلی .

فرشاد _اندیښنه مکوه خدای زموږ دعاګاني قبوله کوي.

صبا _ زه اندیښنه نکوم .. مور دی ده.

فرشاد _مور مینځته مه راوړه خیر دي.

صبا _ولی مینځته رانوړم د کوم ورځ څخه چې واده شوي یم راسره بد چلند کوي. زه خپل په مخ نه راوړم دا خبري چې مشره ده خو زه مو هم د سرک له سره په کش کولو نه یم راوړې چې داسې راسره دښمني کوي..

فرشاد _ څه دښمني؟ هغه زموږ ښه والي لپاره وایي.

صبا _ډیر زموږ په ښه والي وایي. زه یې که خوښه نه وم نو خپل په زړه به یې ناوی راوسته وه .

فرشاد- صبا.. بس که ... زیاد دې خوښیږی هر دقیقه جنجال وکړو ؟ بند کوم که کار نلري؟

صبا- کار نلرم ... ته خپل مور ته ورشه هغه درسره کار لري زه څه کار درلودی شم ؟

صبا شپږم حس ښه کار کاوه او دا چې میرمین کریمه فرشاد پرته له کوم دلیل ځان سره وړې دي حتما کوم دلیل لري ځکه میرمین کریمي کولی شو سعید سره هم لاړه شي ولی فرشاد ته دومره ټینګا کاوه؟ چې د دې سره لاړشی؟ ولی یو داکتر لیدل دومره وخت ونیو؟ صبا زړه که دا خبري وي.. میرمین کریمي غوښتل په فرشاد باندې خپل مالکیت وښایي همدالامل دوري لري والی د فرشاد او صبا ترمینځ شو خو صبا ویریده او ګومانه یې کوې چې د مالکیت د موضوع بغیر کوم بل غټ ستونزه هم وه..

کریمه کله کله دروغجنې ژړا او مکاري باندی فرشاد ته زاری کولی فرشاد ژوند یې ورته تریخ کړی وه ترڅو هغه ورځ ورسېده چې د فرشاد د خولی څخه (هو) جواب ووت او ویې منل دویمه ښځه وکړیرد هغه د هو ویلو وروسته کریمی آرامه ساه واخسته ...فرشاد مور لپاره مجبوره شوو (هو) جواب ورکړی مګه کریمي یوازي همدی هو ته پتمه وه ژر تر ژری فرشاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګین واده تیاری ونلیو . یو نیم ساعت کی ناوی تیاره شوه هوټل ته یی راوړه دا رنګین څومره بدبخته ده واده په ورځی سپنی جامي هم وانغوستی  شاید هغه ځان نیکمرغه احساس کوه نور دینه حق ډیر ظلم ونشي..

رنګین په ډیره خوشالي  نکاح خط پاڼو باندی لاسلیک وکه فرشاد یوازي خپلي ګوتمی د صبا د تعهد نښې چله ته کتل شاید پوهیده خپل ژوند او د صبا ژوندي تباه کړو..فرشاد خپل ځایه پورته شوو مور ته وویل: زه غواړم کابل ته لاړ شم .
کریمه- زویه پیره مکوه سبا ته ځوو.
فرشاد- نکیرۍ موری زه باید کابل ته لارشم.
کریمه- دا سم رواج ندی نوی ناوی سفر باندی اوس لاړه شي...
فرشاد- ته دی ناوی سره پاتی شه زه ځمه تاسو بیا راشي.
کریمه- نکیرۍ زویه.
فرشاد- موری ساه می بنده بنده کیږي زغملی نشم.

کریمه- سمده یوازي دا نن شپه پاتی شه مزار که صبا لپاره هم لږ سودا وکړو بده خبره ده اول ځلي مسافرت ته راغلي یی زړه دې غواړي خپلي ناوی ته تش لاس ورشې؟.
شاید کریمه د فرشاد د ضعف نقطه پیدا کړي وه ځکه صبا لپاره فرشاد هرکار کاوه همدای ښه بهانه کریمې ته ورکړې وه هر کار لپاره یې د صبا لپاره ښه ده او د صبا لپاره یې وکړه مخکې کول.کریمه دري ورځي فرشاد په رقم رقم دلیلو مزار کې وساتې ځکه نوي واده هم کړي وه اجازه نه ورکوله لاړشی فرشاد که غوښتلې هم وایې بیا هم چا ته یې څه نشو ویلې..

ځکه پوهیدې چې صبا مرګ ته راضي کیږي خو دي خبري ته ناا ... آخر هم  دري ورځي پایې ته ورسیدی کریمه سعید ته زنګ ووهه او ورته ویل: ښه خبري لرم ...
خپلي لور سمن ته هم زنګ وواهه سبا شپه ته موږ کور ته راشي محبوبه ته هم زنګ ووهه او ورته ووایه سبا شپه ته فرهاد هم کور کي ووسي.کریمې شاید غوښتلي ټول یو دم خبرشي هرڅه کیږي یوه شپی باندی ختم شي دینه وروسته کریمې کوم کار نه درلود هغه خپل هدف ته رسیدلي وه په صبا باندې بنه راوستې وه.

صبا...

د سمن څخه خبره شوم چې فرشاد او مور یې راځي ډیر خوشحاله وم جامو کې ځایدم فرشاد ماته احوال راکړي نه وو؟ شاید فرشاد غواړي حیرانه یا سوپرایز مې کړې؟ سری جامي می واخستي فرشاد ذوق رنګ داسي و وایي زما زړه ته نکوری ..
فرح محبوبه  مرسته می کوله خوشحاله وم فرشاد راځي خوشحاله وم مور مي یو داکتر آدرس راکړي وه یوځای فرشاد سره ورشوو موږ سره مرسته وکړي... څو ساعته تیردل زما انتظار هم ډیره ده . داڅه ژوند څنګه خپل زنګ بدل که یوازي یوی شپه که زه نرۍ بدبخته ښځه جوره کړم .

دا څو دقیقی مخکي فکرونه می فرشاد ته کول کورته راشي  موږ ټولی یو عصبي شوک ته واچولو... څومره ښه دوه میاشتو وروسته د ژوند ملګری کورته راشي کاشکی زما خندا لس ثانیه ډیره وي...کور دروازه زنګ باندی زه فرح پورته شوو زما بیحد  خوشحاله وم زه مخته شوم فرشاد می راورسیدی....یوازي لس ثانیه صرف لس ثانیه زیاته خندلي می نشوو  زغملی راسته سخته وه حتا دروازه لاستی راباندي زوره ور کوم څه می په سترګو لیدل هیڅکله می خوبونه خیالونو که هم سوچ نکوه زما سوچ ته هم داسی خبره نه راتله داسي ورځ راباندي راشي زړه می بی اراده وه عقل می سم کار نکوه.. زما فرشاد بله ښځي سره لاس په لاس....

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد...

موری زنګ وواهه نن شپه راشه څکه فرشاد میرمن کریمه راځي غوښتل ټول یوځاي ووسو  ټول پسی خفه شوی .شپه 7بجو پوري هرڅه عادي وه سمن دروازه وټکوله نیوهېږم کوم فکر کی وم خو هغه نرۍ څخه راپورته کړم
سمن- راځه لاندی مورمی غږ درته کوي.
ټولو شکایتونه کول ولی یوازی کینم  مانغوښتل صبا دومره ښکلا سره وګورم څکه پورته کوټې ته لاړم صبا څومره ځانته رسیدلی وه دي دوه میاشتو څوځلي کورته راغلم دومره ځانته رسیدلی نه وه نن شپه رسیدلی. شاید زما سترګو صبا نظر کړې وي نن شپه ښکلو سترګو څخی اوښکي لاړې شي..
داسي خو نه چې زما د زړه درد د صبا لمنه د غمونو ډک کړي وی؟ نا داسې نشی کیدلی ترڅو زه اول منزل ته رسېدلم صبا په بیړه دروازه خلاصه کړه ....

زموږ ژوند لکه فیلم سریالونو ناول پشان شوي وه صبا ساده زړه  ژړل .. صبا رنګ سپین الوتی وه هغی ورځ می یاده راغله صبا واده ورځ  فرشاد سره څنګ ترڅنګ ولاره وه نن شپه ټولو کورني غړې څخه کوم احساس څه صبا درلوده درد غم ما هم تیر کړي وه صبا خپل خاوند دو ځلي لپاره فرشاد سپینو جامو که ولیده زوم شوي وه  صبا بی روحه شوي وه زه .. زه دوم ځل لپاره مړ شوم اول ځل څو کاله مخکی واده جامي په ځان کړي وه مړ شوم..

دوم ځل بی ځانه بی روحه صبا می ولیده  مړ شوم .ولی دروغ ووایم نور راته مهمه نه وه څه کیږی ماته یوازي  مهمه ژوندمی (صبا ) مخامخ سترګو ته می په کفن شوه ..اول ځل زما بسته عمر که سور کفن ګورم زما بی ګناه معشوقي په ځان وه اوښکي تویولی ...زما سترګو هم اوښکي وه هغه ورځو لپاره ومی نکولو شوو  ځانه دفاع وکړم  ومی نکولو شوو صبا دی جنجاله خلاصه کړم داسي نه وه  صبا ما دي جنجال که اچولی وي  اوس ورته ګورم ما یوازي غوښتل  هغه لپاره هرڅه ښه وي  فرشاد په ځای زه خاوند وم اوس به هرڅه توپیر درلودل ..

"اوس وخت"

فرهاد...

کومه ورځ صبا واده وکه مانه لاره... صبا می شعر کې مخاطبه کړه او ورته ومی ویل:
خواب هایت از شب بیداری من خجالت نمی‌کشد...؟
اما حالا باخود می‌گویم ای قلبم از گرفتاری های صبا خجالت نمیکشد؟

زه څنګه مغروره شوم ګیله می وکړه اوس هغه ټولي ښیرا آزار صبا لمنه نیولی صبا اوښکي مه جهنم ته رسوي خدایه ما یوازي تاته خپلو درد درته وویل نه دا چې صبا هم زما په درد واچوی هغه حق ندی ..پرون ورځ صبا کورنه تللی ننه پوري کومه خبر ترنلرم خدایه ته می توبه وکړه  پوهیدم خپل د خور کور بغیر بل ځای تللی نده  کولی می نشوو مخته ورشم که هغی ژړل مه زغملی نشوو..

حسیب ...

زړه نا زړه وم چې باید دې موضوع کې دخالت وکړم کنه؟ خسر ته زنګ وواهم یا الطاف ته دي پېښی احوال ورکم او کنه؟ هرڅومره می فکر کاوه کوم ځای ته نه رسېدلم ترڅو پریکړه می وکړه یوځل فرشاد سره خبري وکړو هغه صبا پروا نده کړې نو زه ولې د فرشاد پروا وکړم؟ فرشاد کور حویلی که موټر څخه راښکته شوم. دروازه می وټکوله مخکي چې و همداسی ننوتلم کورته مګر اوس حالات توپیر لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهراب زه کور ته دعوت کړم جګ غږ وکړي: حسيب کاکا راغی مورمی .. زه دهليز که ولاړم وم فرشاد خپلي کوټی راووته..

پخوا پشان لاس رامخته کړ سترې مشي مو وکړو
فرشاد- راځه حسيب جانه دلته دريږي مه کورته دننه راځه..
حسيب- همدلته ښه ده ... وخت لري خبري وکړو؟
فرشاد- سل واری ولی ناا دلته نکيږی راځه دننه.
حسيب- دباندی خبری وکړو ښه به وی ...
فرشاد- کومه ستونزه نشته راځه دننه..
حسيب- وګوره فرشاد جانه نپوهېږم څه شوي او څه ندی شوی ؟ کله چې مې صبا هغه وضعيت که وليده خپل ځان می مسؤل وبولو بايد هرڅه باندی پوی شم.
فرشاد- هيڅ خبره نشته حسيب جانه انديښنه مکوه خپله صبا سره غيږيږم مطمينه يم پيرته کورته راځي.

حسيب- خدای دی وکړي فرشاد زه خوشحاله کيږم خپل عادی ژوند پيل کړي..
فرشاد- صبا يوازي وخت ته اړتيا لري که چيری حالت ښه وي دا نن شپه صبا پسې درځم خپلي ستونزي حل کاوه...
حسيب- صبا که چيری غوښتل راشي نو اوس به زما سره راغلی وه نه دا چې زه راشم او ستا د د دويمې ښځي پوښتنه وکړم ...
فرشاد- وګوري حسيب جانه ژوند پغير له مشکلاتو ندی صبا ستونزي هم خلاصيدون نلري موږ يې خپل مينځ کې حل کوو تاسو هم چيری مداخله ونکړي صبا ته ووايي: خپل تقدير قسمت ته راضي ش ښه به وی ژر ژر خپل عادی ژوند پيل کړي.

حسيب ـ کوم تقدير خبره کوي فرشاد؟ هغه تقدير چې تا ليکلی ؟ داسي ساده ده دا خبري چې کوي؟ شايد بل سبا دريمه ښځي هم وکړي او ملامته هم تقدير کړي. اوس بلکل صبا معصومه درک کوم تا پيژني څکه يي طلاق غوښته...
خپل لځايه پورته شوم او ورته ومی ويل: نوري خبري نلرم په اجازه..
کاکا سعيد نوي کوټې ته راغی ورسره مخامخ شوم احترام لپاره می سترې مشي وکړه دروازه څخه باندي لاړم.

سعيد- حسيب جانه صبا څنګه ده ؟
حسيب ـ ډيره ښه ده کومه پريکړه کړي راضي هم ده، نور نغواړي راشي...
سعيد- داسی ژوند مخته نځی زويه..
حسيب- نپوهېږم کاکا جانه صبا خپله لويه ده خپله پريکړه نيسي.
سعيد- پوهيږم زويه کاشکی لږي پوهه کړي.
حسيب- موږ ټول صبا خير غواړو بيا هم آخيری پريکړه هم صبا کوي. ما الطاف او صمد پلارجانه ته می احوال ورکړی ندی .
سعيد- ښه کار دی کړي يوازي صبا هم خبره شوی دا ډيره ده...
حسيب ـښه وخت ولري.

محبوبه...

ژوند کوم ځای اعتماد باور وکړو هره ورځ بدلون کوي، يوازي څو ورځي کيدلی فرهاد خپل ځانته راغلی وه اوس پوهيږم بيرته ليوني کيږي پرون شپه نارامه وه ورته می وويل کورته دي لارشه نه می غوښتل دلته پاتی شی هغی پيښي شوک څخه هم راوتی نه وم هيڅا نوی مصيبت نه غوښتل.. رنګين هم با ادبه نجلی وه صبا ته هم احترام درلوده کنه خپله دي کورکي نوی راغله وه مګه ټولو فکر که وه شپې مهمانخانه که تيره کړه سهار ويښودلو روسته پخلنځلی ته راغله ..
رنګين- مرستې ته ضرورت لري خاله جانی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبوبه- مننه لوري کوتي که به وي مه سهار چای دروړ ..
رنګين - اوبخښی بی اجازه راووتم .

محبوبه- توبه لوري مه اجازه لپاره ونه ويل ځکه می وويل نوی ناوی يی ؟
رنګين- کومه خبره نده خاله جانی زه کار کولو عادت لرم .
محبوبه- بيا هم لوري خير دی لږ ګوتي کي پاتي شه کور وضعيت ښه ندی.
کريمه - کور وضعيت چا لپاره څه ښه ندی؟خپله کوتي که پاتی شی داسې نکيږی يو  نفر خفګان لپاره ټولو غم زنګنونه ونيسو کينو.

محبوبه آهی وکړو تښتېدلي ترجيح به پاتېدل وګنه .سهار ناشته تياره وه خو هيچا ډوډی ته زړه نکيده  فرهاد هم کله پورته منزل ته کله لاندي منزل زينو که کيناسته لکه چې دچا انتظار کاوی شپه شوه کوم خبره ورکی معشوقي ونشوه بيرون لاره ..
ماښام وه هوا تياره وه فرهاد باندی خوا ثنا کورته ليدل صبا انتظارته ناست وه څو ځلي دروازه په لور ورغی بيرته به راغی کله به ګامو ياري نه کوله کله به زړه ياري نکوله ورسره حسيب کله چه کورته روان وه  فرهاد وليده خواتی سترې مشي لپاره ورغی

حسيب ـ سلام فرهاد جانه
فرهاد ـ سلام حسيب جانه ښه يی؟
حسيب ـمننه تاسو څنګه يی ؟
فرهاد ـ څنګه چې ګوري وضعيت هرڅه خرابه شوي.
حسيب ـ خير توکل به خدای کړه
فرهاد ـآمين  رښتيا صبا ته اندېښمن وم غوښتل می صبا وګورم که مزاحم نسوم .
حسيب ـدڅه مزاحم ؟راځي کورته نپوهېږم صبا به ومني يانه؟

فرهاد ـ زه هم ځکه زړه نا زړه وم چې صبا به څه وايي؟
حسيب ـ راځي دننه.
فرهاد يوځای حسيب سره کورته ننوت کله چې صبا وليده سل ګامه شاته لاره هغه فرهاد خپلي وړي معشوقه وډار شوو صبا سترګي اوښکو توېدلې توان ندرلوده شايد هم نور ويني ترڅاځيده. صبا سترګي لعل شوي وه هراوښکی فرهاد زړه ته آور اچوه..
ثنا ، صبا دواړه خپل ځای که ودريده سلام ورته واچوه صبا غږ خرابه شوه فرهاد زړه يی ولرزيده صبا نور خبرو حوصله لاسه ورکړي وه پوښتنه هم نکوله څنګه يی خوله بنده وه فرهاد صبا څنګ ته ورغی وويل:

فرهاد ـ څنګه يی ؟
صبا ـ ګوري تراوسه ځان لرم
فرهاد ـ زر کاله عمر وکړې صباجانی
صبا ـ همدمره ژوند کول راته زياد وه .
فرهاد خپل زړه که سل واری ځان ورنه قربان کړل نور څه صباته ونيولی.ثنا هم چای ميوه پسی لاړه صبا فرهاد يوازي پاتی شول .فرهاد يوځل بيا صبا سر ترپای وليده  باور نکيده دا همغه صبا وي پرون شپه څه وه 24 ساعتونو که يو ګل وچيږی ناا لکه لکه چې وينه صبا بدن کې وچه شوي وه شوندو سور والي سترګو باندي اثر کړی وه همداسی سترګو سپينو شونډو باندي اثر کړی وه مخ شپين تښتېدی وه بدن هم کمزوري شوي وه .. فرهاد که زمانی حيا نه وه صبا ګامو می ښکل کول ټولو غمونه می پځان اخستيل..

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد کوښښ کاوه  ځان کنترول که خپل ځان باندی کنټرول ولري غږ صاف که وویل: صبا جانی
صبا شاید ( بلی)توان ندرلوده یوازي سترګي پورته کړي فرهاد سترګو ته وکتل .
وايي خدای دوه سترګي نورو د دوه سترګو لپاره پیدا کړي وي  همدا ده وايي مین څه کله خپلي معشوقي سترګي ووینی
خپل سل ځله لاره یاده باسی .
فرهاد خبري هيري شوي زير زبر صبا سترګو ته لیدل صبا هم کله فرهاد درد هغه سترګو څخه لوسته نن شپه کوښښ کوه
پویه شي.

ثنا راغله کوټي خاموشي ورکه شوه فرهاد دوم ځل لپاره ستوني صاف که په ډیرہ مهرباني وویل: صبا جانی پوهیږم
هیڅوک تاسو شخصي موضوع ته مداخله کولی نشی که زه پوهیدم فرشاد غواړي داسي کار وکړي پخدای هیڅکله می
نپریښدو دا واده وشي..
صبا ـمهمه دا ده مه پریګړه نیولی جلا کیږم .
فرهاد ـ ښه فکر وکه بیا پریګړہ ونیسه په راتلونکي ځان ښه او بد که  قصره ونګنی  که چیری جلا کیدلو پریګړه هم لري زه
تاسره یم تانه حمایت کوم.
فرهاد ـ مننه کوم فرهاد جانه مخکي طلاقه غواړم مور سره می خبري وکړم .

فرهاد ـ هرڅول راحته یی یوازي ما جریان که واچوه او هو که چیری غواړي کولی شي زما آپارتمان که ژوند وکړي زه
کلینیک راحته یم.
صبا ـ مننه زما ځای سم دي.
فرهاد ـ شکرر نوو ، غواری کورته راشي؟

صبا ـ هلته نور زما کور ندی هغی فرشاد دومی ښځي کور دی پریده هرڅه غواړي وکړي هرڅه سره مینه لري وکړي نور راته
مهمه نده.
فرهاد ـ هلته ستا کور هم دي زه حسیب ستا روغ صحت غواړو که چیری کاکا مو دلته نشته موږ یوو.
صباـ مننه کوم خیریوسی .
فرهاد ـ  زما خبره ومنه که ماته غوږ نیسي راځه کورته.
صبا دی خبری ته  جواب ندرلوده مجبوره شوه ومني.  یوځای فرهاد سره کورته راونه شوه اصلا لاره هیڅ خبري ونکړي
کورته نیږدي صبا سترګي اوښکو ډکي شوي.
جګه اه باسله فرهاد اوجود ته آور اچوه.
فرهاد ـ صبا ښه یی ؟
صبا ـ هاا

فرهاد ـ که وغواړي بیرته ثنا کورته ځوو زما قصد ستا پعذابول ندی یوازي می غوښتل  ټول پوی شي ته کمزوی نه یی،
هیڅوک تا پعذاب کولی نشي  ....
صبا ـ نا کومه ستونزه نشته راځه کورته لارشوو.
فرهاد ـ راځه بسم الله
صبا ـ هو راځه
هیچا کورکي انتظار ندلوده صبا راشي ټولو فکر کاوه صبا کور کونجي ناسته ده خپل غمونو بانديژاړی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا په جگ غږ سلام واچوه او ژر یو کوچ باندی کیناسته  کریمي هروخت دا گمان کاوه دا صبا کار بی نزاکتی ده ویلي.  مگه نپوهیدل صبا دریدلو توان ندرلوده  سعید هم صبا سر باندي لاس کش کړل  صحت پوښتنه ورنه وکړه....
سعید ـ ځنگه لوری؟
صبا ـ ښه یم کاکاجانه
سعید ـ خدایه شکرر.
فرشاد کله چې خبر شوي وه صبا راغلي په منده منده ځان گوتي ته راورساوو فرشاد پسې رنگین هم رانوته
رنگین مخته شوه په مهرباني صمیمیت ښکاره کړي هغه ورسره کومه ستونزه نلري  ستري مشي پیل کړه...

رنگین ـ ښه راغلی صبا جانی؟
صبا یوځای زخمي زمري پشان ورته وکتل جواب ورنکه.
رنگین- صباجانی ډوډی خوړلي؟
صبا بیا هم جواب ورنکه کریمه رنگین ته وویل: ځان دي چاته کم راوړه هرڅوک وړي پخلنځلی لاری لیدلی.

صبا ـ رښتیا وایی ته نوی ناوی یی ولی ځان کم راوړي؟ دي ورځو خوند واخله مزي کاوه کله چې خوبه راویښه شوه وگوره بله ښځي دربانديي راوستي ستا ځای نیولی .
فرشاد ـ صبا خیردی لږ راشه خبري وکړو .
صبا ـ زه تاسره پټي خبري نلرم هرڅه وایي همدلته ووایه.
فرشاد ـ صبا خیر دی

صبا_ زما نوم مه اخله.... څه غواړې؟
فرشاد _وگوره بغیر ستا څخه ټولو منلی یوازي ته هم قبول کړه ترڅو ستونزو مو اسانه شي.
صبا وخندل په لوړ غږ خو د صبا خندا د خندا څخه زیات د درد څخه ډکه وه ټولو منلی ؟ څه لپاره؟ چا ښه منلی ؟ نه یې منې..
کریمه- وجلی ډیره درامه بازی مکوه، وگوره رنگین تاسره سم چنل کوي،  بیا زما محبوبه ژوند وگوره 30 کاله ډیر کیږي یوځای ژوند کاوه .

صبا_ کاکاښځی خیر دی... ما ځان سره پرتله کاوه مه ته زما درد نه خبره نه یي،  ته مجبوره خپل تقدیر ته وي زه نه یمه.
رنگین- صبا جانی ... اوبخښی نمی غوښتل ژوند دی....
صبا چغې کړل: څشي اوبخښم ، څشي ؟ ژوندي می تباه شوو.
رنگین- یو نوی پیل ....
صبا ـ نوي پیل... ستا لپاره نوي پیل زما لپاره ناا ، زما ژوند تباه شوو پوه شوی؟
فرشاد ـ صبا نور څومره غواړې دا موضوع کش کړې؟ یوه ورځ ، دوه ورځي ، لس ورځي. آخر هم یو ځایه باید پیل وکړي رنگین هم هر شرایط که وي مجبوره ده موږ سره قبوله کړي..

صبا ـ ته ما د دی نجلۍ سره مقایسه کوي؟ زه د دي یتمې ناوکی پشان نه وم ، بی کسه نوم ، زه سړک پر سر پاتی نه وم ، چې دا وضعیت ومنم ...دا نجلی که دلته د جهنم اور کي هم و سوځیږي هم څه نه وایي زه بازاري نجلی نه وم ما یوی بازاري جلی سره مه مقایسه کوي....
فرشاد ـ صبا غلی شه.
صبا ـ زما هنر او کار یوازی ماشوم راوړل ندی زه بی کسه نه یم ما ددی سره مه مقایسه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد دینه نور نغوښتل توهین کول وزغمي نو د صبا لاس ی ونیولو او ورته وې ویل: صبا خیر دی راځه بل کوټې ته خبري وکړو.

صبا- زما لاس خوشي کړه زه ستا په بیسو اخیستل شوي ښځه نه یم.
فرشاد ـ نور بس که صبا کور دی په سر اخستی څه غواړې؟
صبا ـ طلاق غواړم؟

فرشاد له زیات قهر وخندل او ویې ویل: طلاق غواړي؟ ها؟ سوچ کوي زه لیونی یم ها صبا؟
صبا ـ نا خو ته به فکر کوي زه بیعقل یم! ته فکر کوی زه ستا د اخیستل شوی کنیزی سره یو خای کور کې ژوند وکړم؟
. دی یمه اوسي می کورکي وساتي؟
فرشاد ـافففف صبا درک ولره ؟
صبا ـ زه درک کولی نشم فرشاده.
فرشاد ـ صبا سترې دی کړم درته وایم سل کاله نور هم تیر شي زه درته طلاق نه درکوم نور هسی لیونتوب مکوه.

صبا ـ زه نوره ستا ښځه نه یم فرشاد... قسم په الله طلاق اخلم .
فرشاد بیا صبا لاس کش کړل وویل: کیږي نکیږی زما لاس کیده هله نوو خپلي ګوتي ته لاره شه...
فرهاد چې تراوسه پوري خبري نکولی اوس مداخله پیل کړل.. فرشاد مخکي ودریده. او ویې ویل : صبا لاس پریږده.
فرشاد- زما لاري څخه لرې شه .
فرهاد- ومی ویلی صبا لاس پریږده ..
فرشاد- زړه می ښځه می ..

فرهاد ـ کومه ښځه دي؟ همدا اوس مه صبا راوسته د کور څخه نو اوس زما د کاکا لور ده نه ستا ښځه، لاس یې پریږده لارشه ...
فرشاد ـ دا ته ولی سوځیږی ؟ دومره زړه سوځیږي واده به دی کړی اوس به خپل ژوند مصروف وی ...

سعید چې زړه که ټولی خبري رازونه ښکاره وه نغوښتل دوه زامنی شخړه وکړي ژر یی مداخله وکړه او ویې ویل: فرشاد بس ورځه نور ... زه صبا سره کار لرم
فرشاد به ریشخندې خندا وویل: څومره جالبه نن شپه ټول زما ښځې سره کار لري.
صبا- ښځه مه وایه فرشاده ،،، زړه می بد کیږي ښځي کلمه وایي کرکه می راځي..
فرشاد ـ هسی چټې سر مه خوره وه کوم څشي ته غواړې هیڅکله نه کیږي..
سعید ـ تاته وایم فرشاد باندی لاره شه... راځه صبا لوري خبري وکړو..

صبا وروسته سعید ورپسی ورغله چوکی باندی کیناسته .
سعید ـنغوارم څوک نور زموږ خبرو مینځ که اوسي..
ټول لړ لړ کوټي څخه ووتل مګه فرهاد ولار وو..
فرهاد- زه پاتیریږم پلاره.
سعید فرهاد لور ته وکتل او څه یې ونه ویل ځکه پوهیدی که د فرهاد خاموشی ماته شې او خبری شروع کړې ټول به لځان سره غرق کړي. صبا غلی چوکی که ناسته وه سعید خبري اوریدلي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

سعید ـ لوري سخته وضعیت کي ټول یو. مګه درک کولی هم ښه دی موږ هم غواړو ته لږ درک وکړي نور ستونزو مه جوړه وه موږ ټول ستا خوښی غواړو...

صبا ـ کاکاجانه زه یوازې غواړم راحته شم آرامه ژوند وکړم خپله پوهیږم.

سعید ـ ځنګه راحتی ؟

صبا_ زه غواړم طلاق واخلم .

صبا زړه که ذره هم شک وه نن ورځ هغه شک په رښتیا بدل شووو. که کولی نشوو زغمي مجبوره ده یو مغروره خاوند او بنه سره څه میرمن کریمي سر تاج شوي وه ژوند وکړي..همدا خاطره صبا ژر تر ژر غوښتل فرشاد او ښځي څخی خلاصه شي.

سعید_ صبا لوري څومره څه ته فکر کاوی ژوند دومره اسانه دي داسي نده..

فرهاد ډیر ځان کنترول صبا سترګو ته هم نکتل داسي ناا رسوا شي پلار ته وویل : پلار جانه که صبا خپله تصمیم نیولی باید قبولي کړو .

سعید ـ فرهاد زویه شاید صبا په ورخطایي دا پریکړه نیولی وي باید پویه کړم .

فرهاد ـ خبره ورخطایي څخه تیره شوی .... که پریکړه نیولی باید ورته احترام ولروو داسي نکیږی موږ ټول فرشاد صدقه قربان شوو .

صبا ....

پلار زوی خبرو که غلی پاتی وه داسي شفری او راز داری خبري کولی دواړه ترمینځ څشي بی تقسیمه پاتی دی فرهاد د صبا درد غږ شوی فرهاد غوښتل ژر تر ژر دي درده خلاصه کړي.

سعید ـ دا زموږ خبري ندی هغوی دواره ترمینځ دي(صبا)(فرشاد )

فرهاد ـ مخکي هم ستا خبري نه وه ولی دی داوري وکړه پلار جانه ؟

باید موږ خپل تصمیم نیولی وه مګه تا فرشاد طرف وکړو (..د مرکی خبري ښایی)

سعید ـ فرهاده اوس بحث توپیر کوی؟. کوم څشي څه حقیقت لري.

فرهاد ـ اوس هم باید صبا په حق که قضاوت وکړئ هرڅه غواړي هغه باید صلاحیت وکړئ.نباید صبا فرشاد لپاره قرباني وکړئ ...

سعید ـصبا لوري یی غواړي جلا شي؟

صبا ـ کاکاجانه مګه تاسو غواړئ سمن باندی بنه راشي یا فرح ؟ کولی شي وزغمي؟ قبوله کوي لور دی وهل وخوړی ؟

فرهاد ـ پلاره مطمینه ده، مطمینه نه یی زه خپله مطمینه کوم( خو د صبا اخیری خبری فرهاد حک حیران کړو او کرار یی وویل: د څه وهل؟؟

فرهاد په منډه کوټي څخه باندي ووته صبا پلار خبري وانوریده، سعید هم فرهاد پسې راغی فرهاد ناری وهلي غږ کاوه.

فرهاد ـ فرشاده .. فرشاده

فرشاد حویلی که ولاړ وه ترخو خپل اعصاب آرامه کړی فرشاد دهلیز لور ته ورغی دوه کلکي ضربه فرهاد لخوا وخوړلی او هغه یې حویلې خوا ته ټیله کړو

فرهاد- بیعقل زور دی جلی باندی رسیږي ؟ کوم لاسونه چې صبا باندې دی پورته کړي درته ماته وم..

-فرهاد پریږده څه کوي؟

کریمه- خدای دی درته خیر درنکړي انجلي،چې زموږ حال دی کوم ورځ ته راورسول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد چې څومره ځواک درلوده له هغه زيات يې مصرفه ولو،مګر فرشاد څنګه جرأت کړي،چې د فرهاد نازک ګل يې ټپي کړي؟ سعيد فرهاد يې له فرشاد نه لري کړو، او کلک سپيرو يې د فرهاد په مخ ووهل..
سعيد- نو تا او فرشاد ترمنځ توپير څۀ دي ها؟ تاسو دواړو تاوتريخوالي کې لومړي درجه ياست.
فرهاد- ما د چا په لور لاس نه دی پورته کړی،ما خپله ښځه نه ده وهلي،ما خپل ځواک هم خپل ښځو ته نه دي ښودلي پلاره...
دا ځل فرشاد د حمله په توګه د فرهاد په لور لاړو او ويې يل: ستا درد څه دي ها؟تاته يي څۀ؟

د دې خبرې سره سم بيا دواړه يو بل سره ونغښته او په جنګ شول.سعيد چې کومي ورځي څخه وېريده هغه ورځ رارسيدلې وه، هغه احساس کړی،چې غلطه پريکړه يې نيولي ده،فرهاد د فرشاد لاس کلک ونيول،لاس يي ورته شاته تاو کړ، او وره ويې و يل: ستا زور په ښځو رسيږي نه په ما باندي،چي لاس دی په صبا باندي پورته کړي وو؟؟ هاا؟ صبا.....صبا....
صبا له زياتي ويری بلی ووبل،او نژدې شوه شايد صبا هيڅ د فرهاد داسي حالت نه وو ليدلي.
فرهاد- پريکړه دی څه ده صبا؟غواړي چې طلاق واخلي؟؟
صبا دوه زړه يو ځای کړل او وې ويل: هوو
فرهاد- ټولو اوس واوريده،چې صبا غواړي جدا شي،پلاره اخيرنی پريکړه همدا ده چې جدا شې.

فرشاد- افرين په تا صبا اوس زموږ د ژوند پريکړه نور خلک کوی؟
سعيد- پريکړه دی صبا ده،تا بايد له اول نه دغه ځای ته فکر کړی وای، تا حتي جرأت دی وکړ چې په خپلي ښځي لاس پورته کړی،همدا دی نرتوب وو؟
فرشاد- دا به دی هم ويلي وو چې تا څه وکړل صبا؟
فرهاد- څه يې کړی ها؟ستا په خير تللی چې بل واده وکړي؟ يا دا چې په تا يې لاس پورته کړی؟
صبا- ما څه نه دي پټ کړي،تا زه په سپيره ووهلم،ما هم خپل ځان څخه دفاع وکړه.

فرهاد په زړه کي وويل قربان دی د لاسونو شم، سم کار دی کړي دي.
سعيد- بس دی نور ټول لاړ شي..... غواړم صبا او فرشاد سره خبري وکړم
فرهاد-- خوو....
سعيد-- فرهاد خوو نه لري ومي ويل چې يوازی صبا او فرشاد... تا چې کومي خبري وکړي موږ واوريده اوس نوبت دی فرشاد دی.
سعيد فرشاد او صبا له ځان سره يوړه،غوښتل يې چې يو ځل بيا صبا راضي کړي،هڅه يې وکړه،مګر اوبه چې له اړخه تيري شي کنټرول کول يې ستونزمنه ده،صبا چې څومره دلته پاتي کيده هغومره زيات عذاب تيرو.

هغه له کاکا څخه غوښتل چې حق فيصله وکړی،او هغه خپله لاره معلومه کړی،
فرشاد- ګوره صبا ما غلطي وکړه ته يې مه کوه خير دی،راشه زموږ پاتي ژوند وژغوره.......هيله کوم...
صبا—څه غواړی ها؟ غواړې څه جوړ کړی؟
فرشاد- هر څه چې ممکن وی هغه کوم،ګوره هيڅ څوک له غلطۍ لری نه وی،منم چې خطا مې کړی،جبران کوم يی صبا مې،يوازی د جدای خبری مه کوه.
صبا- سمه ده منم چې غلطی دی کړی ده،او ودی منله چې غلطی دی کړی ده، ......-اوس غواړی چې خپله غلطې سمه کړی؟
فرشاد— هوو.
صبا-دی انجلی ته طلاق ورکړه چې بيرته لاړه شي....
فرشاد—څه؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا— یا د هغه طلاق او یا هم زما طلاق....
فرشاد— صبا خیر دی......زه تاسره مینه لرم نه هغه سره..
صبا—بیا ثابته کړه....طلاق ورکړه ورته...
فرشاد—نشم کولی خیر دی بیغیر له دی بل څه وښایه.
صبا— یا هغه یا هم زه .
فرشاد— صبا زه له تا پرته نشم کولی...خیر دی.
صبا—د رنګین په شتون کې زه هم نشم کولی..
فرشاد— هغه یتیمه ده،اوسیدو لپاره ځای نه لری چې بیرته لاړه شی،پریده چې د ماشوم صاحب شم په قسم خورم چې په همغه ورځ ورته بیل کور اخلم او هلته به اوسیږی.

صبا—چې هغه بی کسه وه زه یی هم بی کسه کړم...ته نه غواړی چې هغه اوس لاړه شي،چې خپل ژوند وکړی،وروسته له دی چې ستا ښځه شې،او بدبخته یې کړی ولی یې پریږدې؟
فرشاد— صبا مې..
صبا— مه کوه .....فرشاد......ته.....
صبا نشو کولی چې خپلی خبری پوره کړی،چې سختې ژړا ونیوله.
صبا— یعنی زه ستا لپاره هیڅ نه وم فرشاد،تا ماته لږ نظر کې هم ونه لیده؟. زما په شتون کې تا له داسې څا سره واده وکړ چې هیڅ نه وه، تا حتی هغه ته د خپلې میرمنې حیثیت ورکړ؟

فرشاد خپل لاسونه په صبا سر او په مخ باندی کیښوده، صبا وویل:لعنت به تا شه...
فرشاد—خیر دی صبا..
صبا—دا پلیت لاسونه دی لری کړه ...خدای په لعنت شی فرشاده. زړه کی دی راته اور بل کړو،او همدغه اور دی تا وسوځوی...
صبا خپلی کوټې ته لاړه او ځان پسی دروزاه بنده کړه،له سترګو اوښکی د رڼا په څیر تویدلی،ثنا صبا ته زړه ناارامه و،څو ځلی اړیکه ونیوله،ځکه هغه دی ځواب ورکول حالت کې نه وه،او موبایل یې بند کړو، ثنا مجبوره وه چې فرهاد ته زنګ ووهي، حتی ثنا هم فرشاد ته د خبرو کولو لایق نه لیده،

فرهاد- بلی
ثنا—بلی فرهاد جانه اوبخښه چې مزاحمه دی شوم.
فرهاد— کومه خبره نه ده ثنا جانی..
ثنا—صبا ښه ده؟؟
فرهاد—ښه کیږی، اندیښنه مه کوه.
ثنا—غوښتل مې چې راشم او له ځان سره بیرته راوړم،خو حسیب اجازه رانکړه.
فرهاد—ښه کار کړی دی،پریده چې تر څو مسله حل کیږی همدلته ښه ده.
ثنا—پام کوه فرهاد جانه،زما خور دی په امانت له ما څخه وړی ده،

فرهاد— زه خیانت کوونکې نه یم.
ثنا— پوهیږم،یوازی یو یاد واری وکړم....
فرهاد— د صمد کاکا سره دی خبری وکړې؟
ثنا— نه جرائت مې ونکړ،ریښتا نه پوهیږم چې څنګه یې خبر کړم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد— خدای مهربانه دی،هر څه به ښه شي.

ثنا—بیشکه

نن شپه هم تیره شوه، فرهاد په خپل ذهن کې د سبا غونډې ته کتنه کوله، داسې ښکاري چې هغه سبا بوخته ورځ لري،مګر زه پوهیږم چې فرهاد به یو غونډه کې هم برخه وانخلی،هغه ټول خپل خیالات یوازی دی لپاره هیر کړی و چې درد یې مغزو ته رسدلی وو چې هغه درد لټون کوه...

د لمر د را پورته کېدلو سره فرهاد لځان سره فکر کاوه چې ایا صبا به د طلاق وروسته بختوره شي؟ خوشحاله شي؟ که لدې څخه بتره شي څه؟ که و غواړی بل چا سره واده وکړي او لدې ځایه لاړشي بیا څه؟ دا هغه پوښتنی وه چې جواب یې د فرهاد سره هم نه وو فرهاد کرار د ځان سره وویل: نه دا ځل اجازه نه ورکوم څوک صبا ته ستونزه جوړه کړي او هغه خفه کړي دا ځل تا ته هم اجازه نه درکوم صبا چې خپل ژوند خراب کړې دا ژوند نور ستا ندې بلکې زما دی ...

په همدی فکرونو فرهاد لځایه پاسیده او د کوټې څخه ووت، چې همدغه وخت صبا هم د کوټې څخه را ووتل او دواړه مخامخ شول! داسې وه لکه چې صبا د فرهاد د راتلو انتظاره کاوه؟ فرهاد سلام وکړو او صبا د ژړا څخه په ډکو سترګو جواب ورکړو فرهاد صبا خوشبخت بلله چې حدقل په ښکاره خو ژړلی شی او خپل ستونزه خو بیان کولې شی..

فرهاد- غوښتل مې ستا سره خبرې وکړم.

صبا- اورم فرهاد..

فرهاد- ښه یې؟

صبا اه وباسل او کرار یې وویل: ښه کېږم.

فرهاد- هو ښه کېږی ټول شیان سم کېږی تشویش مه کوه.

صبا- کوم څه دې غوښتل ووایې؟

فرهاد- که دلته آرامه نه یې کولي شي زما اپارتمان کور ته لاړه شې،هغه هم ستا خپل کور دي،او یا که غواړې ثنا کور ته بیرته لاړه شې نو هلته به دی ویسم،زه نه غواړم چې تاسو د تیرې شپې څخه ډیر درد ووینې.

صبا- نن باید له کاکا جان سره مې خبري وکړم،وروسته بیا ځم....

وروسته بیا ځم دی کلیمي سره د فرهاد زړه بنیاد یې په لړزه کړو

فرهاد-- چیرته ځې؟

صبا- نه پوهیږم،شاید د ثنا کور ته لاړه شم،یا هم د خپل پلار کورته لاړه شم...

فرهاد- مګر هلته خو څوک نشته.

صبا- چاته ضرورت نه لرم.

فرهاد- مګر صبا ته نشي کولی په دي شرایط کې تنها اوسی،لږ تر لږه د کاکا کور ته تلو فکر ونکړې..

صبا-- یوازی اوسیدل راته بهتره دي.

دهغه د فرهاد تن ته اور واچاوه او ورو ورو د فرهاد له خنګ څخه تېر شو او روان شوه.دا ناممکنه ده چې فرهاد هغه ته اجازه ورکړي چې په یو کور کې تنها او بې سرپناه ژوند وکړي که د دې کار خطر لس وو، خو د فرهاد په نظر تر زرو زیات وو.

صبا....

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته د تورتمی او اوږدی شپې دومره وږي شوي وم،چې شايد معده مي خپل ځان خوري،هيڅ په ياد نه لرم چې ما په دی دوه ورځو کي کوم خواړه خوړلي دی،اوس پوهيږم چې څومره خوړولو ته محتاجه يم،پخلنځي ته لاړم،مخکی له دی چې ځوک راويښ شی خپل خواړه مي وخوړل،پرته له دې چې له چا سره مخامخ شم چې بيرته خپلي کوټي لاړه شم،مگر محبوبه ميرمن د تل په څير له ټولو وختي خوبه راويښه شوی،چې پخلنځي ته راغله.

صبا- سلام.
محبوبه- سلام زما نازولي لوري... څنگه يې د مور گرانی...
صبا- ښه يم مننه...
محبوبه- د خدای شکر دی....غواړې چې يو څه درته تيار کړم؟
صبا- نه...خپل قاب ته مې اشاره وکړه چې ومي خوړه ډوډي....
محبوبه- دارو دی شه.. لوري که نور څه غواړې چې درته تيار کړم...
کله کله د کاکا ښځي محبوبه مهرباني ته په حيرت کي وم،يعنی دومره مهربانه کيدل هم ممکنه وی،هغه ښځه چې ما لس مياشتي زغملی (برداشت) کولی نشو،او دی له ما څخه يي زيات عمر ورسره تير کړی،څه کيده چې ما هم لږ زغم (برداشت)درلودی؟

زه نشم کولی په خپله پريکړه باندي کلکه شم،کله مې زړه غوښته چې فرشاد وبخښم،او کله مې وجود اجازه نه راکوله چې وبخښم،زړه مې ويل چې وزغمه او کوم عذاب چې گورم،دغه عذاب لږ کم شي،لا شيبه به نه وه تيره چې خپلي پريکړي به په شاه لاړم،چې ما د مجبوريت احساس نه کاوه...

زه د پخلنځي له لارې دهليز ته ننوتم،چې نظر مې په فرشاد ولړيده. او هغه ورځې مې ياد ته راغلل چې د هغه په ليدو مي ناشته کوله او څه خوبونه د هغه سره ليدلي وو، مگر نن چې د رنگين له کوټي رابهر شو،زړه مي غوښته چې همدلته يي له ستوني ونيسم(خفک يي کړم)يعني زه دومره ارزښت هم ورته نه لرم چې فکر وکړې زه په بد حال کې وم،او کوم درد چې زه تيروم، فرشاد يوازې يو ښځه غوښته چې څنگ کې ورسره ويده شي،زړه مې د مينې د ورځو په انتظار پريښي وو،چې په تياره بدله شوه،يعنی زه ورته هيڅ وم هغه ميني دعوه يي دروغجنی وي؟

دا څنگه ممکنه کيدای شي چې مئين په ما وو او ويده شي له بلي ښځي سره؟ آيا رنگين له ما څخه بهتره ده؟خو ما رنگين هيڅ سمه ليدلي نه وه شايد له ما څخه بهتره او ښه اوسی،مگر مينه له بهتر او ښه سره هيڅ اړيکه نه لری. زه څه وکړم؟ زه ولي دلته راغلي وم؟ولی خپل ځان ته عذاب ورکړم، بايد زه لاړه شم،کومي لاري راغلي يم په همغه لاره لاړه شم، او دا زما اخرني پريکړه وه چې خپله پريکړه مي وکړه،بيرته لاړم خپلي کوټي ته لږ مې ارايش (سنگار) وکړو،چې شايد د ژړا اوښکي مې د د ارايش باندي پټ شي.نيم ساعت وروسته چې شور ماشوم شو له کوټي بهر شوم،اشتها مې نه درلوده،سلام مې وکړو،او د خواړو ميز ته په يو چوکی کيناستم
له ما وروسته فرح راغله او هغه وروسته فرشاد راغلو...

محبوبه ترور مورِ ټولو ته شيدو چای نه پيالې ډکی کړې،هر څه آرامه نظر څرگنديده،
فرح- موری فرهاد لالا څه شو؟
محبوبه- نه پوهيږم لوري شايد ويده وي.
فرح- لاړه شم ويښ يي کړم؟
صبا- کومه غونډه درلوده سهار وختي لاړو...
فرشاد د پوښتني په ډک نظر ماته راوکتل،شايد غوښتل يې چې پوهه شي،هغه کس چې اوس د ده دوښمن دی هغه په اړه زه ولې پوهيږم؟ ما هم ورته بی پروا وکتل،لا شيبه نه وه تيره شوي چې رنگين راغله،چې ټول توان مي له منځه لاړه،ليموی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ جامي اغوستي وی،چې له جلد سره يي ښايسته ښکاريده،خرمايی رنګ ويښتانو پای څخه د اوبو روښانه څاڅکي تويدل چې خلاص يې پريښي وو،....يعني دا جامي ورته فرشاد اخيستی وو؟

د ده اندام په اندازه....دا رنګ دی فرشاد خوښديه؟روښانه ارايش يي کړي و.يعنی فرشاد همدی اولي ورځي ورته خپل ذوق ويلي وو چي څه مي خوښيږي او څۀ مي بدي شي؟په ياد لرم هغه ورځي چې فرشاد به راته ويل ښايست مي په ساده ګي کي دي،ويلي نه مي خوښيږي چې ښځه مي زيات ارايش (سينګار) وکړی. د خوب په څير چې ما په خپلو غړولو سترګو ليدلو ،ټولي خبري مي راتکرار کړي (هغه ګوله چې زيات له لسو دقيقو څخه مې پۀ لاس کې نيولي و په خوله مې کړ او. له ميز څخه پورته شوم.

رنګين- صبا جان خير دی مه ځه...زه ځم.....نه مي غوښته چې خفه دي کړم.
صبا- زړه ته دی مه نيسه،ستا لپاره نه ځم،نه بايد هيچاه لپاره مزاحمه شم.
خپل ځان مي قوي ثابت کولو او کامیابه هم پکې شوم. کوټې ته لاړم دروازه مې بيا بنده کړه،نه پوهيږم چې ولي سترګي پټي کړم رنګين فرشاد په څنګ کې ګورم،يعنی دومره راته سخته وه،هغه ورځ په ياد کي شم چې مور مې ثنا ته ويلی دعا کوه...
چې شريکه کاسه دي وی .... چې کور شريک ولري خو خاوندی شريک نه.....
اوس په ښه توګه دی دمور په دعا پوهه شوم.. شريکه کاسه کولي شم چې بيله يي کړم..شريکه کور. لري يو ورځ نه يو ورځ به بيل کور به واخلي،او يا که ته وغواړي نو بيل به کړي کور..

مګر شريکه خاوند سره به څه وکړی؟نه چيرته هغه تلی شي او نه چيرته ته تلی شي
لومړی نمبر چې ما د خپل د اړيکو ليست په سر کې ترلاسه کړ فرهاد وو،چې زنګ مي ورته ووهلو.... لا يو ټلی زنګ پوره نه وو ورغلی چې فرهاد ځواب راکړ.....

فرهاد—صبا ښه يې؟
صبا—غوارم چې لاړه شم....
فرهاد—چيرته ځې....صبر وکړه چې زه راشم.... صبا.... اوری
صبا— هو اورمه....
فرهاد— خير دی چې زه نه يم راغلې تر هغهک"۳ح۷['چيرته لاړه نشې.
اړيکه مې پرې کړه، دا چې پوهيدم هغه زما په اړه انديښمن و، شايد ښه کار مې ونکړ، چې هغه مې ورخطا کړ،فعلاً اوس هم بيغير له هغه بل څوک مې ذهن ته رانغلو،پنځه دقيقې وروسته زنګ ووهه چې نږدی راروان يم،زنګ وهلو نه شل دقيقی تيری وی چې فرهاد راغلو،وويل چې کور ته نږدی يم غوښتل يې چې ځان مطمئن کړی چې زه په کور کې يم ،مګر په دی فاصله کې مې غوسه کمه شوه،د له امله چې هر دقيقه مې د فرهاد زنګ ليده شايد زما د ذهنی حالت وو،چې دروازه ټک ټک شوه،پوهه شوم چې فرهاد راغلو...

دروازه مې خلاصه کړه، موبايل په لاس له کوټې راوتم..
صبا—ثنا کره ځم...
فرهاد—ښه يې؟
صبا—هو....
له کور څخه بيغير له سوال او ځواب وتم،او د فرهاد موټر کی کيناستم،فرهاد هم موټر چالان کړو،او يوځای د اوښی کور ته لاړو فرهاد زه د ثنا د دروازې شاته د موټر څخه ښکته کړم چې نه فرهاد خبری کولی او نه ما ..... خو اخر هم له موټر څخه ښکته شوم چې فرهاد اواز وکړو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد–څو بجې درپسی بیرته راشم؟
ثنا–شپې ته دلته یم....غوارم چې له الطاف سره خبری وکړم...
فرهاد–صبا....
ثنا–هاا...

فرهاد–وایم چې بیا هم فکر وکړه....بیا هغه وروسته پریکړه وکړه... ژوند تباه کول له یوې دقیقې څخه زیات نه دي....خوو... (یو شبیه غلی شو) داسی نه چې یو ورځ پیښمانه شی چې په بیړه دی عمل یا پریکړه کړی ده.
ثنا–زه له خپلی پریکړی پوره مطمیٔنه یم....
فرهاد–سمه ده،که نور څه ته دی اړتیا درلوده،بیا ماته زنګ ووهی...

صبا د خپلی خور په مرسته بلااخره جرائت وکړ چې مور او خپل ورور ته د پیښو په اړه پوره کیسه وکړی. هغه مور چې د خپلې لور لپاره له لرې اوښکو تویولو پرته بل څه نه شو کولی ،الطاف هم صبا ته دلداری ورکوله،هیله وکړه چې له فرشاد سره یو ځل بیا خبری وکړی چې صبا مخه ونیوله (منعه یی وکړه) خپله اخری پریکړه یی مور او ورور ته یی واوروله. اصیلا..یوازی ژړل،پوره اطمنان سره به صمد څخه به دا خبری نه پټی وی او اوس اصلي کیسه پیل کیږي، د کورنۍ تاوتریخوالی......

سعید د صبا د لیدلو لپاره د ثنا کور ته راغی او ټولو ورته د معمول په څیر ښه راغلاست وواېه. که څه هم سعید هڅه وکړه، چې صبا کور ته لاړه شي، خو بریالی نه شو او د صبا وروستۍ خبرې طلاق وې او بس.. او په دې وروستیو کې صبا له خپل تره وغوښتل، چې له فرشاد د هغې طلاق ورته ولېږي.کله چې سعید کور ته ورسېد، فرشاد ته یې غږ وواهه فرشاد خپل پلار ته ورغی.
فرشاد- ها پلار جان
سعید- زما کوټې ته راشه ...
دوی دواړه یو بل ته مخامخ ناست و او سعید ورته وویل: اوس چې تا د خپل ژوند ټول اړخونه په خپله پریکړه کړې، نو باید له پایلو راضي اوسې.

فرشاد- پلار جان..
سعید- یوازې واورئ کله چې زه خبرې کوم ... -
فرشاد- بخښنه غوارم
سعید- تاسو زما لپاره د ټولو خلکو په وړاندې مخ پرینښودو، نور زه نشم کولی خپل ورور ته زنګ  ووهم، تاسو هغه څه وکړل چې تاسو یې غوښتل او په پای کې یې نادیده نیسی .
فرشاد- ما د مور...
سعید- ستاسو مور،جلا حساب لري ... دا د هغې لپاره وخت دی چې هغه حساب ورکړي چې څنګه یې کولی شي په خپله زړه دومره لویه پریکړې وکړي.

فرشاد- زه بخښنه غوارم پلاره، زه پوهیږم چې ما یوه غلطي کړې او زه باید د هغې لپاره تاوان ورکړم.
سعید- هغه ورځ دې یاد دې چې تا راته محبوبه رامخکې کړل ترڅو صبا درته وغوارم؟
فرشاد- هوو.
سعید- ولې تا هغه ورځ خپل مور ته ونه ویل چې راشی او زما سره خبرې وکړې؟  ولې دی د محبوبې څخه مرسته وغوښتل؟
فرشاد- ځکه چې مور مې صبا ډېره نه خوښېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سعید- کله چې ته پوهیږې چې صبا ستا د مور خوښه نه وه نو ولې دې ورسره واده وکړ؟ ولې یې څوروې، ولې پرته له د ټولو بی خبر ولاړې او یو بله نجلۍ دی راوړه او واده دې ورسره وکړو ؟

فرشاد- پلاره ما یوازې د مور خبره ومنل.
سعید- د مور حساب دې پرېږده وروسته تا چې اوس خپل په سر پریکړه کړې باید پایله هم وګورې، ته باید صبا ته طلاق ورکړې. ترڅو هغه چې څنګه غواړې ژوند وکړې.
فرشاد- پلار.....
سعید- یا به ته هغې ته خپل په رضا طلاق ورکوې یا به په زوره درنه طلاق واخلی ....
فرشاد- زه غوارم له صبا سره خبرې وکړم
سعید- زما او د صبا وروستۍ کلمه طلاق ده. نور زما د کوټې څخه ووځه.

کریمه...

سعید خپل د وراره له کوره راوګرځېده او تندي دری من تروش نیولې وو. او په ببره یې له فرشاد څخه وغوښتل چې ورشي.هغوی څه وویل: نه پوهېږم، خو د فرشاد وروسته زما وار و او اوس باید زه د دې ټولو کارونو حساب ورکړم.. له کومه مې پیل کړی واې؟ زه څه وایم؟ سعید دا ځل په زوره چیغې کړې...
سعید- کریمې..
کریمه- ه...... ها...
همدا چې زه د کوټې دروازې ته ورسیدمذد سعید قهرجن غږ پورته شو.
سعید- خپل د زړه ارمان ته ورسېدی؟ خپل د زوی کور دې وران کړ، زړه دې خوشاله شو؟

کریمه- کور مې نه دی وران کړی، ته د هغیی کور خراب کوی سعید خپل په دی کار. چې په زور یی طلاق اخلی.
سعید چیغې کړی او ویې ویل: تا بد وکړو ولی دی په پټه واده ورته وکړ؟ تر اوسه د صباد لاسونو او پښو نکریزي نه وه پاک شوی او تا وربانديې بنه راوسته؟ او اوس زما په سترګو کې خاورې اچوي...؟
کریمه- ته هسې خبره غټه وې ما او محبوبې ته وګوره.
سعید- ستا او محبوبه څه؟ زما خوله مه خلاصوه ځکه زه ستا د عمر لحاظ کوم زما په اوږو مه سپریږه تاسو زما له اجازې پرته یو حشره کور ته راوړئ. هغه وخت ګیله له ځان وکړه. زه تا ته اجازه نه درکوم چې په خپل زړه هر کار وکړې.. البته، نور څه کولو ته پاتې هم ندې چی تا کړی نه وسې!

کریمه- خو....
سعید- دا نازدانه زوی دې پوی کړه چې نن شپه ځی او صبا به طلاق ورکوی له هغه پرته نور زه پوهېږم او ته او هغه... (فرشاد)
کریمه- سعید جان، مه غوسه کیږه، ستا قرباني شم. زه خپل پوهېږم چي صبا غوسه ده خو څو ورځی چی تیر شی عادت کوي.
سعید- کریمه ما خپل خبره وویل زوی دی چمتو کړه چې څو صبا ته طلاق ورکړي، یا هم چمتو یې کړه ترڅو چې مور طلاق دی واخلی..
کریمه- ته څه وایې سعید جان؟
سعید- هغه څه چې ته یې اورئ، تاسو راته نه مخ پریښودو او نه عزت زه مو د ورور مخته په دو روپو کړم.

فرهاد....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماښام کورته راستون شوم، پښې مې مرسته نه کوله، نه مې غوښتل چې صبا ته ټوله ورځ مزاحمت وکم ، خو زره می قرار نه درلود هر دقیقه بهانه یی کوله هغه یی غوښتله او. داسې نه چې زه غواړم چې مینه وکړم، زه یوازې د هغه د حالت په اړه اندیښمن وم، ما د پلار زنګ راغی او اوکی می کړو

سعید- بلی ، فرهاد، چیرته یې؟

فرهاد- په دهلیز کی ...

سعید- ښه ده، چي راغلي، دننه راشه، زه غواړم له تا سره خبرې وکړم.

تلیفون مې قط کړې او مستقیم د پلار خونې ته لاړم، ما هیس وخت پلار می دومره اندیښمن نه وو لیدلی زه هم مخکي ولارم او سلام می واچول. پلار علیک وویل او د خبرو اصل مطلب ته لاړو..

سعید- کاکا ښځه دی نن څو څو ځله زنګ وواهه او شاید په دې ورځو کې به بېرته راشي، که څه هم ما صمد ته څه نه دي ویلي، خو دا مسله نه ده.چی پټ وي، څوک به یی د دې حالت څخه خبر وي.

فرهاد- ښه زه څه کولی شم؟

سعید- زویه ، زه یوازې غواړم چې ته ارامه اوسې او داسې څه مه کوه چې موږ شرمنده کړی ... فرشاد ستا ورور دی او بدي یې ستا بدي ګڼل کیږي.

فرهاد- ما څه کړی؟

سعید- تا څه ندې کړی زویه، زه غواړم چې ته خبر شې چې صبا ته به له فرشاد څخه طلاق واخلم او لکه څنګه چې ستا خوښه وي صبا خوشی کوم ، خو په بدل کې باید چوپ شی او داسې څه مه کوه چې بې عزتي وکړي... دوه وروڼه په بد واوړي.

فرهاد- سهی دی پلاره .... خو...

سعید- نن شپه به له فرشاد سره ځم چې صبا ته لومړی طلاق ورکړم.

فرهاد- زه هم ځم پلاره...

سعید- خو...

فرهاد- ژمنه کوم چې څه به نه وایم....

سعید- سمده مګر ته باید له مسلې څخه لرې اوسئ، هځه مه کوه چې د صبا څخه ډیر دفاع وکړئ، زه به د صبا لپاره پخپله پریکړه وکړم.

فرهاد- که صبا راضی وي، زه د ویلو لپاره هیڅ نه لرم، پلاره ... مګر مه پریږدئ چی صبا بی کس شی..

صبا....

له اته بجو تیر ویی چې کاکا سعید له فرهاد او فرشاد سره دلته راغی، مېرمن شهلا او لورګانی یې مېلمه پالنه کوله او زموږ د هوساینې لپاره حسیب له خپلې خور او پلار سره مونږ یوازې پریښودل نیم ساعت کاکامی لګیا و او له یې غوښتل چې زه کور ته لاړه شم او ما هر ځل ورته یوه خبره تکرار کول (طلاق)

سعید- زه پوهیږم ستا خبره نه بدله کېږی مګر بهتره به نه وې چې خپل کور کې دا مشکل حل کړو؟ راځئ چې هلته لاړ شو او تر هغه پورې پاتې شو چې ستا پلار راځي ... وروسته، که بیا هم ته طلاق وغواړئ، ته کولی شئ جدا شي زه به پخپله ستا طلاق واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ثنا ته وکتل، هغې يوه خبره هم ونه کړه، او ميرمن شهلا د هغې له چوپتيا څخه ډېره راضي وه، يا يې نه غوښتل چې زموږ د کورنۍ په چارو کې مداخله وکړي.
صبا- ښه، که طلاق راکوې نو نن شپه دې يو طلاق راکړې.

فرشاد ...

سترگې مې وترلې، نن مې خپل د مور خبرې ياد ته راغلل د مور اوښکې مې چې په ژړا ژړا کې صبا ته د لستوڼی مار او شيطانه ويل، باور کول يې سخت وو، خو د مېرمن کريمې خبرو او ژړاو تاثير وکړو او فرشاد خپل د پلار خبره هم ياد ته راغلل چې ويلې وه که تا طلاق ورنکړو نو زه به دې مور ته طلاق ورکړم.. فرشاد فکر کاوه دا ټول مصيبتونه د صبا له لاسه دي نو ځکه په ډېره غوسه يې وويل: زه به تاته طلاق درکوم صبا...ته طلاق يې....

فرشاد دا جمله په ډېره غوسه وويل او له کوټې ووت. فرهاد او سعيد صبا څخه وغوښتل چې د پلار تر راتگ پورې له هند څخه د خپل تره کور ته راشی او فرهاد فکر هم له صبا د خيال ارام کيدل ، ثنا په دې اړه کوم خاص راضي نه و. مگر صبا د خپل تره خبره له پامه ونه غورځوله ځکه فرشاد د خپل تره له وعدې سره سم صبا ته طلاق ورکړ.

فرهاد...

صبا بيا له مور سره کورته راوست، خو دا ځل زما زړه قرار نه درلود، زما زړه د پخوا په پرتله کمزوری ښکارېده. کاش چې په ما کې واک واي او زه به هغه يوازې له هرچا څخه لرې ځای ته وړلې شوم کاش چې د خلکو خبرې مهمې نه وې ځنگه چی می زړه غوښتل له صبا څخه می محافظت کول ژوند زما ناوکی دومره خپل شکنجه کی نيولی وه. د وخت په تيريدو سره هم نه خندل زما پلار د هغه سره موټر شاته ناست وو او هغه ته يی ناز ورکول ما د شا د شيشې له لارې ليدلی شم، د هغه شونډې سپيره ښکاري، ويښتان يې لږ شوي وو ، يا شايد هغه نور خندا نه خوښوي.

حوصله د جوړولو د ويښتانو نه درلود او پوستکی يې د غنمو په شان ژيړ شو. ببر وريځی چی معلوميدل په مياشتو ندی اصلاح شوي. هغه له غمونو ډک وه هغه په خپلو غمونه کی او زه د هغې په فکرونو کې ډوب کور ته ورسېدو او پلار مې صبا کور ته ورساوه او خپل ځنگ ته کېنوله او چا د خبرو جرعت نه درلود او فرح چای راوړل او موږ ټولو په گډه هغه د زهر په مثل چای مو وڅښلو چې د رنگين راغله او د کريمې مور تر ځنگ کيناست. کريمې د رنگين پر سر لاس تير کی او نازي يی ورکو او له هغه شيرينی مننه وکړه چې تيار کړې يې وو.

د صبا سترگې لندې شوې او د هر څه لپاره يې چی پری راغلی وه قسمت ملامت کړ. پر هر دليل می صبا ته کتلو هيس فرصت می نه پريخودل چې شايد هغه فکر وکړي چې زه هيڅ نه يم او شايد هغه ماته د مينې په سترگو ونه گوري، خو هغه کله چې زما نوم يادوي او بی صبرانه له ما څخه پوښتنه کوي. هغه ترحم خپل پر ساده زړه حساب کوم او له خپل رحم څخه راضي يم

ما نه ليدلی او نه می کړی ده عاشقی
ستا څخه هر څه زړه راښکونکي دي، جار صنم...

فرشاد د خپلې مور سره د هغې ژمنې په وړاندې ځان مسؤل گڼلی و، چې هغه ژمنه ورسره ترلې وه، هغه ژمنه چې د ژوند بنسټ يې خراب کړ. د صبا مينه يې له لاسه ورکړه ځکه صبا احساس کړه چې فرشاد رنگين يې پر خپل ځای غوره کړی، دواړه پښې يې په يوه موزه کې کېښودلې او د طلاق غوښتنه يې وکړه، صبا چې لس ورځې وړاندې يې د مور کېدو خوبونه ليدل، اوس د خپل نامعلوم راتلونکي په اړه فکر کوي. فرهاد بيا کور ته په راتلو عادت شو او کار ته ځي او بيا کور ته راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څو صبا څه ته اړتيا ونه لري. صبا دوه اونۍ هره ورځ له خپل مور او پلار سره خبرې کوي او ځان له ژوند څخه راضي ښيي او نن يې خپلې اوښکې نه شي پټولی ځکه خبر يې ترلاسه کړ چې درې ورځې وروسته د پلار عمليات کيږي او تر عملياتو وروسته کابل ته به راځي..

فرشاد چې د خپل کوټې ته د ننوتو اجازه نه درلود د کور مېلمستون په کوټه کی د رنګين سره ګذاره کول رنګين د خپلې نوې کورنۍ سره د رضايت او نږدېوالي لپاره هرڅه کول. هغه تر نورو ډېر معصوم او تر ټولو ساده و، حتی په همدې مېلمستون کې هم راضي و او يوازې يې غوښتل چې دا کورنۍ دې بېله نه شي. خو په دې سادګۍ سره هم هغې د فرشاد غوښتنه ونه منله ځکه فرشاد ترې وغوښتل چې ماشوم وزېږوي او صبا ته يې ورکړي. بيا هغه کور ته چی فرشاد يې مصارف ورکړي لاړه شي او د دوې ژوند پرېږدي..

صبا...

بايد د ژوند تريخ خوند ومنئ د ژوند هره لحظه به په تريخ خندا تير وله ما نه شوای کولای اجازه ورکړم چی نور څوک فکر وکړي چې زه بيچاره يم، د شپې تر سهاره به مې ژړل، خو بله ورځ مې له کوټې څخه په ښکلي آرايش کی بهر ته تلم چې هيڅوک ونه وايي چې د بنه له غم يې په تدريجي ډول له منځه يوړل، زمونږ ټول خپلوان او ملګري به د فرشاد په دويم واده خبر شول. او دوی هره ورځ راتلل، يو د مبارکۍ لپاره او بل يې د تسليت لپاره. چی زما زره آرام ول په دې موده کې فرشاد څو ځلې له ما څخه وغوښتل چې ښښنه وکړم او غوسه پرېږدم،خو زړه می دبره جوړه شوي وه او د هغه تېروتنې نه شم کولی چی تير شم..

کاش چې له ما څخه يې پوښتنه کړې او بيا واده کړی وای، کېدای شي ما به اجازه ورکړې وای چې له پوهېدو پرته لاړه شي او بله ښځه پيدا کړي. مېرمن کريمه چې رنګين په هرو دوو ورځو کې ډاکټر ته لېږي، د خپلې ناوی د ښه خبر د اورېدو په تمه وه.له کومې ورځې چې دې کور ته راغلی يم، غوښتل مې چې يوه ورځ د تره له مېرمنې ځان خلاص کړم او يوه ورځ ارامه ساه واخلم، خو څه وکړم چې داسې دعا قبوله شي؟

ما غوښتل چې هغه زما رد پرېږدي ترڅو د هغه خبرې د طلاق لامل شي. زه د طلاق د پايلو څخه خبر وم، زه پوهيدم چې زما ژوند به د پخوا په څير نه وي. ما بله چاره نه درلوده خو زه څنګه دا زغملی شم چې دوی ټول په نابېره توګه ولوستل او بل سوک يی زما څخه برتری ګنلی وايی او له ما څخه به لوړ کيني. د فرشاد په وينا، زه مغروره وم او دا غرور مې ځمکه ته وهي. هغه منم چی زه مغروره وم خو کاش داسې څوک وي چې زما د غرور قدر وکړي او زما د ښېګڼې د غوښتلو پر ځای زما سره مينه وکړي او زما بد کارونه مخ ته راوړي. که ما کومه ستونزه درلوده، کاش چې د وخت په تيريدو سره به مې منلې وای، نه دا چې دوی به هغه درد درې چنده کړي چې ما باندي بنه راوړی..

هره ورځ مې حساب کړې وه، تر څو تحمل او صبر مې زيات شي. عادت شوم چې فرشاد د رنګين تر څنګ ووينم او دا راته ومنل شوه. مور ټولو په يوه ميز ډوډۍ وخورو او يو ځای کېنو، تره مې خپل کار ته لاړ او فرشاد او فرهاد دواړه هم تلل کار ته.

د کاکا مې دواړه ښځې فرح او رنګين په کور کې و. او زه تر ټولو لرې وم. ډيری وخت زه په خپله کوټه کې بندي وم. او نه مې غوښتل چاسره مخامخ شم. نور مې زړه درس ويلو ته هم نکيدا. زړه مې د انسټيټيوټ څخه هم بد شوی بس هر چا بې معنا همدردي کوله او ځينو ملنډې وهلې. پخپله هم پوهيدم چې دوست او دښمن نلرم خو د ټولو لپاره يو مضمون شوې وم. صبا چې يوه کلنه ناوې وه بن يې پرې راوړه.او تر ټولو بد تهمت چې زمونږ د خپلوانو لخوا په ما شوی و، پرون مې د يو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه واوربدل چې دوی زما تر شا ویل چې صبا ناپاکه وه او فرشاد یې له کاره خبر شوی وا او دا چې له شره یې خلاص شي دوهمه ښځه یې وکړه. ما وخندل او خبره مې په خاموشۍ بنده کړه.

دا صبا هغه نه ده چې پخوا وه. که زه د پخوا په څیر وای، چا چې دا خبرې کړې ټوټې ټوټې مې کولو. ولې د چا لپاره به مې خپله پاک لنمي ثابته کوله؟ د هغه چا لپاره چې صلاح یې ونه ګڼله چې له واده یې خبره شم. نو پرېږده چې خبرې وکړي او خپل زړونه خوشحاله کړي.

فرهاد...

دل‌باخته‌ی.....چشم‌سیاهش
قدبلندش....اخم‌جادویش

شده‌این‌دل‌دیوانه‌ی‌ما

دې زړه مې بیا د صبا لپاره بهانې کولې، شپو او ورځو مې یو ځل بیا رنګ اخیستی و. احساس مې کاوه دا چې صبا له بند څخه خوشې شي کولی شم هغې سره خوشبخته شم، زه یوازې د هغې لپاره د خپل پلار کور ته په هفتو راتلم او حتی یو شبه هم خپل اپارتمان د تلو په فکر کې نه یم. او له دې امله چې زه سبا د هرې ورځې په پرتله ښه وینم، زما زړه خوشحاله وا. لږ تر لږه سترګې له اوښکو ډکې ندي. هره ورځ فرح ته وایم له ښوونځي څخه راتلې صبا تنها پرینږدې.

او له مور څخه مې هم غوښتنه چې د کاکا ښځه مې پرینږدي صبا وځوروي. که څه هم پلار د هغه په حساب رسیدلی. او شاید د هغو خبرو ډار دی چې د صبا خواته نه ځي. فرشاد هم د خپلې نوې ښځې سره دی شاید د ظاهراً به داسې وي یا یې په ریښتیا د صبا نه لاس اخیستی. نن هم زر کور ته ولاړم څنګه مې چې مور دروازه خلاصه کړه سلام مې وکړو او د صبا د کوټې په لور روان شوم چې وګورم څه حال لري. شاید عادت مې کړی وي چې له راتګ وروسته د صبا عبادت وکم، او له حال نه یې باخبره شم. کله به یې دروازه خلاصه کړه له نیژدې به مې ولیده او کله د دهلیز په نیمایي کې او لږ لږ به یې کوټې ته تلم. او یا هم کله کله به هغه د انسانیت له مخې یا هم زما د حق ادا کولو له مخې زما کوټې ته راتله. چې نن مې مور مانع شوه. او پرېښښودم چې د صبا کوټې ته ولاړ شم.

محبوبه- زویه صبر وکه.....
فرهاد- ولې خیرت دی مورجانې؟
محبوبه- راشه زما کوټې ته فرهاد مې خبرې درسره لرم.
فرهاد- څه شوي دي؟ په صبا؟؟؟
محبوبه- هیسس غږ د ټیټ کړه او راځه.
مور مې زه لاس نیولی د خپلې کوټې په تخت کینولم او بیا یې په خپله دروازه بنده کړه او تر څنګ مې کیناسته
محبوبه- فرهاد مې... ښایسته زوی مې...
فرهاد- بلي مورجانې

محبوبه- ماشاءالله خپله هوښیار یې او په ټوله موضوع پوهیږې اړینه نده څه وویم. خو مور یمه او زړه مې طاقت نکا...
فرهاد- ووایه مورجانې اورم... کوم څه شوي چې زه بې خبره یم او یا هم کومه تیروتنه مې کړې چې ته پرې خفه شوې یې؟
محبوبه- نه خدای دې نکا زویه.... فقط وایم که خفه کیږې نه له صبا نه لرې اوسه...پرېږده نجلۍ ارامه ساه واخلي
فرهاد- ولې؟ صبا کوم مشکل لري؟ بد کار مې کړی؟ کومه خبره مې کړې چې صبا ناراحته شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبوبه- نه نه هغې څه ندي ويلي د مور گرانه.... خو د کور وضعيت ټولو ته مالوم دی. چاته وخت مه ورکوه چې په تا او صبا پسې خبرې تهمت کړي. د دواړو لپاره بد کيږي.صرف وايم د بې ځايه خبرو لپاره. زمينه مه مساعده کوه زويه..
فرهاد- چا څه ويلي؟ واضح ووېه چې پوی شم مورجانې.. که چا څه ويلي هم نه وي نو په زړه کې دې دا خبرې مه پيدا کوه.. صبا مې د کاکا لور ده او که وغواړم چې احوال يې واخلم چاته اړه نلري.

محبوبه- زويه ته خپلې خبرې کوې خو صبا څه؟ د هغې لپاره ولې مشکل جوړونکی شې؟ځيني په خپلو ناحقه خبرو هغه بېچاره ارامه نه پرېږدي...
فرهاد به غصه شو او وې ويل: چا څه ويلي مورې....
محبوبه- هيسس فرهاد جان د مور گرانه کرار.
فرهاد- نه داسې به نه وايې بايد زه په خپله د صبا نه واورم...
فرهاد په بيړه د خپل ځای څخه پورته شو د صبا د کوټې په طرف روان شو.... صبا، چې غم يې د څو دقيقو لپاره خپله لاره ورکه کړې وه او خوب ورته راغلی و څو لږ ارامه شي خو هغه ارامښت هم فرهاد ترې غلا کړو.

فرهاد- صـــبـــــا....صبا...
صبا- بلي...
صبا په ډير ډار سره له خوبه پورته شوه او بلي يې وويل.
فرهاد- تا ته چا څه ويلي ها؟
صبا د فرهاد دې اخلاقو ته ډيره حيرانه شوی وايی که د فرهاد پوښتنی ته؟ صبا بغير د جواب ورکول په فکر کې غرقه شوه او ميرمن محبوبه راورسېده.
محبوبه- وښه لورې خوب ته يې پرېښودې..راځه فرهاد مې ولاړ شو بده ده نجلۍ پريږده چې استراحت وکړي..
فرهاد- ويده د شي زه کار نلرم فقط د هغه نوم د واخلي...

صبا- کوم نفر؟
فرهاد- څه پوی شم چا درته څه ويلي؟
صبا- څه يې ويلي؟
فرهاد- توبه خدايه په خبره نه پوهيږې؟ وايم چا درته څه ويلي؟ چا بده خبره درته کړي؟ولې د ورځې پدې وخت کې ويده يې؟ څه مشکل لرې؟
محبوبه- فرهاد مې ورو هيله کوم..
صبا- محبوبې خاله کوم څه شوې؟
محبوبه- هيڅ لورې وبخښه، فرهاد لپاره مې د نن ورځې کيسې کولې چې د خولې څخه می نن د مسعودی خبره و فرهاد ته ووتل...

د صبا سترگې له اوښکو ډکې شوې تازه پوهه شوه د چې فرهاد غصه کيدل د څه لپاره دي. صبا د فرهاد خواته وکتل او بې قراري يې درک نشوای کړی خو غريبو پدې وا چې دا تمه يې د فرشاد نه درلوده نه د فرهاد. غوښتل يې خاوند يې له پاک لمنۍ دفاع وکړي. خو برعکس فرهاد وا چې د هغې لپاره غصه شوی وا او د هغې درد يې خپل گڼلو. صبا په زړه کې ويل، وگوره، فرهاد زما لپاره د رحم له مخې جگړه کوي، په داسې حال کې چې فرشاد خپله مينه پريښوده. لدې څخه بدتر هم څه کيدل؟

فرهاد: مسعوده....؟ هغه نو څوک ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبر...صبر.... د محسن میرمن یادوئ؟ هغې دومره جرئت وکا چې دومره غټې غټې خبرې کوي. پوهېږم چې څه وکم ورسره...
محبوبه- فرهاده خبره مه غټوه... د مور ګرانه د خلکو خوله بندیدونکې نده. خبره لدې بدتره کیږي.

خو چیرته وه د اوریدلو غوږونه؟ فرهاد خپل سر ټیټ کا او پداسې حال کې چې ځان سره لګیاو وو او بد رد ویل د دهلیز خواته ولاړ او صبا ورپسې شوه.
صبا- فرهاد هیله کوم ودرېږه...
د معشوقې غږ وا چې په بند کې یې بندي کا او قدمونه یې کم کړل. فرهاد په ځای ودریدا او د صبا خواته تاو شو.
فرهاد- کوم څه غواړې؟
صبا- چیرته ځې؟ غواړې د هغه خلکو د دروازې شا ته لاړ شې؟
فرهاد- هو.

صبا- ښا نو څه لاسته راوړې؟ پرته لدې چې د خلکو خبرې زیاتې شي؟
فرهاد- ضرورت شي د ټول کابل د دروازو شا ته ځم او د ټولو خوله بنده وم ترڅو بیا چا پسې بیځایه خبرې ونکړي.
صبا- مننه کوم فرهاد چې زما په فکر کې یې، خو ضرورت نشته د خلکو د لارې سر ونیسې هر څوک خپلې خبرې کوي او ځي. ضرور نه وینم چې د ټولو خلاصې خولې وتړم.
فرهاد- صبا...
صبا- تلل دې زما مشکل ډیروي. ما پسې یې خبرې کړې. خدای مکړه ستا نوم هم...

فرهاد په زړه کې وویل: نوم مې څه چې ځان مې هم درنه قربانوم، کافي تا خوشاله ووینم. خو ویې ویل: خولې یې ماتوم چې نوم دې په بد یاد کړي.
صبا- اړینه نه وینم. پریږده هر څه چې دي وي دې. د هفتې په اخر کې الطاف راځې او لدې ځایه ځم...
فرهاد- چیرته؟
صبا- مور دوی مې باید دلته راغلي وای خو الطاف د راتلو اجازه ونکړه. هغه راځې او ماسره ځي د مور دوی ته مې ځو. نو ځکه اړینه نده ځان دې د خلکو خولې ته واچوې هیله کوم.. که ډیره پاتې شم تنها همدا هفته به وم او بیا مې طلاق اخلم او هند ته ځم.

عشق ای آتش زن دنیا و دین
ما دگر هستیم خاکستر نشین...

د فرهاد زړه د صبا په خبرو ولړزیدا. څنګه کولی شي په دومره ساده‌ګۍ سره د تلو خبرې وکړي؟ دا ځل که د فرهاد زړه مات شي نوره لار نلري چې تر ابده ژوندی پاتې شي. فقط د صبا لپاره، د زړه ټوټې یې سره یو ځای کړې او یو ځل بیا یې د ژوند کولو کوشش وکا.

وای صبا څومره خودخواه یې...
وای پر تا اې د مینې کافرې،
وای پر تا اې ظالمه یار،
څنګه د وکولی شو چې د فرهاد هستي د بربادۍ په لور ورکړي، حق نلرې د هغه د زړه درزا واخلې.. حق نلرې فرهاد د نسیتۍ خواته کش کړې...
شاید ما تیروتنه کوله، صبا هر ډول حق یې درلود. هر ډول... حتی د زنده‌ګۍ د سوزولو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسه شوه ورانه یارمي وبایللو
وژنم دې ځانه یـار مــې وبایللو

ته مې پوره نکړې بخښنه غوارم
د زړه آرمانه یـــــار مې وبایللو

راته د صبر تـــــعویزونه وکړه
وه ملا جانه یـــار مــې وبایللو

قسمته ټـولې لوبــې تا راوکړې
ته شوې ناځوانه یار می وبایللو

فرهاد نورې خبرې ونکړې او د هغې لارې نه چې شاید په یاد یې هم نه وه څنګه راغلی و د موټر خواته یې ولاړ. په خپله تنهایۍ کې یو ځل بیا غرق شو او سره لدې چې تمه یې نه درلوده صبا ورسره مینه ولري. فقط یې غوښتل د صبا تر څنګ پاتې شي او له هغې څخه ملاتړ وکړي.

- څومره ساده دې د تلو فکر وکا نجلۍ...
- ینعي هیڅ شی ستا لاره نشي نیولی؟
خپل حماقت مې وا څنګه مې دا فکر وکا چې وروسته له جدایي دلته پاتې شي، هغه خپل ځانګړی ژوند لري او که اوس ولاړه شي بیا هیڅکله نه راګرځي...
صبا... ای کاش کولی مې شو چې په نه تلو دې مجبوره کړم..

فرشاد...

مور مې یو وار بیا یو آفت زما او د رنګین په ځان را اچولی هره ورځ په یوه نوې بهانه مور ډاکټر ته بیایي واقعاً چې نور ستړې شوی یم ډاکتر ته د تګ څخه، د خوب لیدو څخه، له لاسه ورکولو څخه، له خدایه مې غوښتل چې کاش زر د اولاد څیښتن شم او هغه مې مور ته ورکم او د صبا سره یو لرې ځای ته ولاړ شم. او یا هم رنګین ولیږم چې ولاړه شي ګني بغیر لدې مجبور یم چې د صبا نه جدا شم. هغه صبا چې اوس مې ارزښت ورته هیڅ دی.څو هفتې کیږي چې آن مې مخ ته نه ګوري. په یو کور کې د پردو په شان ژوند کو. حتی زما کالي چې زمونږ د دواړو په کوټه کې و د کوټې نه ایستلي او د مور په لاس مې ورکړي...

ای کاش یوه معجزه شوې وای او صبا مې تر څنګ پاتې کیدو ته راضي شوې وی. کاش ما هم کولی شو د پلار په څیر مې دوې ښځې یوځای وساتم. نه دا چې د پلار کیدو او د مینې تر منځ یو انتخاب کړم. خو نشوه او نه کیږي. زما صبا دومره خودخواه ده چې د مور اوښکې او زما زاری یې نالیدلې ونیولې. هر وار مې چې غوښتي د صبا خواته ورشم هغې پرېښی یم.

حتی نن مې چې د پاتې کیدو لپاره زاری وکړې.. هغه له زینو څخه پورته تله، د فرح له خبرو هغې خپل شیان ټولول څو د ثنا خور کور ته یې ولاړه شي او له هغه ځایه هند ته....
فرشاد- سلام..... امممم د سلام ځواب کول....
صبا- اړینه نده چی راته سلام راکړې....

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- صبا هیله کوم د ماشومانو په رکم ضد کول پریږده.. غصه دې کمه کړه چې خبرې وکړو...
صبا- زه کومه خبر نلرم چې....

فرشاد- زما ګلابو مې هلیه کوم...

صبا....

کاش چې زه مړه وایی او دا ورځ می نه وای لیدلی، فرشاد زه په ناچاري که ګلابو مې نه وایی ویلی هر ځل چی ماته د ګلابو مې غږ کول زما په سترګو کې روښاني راښکاره شوه چی زما د وجود رګ کی جریان درلود. د هغه د ګلابو مې په ویلو زما په شونډو تل موسکا خوره کیدل زه د ځان مینه کولم زه دا منم چې زه دومره روږدی وم ستا د هغه ګلابو مې ویلي لپاره زړه می غوښتل هر ځلی قربان شم خو دا زموږ د دواړو تالو ترخې وه چې چوپتیا یې نوره هم زیاته کړه. د هغه ګلابو مې په ویلي د تل پشان نور زما په خوله موسکا را نه وړه بلکې زه یې نوره هم ماته کړم.

زما زړه د هغه لپاره وهل شوی و، یا ما احساس کاوه چې دا یوازې د هغه لپاره دي هغه زه په ناز او په زړه نیولی وم او ماته هم بل لاره بیله فرار نه وو پاتی هغه له ما څخه د پاتې کیدو غوښتنه وکړه، مګر هغه نه پوهیده چې زه له دی یوازې دا غوارم واورم چې هغه له رنګین سره جلا کولو ته چمتو دی. ما غوښتل له هغه سره واوسم، خو نه غوارم چې خپل خاوند بل چا سره شریک شم، هغه زما زړه له تیکی بولی ، او زه هم نه شم ویلای، چې څو شپې مې ژړلي، ځکه چې هغه په کوټه کې نه و.او بله ښځه سره وو د غرور بحث جلا دی او د دې ژوند بحث جلا دی.

ما تمه درلوده چې د پښیمانی کلمه واورم. کاش چې فرشاد یو ځل ویلي وای چې رنګین ته به طلاق ورکړم او په واده به پښیمانه شم.
صبا- هر څه بل ډول وو .... که
فرشاد- دا ټول شیان به توپیر ولري که ته وغواړې؟ صبا، که زما مور اجازه نه راکوي چې رنګین له دې ځایه وباسم، نو زه او ته له دې ځایه لرې ژوند کولای شو، تر څو چې رنګین زما له مور څخه ژوند وکړی ، موږ به خوشحاله یو. پوهیږې چې تاسو د طلاق مسله کی زه مجبوره کړم او اوس موږ وخت لرو. هیله کوم صبا، زه له تا پرته نشم کولی..

صبا- نو رنګین څه کیږی ؟؟؟
فرشاد- ما ورته وویل چې زما مور سره وي.
صبا- دا پدی معنا چې طلاق به ورنکړې او جلا به نشې ورنه؟
فرشاد- که ته وغواړې، هغه به زه خپل د مور کوټې ته....
صبا- هو ... زه غوارم چې ته هغه پریږده زه او ته لري ځای ته ولاړ شو فرشاد چیرې چې یوازې ته او زه یو ، چیرې چې زموږ په کار کې هیڅ مداخله نه کیږي او زه باوه وم چې خدای به ما بې اولاده نه پریږدي.

هغه خبرې چې یوازې زما زړه وویل او زما ذهن ژبه ته اجازه ورنکی ...

فرشاد- صبا هیله کوم ...
صبا- ما مخکې هم خپلې خبرې ویلي دي، فرشاد.. یا هغه یا زه....
فرشاد- ته ولې نه پوهیږې هغه باید مور وي...
صبا- هغه باید ستا د ماشومانو مور وي. ؟؟؟
فرشاد- صبا، هیله کوم وګوره...
صبا- زه باید ولاړشم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد- افففف صبا، کاش چې ستا د غرور په اندازه دومره عقل دی هم درلود...

څه کیدل که هغه پوه شي چې هغه او د هغه د مور زما عقل د کار واچول ... زه انتظار وم چې حسیب راشي چې ما خپل کور ته بوځي او شاید الطاف هم بل سبا راشي. وروسته له هغه چې هغه راغی، مورِ هند ته روان وو او شاید ثنا هم وروسته له مورِ راشي.زرِه مې غوښتل د فرشاد خبره ومنم او څنګ ته شم. څو ورځې وروسته رنګین خپل ځای ته ولاړ شي او زه به پاتې شم او دا ابدي کور...

زرِه نا زرِه توپمی خلاصیدون ندرلوده هره لاره می امتحان کوله آخر هم نتیجه ته رسیدم کاشکی دومه لاره می هم امتحان کړې وي شاید بهتره نتیجه ولري...

نن می غوښتل دي زرِه نا زرِه توپ څخه ووځم خور ته می زنګ ووهه حسیب لالا راپسی راولیږي زرِه نا زرِه توپمی نور زغملی نشوو حسیب راغی یو بیک شیان می راټول کړل ټول دي واده خاطرات می وه ځان می ورِل حسیب هغه بیک واخسته موتر یی ورورِ. د کور هیڅوک غړي دیته حاضر نه ول ماسره خدای پامانی وکړي یاهم نغوښتل ماسره الوداع وکړي..
کراری کراری زینوه څخه راښکته شوم
ژوندون دی څومره په شوق په دي زینو پورته ختلم ترڅو خپلي ګوټی ته ورسیږم خوشحاله به وم فرشاد ترڅنګ وخت تیر کړِم خو قسمت همدا وه ځان سره می وویلی کاشکی فرشاد دوارِه ته جفا نکوله

فرح آخر دهلیز کي غلی ولاره وه نور شاید کورکي نه ول یا نغوښتل مه ویینی حسیب دوم ځل لپاره راغی وویل نور څه هم شته ماورته وویل
صبا_ نا‌ا
حسیب _ سمده زه موتر ته ځم ته هم راشه
فرح_ صبا خوری رښتیا ځی
صبا_ هو ګراني ځان باندی پام کاوه
فرح _ ته هم په ځان پام کاوه خور جانی
صبا _ محبوبه خاله نشته؟
فرح _ سمن سره بازار ته تللی.
کریمه مور هم رنګین سره داکتر ته تللی.
صبا _ مهمه نده ټول ته سلام کاوه.
فرح _ پلار راتګ پوري کاشکی پتمه شي داسي خفه کیږي ته یو دم ځی
صبا _ کاکاجانه می ګورم... شاید مخکي تګ څخه خدای پامانی لپاره راځم....

فرح- زر ځله راشه صبا جانې خپل کور د دې.
صبا- خپل کور مې وو خو اوس نه.
فرح- که نور نه یې د مور تر راتلو مې صبر وکړه.
صبا- ناوخته کیږې.

بغیر د ښه راغلاست څخه راغلې وم او بغیر له کوم خداې پاماني لاړم. نه د راتلو لپاره مې چا ګلان وشېندل او نه هم پر تلو مې چا اوښکې توې کړې. دا هم وه زما د واده کیسه زرِه مې ډک له هغه دردونو څخه وو چې دې څو میاشتې کې مې تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې وه. د حسیب تر کوره مې وژړل او خپل د غم نښانې مې ټول لارو باندې پریخود. نغواړم دا درد لیاده وباسم غواړم دا درد مې تل زړه کې اوسیږي ترڅو نور هیڅکله د بیا راتګ خبره ونکړم.

ثنا...

زړه مې د ډوډۍ په بوې بدیږي، دا څو وخته کیږي چې د پخلې حوصله نلرم. نن هم ځکه چې صبا راځې نو ځکه مې یوڅه ساده آشپزی وکړل. میرمن شهلا زما لور غیږه کې نیولې او کراره وې. او هر دوه دقیقې وروسته هم راتلل او ماته یې ویل: ته راځه پرېږده انجونۍ پخلې وکړې په تا بد لږیږي.
زیاتر پخلې د حسیب خویندو وکړو، ترڅو زه ستړې نشم. د خداې شکر مې باسه چې داسې یو ښه کورنې را نصیب کړې وه.
ځینې کسان وایې د بسکانه خلکو پیژندل ستونزه من ده خو زه وایم د خپلو پیژندل ستونزه من کار دې .
سم لکه زما او د صبا ژوند...

حسیب او صبا کور ته راغلل او صبا کوټې ته لاړه او خپل د خورزې سره یې لوبې کول شروع کړل. میرمن شهلا هم د صبا څخه غوښتل چې راحت اوسیږي او که غواړې خپل کالې دې د کور کالو سره بدل کړې. صبا مننه وکړل او خپل د خورزی سره په لوبو کولو مصروفه شول.
شهلا- ثنا لورې راشه دومره ځان مه ستړي کوه( بیا یې د صبا خوا ته وکتل او ویې ویل: دا څو ورځې کیږې ورته وایم چې دومره کار مه کوه خو بیخی زما خبره نه منې او ځان ستړې کوی.
صبا- خاله جانې د ثنا کار کول خوښیږي.
شهلا کار دې وکړې خو اوس نه چې مریضه ده او دوه دقیقی کار کوی لس دقیقی بی هوښه پرته وې، ورت ښه ندې ماشوم ته یې او هم دیته.

صبا- ولې؟ په ثنا څه شوی؟
ثنا- وا پر ما به څه شوې وې؟ رک روغه یم راځې ډوډۍ تیار ده.
شهلا- راځه لورې د دوه وو بجو څخه هم تیر دی ضرور به وږی شوې اوسیږی.
ثنا خپل د خور د خوشحاله کولو لپاره څو رنګا رنګ ډوډۍ تیاره کړې وه چې شاید د هغه په لیدو صبا خوشحاله شې، خو د هغه دومره خوراکونو په لیدو صبا خپل د پایوزی ورځ وریاد کړه او غم یې بیا زړه ونیو. د هغې په یاد راغلل چې فرشاد ځنګه ډوډۍ خوړل او د هغه خوراکونو تعریف یې کاوه.

او د هر خوراک د کولو وروسته یې ویل: ثنا جانې زما ګلابو ته هم دا اشپزی زده کړه. صبا د زړه په زور یو دوه ګولې وخوړل او د اوبو راوړلو په بهانه آشپزخانی خواته راونه شوه د هغې په خفګان حسیب پوی شو او ثنا یې وربسی واستول.
ثنا- ښه یې خور جانې؟
صبا- هو ښه یم یواځې غوښتل مط اوبه وڅکم.
ثنا- نور اوبه هم درکړم؟
صبا- نه مننه ومې څکل.
ثنا- که غواړی زمونږ کوټې ته لاړه شه اوارام وکړه.
صبا- نه ښه یم خورجانې.
ثنا- هر رقم چې زړه دې غواړی.

صبا خپل د خور او د هغه د کورنې سره یو دوه ساعت کیناستل او مجلس یې وکړو. د هر خوا څخه یې موضوع راکش کړل ترڅو د صبا فکر بدل شې. حسیب ثنا ته وویل چې صبا ته خبر ورکړې چې ماشوم لرې هغه وویل بده خبره ده چې صبا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل چا له خولې خبره شې، خو ثنا نه منل او ویل یې نغواړي چې صبا د کم والې احساس وکړي. او د رښتیا هم صبا همداسې احسای کاوه. خو د حسیب ډیر ټینګار مجبوره کړل ترڅو ورته ووایي.

ثنا- صبا جانې غواړې ارام وکړې راځه زما کوټې ته.
صبا- نه ښه یم.
شهلا- که غواړې ارام وکړې لاړه شه لوری شاید زموږ خبرو ستړې کړې اوسیړې.
صبا خپل د خور سره د هغې کوټې ته لاړه، او ثنا د هر خبرې څخه مخکې صبا ته وویل چې ماشوم لری. او شاید یو بل لور یا هم زوی نړۍ ته راوړي. صبا مبارکی ورکړل او خپل اوښکې د خندا شاته پټې کړل.
صبا- أن شاءالله د مور او د پلار د سایې لاندې را لوې شی.

ثنا- آمین.
صبا- خاله کېدل ډیر ښه احساس دې زه زیات خوشحاله یم چې دویم ځل خاله کېږم. خو ای کاش ته هم خاله شوې وایې ثنا.
ثنا- دې خبرو ته فکر مه کوه صبا جانې او هسې ځان مه خفه کوه. خداې خو قسم ندې اخیستې چې تاته به اولاد ن....
صبا- قسم یې اخیستې اوس یې اخیستې هر څه خلاص شول ..
ثنا- نامیده کیږه مه صبا..
صبا- سبا د کاکا سره مې خبری کوم ترڅو رسمی د طلاق پاڼې راوړي.
ثنا- صبا... خورې یوځل بیا هم فکر وکړه.. تخو پوهیږې چې فرشاد درسره مینه لری او د مجبوری څخه دی طلاق ته راځې شوی.

صبا- مینه یې راسره کول چې لاړې بله ښځه یې وکړل؟
ثنا- یوازې هغه مه ملامت کوه د کاکا ښځې هم د دې لپاره چې زوې د دې پشان اوه کال د ماشوم څخه محروم پاتې نشې فرشاد مجبور کړې وو. او له بلخوا څخه هېڅ یو بې عیب ندې هر کس یو ستونزه او عیب لری.
صبا- زه نه وایم چې بې عیب دې اوسیږی زه وایم ولې حتا یوځل ما ته ونه ویل؟ ولې یو ځل زما څخه اجازه وانخیستل؟
ثنا- که اجازه یې اخیستې وایې اجازه دې ورکول دویمه ښځه وکړې؟
صبا- شاید...

ثنا- نو داسې فکر وکړه چې له تا څخه یې اجازه اخیستې او واده یې کړې. ولی اوس هم غواړې طلاق واخلی؟ ژوند بغیر له اولاد څخه نه کیږی صبا جانی په دی خبره ته هم پوهیږی. او فرشاد کولی شی تاسو دواړو مخارج درکړی او تاسو دواړه وساتی نو څه مشکل لری؟ هغه ستا سره مینه لری خو اولاد هم غواړی. ایا ته راضی یی په دی چی فرشاد ټول عمر بی اولاد پاتی شی؟

ای کاش کولی مې شو خپل خور ته ووایم چې زه بی عیب نه یم خو معیوب هم نه یم. زه هیڅ مشکل نلرم زما مشکل په دوه نقصو دوا حل کیده نه دا چی لاړشی بله ښځه وکړی. مهم نده چې دوی په دی خبره پوی شی او کنه خو اوس خور می د فرشاد طرف نیولی وو او ما ته یې ناقص او عیب جن ویل.

ثنا- ګوره خور جانی که یوازی د هغه پر بل واده خفه یې نو یو ځل بیا هم فکر وکړه هېڅ شی د طلاق څخه زیات بتر ندی. که د فرشاد سره خوښه یې د رنګین په کیسه کې مه کیږه. شاید خدای ستاسو درې واړو قسمت یوځای لیکلی وی. او ها ته څه خبره یې شاید یو ورځ ته هم مرر شی او خدای تا ته هم اولاد درکړی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که ماشوم دی هم را نه ورو نو په کفالت( فرزند خواندگی) ماشوم واخله تر څو ته هم بی اولاد پاتی نشی او یا هم زه خپل درته یو ماشوم راوړم او تاته یې درکوم یوازی طلاق مه اخله خوری..

صبا- نشم کولې اوس ناوخته شوی.
ثنا- د هېڅ څه لپاره ناوخته ندي. مور درته څه نه ویل ځکه نه یې غوښتل خفه دی کړې الطاف درته څه نه ویل ځکه خور یې او وربانډی ګرانه یې. خپل په سترګو خای درکوی او همداسی ټول درته احترام لری خو زه، مور مې، حتا کاکا خوشحاله کیږی که طلاق وانخلی.

حسیب- ثنا رښتیا وایې صبا جانې یوځل بیا هم د دې موضوع په اړه فکر وکړه، که ته وغواړې طلاق واخلی مور ټول ستاسره یو، او که وغواړې بیرته خپل ژوند ته لاړشی بیا هم مور تا درک کو او درسره یو. مور یوازی په دی خبری ویریږو چی هسی نه سبا ورځ خپل په نیولی پریکړې ښښیمانه شی. ژوند اوس تاته سخته او مشکل دی. خو که طلاق واخلی ددی څخه لا سخته کیږی هغه وخت ته یوه طلاق شوی ښځه یی او د پخوا پشان سوک درسره چلند نکوی. اوس لا وخت لری خو د طلاق وروسته یوازی پښیمانتیا درته پاتی کیږی..

صبا- تاسو وایست چې زه بیرته لاړه شم فرشاد ته؟
حسیب- نه مور یوازی ستا څخه غواړو چې یوځل بیا ددی موضوع په اړه سم فکر وکړه نن ماښام هم وخت لری د هغه وروسته چې طلاق دی واخیست بیا خبره خلاصه کیږی اوس هم که ډاډمن یې بسم الله کړه مور هم درسره یو.

فرهاد...

څنګه بی خبر تللې؟ شاید ویلی وې او زما فکر شوی نه وی. تلل نن او سبا نلری زه حوک اوسیږم چې راته خپل د تګ او راتګ خبر راکړی؟ په دی خبرو مې خپل زړه ته دلداری ورکول او خپل دا نافرمان زړه می قرار کو.. خو ای کاش یوځل یې ماته خپل د تګ په اړه ویلی وای ای کاش ما ته یې یو ځل خپل د مینی د بیان وخت راکړی وای. کاش هغې یو ځل ما ته وخت راکړی وای ترڅو خپل د دی خوږ زړه حال مې ورته بیان کړی وای..
فرح راته وویل: صبا لاړه...

مور او سمن د هغی په تګ خفګان وخودو او ما هېڅ ونه ویل، نه پوهیږم هغی ولی دومره تګ ته تلوار وو؟ د یو بهانی پسی وم ترڅو ورته زنګ ووهم.. خو څه ورته ووایم؟ نور هېڅ دلیل نشته حتا نور د کور ته راوړلو لپاره لا بهانه نلرم. زما د دوزخ اور خلاصیدل نلری اوس یوځل بیا وسوزه او او جوړ کړه... د یار د واده غم تراوسه جوړ شوی نه وو چی اوس یی د هجران غم را ورسیده هغه هم بیخی ددی وطن څخه د تلو غم. که لاړه شې او بیا هیڅکله رانشی بیا څه؟ که د طلاق وروسته د بل چا سره واده وکړې بیا څه؟

فرهاد به څه خاوری خپل په سر کړی؟ دا ځل نو زړه مې نه مات کیږی دا ځل مره کیدو. ځکه چی د صبا سره یی د زنګ لپاره کوم بهانه نه درلود نو حسیب ته یې زنګ وواهه.
حسیب- الو فرهاد جان سلا.
فرهاد- سلام ښه یې حسیب جان؟
حسیب- شکر د خدای فضل ښه یم ته سنګه یې؟
فرهاد- شکر د خدای فضل.

فرهاد مستقیم توګه د حسیب څخه د صبا بوښتنه نشو کولی، نو یو داسی طریقه باندی داسی چی خپل هم نه پوهیدی مطلب یې څه دی ویې ویل: ټول کور کېدی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسیب- هو ټول کور کې یو راشه..
فرهاد- نه مننه... هغه .... زه راغلم کور ته صبا دلته نه وه.
حسیب- هغه دلته ده.

فرهاد- ښه ده؟
حسیب- نه پوهیږم ما او ثنا زیات ورسره خبری وکړل ترڅو د طلاق اخیستلو څخه یې منع کړو خو اخیری پریکړه د هغې ده.
فرهاد- سل په سلو کې پریکړه د صبا ده. کاش تول په سم وقت کې سمه پریکړه وکړی.

که طلاق وانخلې او پاتې شې هېڅ درد د فرهاد د دردونو څخه نه کمېده، خو که طلاق یې اخیستې واې او تللې وایې د فرهاد دردونه زیات کېدل. فرهاد موبایل بند کړو او خپل په سوچونو کې غرق شو، که صبا سره خبرې وکړې آیا هغه به یې درک کړې؟ که ورته ووایې مینه درسره لرم بیا څه؟ ایا د فرهاد مینه به ومنې؟ هسې نه ددې خبرو له آوریدو وروسته هغه نور هم د فرهاد څخه لرې شی. فرهاد بغیر لدې چې د چا نظر ورباندې ولږېږی خپل کوټې ته یې پناه ویوړل.

صبا....

د خور او د اوخښې سره د خبرو کولو وروسته نیت او اراده مې کمزوی شوه، خپل د ځان سره مې د راتلونکې په اړه فکر وکړو دا چې په دی یو میاشت کې څو ځله خپل د خسر له کور څخه خپل د خور کور ته راغلم دا چې څو ځله مې د فرشاد سره خبری وکړل او د بیلتون او طلاق درخواست مې ورڅخه وکړو. اخیری پریکړه مې وکړل یو خل بیا به د فرشاد سره خبری کوم او کوښښ به کوم چې خپل مات شوی واده له سر جوړ کړم، که د رښتیا یې هم د ماشوم لپاره واده کړې وی نو یو بل شانس مې هم درلود، کولې مو شو یو څو ټکره او با تجربه ډاکترانو ته لاړشو شاید زما مشکل حل کړې او وکولاې شم مور شم..هغه وخت نور رنګین ته اړتیا نشته ...

د شپې په اته بجو مې د حسیب څخه وغوښتل چې ما دې یو ځل د کاکا کور ته ویسې. خو چا ته دې ونه وایې چې زه تللې یم. ځکه که زما پریکړه سم ونه ختل نه مې غوښتل د خور عزت مې د هغه د کورنی مخکې خراب شې. هسی نه یوه ورځ زما دا تګ او راتګ زما د خور لپاره پیغور جوړ شې. حسیب د یو څه ضروری خرید په بلمه زه له کور څخه را وباسلم. البته میرمن شهلا زیات وویل چې پریږده سبا دی زه خپل ورم او بیا خپل ضروری شیان واخله خو حسیب و نه منل. د لاری په موده کی حسیب ورور زما څخه وغوښتل ترڅو فرشاد ته زنګ ووهم. خو ما نغوښتل په موبایل ورسره خبری وکړم ما غوښتل مخامخ د هغه خبری واورم او خپل ستونزه حل کړم.

فرشاد...

د ډوډې خوړلو لپاره د میز شاوخوا ناست وو ټولو یو شانتی د صبا له تللو یاد کاوه، پلار مې د ټولو څخه زیات خو زما څخه کم د هغې په تلو خفه وو د هر ګوله ډوډی سره یې هغه یادول، مور مې چې زما حالت ته بام شو نو د رنګین څخه یې وغوښتل ترڅو ما ته ګرم ډوډې له آشپزخانی څخه راوړی هغې هم ومنل او پاسیدل د هغې په تلو مور مې ټولو ته مخ کړو او ویې ویل: اوس صبا لاړه چې لاړه.. د تللو اوبو پسی د بیل راخیستل بی فایده کار دی. اوس تاسو ولې په دی خبرو د بیچاره رنګین زړه مات کوی؟

سعید- خبره د زړه ماتولو نده کریمې.. رنګین دا ژوند لیدلی او بیا یې خوښ کړې. او که دومره ژر یې زړه مات کېږی نو دی خبری ته دی فکر وکړی چی هغی د ی بل مسلمان لور کور ور خراب کړو باید لدی کار څخه یی زړه مات شی نه زموږ پر خبرو..

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریمه- بده ده سعید جان کرار خبری وکړه اوری... او هو نن ورځ بیا زه ستاسو لپاره ښه خبر لرم نو پریږده چې په خوشحالی کی ډوډی وخور.

د مور د ښه خبر په درلودو مې حیرت وکړو خو د پوښتنې کولو حوصله مې نه درلود، هیڅا پوښتنه ونکړل چې څه ښه خبر دی؟ رنګین د آشپزخانی څخه راغله ما ته یې ګرمی وریجې راوړې او زما په قاب کی واچول د هغې د لاس اشپزی ښه وه د صبا څخه زیات ښه وه خو کله چې مور مې هغې ته وویل چې زما څنګ کې کینه نو زړه مې وویل کاش ددی لځای صبا وای .. څکه یوځل هم مور مې د صبا څخه ونغوښتل چې زما څنګ کې کینی. برعکس هر کله چې صبا یې زما څنګ کې لیدلی وای نو یوه خبره یې کول او ډوډي پر هغې زهر کول...

د وریجی ګوله مې په ستونې کې بند شول، څکه صبا مې یاد ته راغلل او فکرونو کې ډوب شوم. زه دلته کرار خیال باندی ډوډی خورم پداسی حال کې چې مور مې زما تازه واده شوی ښځه زما څنګ کی کینوی چې زما اشتها ډوډی ته راشی خو صبا څه؟ ایا هغې به ډوډی خوړلی وی؟ یا به وږی ویده شوی وی؟ د کور دروازه و ټکیدل سهراب په منډه د دروازی خوا ته لاړو.
محبوبه- زوی اول پوښتنه وکړه چې سوک دی؟ بیا دروازه خلاصه کړه.
سعید- ضرور فرهاد دی بل سوک په دی وخت زمونږ د کور دروازه ټکوی؟
کریمه- زه ښه شو چی فرهاد هم راغلو اوس کوم ښه خبر چې لرم ټولو ته یې وایم.

سعید- د څه ښه خبر ووایه چې مورږ هم پوې سو. نن ماښام بیحد خوشحاله معلومیږی.
کریمه- دربانډې شیرنې واوښته سعید جان لخیره نیکه کیږی او زه هم انا کیږم او فرشاد زوی مې لخیره پل...

اوښکې وې چې د صبا له سترګو توې شول، څکه بیحد تود هرکلې ورځخه وشو، دا ځل کریمی په نا پامی کې په صبا باندی اور ولګوی. یا هم څکه چې تل د هغی د پعذابه ولو حال کی وه نن یې شیږم حس لکه شیطان پشان په نافهمی کی بیا د صبا زړه ته اور واچوی. د دی لیدل چې سومره ژر رنګین د هغې ځای ګک کړو نور یې اوښکی زیاتې شول هغه د فرشاد څنګ کې ناسته وه او فرشاد ددی خبر څخه چی پلار کیږی خندل. صبا خپل په زړه کې وویل: هغه مشوم چې تراوسه شاید دوه میاشتو هم ونه اوسیږ راتګ یې دومره خوشحالی لری ای ناخوانه دنیا.. هغه ښځه چې تر پرون یې د خوشی کولو خبری کول اوس یې خپل څنګ ته کینولې...

د لومړې ځل لپاره صبا خپل اوښکې پټې نکړل شاید په دی کار یې د رنګین څخه خپل غچ اخیسته، لکه څنګه چې هغې خپل په راتګ د صبا خوشحالې اخیستلی وه. دا خل صبا دا کار وکړو خپل په راتګ او اوښکې د هغې خوشحالی ور خراب کړل.
فرشاد چی صبا ولیده نو په منډه د هغی خوا ته ورغې، حسیب به لوړ غږ سلام وکړو او د هغوی کورنې مجلس یې ګډوډ کړو، محبوبه صبا ته رانږدی شو او د هغې مخ یې ښکل کړو او ورځخه یط وغوښتل ترڅو د هغوې سره یوځای ډوډی وخوری، خو د صبا خبری ټول ژړا ته نږدی کړل حتا رنګین..

صبا خپل لاس به ستونې کیخود او ویې ویل: تر ستونې مړه یم د غمونو څخه د کاکا ښځې مننه...
محبوبه- داسې مه وایه لوری... د خدای قهر کیږی..
صبا- د بل کوم عذاب څخه یې وګاره سم د کاکا ښځې؟ د دی څخه بتر هم شته؟

د صبا په راتګ د فرشاد زړه کې بیحد خوشحالی وه، هغه صبا ته نږدی شو او ښه راغلاست یط ورته ووایه.
سعید- پخیر راغلی د کاکا خوږې راشه چې خای دی بیحد خالي وو زمونږ مجلس کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- خو زه فکر کوم نن مو مجلس بیحد ډک او خوشحال وو د هغه ماشوم لپاره چې د څو هفتو به لا نه وی.

فرهاد...

یو آشنا غږ د لری څخه اورم لکه چې صبا دلته وی؟ دا چې د هغی غږ مې دی وخت دلته واوریده اول مې سک وکړو چې شاید ما کوم توهم وهلې وی خو.. له کوټې ووتلم او غږ نور هم واضح شو خپل قدمونو ته مې سرعت ورکړو او ځان مې سالون ته ورسه وه صبا د دروازی خوله کې ولاړه وه او په ژړا یې خبری کول، زړه مې غوښت هملته یې غیږ کې ونیسم او ورته ووایم چې سومره ستا د راتلو په تمه وم،یو لحظه مې داسی احساس وکړو چې د هغې زړا د پښیمانتیا ژړا ده او دا چې فرشاد دهغی څنګ ته ولاړ وو او دی په ژړا خبری کول، فکر مې وکړو چې دا راز او نیاز کوی د فرشاد سره او راغلې چې آشتی وکړی..

خو کله چې د هغوې په خبرو کې مې د ماشوم لفظ وارویده، تازه مې د صبا درد درک کړو هغه د کوم ماشوم څخه خبری کول؟ ایا صبا ماشوم لری؟ نه امکان نلری که صبا ماشوم راوړلی شو نو اوس به کور کی داسی ماتم نه وای. نو ماشوم؟ رنګین؟
د رنګین لپاره می هم تاسف وخوړو، کوم شپه چې دی باید خپل د راروان ماشوم لپاره جشن نیولی وایی ورته ماتم سرا ونیول شوه..

صبا ټولو پیژندل یو چالاکه حاضر جواب جنۍ خو اوس چې ماته شوی وه او خبری نکول نو ټول پوهیدل چې صبا ۱۸۰ درجی بدلون کړی، خو نن ماښام بیرنرته همغه صبا شوی وه خو یواځې په دی بدلون چی خبرو کې درد وو او غم.. فرهاد بغیر لدی چي د نور شتون ته کوم اهمیت ورکړی د صبا خواته ورغی او ویې ویل: مه ژاړه صبا اوښکې مه تویه وه...

صبا نا خبره د فرهاد له زړه څخه د هغه په خبره زړا یې نور هم زیات شول او غریو ونیول، د هغې د اوښکې هر څاڅکې د فرهاد زړه ټوټه، ټوټه کو. فرهاد په غوسه یوځل بیا وویل چې مه زاړه صبا خو د صبا ژړا نه بندیدل، د هغې زړا فرهاد نور هم غوسه کړو اخیر ولی غوسه نشې، فرهاد نن توله ورځ د صبا به تلو ژړلی وه او اوس چې هغه راغلې وه د فرشاد د ماشوم لپاره یې ژړل؟ فرهاد خپل لاس موت کړو او د دروازی په ښیښی کلک ووهو او چغې کړل: درته وایم مه ژاړه.. صبا مه ژاړه....

د ښیښی د مات کیدلو غږ صبا و ګار کړل او ژړای بند شول، محبوبی د زړه له تل اخ وویل او خپل د زوی خوا ته یط منډه کړل صبا چې د فرهاد په حو قدمی کی ولاړه وه په تلوار فرهاد ته نږدی شول او د هغه خوږ لاس یې خپل لاس کې ونیو..
فرهاد- مه کوه صبا مه ژاړه...

صبا په حیرت فرهاد ته کتل ولې باید فرهاد ددی د اوښکو لپاره خپل لاس پری کړی؟ ولط ددی اوښکو د فرشاد لځایه د فرهاد زړه لړزه ولې وو؟ سعید فرهاد خوا ته مړدی شو او به دی کار یې ورته بد رد وویل، فرح سهراب چې ډاریدلی وو کوتې ته بوتو،او رنګین په تلوار پانسمان شیان راوړل،..
سعید- باید ډاکتر ته لاړشو هسې نه کوم د ښیښی توته دی لاس کې پاتی وی.
فرهاد- ښه یم کوم څه ندی راباندې شوی یواځې می غوښتل د صبا زړا بنده شی..

صبا تراوسه د شوی کار په حیرت کې وه، حسیب په حیرت د فرهاد لاس ونیو او ورته ویې ویل: که ډاکتر ته نه ځې راشه لاس خو دی د اوبو لاندی ونیسه ترڅو وین  راتلل یې بند شی..
فرهاد- ضرورت نشته زه ښه یم.
فرشاد لږ نږدی راغې او ویې ویل: څه شوی فرهاد؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرشاد پوښتنه اصل کې د فرهاد د لاس په اړه نه وه، هغه غوښتل د فرهاد د روحی او د زړه په خبره پوی شی، فرهاد بغیر لدی چی ورته کوم جواب ورکړی ور ویې کتل.
صبا- لاس دې زیات خوږ شوی باید ډاکټر ته لاړشو.
صبا دا جمله په داسی حال کې وکړل چې څو ځله یې سترګی د اوښکو ډکې شول، د هغط دا حالت د فرهاد زړه په درد راوست او په تروش تندی وویل: ته مه ژاړه زه ښه کیږم، زما درد ستا اوښکې دی..

کوم بوکس چې د فرهاد په مخ ولږېده هغه د فرشاد لخوا وو، صبا د هغه ناڅاپه کار باندی څو قدم شاته لاړه او سعید چغې کړل: فررررر شااااااد.
فرشاد- لعنتي ته د چا اوښکې نشې لېدلې؟ هاا
او بل بوکس چې فرهاد یې وواهه خو دوه ثاني لا نه وه تیر شوی چې دا ځل ځایونه بدل شول او دا فرهاد وو چې فرشاد یې را ونیوی او خپل د وینو ډک لاس باندی واهه.

فرهاد- د هغه انجلۍ درد چې ستا د لاسه یې سترګې د اوښکو ډکې دی.. لعنت دې پر تا وي.. چې زوند دې ورته تباه کړو...

سعید او حسیب د دوی د جلا کیدلو کوښښ وکړ کریمې او مجبوبې هم خپل ځانونه ټکول.
سعید د څو دقیقو وروسته بریالې شو چې دواړه یو د بل څخه جلا کړې. او د جلا کیدلو سره سم یې خپل دواړه زامن په څپېړه ووهل.
سعید-  زما د کور نه مو د سپیو د جنګ میدان جوړ کړی! ځناورو!
فرهاد-  دې نه وروسته که هر چا صبا وژړول پوه دې وي چې ددې نه به بد ورسره کوم.
فرشاد- ته په کوم جرئت زما ښځې نوم اخلې ها؟

فرهاد ـ اخرین ځل دې وي چې هغې ته د خپل ښځې په نوم وایې، هغه ستا نه بېزاره ده.
فرشاد ـ هغه زما ښځه ده.
فرهاد ته نوره هم غوسه ورغله د حملې کوښښ یې وکړ خو صبا یې مخ ته ودرېدل او ویې ویل: بس کړئ نور.. د چا د مرګ زغم نه لرم، همدا بس دی چې خپله خاورې شوم، پرېږدئ چې زما جنازه ددې دروازې نه ووځي بیا تاسې خپل ځناورتوب ته ادامه ورکړئ.
فرهاد ـ صبا قربان دې شم د مرګ خبرې مکوه، ته نه پوهېږې چې یوازې د تګ خبره دې ما وژني.

د فرهاد خبری هغه خبرې چې د حسیب او فرشاد دپاره تازه وې خو د سعید کریمې او محبوبې دپاره پخواني ټپونه وه، دوی درې واړه د فرهاد د دوزخي افسانې نه خبر وه، صبا هم د فرهاد په خبرو شکمنه غوندې شوه، ولې باید فرهاد د هغې دپاره ومري؟!
صبا ـ فرهاده هیله کوم زما په حق کې دې ډېر ښه کړي خو نور نه!
فرهاد ـ زه څوک چې ستا سره به ښه وکړم؟! ته زما په حق کې ښه وکړه او دې ځایه مه ځه! څه کیږي چې دلته پاتې شې؟

صبا نور د فرهاد د خبرو طاقت نه درلود، او بلې خوا فرشاد هم لیونتوب کاوه، صبا د حسیب نه وغوښتل تر څو هغه کور ته ورسوي،  راتلل یې د طلاق د پرېکړې څخه منصرفه کېدل وه خو تلل یې بلا دلیلونه درلودل. فرهاد چې نه څه د پېتولو دپاره درلودل او نه هم څه د ویلو دپاره، صبا نه وروسته د کوره ووت او خپل ځالې ته لاړ.
که پر تقدیر باندې خندل روا وای نو ما به خپل وران تقدیر باندې خندلي وای، هر وخت زما سره لوبې کوي، ذهن مې د فرهاد په خبرو وسواسي شو، نو زما او د هغه تر منځ څه خبره وه؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا که هغه غوښتل بل څه ثابت کړي، زړه يې پر ما سوزېدلی او زما درد يې حس کړی؟ زما سره څه اړيکه لري؟! نه چې زه غلطه پوهه شوې يم او که نه په رښتيا هم د هغه د خبرو مقصد زه وم؟! نه چې فرهاد .... نه نشي کيدای چې فرهاد پر ما باندې زړه بايللی وي؟! حتی فکر کول يې ناممکنه دي، شايد پر ما باندې د رحم د وجې يې داسې ځان په ځمکه او اسمان واهه، هغه د هرې خوا نه زما نه پورته دی زه نشم کولای خپل ځان هغه سره پرتله کړم.

د خور تر کوره مې ځان قانع کړ چې فرهاد يوازې خپل د زړه د تسلي دپاره پر ما رحم کوي، او د ترحم وجه ده چې نه غواړي اوښکې توې کړم، هغه د مينې او محبت دپاره زما نه ډېر په لوړه سويه کې ولاړ دی. دروازه کې ثنا په تمه وه شايد زموږ په تلو يې زړه نارامه و.

ثنا ـ راغلی؟

د پوښتنې انديښنې يې په څېره کې صفا ښکارېدې، څکه دا تمه يې درلود چې د راتګ سره زما د مسکا ډکه خوله وګوري او يا هم هلته پاتې شم او فرشاد سره سوله وکړم.

خو ای کاش ما بدبختې دا چانس درلودای!

ثنا ـ صبا خور مې ښه يې؟

صبا ـ ښه يم ګرانې

لاس باندې يې حسيب ته اشاره وکړه چې څه وشوه؟

حسيب خپل وربڅې پورته کړې او خپل کوټې ته لاړ.

دننه چې ننوت ميرمن شهلا يې هم راتګ ته په تمه وه

شهلا ـ پخير راغلی زويه

حسيب ـ مننه مورجانې.

شهلا- خپل د خوښې څه مو پيدا کړل؟

حسيب ـ هو ځيني شيان مو پيدا کړل او سبا به يې راوړم اوس ستړی يم.

شهلا ـ سمه ده زويه ناوخته شوی هم دی ورځه ويده شه او ثنا لور هم بايد ويده شي چې ستړې شوې .

صبا د خور سره کوټې ته لاړه حسيب هم ورپسې شو.

ثنا-  څه شوي ولې لا خپه يې؟

صبا ـ ما وبايلل خورې يوازې همدې دپاره تللې وم.

ثنا- څه شوي ولې داسې وايې، ترور مې څه وويل درته؟

صبا- نه! خو په تلو مې پوه شوم چې ستونزه واقعاً ما کې ده.

ثنا- خدای دې نکړې صبا..

صبا- رنګين اميدواره ده خورې، يوه مياشت يې د واده نه نده تېره شوې او اوس ماشوم لري.

ثنا- رښتيا!!!!

صبا- خدايا!!!! زما دردونه ولې خلاصی نه لري.

حسيب- صبا که ته دلته ثنا سره راحته يې زه ځم د ميلمه خونې ته.

صبا ـ نه نه حسيب لالا زه ځم مننه

حسيب ـ که دلته راحته يې همدلته اوسه.

صبا ـ نه هغه بله کوټه ښه ده هلته ځم.

حسيب ـ بس هر ډول دې زړه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا د میلمه کوټې ته لاړه...

ثنا- یو څو شېبې خو به دې پرې اېښې وای چې یو څو خبرې خو یې کړې وای.
حسیب بالښت ته تکیه وکړه او ویې ویل: بس ده نور نن شپه یې ډېر وژړل اوس یې ته هم مه ژړوه پرېږده لږ ارامه شي.
ثنا ـ نو ته وواېه چې څه شوي؟
حسیب ـ نپوهیږم ثنا هر څه ګډوډ شوي.
ثنا ـ ولې!
حسیب ـ زما په نظر صبا غوښتل بیرته فرشاد څنګ ته لاړه شي موټر کې یې هم ځینې خبرې وکړې، مثال که لاړه شي او هلته پاتې شي خو چې کور ته لاړو هر څه برعکس شوه..چې ورسېدو د فرشاد په ماشوم خبر شو.
ثنا ـ اه زما بدبختي خورې، کاش ما او تلو ته نه وای مجبوره کړې.

حسیب ـ کاشکې... خو ثنا یوه بله خبره؟
ثنا ـ څه!
حسیب ـ فرهاد ډېره د صبا خوا ونیوله.
ثنا ـ فرهاد زړه سواندی دی الله دې وساتي هر چا باندې زړه سوزي.
حسیب ـ  نه نو دومره هم نه چې په لاس باندې ښیښه ماته کړي.
ثنا ـ د څه ښیښه؟!
حسیب ـ دې دپاره چې صبا ونه ژاړي د دروازې ښیښه یې په لاس باندې ماته کړه، نپوهېږم نورې خبرې یې وکړې خو هو د فرشاد نه یې زیاته اندېښنه وه .
ثنا ـ مانا چې ...؟
حسیب ـ نه زه څه نه وایم او ته هم صبا ته څه مه وایه شاید زه غلط پوه شوی یم.

فرهاد...

شاید د ښیښې زخمونه مې هېڅکو ته رسېدلي وه پدې یې درد وار په وار زیاتېده او مجبور شوم چې د امین څنګ ته راشم، هغه مې لاس ومینځه او کوک یې کړ، خو هر کوک باندې یې زه ملامتولم.
امین ـ نو لا ډاکټر یې او داسې بې عقلي دې کړې.
فرهاد ـ یو وار مې خپل کنټرول د لاسه ورکړ.
امین ـ که دې لاس قطع شوی وای نو بیا څه، پښیمانۍ به څه ګټه وه کدې شهرګ پرې کړی وا بیا..
فرهاد ـ ښځو غوندې ګیلې مه راته کوه ګورې چې هیڅ ندي شوي.

امین- نور څه وشي؟ اوس هم ډاډه نه یم چې د لاس ګوتې به دې کار وکړي که نه؟ که دې کوم رګ ځینې پرې کړی وي..
فرهاد ـ امینه ته خو د ښځو نه زیات ډارن یې.
امین ـ ګوره فرهاده! د ښیښې په ماتولو څه لاس ته نه راځي کوښښ وکړه خپل درد په خوله بیان کړې نه د ښیښې په ماتولو.

د امین سره مې د بحث حوصله نه وه او که د کیسې نه خبر شوی وای تر سهاره یې نه پرېښودم  همداسې د روغتون نه ووتلم او خپل کور ته لاړم، ساعت تقریباً د شپې  ۱۰:۳۰ وې زړه مې غوښتل صبا سره خبرې وکړم او په کوم دوه لارې کې مې چې نن شپه درولې راوباسم، خو ډارېږم هغه ماته د رزیل ګمان ونکړي. خو اوس کار تر کار تېر دی،  صبا هم باید پوه شي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوټې کړکۍ مې خلاصې کړې تر څو په بې غمۍ خبرې وکړم ځکه سړه هوا سره عادت وم او ورسره ارامېدلم. څو میاشتو وروسته مې د صبا شمېره د تلفون پر پاڼه ولیکل نژدې یو کال مې د اخرین پیغام نه کېدل چې هغې ته مې اېښی و خو تر اوسه مې لا شمېره ځیني یاده وه.

شاید کلونه کېږي خو د هغې شمېره مې ذهن کې پاتې ده. د پیغام پاېې ته لاړم او یو خالې پیغام مې پرېښود. ګمان مې و چې ویښه ده ځکه داسې حالت کې نده چې ارام خوب دې وکړي خو بیا هم که یو په سلو کې هم ښه وه نه مې غوښتل د خوبه یې پاڅوم. دویم پیغام کې مې ولیکل سهار چې د خوبه پورته شوې حتمن باید خبرې وکړو.د پیغام استولو وروسته د موبایل د زنګ اواز راغی ذهن کې مې د امین نوم و چې شاید زما احوال اخلي خو خپل په سترګو مې باور نه راته هغه صبا وه. په ټول ژوند کې دا لومړۍ ځل ده چې صبا زما د پاره زنګ وهلی.

فرهاد ـ بلی..
صبا چوپ وه خو د ساه ګانو اوازونه یې زما غوږنه نازول، لومړۍ ځل و ساه ته یې دومره نژدې وم هغه نه پوهېدل خو دا چې یوه یوه ساه یې شمېرم دا راته یوه نړۍ ارزښت درلود د خدایه مې غوښتې وه خو چې نه مې غوښته خدای مې بیرته امید ژوندی کړ.
فرهاد ـ صبا
صبا ـ بلی...
په ستړې اواز یې بلی وویل ځان ته مې د هغې د ازارولو په پار لعنت وویل هغه باید ویده شوې وای زه یې باید مزاحم شوی نه وای.

فرهاد ـ صبا ارامه ویده شه زه سبا درپسې درځم باید خبرې وکړو.
صبا ـ خوب مې نه راځي.
فرهاد ـ کوښښ وکړه ویده شې ستړې یې او ذهن دې هم ګډوډ دی که داسې خبرې وکړو کومه ګټه نه لري.
صبا ـ لاس دې څنګه دی؟
زړه کې مې وویل زما هېرجنه معشوقه زما په فکر کې هم ده؟ ؟؟!!!!!
فرهاد ـ ښه دی د تشویش خبره نده ته اوس ویده شه  نباید ویښه اوسې.
صبا ـ ومې ویل چې خوب نه راځي
فرهاد ـ ویده شه تر څو سهار په ارام فکر او ذهن خبرې وکړو او یو بل درک کړو.

اریکه مې پرې کړه او صبا نه مې د خوب حکم ورکړ خو خپل خوب مې چېرته و اصلاً د دې سترګو ته یې د راتلو نوم نه اخیست. د سبا دپاره مې خپل جملې سو په بل پسې جوړولې شاید د ژوند اخیرنۍ امید مې همدا و اوس چې صبا زما د زړه په حالت شکمنه شوې باید د تراخه حقیقت نه یې هم خبره شي. سهار لا ندی خو زه دوه درې ساعته مخکې ویښ شوم او حمام مې وکړ لاس مې پانسمان کړ او بنداژ مې بدل کړ د یخچال نه مې یو د درد ګولۍ واخیسته او د اوبو سره مې وخوړل تر څو ځان ارام حس کړم.

تر اوسه اووه بجې شوې نه وې او زه د صبا د دیدار دپاره تیار وم زړه مې غوښتل صبا ته زنګ ووهم خو ددې د ډاره چې شاید ویده وې او ویښه یې کړم د زنګ نه تېر شوم، تر اته نیمو بجو پورې مې انتظار وکړ او خپل ویل او ما ویل شوې خبرې مې ذهن کې تېرې کړې تر څو کومه یوه بهتره ده صبا ته یې ووایم. نوی پیغام راغلی و چټک مې پاڼه خلاصه کړه دا وار چې مې د صبا اانتظار و امین پیغام کړی و زما د حال پوښتنه یې کړې وه ما هم بیرته ورته پیغام پرېښود تر څو اندېښمن نه شي د سهارنۍ لوښې مې پرېمینځلې او بیا انتظاررررر....

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا...

د میلمه کوټې ته لاړم او خپل فکرونو او شکونو کې ورکه وم، چې څه به کیږي او څه به نه، چې خالی پیغام راغلی و د فرهاد لخوا زړه مې ولړزېدو د ښېښې د ماتولو او د هغه د خبرو په فکر کې لاړم خبرو یې زه اندېښمنه کولم ، دویم پیغام و ویلي یې وه چې صبا د خوبه پاڅېدلې زنګ ووهه، هغه د ځان سره فکر کړی دومره بد حالت کې زه خوب هم لرم؟! چې ویده شوې به اوسم؟! دې دپاره چې پوه شي ویښه یم زنګ مې وکړ ورته. خو دا چې بلی یی وویل زما نه د ذهن هره خبره پاکه شوه، څه مې باید ویلي وای چوپ پاتې شوم او په تمه شوم تر څو هغه خبرې وکړي ځکه هغه و چې غوښتل یې زما سره خبرې وکړي .

خو برعکس هغه زما نه غوښتل چې ارامه ویده شم نو زما ارام خوب ورته څومره ارزښت لري. پوهه نشوم چې څه جادو یې خبرو کې و چې زما نه یې وغوښتل ویده شم او زما سترګو ته خوب هم راغی سهار اته بجې د خوبه پورته شوم خپله هم حیرانه وم حمام مې وکړ او راغلم خو د فرهاد درک نه و شاید د هغه د خبرو د اورېدلو انتظار مې درلود تر څو پوه شم څه خبره ده؟ ساعت د سهار نهه او شل دقیقې وې ثنا دروازې ته راغله زه اوس هم خپل خیالونو کې وم کرار یې دروازه وټکول ترې ومې غوښتل دننه راشي.

ثنا- ویښه یې؟
صبا - هو.
ثنا- فکر مې وکړ ویده یې درپسې رانغلم.
صبا - نه ویښه یم خور مې فقط انتظار مې کاوه.
ثنا- د څه انتظار؟
صبا- هېڅ
ثنا- ښه اوس چې ویښه یې راځه چای وخوره ما چاته اجازه ورنکړه چې درپسې راشي فکر مې وکړ ویده یې.

صبا - ښه دې وکړه خور مې بې له هغه اشتها نه لرم.
ثنا - نه داسې نه کیږي راځه یو څه وخوره.
صبا- څه وخورم هر څه چې خورم راته زهر کیږي..

شیبو ته مې کتل تیریږي بلاخره پیغام راغی. د مبایل پاڼې ته مې وکتل د شمېرې اخره ۵۲۵۱ وه که څه مې د فرهاد شمېره نه وه ثبت کړې هو پیژندل مې. ژر مې جواب ورنکړ تر څو فکر ونکړي په تمه یې یم. دوه دقیقې وروسته نور پیغامونه راغلل بیا مې هم یو دقیقې غوندې ونه کتل وروسته مې پیغامونه خلاص کړل.

فرهاد- سلام سهار پخیر ... ویښه شوې راشم درپسې
بل پیغام.. دروازې شاته درته په تمه یم که ویښه شوې یې راشه.
توبه که څوک وګوري دلته ماته منتظره دی بده به وي.
ژر مې ولیکل: ته ددې ځایه ځه ماته ووایه چېرته راشم زه خپله راځم.
فرهاد- دروازې شاته یم راشه ..
صبا - نه غواړم څوک غلط فکر وکړي ددې ځایه ځه ..

زنګ یې ووهی او وې غوښتل تر څو څلور لارې ته ورشم مجبوره ومې منل دا چې د ثنا دروازې ته ولاړ وي تر هغه دا بهتره ده چې لاړه شم حداقل دلته ماته څوک بد فکر ونکړي ثنا ته مې بانه وکړه چې زړه مې تنګ شو او داسې قدم وهلو ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد...

په تمه تمه سترې شوم او د حسيب دوی دروازې ته لاړم بلاخره هر رقم خوب يي تر لسو بجو به خلاص وي.پيغام مې وکړ او ځواب راغی چې ددې ځايه ځه، غوسه شوی وم زړه مې غوښتل لاړ شم او تر لاس يې ونيسم او را يې ولم خو لاحول مې کړه او نه مې غوښتل زما څخه وېاره شي هغه بايد خپه نه کړم مجبور ومې منل او لاړم زنګ مې ورته وکړې چې څلور لارې ته راشي دلته څوک نشته لس دقيقې وروسته له ما نه څلور لارې ته راورسېدل ما موټر چالان کړ او ورغلم شا سيټ کې کښېنستل او سلام يې وکړ.

فرهاد ـ عليک سلام ښه يې؟

صبا چوپ وه ما يې د اواز د اورېدو سره ډېره مينه درلوده نه د هغې خاموشي.

فرهادـ اوس هم ښه يې اوبه غواړې؟

صباـ نه

فرهاد ـ ښه ده نو ..

صبا ـ لاس دې څنګه دی؟

فرهاد ـ ښه دی مهمه نده.

صبا زما د لاس بنداژ ته اشاره وکړه او ويې ويل: معلوميږي ډېر خوږ شوی يې؟

فرهاد ـ نه امين لږ ډېر بنداژ راته تړلی.

صباـ څو کوک يې ورکړې؟

فرهاد ـ مهمه نده.

صبا ـ په خوږ لاس مو نبايد موټر چلولی وای.

فرهاد ـ ښه که غواړې راشه ته موټر وچلوه.

فرهاد ـ مطلب مې دا وه تر څو مو چې لاس ښه کيږي تاکسي يا ريکشا کې تګ راتګ وکړئ.

صبا ـ په سترګو بل وار تاکسي کې راځم درپسې.

صبا په حيرانتيا وکتل ويې ويل: زما مقصد ما پسې راتلل نه و.

فرهاد ـ ښه ستا سره به خپل موټر کې ځم او وظيفه نور ځای ته به تکسي کې ځم.

صبا هماغسې حيران راته کتل دا وار يې څه ونه ويل ومې خندل غوښتل مې د خبرو سر خلاص کړم او وپوهيږي چې څه حس ورته لرم خو هغه چوپ کښېنستل د خدای شکر دی چې لږ تر لږه راغلې خو وه او کولای مې شوه چې خبرې ورسره وکړم زړه مې د هغې په لېدو نه مړېده هره شېبه مې هينداره کې د هغې ديدار کاوه.

صبا ـ چېرته ځو؟

فرهاد ـ چېرته چې وغواړې.

صبا ـ فرهاد بايد ژر کور ته لاړه شم ثنا ته مې ندي ويلي.

فرهاد ـ غواړې زه زنګ ورته ووهم چې ته زما سره يې.

صبا ـ نه نه غواړم چې غلط ګمان وکړي.

موټر مې د سرک غاړې ته ودراوه او مخ مې صبا خوا ته کړو او ومې ويل: دا ستا د غلط ګمان نه مطلب څه دی؟ غواړې څه غلط درک کړي؟ زه ستا په نظر يو ايلايی کس يم چې نوم دې زما سره بد شي؟

صبا ـ نه تاسې غلط پوه شوئ.( مايوسانه يې وويل: زما خپل د حالاتو د وجې دی چې داسې وايم نه غواړم ستاسې نوم بد کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- زما نوم ستا سره نه بدیږي دا خبرې دې د ذهن نه اوباسه او خلک به بد وکړي چې تا پسې به خبرې وکړي.
صبا ـ سمه ده اوس کیږي چې بیرته کور ته لاړ شو؟
فرهاد ـ د همدې خبرو دپاره تر دې ځایه راغلي یو چې اوس بیرته لاړ شو؟
صباا! چوپ شوه او ما بیا وویل: یا هم په همدې بهانه غواړې سبا بیا ما وګورې سنګه؟

فرهاد دا خبره وکړا او د خندا شین شو صبا حیرانه وه فرهاد جدي و که یې ټوکې کولې؟ هیڅ پته یې نه وه. شاید فرهاد روانی شوی و حتمن دصبا په لیدو روانی شوی و.
فرهاد ـ صبا جانې نپوهیږم چېرته لاړ شو چې په ارامه خبرې وکړو که غواړې زما اپارتمان ته به لاړ شو؟ او که ډاریږې همدلته موټر کې به خبرې وکړو زه اوس هم خبرو ته تیار یم ته هغه ستا خبره غلط ګمان ونکړې او زما وانه اورې او داسې لاړه شې.
صبا ـ ستونزه نشته.
فرهاد ـ څه ستونزه نشته؟

صبا ـ هر چېرته چې خبرې کوې ویکړه خو لږ ژر چې ثنا راته اندېښمنه کیږي.
فرهاد ـ په سترګو.
فرهاد په تیزی خپل د کور خوا ته لاړ خو د صبا د راتلو دپاره یې تیاری نه درلود خو لاره کې غېږ له دې بله چاره ونه لیدل هر ځای چې تللی وای نشوه کولای چې سمې خبرې وکړي او زړه حال ورته بیان کړي دویم پوړ ته لاړل فرهاد د دروازې رمز خلاص کړ دروازه یې خلاصه کړه او صبا نه یې و غوښتل تر څو دننه لاړه شي

صبا....

موټر کې مې کوښښ وکړ عادی رویه وکړم او دې ته فکر ونکړم چې تېره شپه څه شوی وه اوس نو موږ په کومې موضوع خبرې کولې؟ او ما یو دوه وارې فرهاد په خندا او خبرو لیدلی و پدې مې د هغه د خبرو ډېر د ترحم حس اخیست خو نن یې په هره خبره زما زړه وسواسي کیږي او ذهن حیرانتیا مې ډېرېدله دا هغه فرهاد ندی چې ټول یې پیژني؟ دې حتی ټوکې او خندا هم زده ده .......؟!

هره خبره یې لکه ټوکه او موسکا لرونکې وه. وروسته له ډېرو خبرو اترو بلاخره د هغه په کور کې خبرو اترو پریکړه وشوه • د مجردې کور. د لیدلو وړ وو , ما په ټول عمر کې د چا یوازیتوب (تنهایی ) کور نه وو لیدلی؟ یعنې خپله یې پخلی کوه؟ خپله یې جامې مینځلې؟ د کور جارو څه؟ او یا ټول کور تیت او ګډوډ دی؟

څنګه چې فرهاد ور خلاص کړ کور ته دننه لاړو کومه خوشبویي چې له ور نه زما دماغ ته راغله ډېره خاصه وه شاید د فرهاد خپل خاص عطر ول او زه یې لا تراوسه په طعم(نوع) نه پوهیدم • څپلی مې د ور خوله کې وښکلې او ګامونه مې لومړنی کوټې په لور کړئ • فرهاد چې زما تر شا خپل بوټان یې زما څپلیو سره د ور شاته الماری کې کېښودل - وویل : دویمه کوټه چپ لاس..

دننه د کوټې له فرش او پردو نیولی تر دیوال ځوړیدلی ښکلا ورکوونکي (تزیینی) انځورونو پورې ټول سپین رنګ وو- یو سپین درې نفره کوچ له یو میز سره چې جوړه یې ما نه وه لیدلي هلته ول واقعا له علاقې (ذوق) چې لرلو ستاینه مې وکړه• په تمه وم تر څو بې نظمه د کور په لرلو رانه ښنه وغواړي مګر برعکس خپله مې د خپلو افکارو اړوند وشرمیدم. اوس نو باید په دې فکر مې ترې ښنه غوښتی وای•

فرهاد- و بخښنه همدا چمتو ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد پتنوس په لاس کوټې ته راغی او سبا ناری یې چمتو کړی شاید تر ما ښه جوش کړی هګۍ سلاد او د مڼې جوس ښه نو ډاکټر ده باید ګټور خواړه یې خوړلي وای
صبا- مننه ډېر زیار دې ویستی..
فرهاد- زیار نه دی همدا سبا ناری مې ځانته چمتو کړی وو• اوس څو مړۍ (ګوله) واخله تر څو خبرې وکړو ---
صبا- اشتها نلرم مننننه ---- اورم -----
فرهاد- امم-------- فکر مې کوو سبا ناری دې نه دی کړی ---

صبا- ښه ....
فرهاد- صبا.... ريښتيا نپوهېږم له کوم ځای یې شروع کړم او څه ووایم؟ اول ته ووایه د راتلونکي لپاره دې څه پریکړه نیولې؟
صبا- فکر نکوم زما پریکړې لپاره دلته اوسو •
فرهاد- ګوره صبا نپوهېږم وروسته له پرون شپې دې څه فکرونه کړي یا نه ---مګر په دې باید پوه شئ چې اوښکې دې لیدلې نشم او حق نلری د هغه څيزونو یا کسانو لپاره چې ارزښت نلري اوښکې تویې کړې ..

د زړه درزا مې له نورمال حالت نه زیاته شوی وه. همدې لامله مې زر په خبرو پیل وکړ او شاید خبرې مې پرته له سریزې پیل کړې , له کوم ځای مې وویل او څه مې وویل او څه مې و نه ویل مګر زما په خبرو د صبا سترګې نمجنې شوی-----
فرهاد- هیله کوم صبا ----- مه ژاړه ----- که وژاړې خبرې مې نیمګړې پاتې کېږي •

هغې زما مخ ته کتل شاید حس یې کوم پرې ترحم کوم او غواړم ډاډګیرنه ورکړم , بې مورده ذهیت یې د زړه سواندي په اړه درلود • مګر نه زه د ځان لپاره زړه سواندی نشم کولای څه ورسېږي صبا ته ... کاش واضح مې کولای شوای ووایم مین یم دربانډې او فقط همدا --- اما په دومره سادګی او اساني نه وو• صبا دو برابره تر ما وړوکې او زه شاید حتی د عمر له لحاظه برابري نلرو •هغې له مانه د مینه درسره لرم جملې اوریدل انتظار په هیڅ وجه نه درلود ---- او زه ځانځاني کړنه سره نغواړم خفه یې کړم ---- د اوس لپاره همدا چې ومني له دې ښار نه لاړه نشي ډیر دی----

صبا- پوهېږم چې مهربانه یاست , او زما په حق کې مو ډیر ښه کړي مګر ....
فرهاد- زه ورټیا ولرم مهرباني وکړم - خپله تر ټولو زیاد اړتیا لرم مهربانی ته صبا... ګوره صبا جانې زما د ژوند کنټرول زما په لاس نه وو او اوس هم شاید نه وي. حتی تر اوسه چې بوډا توب ته رسیېږم • تیر وخت کله پریکړه نیوونکې مې مور وه او کله پلار • او فعلا هم زړه دی چې پریکړه نیسي څه وکړي•

صبا ....

فرهاد مظلومانه خبرې کولې چې زه یې په ژړا راوستم. هغه زه درک کولم او حق به جانب یې لیدلم , هغه خبرې چې شاید انتظار مې درلود له فرشاد نه یې واورم. انتظارات چې مې له فرشاد نه لرل. ای کاش دا د انسانیت حس چې د فرهاد وجود کې دی لږ یې فرشاد درلودی. زما لپاره یې اوښکې تویولې او له ما غواړي چې و نه ژاړم.

فرهاد- صبا غوږ دې راته شته ? حواس خو دې له د ځایه لري تللي؟
صب) هوش او فکر مې همدلته دي ------
فرهاد په ځای کې ودریدو او ویې ویل: څه ووایم خپله هم نپوهېږم فقط درنه غواړم د ژوند په اړه دې خپله پریکړه ونیسې صبا اجازه مه ورکوه له منځه دې یوسي. ماته وګوره؟ زه هیڅ یم --- هیڅ ---- څکه و مې نشو کړای یو ځل هم د ځان لپاره مقاومت وکم ودرېږم • تل نالیدلی ( نشته ) نیولی یم •

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې موضوع چې فرهاد ما ښه درک کوي پوهه شوم ځکه خپله هم له داسې شرایطو تیر شوی کوم کې چې اوس زه یم دا چې هر وقت شاهد د نورو د پریکړې د ځان په اړه وو اوس نغواړي بل کس هم په دې ستونزو اخته شي • د دل اسا کولو لپاره یې ما هم خبرې وکړې •

صبا- داسې مې وایاست , هیڅوک تاسو ته نشي رسیدلې. له هر لحاظه تر نورو غوره یاست • ښه ژوند لرئ - لوست مو کړئ , ډاکټر یاستی هیڅ وخت ځان له نورو کم مه گڼئ.

فرهاد- مگر بیا هم دا ټول هیڅ دي صبا ---- پوهېږې ولې ? ځکه که ډاکټر شوم نو د نورو د درد دې درملنې لپاره نه د خپل زخمي زړه لپاره•که ښه هلک شوم او خبره منوونکې وم تر څو درد به خوره ( حامي تکیه گاه) پلار ته مور ته او حتی فرشاد ته چې هر چیرې د لومړیتوب حق اخیست • له ځانه تیریدنه مو گټه شوه د نورو لپاره • د ټولو په مینځ کې مې څو هیلې درلودې چې هغې څخه فقط همدا ( اشاره کور ته ) وروکی یې پوره شوه •

پوهېږې صبا , غوښتل مې تنبل اوسم تر څو پلار مې زما لوست ته پاملرنه وکړي , غوښتل مې بې پروا (بازی گوش) اوسم تر څو نور راته په اندیښنې شي • غوښتل مې ضد وکړم تر څو ټول مې خبره واوري • مگر هیڅ یو مې تجربه نکړل • ځکه ما حق نه درلود معمول (عادی) اوسم• زه وروکی هم باید لوی وای او زه چې اوس رالوی شوم هم باید لوی یا غټ پاتې شم..

ما ماشومتوب ونکړو صبا.... او نه مې هم ځوانې وکړه...

اوښکو نافرماني وکړه او د فرهاد د سترگو له کنج نه ښکته راغلې او فرهاد په کرار په خپل لاس پاکې کړې. شاید نه یې غوښتل خپل ناتواني په نمایش کېږدي.

فرهاد- و دې لیدل چې ټول مې له لاسه ورکړل.

صبا- هر څه چې وغواړې کېږي کافي ده خپله یې وغواړې.

فرهاد لاس په میز وواهو او وې ویل : دقیقا همدا غواړم تاته ووایم: هر څه وغواړې کېږي کافي ده خپله دې وغواړې صبا...

ته وغواړه دنیا ستا په امر نځېږیچ که و نه نځېږي زه یې درته نځوم.. فقط مه تسلیمېږه , حاضر یم ټول عمر دې ملاتړ وکړم او ستا له حقه دفاع وکم •

صبا- مننه کوم. پوهېږم موږ ټول همداسې یو د ځان لپاره چې کوم کار نشو کولای هماغه کار په موقع د نورو لپاره په ښه طریقه تر سره کوو.

فرهاد- ته بل څوک نه یې صبا ته هماغه یې چې یې....څنگه له تاسره خبرې وکم تر څو درته واضح شي؟

د فرهاد له دې جملو وډاره شوم او غوښتل مې کور ته وستنېږم نو ومې ویل: کېږي ما کورته ورسوئ ټنا په اندیښنې کېږي•

فرهاد- ښه ده ځو.. مگر.....

صبا- ښه ده اورم.

په ځای کې مې ودریدم تر څو شاید دا اخرینه خبره وي د فرهاد نور مې اندیښنه لږ لږ زیاتیده د هغه خبرو کیده څو معناوې ولري چې زه له هغه ټولو معناوو یې ډارېږم

نو دې همدې لپاره مې وغوښتل خپلې خبرې پای ته ورسوي

فرهاد-صبا.... نپوهېږم څه درک کوی مگر که له فرشاد نه جلا شوی....چې مطمینه یم جلا کېږئ ځکه حق دې نه دی چې له دې نه زیاد درد وگوري... باید دلته پاتې شئ •

صبا- نپوهېږم تر اوسه مې پریکړه د تللو او پاتې کیدو نه ده نیولې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- تللو ته ارتیا نشته که دې غوښتل همدلته همدا کور دې په نوم کوم همدلته پاتې شه د خپل په سلیقې دې بدلون ورکړې او هر قسم دې چې غوښتل ژوند وکړه زه له دې کور نه ځمه ...

صبا- ضرور نه ده مننه ... که وغوارم پاتې شم د ټنا کور شته د پلار کور مې شته.
فرهاد- مگر دا کور , ستا خپل کور دی صبا.. پوهېږم ته زما په برخه نه کېږئ..خو زما یوازینۍ هیله دا ده چې ته د خپل زړه په دیوال کې یوه کړکۍ زما په لورې را خلاصه کړئ او خپله مسکا دې که د یو ځل لپاره هم وي زما د سترو سترگو په برخه کړئ..
صبا- کېږي چې لاړ شو هیله کوم...

فرهاد- سمه ده ځو ---- مکر پوه ش دا کور دا ځای ټول ستا پوری اړه لری. هر کله دې وغوښتل راشه دلته ژوند وکړه • فقط بل ښار ته له تگ نه پیښمانه شه هیله کوم.
صبا- زما پریکړه زما او زما د کورنۍ مربوط کېږي. دلته هم چې راغلم کوم احترام چې تاسو لپاره لرم او کوم لطف او مهربانی چې مو زما حق کې کړی دی.• نغوارم خفه شئ مگر که زه وغوارم لاړه شم یا هم پاتې شم ستاسو پورې اړه نلري • ښه دا ده چې د خپل او د ورور د راتلونکي په فکر کې مو اوسئ نه زما...

د فرهاد لپاره مې ډېرې خبرې درلودې مکر دا چې بې ادبي ونکړم لږ خبرې مې وکړئ , له خبرو چې له خولې راوتې یریدم نه چې فکر کوي وروسته له فرشاد نه فرهاد سره د واده پریکړه به نیسم • په خیال یې کولای شي ما تیر باسي• نور حتی له غږ نه یې زما کرکه راتله ارتیا نشته دومره د ښه توب فلم ډک کړې موخه یې ما درک کړه • غوارې چانس وازمایي. زړه مې د هغه له خبرو تور شو څومره یې موقع غوښتل وکو • په ځانځاني( خودخواهي) ټوگه یې غوښتل ما کم ظرفه وښايي• او یا هم غوارې چې ما ضعیفه تر ځانه او تر لاس او پښو لاندې غورځیدلی وښايي •

وروسته له خبرو مې له کوټې ووتم او زر ځلې له راتگ مې د فرهاد کور ته پیښمانه شوم , نپوهېږم په کوم عقل مې دلته راغلم که څوگ مې وکوري زمونږ په اړه به څه فکر وکړي • خدایه څه کېږي دا ځل مې څوک دلته و نه ویني او روسته له دې به هیڅکله دا تیروتنه تکرار نکړم. په بیړې له کور نه ووتم د لارې په اوږدو کې م هم فقط هندي سندرې په لوړ اواز اوریدې تر څو فرهاد د خبرو کولو جرات ونکړي • هغه زه د کور ورته نږدې پیاده کړم او روسته د یو الله پاماني نه کورته لاړم..

نن باید په خوښۍ تیره کړم ځکه سبا الطاف راځي او د تگ وخت دی.

محبوبه ...

فرهاد مې وروسته له دې حتی کور ته قدم هم نږدې پوهېږم , له مانه خفه دی او تر ما ډېر له پلار یې یوې غلطې پریکړې مو د دریو کسانو ژوند خراب کړ• هره ورځ مې فرهاد ته زنگ وهم او غوارم چې ما وبخښي مگر هغه نه دې ښښلو په اړه غږېږي او نه د خفگان • په معلقه ( آویزان )حالت کې پاتې یم او هیله کوم ای کاش هغه ورځ د فرشاد د احوال قاصده نه وای • نو نن به د صبا د بد حالت او د فرهاد د غمونو مقصره نه گڼل کیدم. کریمه چې وروسته د لمسي له خبر نه په کالو کې نه ځاییده رنگین ته یې په خپلو سترگو کې ځای ورکړی ... څنگه چې خوله خبرو ته خلاصه کوي د رنگین په اړه غږېږي...

سعید هم لکه زما په اندیښنې دی صمد دوه ځلې سعید ته زنگ ووهو مگر د خبرو کولو جرات مو له هغه سره نه درلود نو د همدې لپاره د هغه زنگونو ته مو ځواب ورنکړ..

فرشاد....

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له څو اونۍ غم نه بلاخره ښه خبر مې واوریدو چې د اولاد څیښتن کېږم , لږ مې له غمونو نه کم شول او ګمان مې کوو چې حداقل اوس به مې مور زما شا پرېږدي او زه کولای د صبا څنګ ته ورشم مګر هماغه شپه صبا د دې خبر په اوریدو له مانه نور هم لرې شوه حتی یو ځل یې زما مخ ته ونه کتل او خپله لار یې ونیوله او لاړه • غوښتل مې ورپسې ورشم او پخلا یې کړم مګر د فرهاد فلم بازي , د پلار قار , د مور اوښکو مې هر څه خراب کړل • شپې مې دوه ځله صبا ته زنګ وواهو خو جواب یې رانکړ • داسې نه کېږي باید له صبا سره مې خبرې کړې وای • مګر هغه چې ځواب نه راکوي یعنې نه غواړي ماسره واوسي•

نه ممکنه نه ده چې ګلابو مې تقدیر ته نه تسلیمېږي باید خبرو ته مې غوږ ونیسي او اوس نور اړتیا نشته له ما جلا شي مور مې خپلې هیلې ته ورسیده د لمسي څیښتنه شوه زما او صبا شا پرېږدي..او شاید پرون چې صبا تر کوره راغلې وه کوم دلیل لري

ممکن هغه هم غواړي بیا ځلی سره یو ځای اوسو او کوم خبر یې چې واوریدو شاید زړه ماتې شوی وي او څه یې ونه ویل • هوډ مې وکړ او دې لیدو لپاره یې خور کور ته یې ورغلم • تر څو راتګ ته یې پخلا کړم , مګر هغه مې د فرهاد د موټر نه د ښکته کیدو په حال کې ولیده •

په داسې حال کې چې زما میرمن زما د زنګ د جوابولو لپاره وخت نلري مګر ورور سره مې تفریحي لیدل لري..له صبا سره مې اړیکه ونیوله مګر اوس یې هم موبایل جوابولو ته زړه نه وو • زړه مې د ورور درلودو نه او ښځې درلودو نه تور شو • یعنې تر اوسه یې  له ما طلاق نه دی اخیستې له ورور سره مې یو اړیکه ترلې -- نو د همدو زړه لږیدل دي چې فرهاد خپل ستونی شکوي او د صبا لپار د حق غوښتنه کوي؟

له ما طلاق غواړي تر څو له فرهاد سره وخت تیر کړي؟ نه امکان نلري نه پرېږدم چې ما په په خرابو او ویرانو کې پرېږدئ او خپله لاړه شئ د بل چا په خیالي او خوبونو قصرونو کې ژوند وکړئ صبا ...نن ته زما ځواب نه راکوی سمه ده مه راکوه , ځواب --- سبا مې خپله له الطاف سره غږېږم -- کله نیوهېږې په کوم کور دې پښې ایښې ------ چې داسې دې کور وران شوی -----

صبا....

زړه مې د الطاف راتګ ته خوښ دی , هغه راشي زما د ځواک دیوال کېږي او شاید نور هر کس او ناکس جرات ونلري زما په مقابل کې خبرې وکړي • د نن ورځ لپاره ډېره هیله منده وم او دا چې هغه راځي او ما مې له دې جنجالونه او حالت باسي • فرهاد هغه سړی وو چې فکر مې کوه زما لپاره ژاړي او زما لپاره زړه سواندي کوي• مګر نن مې فکر شو تر څو د چا فایده نه وي نو زړه سواندي نشته • هغه ماته د بخت ازمایښت ټکټ فکر کړی او غواړي خپل چانس وازمایي •••

حیف کېږي ژوند د هغه کسانو تر منځ چې موږ نشتون ته اړ کوي •

زړه مې غوښتل همدا نن چې الطاف له هغه سره له دې ښار او هیواده لاړه شم او هیڅکله بیرته ستنه نشم • له تره سره مې اړیکه و نیوله تر څو له فرهاد نه وغواړي زمو جلاتوب مسله زر خلاصه کړي تر څو وکولای شم له دې ځای نه په راحتي لاړه شم • سعید تره هم ومنله چې فرشاد خپله امضا کړی طلاق نامه نن راوړي•

د دې خبرې په اوریدو زړه دوه ټوټې شو • یو خلاصون له بند نه جشن ونیوه او بل له هغه بربادیو چې په مخکې لرم اوښکې تویوي•  ما چا پورې خندلي ول چې اوس ټول زما په ژوند ریشنخد کوي • شوې یم د مجلسونو نقل هر څوګ مې چې ویني

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځواني مې افسوس کوي • هغوی نېوهېږي ما څه ليدلي او څه به وګورم • غمونه مې چې د څو مياشتو په لړ کې وليدل , نشم کولای وزغمم څه ورسېږي چې هر کال دا درد وزغمم • کاش فرشاد په دې يو ماشوم بسنه کړی وای او رنګين يې زموږ له ژوند نه لرې کړی وای • کاش ماته د طلاق په ځای هغه يې له ځانه جلا کړی وای • مګر نه هغه غوښتل نيکمرغه کورنۍ ولري • او هغه کور ارتيا درلوده مور او ډيرو ماشومانو ته نه ماته -----

ثنا...

ساعت 11:30 بجې وې چې حسيب ماته غږ وکړ تر څو الطاف پسې ورشو. هغه حيسب ته پيغام استولی وو چې الوتکه ناسته ده • دا چې زموږ کور ميدان هوايي ته نږدې وو ارتيا مو نه درلوده مخکې له وخت نه ورشو •••
ثنا- صبا... راځه چې ميدان ته لاړ شو.
صبا له کوټې ځواب راکړو: نه خور جانې زه نه ځم.
حسيب- راځه نو ناز مکوه.

دا ځل صبا له کوټې راووته او مخامخ يې وويل: دلته خپل لږ سامان ټولوم , ځکه الطاف خو پيژنی همدا چې راشي بيا خپل کور ته مو ځي •
ثنا- ښه ده , نغواړې لاړه شې مه ځه... مګر نن شپه الطاف چېرې نشي تللی.
صبا په خندا وويل:خدای دې وکړي..

فرهاد....

توپير يې نه کوي
پرون شپه او نن شپه زما لپاره
صرف ستا په نشتون کې
يو شپه اضافه شوه

ټوله شپه مې د صبا په ويره او اضطراب فکر وکړ • هغه يو ځلي له ما وډاره شوه او ځان يې زما په کور کې ناامنه احساس کړ , هغه کور چې غواړم صبا پکې امنتره له هر ځايه اوسي • هغې د زړه په تل کې خبرې درلودې چې په مخ کې رسوا نکړئ • شايد غلط برداشتونه , شايد غلط درک او يا هم د ټولنې نه ډار ------ صبا هغه جنۍ چې کله په سرشاري کې مشهوره وه نن زما په خبرو چې اصلا د زورولو هوډ مې نه درلوډ وډاره شوه •

له خدايه غواړم برباده شي کور يې خراب شي د هغه کس چې دا يې دې حال ته راوستې.. سهار کيدنې سره مې پلار ته زنګ وواهو تر څو د فرشاد او صبا د جدايي په اړه لا ډير جزييات ولرم چې خبر شوم فرشاد پريکړه نيولی د الطاف په مخکې صبا ته طلاق ورکړي. له ليونتوب نه وه يا هم ځانځانيتوب له وجې چې فرشاد غوښتل ځان د الطاف مخکې وښايي• نمی غوښتل صبا په داسې ورځ کې د بې کسي حس تجربه کړي , هر څو چې الطاف او حسيب شايد وي مګر زه له خپل نظر نه لومړنۍ ملاتړ يې اوسم •

الطاف 12 بجې کور ته راورسيد ثنا يې چې په ميدان هوايي کې په ماړه نس غېږ کې نيولی وه او اوس نو د صبا وار وو بدمرغه صبا --- د يو کال نه کم کې هغه ناوی شوه او اوس يې هم له خاوند نه جلا کېږي • مخکې ځل يې ناوی کيدلو او تګ د پلار کور نه د الطاف په غېږ کې اوښکې تويې کړې او اوس برعکس بيرته د راستنيدو د پلار کور ته بايد اوښکې تويې کړې وای•

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا او الطاف تازه  یو بل ولیدل یو بل غاړه کې لاسونه واچول او صبا له حد نه ډېر د ورور په غېږ کې اوښکې تویې کړئ • مګر له دې هم امن لرونکی ځای وو? د ورور غېږ هغه ځای که تیره راشي او سخته راشي پر تا به اغېز ونلري •  هغه ډال کېږي تر څو ته سوکاله اوسې ••••••

روسته له لنډې روغبړ ټولو په ګډه د یو بل تر څنګ غرمې ډوډۍ وخوړه او الطاف وویل: اوس نو ستاسو په اجازه زه او صبا غواړو خپل کور ته لاړ شو •

حسیب- نن مو په توشکو ازغي نه دي کرلي کولای شی ارامه کینې...

الطاف- مننه کوم حسیب جانه.. ارامه کیناستو و مو خوړل او و مو څکل • تر نن هم صبا دلته وه نو پوه شه چې تر خپل کور نه برتره حس کوو او کم نه..

حسیب- نو ولې بیړه لرئ --- حداقل نن شپه همدلته اوسه ---

ثنا- اوس نو یوازې صبا دې خور ده کې هغه اخلی او ځی --- مورې هیڅ -----

الطاف- توبه ثنا جانې هلته خو زمورې ټولو لومری کور دی، ته هم راځه.

شهلا- که سترې شوې وې،  زوی جانه" حسیب کوټه وښیه، چې ویده شی، مورې به بیا د شپې سره کښېنو.

الطاف- مننه، خاله جانی ، زه ښه یم. هیڅ ستونزه نده.

د چای پتنوس کېښودل شو او هر چا د الطاف خبرې ته غوږ نیولی و خوندي اخیستل او تر هغه وخته پورې چې فرشاد له خپلې کورنۍ سره راورسېد خوند یې کاوه. فرشاد حتی رنګین هم له ځانه سره راوړی ترڅو د صبا په ژوند کې نور دردونه راولي.

شهلا په ډیره مهربانۍ سره محبوبې او کریمې ته ښه راغلاست ووایه، حسیب د ټولو سره د لیدو لپاره ودرېد سلام می واچول او ثنا په چټکۍ سره د خپل کوچني ایندر  سره یو څه بالښتونه ده بل کوتی راوړل چی تول تکیه وکری . صبا د خپل تره او د تره د ښځې محبوبه لاس ښکل کړ، خو د کریمې وار و، چې لاس یې ورنه کړ او صبا هم د هغې لاس له قصد ښکل نکړو.

رنګین سلام وویل: او شهلا پرته له پوښتنې وویل: چې دا نوې میرمن د فرشاد ده او ښه راغلاست یې ورته وویل. ثنا هم د مجبوری له امله مخ یې ښکل کړ، خو صبا یې د سلام ځواب هم ور نه کړ.

فرشاد چې ځان یی له ټولو پوه بولو، د ټولو سلامونه یې ومنل او د هر چا سلام او پوښتنی ته یې هو وویل او په ځواب کې یې د بل لوري د حال پوښتنه ونه کړه. هغه هم د الطاف سره لاس ورکړو او سترې مشی وکړه او الطاف د یو تعلیم یافته او پوه هلک په حیث هیڅ هم غصه ونه کړه.

فرهاد وروستی کس و چې د کورنی کی ګډون وکړو هم دا چی راغی میرمن شهلا  لاسونه ښکل کړل او بیا یې الطاف په غېږ کې ونیو او ښه راغلاست ورته وویل حسیب هم مخکې د کور میرمنې نه لاس په کار شو دوه دری رقم تازه میوه چی د پخلنځي د میز پر سر  چمتو وو او مېلمه ته یې وړاندې کړ، شاید پوه شوی چې صبا او ثنا نور د کار کولو حوصله نه لري.

هېڅا یوه کلمه هم ونه ویل تر څو چې فرشاد خپلې حرص ( یا هم شکایت ) را ایستلې نه وو دوه ځله یې ستوني صاف کړل، تر څو ټول یې په خبرو پوه شي.

فرشاد- ښه، اوس چې ټول دلته دي، زه غواړم چې صبا د وروستي ځل لپاره د جلا کیدو لامل وپوښتم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا په غوسه شوه او کله چې فرشاد ته ناځاپه د بېلتون خبرې را په يادې کړو ، د سترګو له کونج څخه يې اوښکې روانې شوې.
فرشاد- ما تر اوسه سند نه دی لاسلیک کړی صباد خوښی اوښکې مه تویوه، تر څو چې قوي دليل را نه کړې، زه به هم پر کاغذ نقطه نه ایږدم لاسلیک خو هیڅکله...

صبا سترګې پورته کړې او فرشاد ته يې په لېوالتيا وکتل. شايد صبا غوښتل په خپله پريکړه ډاډه شي. دويم ځل يې هغه ته وکتل او دا ځل يې غلی نه شو او ورو يې شونډې وخوځول او ويې ويل: تاسو کوم دليل غواړئ؟ دليل د څه لپاره؟ ځانه ناخبره مه اچوه.
فرشاد- زه غواړم ستا خبرې واورم، ستا نه ويل شوي خبرې.....
صبا- د خبرو کولو لپاره هيڅ نشته، هر څه چې وو ومې ووېل، اوس يوازې طلاق ...
فرشاد د صبا له خولی خبره واخستل او ويې ويل: طلاق ... تر هغه چې ته خپل خبره روښانه نه کړې، طلاق نشته ولې زه بايد طلاق ورکړم؟ په اسلام کې دوې ښځې روا دي او که دوې ښځې لرلو ته اړتيا پيدا شي زه به ستا حاجتونه پوره کړم او ستا ارمان به پوره کړم نو ولې طلاق درکړم؟

صبا- فرشاد د دين خبره مخته مه راوړه چی په دين کې د خيانت ځای هم نه شته، خو تا دا کار وکړ. هغه ورځ چې زه ستا د راتلو په انتظار وم... لعنت ما باندې... نور څه غواړې؟ آيا دا رسوايي کافي نه ده؟ چې زه دی سر عامم ټولو ته وشرمه ولم؟
فرشاد- ټول خلک چې دلته دي زموږ دواړه کورنۍ دي. هيڅ شی پټولو ته اړتيا نشته او څوک خبره هم د باندی نه وړی نو صاف خبره وکړه.
صبا- نه ..هرڅوک زما د کورنۍ غړی نه دی، هغه څوک چې ستاسو اوسنۍ ميرمن او ستاسو د راتلونکي ماشوم مور ده ...

فرشاد- که داسې وي نو ته هم بايد پام وکړې، چې يو بل کس هم شته چې زما د کورنۍ غړی نه دی، بلکې له تاسو سره نږدې تړاو لري. که ته زما په مطلب پوهيږئ چې زما مطلب ډاډمن يم پوهه شوی هم يې چې زه څه ويل غواړم، نو ته بايد ماته واضح دليل راوړې چې ولی غواړې زما څخه جلا شې؟ زه طلاق فسخ ګڼم او طلاق به تر هغه وخته نه جاري کيږي چې زه يې وغواړم.

فرهاد...

د دوی لفظي استدلال په ما باندې داسې اغېز وکړ لکه د اوسپنې ويلی شوې.ما حتا نه غوښت چې فرشاد دی د صبا د خبرو د اورېدونکي په توګه اوسيږی خو صبا ته مې انتظار کاوه چې خپله خبره وکړی، خو زما د صبر کاسه هم حد ته رسېدلې وه، ځکه فرشاد ځان هر کاره ګڼي. او په ځان نازيبده چې زه به طلاق نه ورکوم، دا خو زما د اعصاب رګونه يی له کار واچول.
خو دا چې زما يوې جمله صبا په غوصه کری.. نو زه هم چپ شوم او فرشاد ته مې يادونه وکړل چې صبا يوازی نه ده.
فرهاد- ته؟ ته په څه څيز غواړې د صبا څخه اعتراف او اظهارات واخلې؟
فرشاد- کله چې خبره له تا سره هيڅ تړاو نه لري، په ناحقه لاس پورې مه کوه... فرهاد....

فرشاد- ښه صبا جانی ... راته ووايه چې ولې جدا کيږی؟ دې کوټه کې هغه څوک شته چې ووايي زما کوم کار ګناه دی؟ ما کوم کفر کړی؟ چی دا غواړی راڅخه طلاق واخلې.؟ ما ک دويمه ښځه وکړه نو دا د شوق نه وه، زه اړتيا لرم چې يو ماشوم ولرم..که د ښځي کولو طريقه می اشتباه ده لس ځله بخنه غوارم او کوم يی.. ايا زما پلار دوهم ځل واده نه دی کړی چې اولاد ولري؟ ما حق درلود او ما خپل حق وکاراوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- تا حق درلود او اوس هم لري، دا موږ ته مهمه نه ده، چې تا څه وکړل، په خپل ځان دی وکړل، او صبا چې څه کوي، په خپله يې کوي.
فرشاد د فرهاد خبرې له پامه وغورځولې، صبا ته مخ شو او ويې ويل: ګرانې مېرمنې... اورم يې
فرهاد- هغه ته خپله مېرمن مه وايه...

سعيد فرهاد وهڅاوه چې غلي شي، الطاف فرشاد ته وکتل او وې ويل: که تا خبرې خلاص شوي اوسې نو زه يو څو خبرې درته لرم.تاسو د دوهمې ميرمنې حق درلودی قبول چې اسلام تاسو ته د دويمې ميرمنې حق درکړی دی. خو تر اوسه څو کال ستا د واده تير شوی چی تا بل واده وکی ؟ زما خور څو ځله تاسو نااميد کړی ياست چی ته بل ميرمنی ته ولاړی ؟ ايا هغه ته نه ويی چی د مينه لافې دی وهلی؟ ته په هيڅ دليل نشې کولې چې خپل کار توجيه کړئ ....

فرشاد- ورسره مې مينه درلوده او اوس هم لرم... له همدې امله ما د هغه په خيانت سترګې پټې کړې او اوس هم غواړم چې خپل واده وژغورم.

صبا...

کاش زه مړ يا کاڼه وای، دا خبره يې څنګه پر خوله راتله چی ووايی؟ ايا ما ورسره خيانت وکړ؟ ما څه کړي دي چې هغه ما ته غدار وويل؟ چې ما له بل چا سره واده وکړ؟ ايا ما دوهم ميړه راوړی؟
الطاف- څه خيانت ؟ او د څه کاری کړی دی؟
فرهاد- فرشاد نر اوسيږه او د نر پشان خبری وکړه... تهمت مه کوه...
فرشاد- اووو زموږ ستر غدار، ماته د اخلاقو درس راکوي، فرهاد لکه تا څوک غدار دی؟

صبا- تاته مې خيانت وکړ؟ ايا زه لاړم او پرته له ويلو واده می وکړی؟ ما تا باندې دوهم ميړه راوړی. فرشاد، تا ته دوکه ورکول اسانه وو، ماته نه...
فرشاد وخندل او ويې ويل: ښه، ما ښځه په حلاله لاره راوړه.خو ته د هغوی په موټر کې له نا محرمو سره چکر وهی ...

فرهاد اجازه ورنکړه چې فرشاد خپله خبره پای ته ورسوي او په خوله يې په بوکس ووهله. چپ يی کړو او ويې ويل: ته لعنتي له خپل حد څخه تير شوی..بی غيرت په خپله ميرمن تور لګوئ؟
فرشاد خپل دواړه لاسونه له فرهاد څخه جلا کړل او ويې ويل: بی غيرت په خپله يي چې له يوې ښځې سره چې واده شوې ده، رابطه لري. هغه ښځه چې تراوسه زما په نکاح کېده.

صبا...

که د فرشاد لپاره مې کوم احساس درلود، په نفرت بدل شو. ده څنګه په ما دا خيانت تور وکړ؟ کله چې دا خبرې د هغه له خولې راووتلې ژبه يې څنګه نه لړزېده؟ هغه خدای په وخت ونه ليد. ما د چا سره اړيکه درلوده چې اوس زه د هغه د ناوړه الفاظو مستحقه يم؟

ثنا- آيا له تا څخه پست تر څوک شته؟ څنګه تور لګوي؟
فرشاد- دا تور نه دی. ما هغه پرون د خپلې ميرمنې سره وليد ... هغه د چکر لپاره اخلي او کور ته راوړي. هغه ته صبا جانه وايي او مړ کيږي ورته..
فرهاد- توف دی ستا پر ذهن شی ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- نوربښځه ښځه مه کوه... فرشاد... صبا ستا ښځه نه ده، ځمکه او وخت که یو شي، زه به نور اجازه ورنکړم ستا نوم خپل د نوم پر څنګ کې نه پرېږدم. چی ولیکل شي .. ما خیانت وکړ او خوشحال هم یم ستا د خیانت په ځواب کې ما خیانت وکړ
مونږ فرق دا دی چی تا واده وکی او ما نه..

فرهاد...

ما باید د فرشاد له خولې څخه دوه دېرش غاښونه ایستلي وای، خو افسوس چې صبا مې نور خپه نشو کړای. هغه دومره ستړي وه چي  بی دلیل خیانت یی هم پر ځان واخیست.

فرهاد- صبا... اړتیا نشته هغه ګناه چی دی نده کړې پر غاړه واخلي.
فرهاد د  الطاف او  خپل پلار خوا ته وکتل او وې ویل: زه دا خبره منم چی صبا صبا مې ویلی او ژړلې می دې. زه دا اقرار کوم چې له ځانه مې زیاتره مینه ورسره لرم، خو په الله قسم چې صبا له ملایکو څخه ډېره معصومه او پاکه ده، معصوم تره د هغه ملایکو څخه چې تاسو یې بیا اوربدلی دی په قرآن کی. حتی هغې په پورته سترګو هم ویلای شم چې هغه چا ته کتلې ندی او نه هم ګوری..او دا څه چی مو لیدلي او اورېدلی ، باور مه  کوي. صبا بې ګناه ده...

فرشاد- فرهاد هیڅا هم له تا ندی غوښتی چې ته د صبا لپاره شهادت ورکړې.ته لاړ شه او د خپلې مینې د لاسه ورکولو غم وخوره...

داسې ښکاري چې فرهاد د فرشاد خبرې ته غوږ نه نیسي او لومړیتوب یې د صبا دفاع ده ځکه ویې ویل: الطاف صبا کومه ګناه نه ده کړې، دوی دا ټولې خبرې د صبا د پښو لاندې کولو لپاره کوي. فرهاد صبا خواته وکتل او وې ویل: صبا ته ولی عاجزه شوی هاا؟ ما تاته نه وو ویلي چې د خپلو حقونو دفاع وکړئ؟ ما نه دي ویلي چې چوپتیا خپله سزا ده؟ صبا نن غلی شي ستا حکم صادر کوي.. دا خلک...

صبا...

ریښتینې مینه څه ده؟
مینه کول د اور په معنی دی او د شمع روښانه کول دي. فرهاد زما د دفاع لپاره ستونی څیری کی او فرشاد زه په زنا کولو تورن کړم. غلی شوم شاید ما اشتباه کول ټول په دې توګه شکمن شول او ما ته یې په سپکه سترګه وکتل، خو په دې وخت کې خپل او بیګانه راته معلومیدل ، زړه مې د ځان او کورنۍ لپاره ټوټه، ټوټه شو زه د یو بې شخصیت په لاس کې شوم او اوس به یې تاوان ورکوم .
الطاف چې نور فرشاد یې خپل په سویه نه لیده خپل تره ته یې وویل: ښه اوس چې د جلا کېدو پرېکړه وشي خیانت نه خیانت..دوی ولې په ناحقه فلم ډکوي؟ د صبا طلاق ورکړی چی موضوع بند شي..

فرهاد- پلاره  که د طلاق خبره دلته پای ته ونه رسېږي، په خدای قسم چې له دې ښاره، له دې وطنه، حتا له دې نړۍ به ځان خلاص کړم.
فرشاد- کاش ته زموږ له ژونده ورک شې...
د سعید د  لاس ضربه د فرشاد په مخ ووهل شول او ویې ویل: بس که له دی نور د ټولو عزت مه خرابه وه.
او په غوسه یې فرشاد ته د طلاق اړوند دوه کاغذونه راواخیستل او قلم یې ورکړ.
سعید- لاسلیک که ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشاد قلم راواخیست او خپل پلار ته یې وکتل او و ته وې ویل: زه به لاسلیک کړم، خو شرط لرم چې صبا او فرهاد به زما له طلاق وروسته یو بل سره ونه ویني.
سعید- تاته می وویل چې لاسلیک کړه او نور ځان مه ذلیل کوه..

صبا له ځان سره وویل: چې ولې څوک ونه وینم؟ ته زما د ژوند حق نلرې؟ ته په خپله خوښه ژوند کولای شې، خو ته غواړې چې له آزادۍ وروسته هم ما محدود کړې

الطاف- فرشاد هغه غوټۍ چې په لاس خلاصه شي غاښونو ته اړتیا نه لري. نو دا به ښه وي چې موږ خپلې ستونزې زیاتې نه کړو ...
فرهاد- طلاق امضا کړه،فرشاد،زه ځم...تر څو آرام اوسې.
صبا خپل چوپتیا ماته کړه او وې ویل: طلاق زما حق دی او که ته په خپله خوښه طلاق نه ورکوې،زه محکمې ته ځم ،نن او سبا زه طلاق اخلم، دا محدودیتونه دی خپل ښځه ته ووایه ماته نه.

فرهاد له کوټې د وتلو لپاره پورته شو. شاید هغه په رښتیا هم د وتلو اراده درلوده، د صبا له خوښۍ او سولې څخه بل هیڅوک هم مهم نه وو حتا خپله..
صبا- کښېنه فرهاد، زما له کبله له دی کورنۍ څخه څوک نه جدا کېږي...
ففرهاد- ستا خلاصون له بند تر هر څه ډېر مهم دی ...

فرهاد روان و او د صبا سترګې یې په تعقیب روانې وې، څنګه به یې هغه څوک پرېږدي، چې دومره یې له درده ډک زړه له دې ځایه لاړ شي؟ آیا له صبا څخه زیات ظالمه بل څوک و؟ هغه له کوټې ووت او روان شو، شاید د صبا زړه هم له ځانه سره ویسو.

ثنا د صبا په غوږ کې په نرمۍ سره وویل: صبا ضد مه کوه، ووایه چې زه یې نه وینم او چپ شه... ایا تا له دې ځایه د وتلو پریکړه نه ده کړې چې الطاف سره ولاړه شې؟

صبا په لوړ اواز وویل: چې شاید ما د پرېښودو پریکړه کړې وي، خو زما لپاره هیڅ دلیل نشته چې د دې لعنتي اړیکو له امله خپلو ملګرو او خپلوانو څخه منصرف شم
صبا په خپل ځای ودریده او د خپلې وروستۍ خبرې په توګه یې وویل: تر دې دمه زه یوازې د خپل عزت او کورنۍ په فکر غلی وم. خو کله چې ټول اتفاق او ګناه پر ما اچوي، پروا نه لرم چې چاته څه ضربه رسیږی ، سبا به محکمې ته درخواست ورکړم
زه به طلاق ورکړم او پریکړه به هلته کیږي.

کریمه- وشرمېږه جلی ستا د عزت هیڅ، چې موږ یې بدنامه کوي..
الطاف- د کاکا ښځی مشره یاست ، زه ستاسو درناوی کوم، خو دا په دې معنی نه ده چې زما خور ته په هر ډول خطاب وکړئ چې تاسو یې غواړئ.بده کلمه بد ځواب لري.
سعید فرشاد ته وکتل او وې ویل: افسوس په هغه ورځ چې ته می قبول کړی او تاسو واده ته می رضایت وکړو.
کریمې هم له فرشاد څخه وغوښتل چې د طلاق لاسلیک کړي، خو فرشاد چې فرهاد یې د وینې دښمن ګڼلی و، نه غوښتل له خپل ضد څخه ځان خلاص کړي. شاید هغه په فکر که صبا د هغه نه ده ، نو د فرهاد هم نه ده..

کاش فرشاد خبر وای چې فرهاد خیانت نه دي کړی. او نه صبا غدار دی. د صبا مینه مخکې د واده د فرهاد په زړه کې و او صبا هم له دی خبری خبر نه ده.مګر چیری چی شیطان لاحول نشي تر دی بدتر کیږي. الطاف خپله خور واخسته او کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړ. بیا سعید له ټولو بخښنه وغوښته او بیرته په هغه لاره چی راغلی و  روان شو ... رنګین د لومړي ځل لپاره خوله خلاصه کړه او په موټر کې یې فرشاد ته نصیحت ورکړه...

رنګین- فرشاد..

فرشاد- اورم...

رنګین- که ته غواړې چې له صبا څخه جلا شې، نو بیا ولې بهاني کوي؟

فرشاد- ته کار مه لره.

رنګین- وګوره فرشاد جان... زه پوهیږم چې ستا د مسلو په اړه د خبرو کولو حق نه لرم، خو...

فرشاد- خو ... نلري کله چې تاسو پوهیږئ ولې مداخله کوئ؟

رنګین- مګر ...

فرشاد- مګر مګر نلری ما تاسو ته وویل چې چپ  شي  ...

الطاف او صبا کور ته ورسیدل، صبا د خپل ورور لپاره  یوه کوټه پاکه کړه چې ستړی دی او ویده شی او خپلې کوټې ته لاړه. هغه د لسو دقیقو لپاره په خپله خونه کې ناست و او د خپلو خوشحاله ورځو په اړه یې فکر کاوه.چی ژرا ورغله. الطاف چې دروازې ته نږدې ولاړ و د صبا خواته راغی...

الطاف- زه کولی شم ستا څنګ ته کښینم؟

صبا- هو.

الطاف- زه پوهیږم چې دا اسانه نه ده. او دا ستونزمن دی، مګر دا د ځان لپاره نور هم ستونزمن مه کوه.

صبا- ستونزې نه رامینځته کوم.. مګر زه نور د نورو توهین نه شم زغملی

الطاف- صبا.. ته او فرهاد...

صبا- لالا جانه ، په خدای ، چې دا تهمت دی، زه له فرهاد سره هیڅ کار نه لرم، هغه پرون زما لیدو ته راغی چې ما پوه کړي.

الطاف- نو د فرهاد په اړه څه؟ ته ډاډه یې چې له فرشاد سره یې خبرې نه دي کړې؟

صبا- زه نه پوهیږم خو زه باور نه کوم چې هغه فرشاد ته څه ویلي دي.

الطاف- خیر ، زه پخپله د موضوع پای مومم، دا داسې پای ته نه رسیږي.

الطاف د صبا له کوټې څخه ووت او خپل د واتساپ څخه د فرهاد نمبر ته یې زنګ وواهه چې کور ته یې بلنه ورکړي.

الطاف- بلی ، سلام...

فرهاد- سلام

الطاف- ته چیرته یې ستا د کار مزاحم خو نشوم ؟

فرهاد- زه په خپل کور کې یم.

الطاف- که ته وخت لرئ، زه غواړم تا سره ووینم.

فرهاد- حتما .. چیرته وګورو؟

الطاف- زموږ کور کې.

فرهاد- تنها یې؟

الطاف- نه زه او صبا کور ته راغلو.

فرهاد- نو ښه نده چې هلته ووینو سبا به یو بل ووینو..

الطاف- زه په کور کې درته په تمه یم زر راشه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد...

زه د مینې په کومه لاره کې ولاړ یم؟ زه چې نور زه نه یم... زه چې وجود یې ایرې شو، او یخ خو د اور څخه سوزونکی شوی و... دې منځ کې څه رقم حس دی چې د زړه او د دلدار چې دلدارمې نه پوهېږي. دا رکم مینه مې په وجود کې له کوم وخته وده کړې او اوس مې نه پرېږدي چې نفس واخلم، دا حس هماغه. د اولې ورځې احساس ندی، له هغه څخه زیات .

هغه نامعلوم احساس چې یواځې اور راوچو اور...
اوس مې د سبحان حس درک کولا مینه د زړه په منځ کې ده چې کله سوزول کا. او کله له یخ څخه زیات انسان سخت کوی.... نن مې خپل ځان مخ په ورانیدو ولیدا. له هغه ځایه چې د صبا نه منصرف شوې وم. له هر وخت څخه مې زیات عذاب ولیدو. د هغې لپاره باید لدې ځایه تللی وای. له ځان سره په جنګ وم چې د الطاف زنګ راغی او اوس باید تللی وای چې د صبا له حقه مې دفاع کړې وای. ښه پوهیدم چې الطاف د فرشاد له خبرو نه تیرېږي. که هغه شیبه غلی شو ددې لپاره وو چې نه یې غوښتل چې دا خبرې خوله پر خوله شې. خو اوس د حساب ورکولو وخت دی..

ځان مې د تلو لپاره تیار کا او همدا یې وخت وا چې باید له خپلې مینې ساتنه وکړم. دروازې ته نیژدې وم او په زړه کې مې دعا کوله او بسم الله مې کړه د دروازې زنګ ته مې فشار ورکا.الطاف چې فرهاد ته سترګو په لاره وا لس ثانیې یې ځنډ وایست چې دروازه یې خلاصه کړه. یو بل سره یې سترې مشي وکړل الطاف مخکې او فرهاد ورپسې روان شو هغه کوټې ته چې الطاف کې اوسیدو ولاړل. د فرهاد زړه د صبا په ځوریدو درد کاوه او الطاف هم فکر کو چې له کومه ځایه شروع وکړي ترڅو د خپګان لامل نشي.

الطاف- ښا نو فرهاد جانه کوم څه غوارې چې صبا ته ووایم درته تیار یې کړي؟
فرهاد- نه مننه...
الطاف- ډوډۍ د خوړلې؟
فرهاد- اشتها نلرم...
الطاف- خو زه اشتها لرم پرېږده ډوډۍ راوغوارم شاید صبا هم د اشپزي کولو حوصله ونلري.
فرهاد خپل موبایل ژر په لاس کې واخیست او ویې ویل: د نن ورځې ډوډۍ دې زما له خوا وي..
له یو رستورانت څخه یې د خوړو سفارش ورکا.
الطاف- مننه کوم فرهاد جانه...
فرهاد- وړ یې نده...

الطاف- دا چې تر دې ځایه مې سرګردانه کړې د هغو خبرو لپاره وو چې منلی مې نشو... او غوښتل مې له تا یې واورم.
فرهاد- الطاف جانه فرشاد یو حماقت وکا د هغه په خبرو باور مه کوه... هغه بې عقل دی هر لیدلي او نالیدلي شیان یې په ذهن کې جوړوي.
الطاف- د همدې لپاره باید مخکې له هر څه له تاسره خبرې وکړم. زموږ د دواړو عمر تقریبا یو اندازه دی او دا چې د یو بل په وړاندې صداقه واوسو غوره ده.
فرهاد- ریښتیا وایې، خو زه مې په خپل ژوند کې د چا په لور پسې نه یم تللی، د چا خور ته مې سترګې ندي نیولې حتی کومې نجلۍ ته مې پورته ندي کتلي او څوک مې ندي اذیت کړي او له چا څخه مې په بد حالت کې سوء استفاده نده کړې. که هر څو دلته نه وې خو کولی شې چې له هغو پوښتنه وکړې چې دلته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الطاف- دې خبرو ته اړتیا نشته فرهاده مور یو بل ښه پیژنو. د یو بل په خوی او اخلاقو ښه پوهیږو. زما اندیښنه ستا د نن ورځې له خبرو څخه ده. شاید زه غلط پوی شوی یم. او همدا خبرې شاید د فرشاد د بدګمانۍ لامل شوې وي؟
فرهاد- ما صرف غوښتل چې د صبا خوا ونیسم. دا د هغې حق ندی چې دومره درد ووینې. د هغې ازرښت له هر څه ډیرر دی. حتی وروسته د نن له کارونو او رويې بیا هم د هغې په تلو لدې ځایه راضي شوم.
الطاف- اوس یعني راضي شوې؟

فرهاد- نه غواړم دروغ ووایم خو الطاف نه مې غوښتل چې صبا لدې ځایه ولاړه شي. نشتون یې زما په تباه کیدو مستقیمه اغیزه لري.
الطاف- فرهاد.... له دې خبرو حتی ما هم د فرشاد په رکم مطلب واخیست.
فرهاد- له تا څخه د پټولو ضرورت نه وینم. زه اعتراف کوم چې په صبا مئین یم، خو دا مینه چې په کوم ډول فرشاد وایي نده. ما مخکې لدې پیښو او حتی مخکې له واده صبا مې غوښتله. خو هیڅکله مې د ویلو جرأت ونکا. نه مې غوښتل د هغې د ځوریدو لامل شم. تصمیم مې د هغې په اړه جدي وا او د یو مناسب وخت په تمه وم.

هغه وخت چې زما لپاره هیڅ مناسب نشو. تر څو چې له هند څخه راتلم صبا یې د فرشاد سره نامزاد کړې وه. ډیره هڅه مې وکړه چې وکولی شم یو کار وکړم. خو صبا او فرشاد یو بل سره خوشاله و او مجبور شوم چې په شا شم. ترې تیر شوم ځکه غوښتل مې چې صبا خوشبخته شي. سکون ولري. هیڅکله مې ونه غوښتل چې د خفګان لامل یې شم. حتی پرون مې چې ولیده د دې لپاره وه چې غوښتل مې دا ګډوډ ژوند یې وژغورل شي.

الطاف- تمه لرې چې دې هر څه باندې باور وکړم؟
فرهاد- صبا حتی له دې خبرو خبره نده.. خو پلار مې زما د هر حال نه باخبره وا او مور مې هم.. هغوی له ما وغوښتل چې چوپ پاتې شم. ځکه فرشاد له ما مخکې صبا غوښتې وه او د لومړیتوب حق یې هغه ته ورکا.کچیرې پوهیدی چې صبا یوه ورځ دې ځای ته رسي هیڅکله مې د واده کولو اجازه نه ورکوله.
الطاف- څه ووایم فرهاد، تمه مې درلوده چې د فرشاد خبرې رد کړې، خو دلته قضیه بل څه وه.

فرهاد- غوښتل مې پټ یې کړم کولی مې شو، که مې زړه کې پلیدي وه پټولی مې شو. خو زه په دروغو عادت نلرم.له تاسره صادقه وم او یم. حتی تراوسه مې صبا ته ندي ویلي ...
الطاف- مننه فرهاده، ددې لپاره چې صادقه وې. خو واقعا کومې خبرې چې ما غوښتې بیان کړم اوس یوه هم زموږ په شرایطو پورې تړاو نلري.

صبا...

شاید الطاف د چا په تمه وا ځکه د دروازې زنګ چې ووهل شو پوښتنه مې ترې وکړه چې څوک دي خو ځواب یې رانکړ. شل دقیقې د الطاف نه کوم احوال رانغی او اندیښمنه یې شوم د لیدو لپاره کوټې یې ته نیږدې ولاړم د الطاف غږ د بل چاسره راتلو. مقابل کس یې فرهاد و.کومې خبرې مې چې له هغه اوریدې باور مې نه کیدا. هغه ماسره د مینې ویل او زه بې خبره لدې خبرو وم. په ډیر عاجزۍ الطاف ته د خپلې مینې له پاکۍ ویل دا چې الطاف یې د مینې په پاکوالي باور وکا یا نه، خو ما یې په پاکه مینه ایمان راوړ.

پدې دومره وخت کې مې حتی یوار له هغه څخه بد نیت خپل لورې ته ترې نه و لیدلی. هغه هیڅکله زما د خفګان لامل نه و شوی. خبرو یې زه فکر کولو ته یوړم هغه ورځې چې له ما څخه تښتیدو. دا چې ولې یې یو دم جدا کور ته مخ کړ. دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیر به په ځان کې غرق وا. زه ددې سبب وم چې فرهاد عذاب ویني. دې ژوند موږ کومو ځایو ته ایستلي و. څومره یې ځان په ځمکه او اسمان ووهلو تر څو زه اوښکې توې نکړم یعني زما د اوښکو لیدل ورته مهم و؟

فرهاد- الطاف دا خبرې نباید چې زموږ له منځ څخه د بل چا غوږونو ته ورسیږي. نه غواړم چې صبا وځوروي. ستا لپاره مې پدې خاطر هر څه وویل چې زما په نیت او د صبا په کردار شک ونکړې... پلار او مور مې دواړه پوهیږي چې صبا بې ګناه ده. له ثنا سره به هم زه یا ته خبرې وکړو. خو لدې څخه زیات خبره باید بل ځای خپره نشي ځکه بیا صبا ځوریږي.
الطاف- حق له تا سره دی فرهاده، په حقه یې دا خبره باید همدلته بنده شي. لږ تر لږه څو چې صبا لدې ځایه ولاړه شي.

فرهاد...

بي روي خوش تو زنده ماندن
مرگ است به اسم زندگاني..

له صبا پرته دلته زما ژوند کول هیڅ معنا نه درلوده. خو په کومو سختتو شرایطو کې چې صبا اوس وه خودخواهي وه که مې لا هم غوښتي وای چې صبا دلته پاتې شي. هغه باید لاړه شي هر هغه ځای ته چې تقدیر ورته خوشاله ورځ وښایي. ما خو خوشاله ورځ ونه لیده او له هغې وروسته هم نه غواړم وګورم. خو د صبا لپاره مې د نړۍ ټولې خوښۍ غواړم. د الطاف نه مې چې د تلو اجازه وغوښته خو هغه ټینګار وکا چې د شپې ډوډۍ له هغوی سره وخورم او بیا لاړ شم. هغه ډوډۍ چې اوس به له زهرو هم ترخه وي. صبا سره به په یو میز کینم او ډوډۍ به خورم... د خدای پامانۍ لپاره؟

صبا...

فرهاد د پاتې کیدو لپاره ټینګار کړی وا، ځکه خوښیده یې دلته واوسم؟ کوم درد چې ما ایستلی هغه له ما زیات زغملی؟ باور مې پرې کړی وای یا نه؟ ممکنه ده یو څوک له خپل ځان څخه هم زیات تا وغواړي؟ فرهاد غوښتل ولاړ شي خو زما زړه د هغه له تلو د تله خالي کیدا هسې نه یوار مئینه شوې وم؟ په چا مئینه؟ په هغه چا مئینه چې پرون مې ورته وویل چې سوء استفاده کوې؟ کیدی شي د چا له خولې د یو څو ښو خبرو په اوریدو یو څوک مئین شي؟ ممکنه وه چې زړه مې د هغه لپاره ځای خالي کړې؟ د وره له څنګه لرې شوم او ځان مې په اشپزخانه کې مصروف کا ځکه د دروازې زنګ شو او الطاف د خوړو اخیستلو لپاره ولاړ. لا مې بشقابونه په میز نه و ایښي چې الطاف له فرهاد سره اشپزخانې ته راغلل او فرهاد ته مې سلام وکړو. هغه د علیک ویلو په اشاره سر وغوځو خو یوار یې هم ماته را ونه کتل.

الطاف- زه خو ښه سم وږی شوی یم تاسو څنګه؟
فرهاد- نوش جان....

فرهاد...

د الطاف په ټینګار سره چې دلته پاتې شوم خو په لومړي قدم د صبا په لور مې پښو سستي وکړه. زړه مې له لیدو یې ویریدو. خو ما ژمنه کړې چې د هغې خواته به نه ګورم او پریږدم چې په ارامۍ سره دا ورځې تیرې کړي.

دیدم نتوان بگذرم از مستی عشقش
مجنون شدم و از خود و بیگانه شکستم
#مولانا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومه ډوډۍ چې په دسترخوان د خپلې معشوقې سره وخوړل شي بيل خوند لري، حتی که زهر هم وي په خوښۍ يې خوري.

الطاف- فرهاد جانه ډوډۍ واخله... دوې مرۍ د هم نده خوړلې.
فرهاد- مننه زه موړ شوم.
صبا له خپل ځای څخه پورته شوه زما او د الطاف لوښي يې له خوړو ډک کړل او د برقي جک په طرف ولاړه تر څو چای کيږدي.
الطاف په خندا وويل: اوس بايد دا بشقاب خلاص کړو کنه نو زموږ انا به موږ له کوره وباسي.
د الطاف په خبره مې لږ غوندې وخندل. سره لدې چې اشتها مې نه وه هغه خواړه مې ټول وخوړل.

فرهاد- ښه نو مننه الطاف جانه... په اجازه مو...
الطاف- خواړه خو تا راوغوښتل بايد له تا څخه مننه وکړو.. او هو چای وڅکه او بيا ولاړ شه...
فرهاد- مننه بايد ولاړ شم ځکه کار ته ځم...
الطاف- دا يوازينی دليل دی چې نشم کولی رد يې کړم.
فرهاد- ژوندی اوسې.

صبا...

فرهاد د ميز له خوا پورته شو کار يې بهانه کا او لدې ځايه ولاړ خو دا ځل هغه زما د زړه يوه برخه له ځان سره يوړه. په يوه نوې لوبې کې بنده شوم. زما تصور زما له ژوند څخه ليرې شو او د فرهاد ژوند ته داخل شو او يوازې د هغه د عمر ټولې ورځې لاندې باندې کوي. د هغې ورځې په ياد ولويدم چې بازار ته د تلو لپاره مې بيړه درلوده. او له فرهاد څخه مې غوښتل چې د تلو وخت کې ما ځان سره بازار ته بوزي. لسو دقيقو لاره کې مې ټول د فرشاد په اړه بحث ورسره وکا فرهاد له هو او نه پرته نور څه نه ويل. زما خبرې د هغه په زخم مالګه وې..

هغه شپه مې په ياد شوه چې فرشاد مې د رنګين تر څنګ وليدا... اوس مې هم ژړوي، ای وای مګر فرهاد پدې موده کې څنګه زغملي دي؟ هغه شپه له ما څخه ډير فرهاد بې تابي وکړه. هغه ټول زما د درد لپاره وو؟؟ نن شپه له نورو شپو مخکې خپل د خوب ځای ته ولاړه خوب چې د صبا سترګو کې په ځنډ راغی خو زر ولاړ. الطاف له صبا څخه مخکې راويښ شو د خور لپاره يې د سهار چای تيار کا. وروسته يې له ټنا سره اړيکه ونيوله او له هغې يې وغوښتل چې د هغوی کور ته ولاړه شي.

سعيد د الطاف سره اړيکه ونيوه او د صبا د طلاق پاڼو د تياريدو خبر يې ورکړو. چې د الطاف د خوښۍ او غم لامل شو. هغه خوشالي د خور لپاره يې چې عذاب نه خلاصه شوه خو غم يې د خور د کور ورانيدو لپاره، صبا چې نوې له خوب څخه لټيدلې وه د ازادۍ ښه خبر يې واوريدو.

صبا- سلام.
الطاف- سلام د لالا خورې...
صبا- ماشاءالله ډير خوشاله يې خيرت دی؟
الطاف-ولا نو سهار وختي مې ښه خبر واوريدو او ستا لپاره هم ښه خبر لرم
صبا- د څه په اړه؟
الطاف- زړه مې غوښتل چې ډيره د وځوروم خو دا چې ومې ليدلې سترې يې وايم يې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- ښا نو ووایه..
الطاف- سعید کاکا زنګ وکا او ويې ویل چې فرشاد طلاق خط امضا کړی دی...
صبا- ته او خدای؟؟؟
الطاف- قسم دی..

سره لدې چې له بنده خلاصه شوم خو خوشاله نه وم. شاید څو دقیقې مخکې هم د له منځه تللي ژوند هیله مې درلوده. خو اوس تمامه شوې وه. خندا چې مې په زوره په خپلو شونډو ساتلې وه ډیر یې دوام ونکا. کیدی شو چې غم له هغوی وګورې.
الطاف- صبا ښه یې؟
له ځای څخه مې پورته شوم او د اشپزخانې خواته ولاړم.. د لارې په اوږدو کې مې د اوښکو پټولو هڅه وکړه او ومې ویل: ښه یم ورور جانه مننه..
الطاف- مطمئنه یې صبا؟
صبا- هو لالاجانه د سهار په چای څه وخورو؟
الطاف- زموږ د شهزادګۍ د سهار چای تیار دی.

د منظم میز په لیدو چې الطاف تیار کړی وا، لږ مې زړه خوشاله شو او الطاف مې په غیږ کې ونیو. ورور یوازې تکیه ګاه نده.. ځینې وخت د درد دوا هم کیدی شي.
زه یې په شتون خوشاله وم. که هر څه لرې وا له ما څخه خو هر وخت به مې تر څنګ وا زما د مشکلاتو وخت کې.
الطاف- له مور سره مې خبرې وکړو؟
صبا- هو اوس باید د تلو تیاری هم ونیسو...
الطاف- ثنا مې راغوښتې هغه چې راشي ځو سودا اخیستلو ته او وروسته به وګورو چې څه وخت ویزه اخیستی شو.
صبا- سمه ده.

فرشاد...

د پلار په سلو جبرونو او د مور په اوښکو مې د طلاق ورقه امضا کړه، خو زړه مې پدې طلاق راضي نه وا. ما صبا لدې څخه هم ډیره غوښته حتی که هغې زه نه وای غوښتی خو ما هغه له خپل ځانه هم ډیره غوښتله. دا چې له عزیزترین دې د نور په خاطر تیر شي ډیر عذاب لرونکی دی. له یو څه مودې وروسته هغې کوټې ته داخل شوم چې زما او د صبا مربوط کیدا. ټول شیان هماغسې و، یو یې هم بدل شوي نه و. حتی د دیوال په مخ عکسونه زما او د صبا وو. خو د هغه عکس فرشاد چیرته او دا فرشاد چیرته؟

د هغه تصویر صبا چیرته او د نن ورځې صبا چیرته؟ یوازینی بدلون پدې ځای کې زه او صبا وو. دواړه یو دم بدل شو په هغه شخصیتونو چې نه وو. په هغه بالښت چې صبا ویده کیده سر مې کیښودلا د هغه ورځو په یاد... د ویښتانو د عطر بوی یې تراوسه په هغه بالښت وا. هغه عطر چې ما ځان ته راغواړې. د سترګو له کونج څخه مې یوه څاڅکې اوښکه په بالښت توې شوه او د هغه څاڅکي په لیدو فکر مې د هغه رکم ډیرو نښو ته شو. هغه ټولې نښې د صبا د اوښکو وې. هغې زما لپاره او کوم شرایط چې ما برابر کړي اوښکې توې کړې؟ څومره هم ډیررر...

نمې شو کولی هغه څاڅکي حساب کړم. زه بدبخته پدې فکر چې د خپلې مور په خبرو مې صبا پریښودم. خو برعکس هغه مې له ځان څخه لرې کړه. زما ښایسته مرغۍ، زما له لاسونو والوته او ولاړه ډاریږم د کوم بل بې رحمه په قفس کې بندي نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زویه ښه یې؟
د مور غږ مې وا، خو نه مې غوښتل ځواب ورکم. هغې د نازولو په بڼه خپل لاس زما په سر تیر کا او کوم ویښتان مې چې سترګو ته نیږدې و لرې کړل.ما تراوسه خپلې سترګې پټې نیولې وې. نه مې غوښتل وګورې چې د صبا په نشتون کې اوښکې تویوم.

کریمه- فرشاد پوهیږم چې ویښ یې...
ځان سره مې وویل: کاش پوهیدلای چې څه حس لرم.. کاش پوهیدلای چې له ماسره د څه رکم کار وکا؟ کاش پوهیدلای چې د خپل ضد لپاره دې څه رکم نابود کړم..
کریمه- فرشاده که اجازه دې وي غواړم کوټه دې لږ منظمه کړم خو رنګین...
طاقت مې ونکا او د سترګو خلاصولو پرته مې وویل: د رنګین ځای سم دی، ضرور نده دې کوټې ته راشي...
کریمه- خو زویه د ښځې ځای دې ستا تر څنګ....
پرې مې نښوده چې خپله خبره مکمله کړي او ومې ویل: د ناوې ځای دې ستا تر څنګ دی مورې...مګر تا ناوې نغوښتله چې د لمسي څیښتنه د کا؟ اوس چې رنګین هر ځای کې ده وي دې ستا ناوې ده..

کریمه- دا څه رکم خبرې کول دي زویه؟ ولېږه په ځای کې د کینه چې خبرې وکړو..
سترګې مې نیمې خلاصې ونیولې او په ځای مې کیناستم او ومې ویل: اورم مورې...
کریمه- زویه، په روانو اوبو پسې بیل نه اخیستل کېږي.
فرشاد- کاش نیول کیدی مورې...
کریمه- ښا نو چې اوس نه کیږي څه وکړو زویه؟ په دې منځ کې رنګین بیچاره څه ګناه لري ها؟
فرشاد- نو زما او د صبا څه ګناه وه مورې؟ ولې دې زموږ حق کې ظلم وکا؟
کریمه- زویه ما ستا ښیګڼه غوښتې کوم ځای یې ظلم دی؟ دا چې صبا د ژوند ښځه نه وه او تاسره یې ګذاره ونکړه د موږ ګناه څه ده؟

وګوره زه په هر حالت کې د پلار سره دې جوړه شوم، حتی که وسوم هم... خو هغه نجلۍ په بهانو پسې وه تر څو له تا څخه جدا شي....خدای مې د غاړه نه نیسي خو فکر کړم له تا څخه یې غوږ او غوره کس پیدا کړی..
فرشاد- بس ده نو مورې نه غواړم نور څه واورم... غواړم ویده شم.. چې تلې د کوټې دروازه مې بنده کړه.و
کریمه- ښا زویه ولاړ شه په یوه بله کوټه کې ویده شه دا ځای موږ لږ منظم کوو، تر کله به رنګین په مهمان خانه کې څملې؟
فرشاد- کوټه زما ده مورې او بل څوک پکې نه غواړم...
کریمه- خو که کوم میلمه راشي چیرته....
فرشاد- هغه ستاسو مشکل دی.

فرهاد....

پس له ماښامه مې غوښتل الطاف نه د تلو په اړه یې پوښتنه وکړم خو عقل مې یاري ونکړه، هغه هدایت راکا تر څو لرې واوسم. هسې نه الطاف پدې خاطر اذیت شي چې زه غواړم د هر کار نه یې باخبره اوسم. موبایل مې بیرته په جیب کې کیښود چې د امین غږ راغی: که تیار یې چې ولاړ شو..
فرهاد- چیرته؟
امین- مګر خبر نلرې؟
فرهاد- نه څه شوي؟
امین- دا ده پخیر... یاد فراموشي د هم پیدا کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- پوهیږې ډیر وخت کیږي چې حتی خپل نوم مې هم هېروم.
امین- د اسد دوی کور کې میلمستیا ده.

فرهاد- په کوم مناسبت؟
امین- ورور یې کوژده کړې ټول هلکان یې دعوت کړې.
فرهاد- ریښتیا دومره خو زه هم وم چې د ورور له کوژدې یې هیڅ خبر نشوم.
امین- ښا خیر اوس خو خبر شوې مخکې شه چې ولاړ شو.
فرهاد- مهرباني..

امین او فرهاد دواړه یو ځای هغې مېلمستیا ته ولاړل چې د یو ملګري وه. پدې منځ کې د ټول شویو شپږو کسانو چې د پوهنتون د دورې ملګري یوازې فرهاد مجرد وا، د همدې لپاره به هر مجلس نقل هغه دی او هر ځای چې د واده خبره کیږي او څوک نامزاد کیږي دوهم نوم د فرهاد اخلي. سم چې فرهاد ورسېدو ټولو په یو غږ یې وویل: څه وخت به تا څلور پښې وګورو پخیر...
ټولو وخندل او اسد وویل: نن سبا موږ ده لس پښو کیږو خو فرهاد تراوسه د څلور پښو ندې شوی..
امین- مبارک د وي د اته پښو کیدو نه د خبر وم او د لس پښو شوی یې موږ نه یې پوه شوي....
اسد- ښا نو ژوند زر تیرکیدونکی دی.. شاید سبا نه بل سبا د لسو پښو شم..( مطلب یې د  اولادونو پلار دوی یو نفر په دوه ښو حساب کوی ګاکتران دی ځکه هههه)

اسد په خندا سره خپل ورور ته غږ وکړ او هغه یې له فرهاد سره معرفي کا. وروسته له روغ بړ....
اکبر اسد ته وویل: هغه مشهوره فرهاد چې یادوئ همدا دی؟
اسد- هو...
فرهاد: د څه شهرت؟
لا یې خبر نه وه پوره شوې چې اکبر یې په سر لاس کش کړ او ویې ویل: ان شاء الله چې راتلونکې میاشت به ستا وار وي...
ټول اکبر ته حیران پاتې شول حتی د فرهاد نیږدې ملګرو په خپلو کوژدو کې داسې عمل نه وا ترسره کړی ځکه فرهاد پدې خبرو باور نه درلود او ویل یې دا ټول خرافات دي.

خو برعکس دا ځل فرهاد وخندل او څه یې ونه ویل، نه پوهېږم چې د فرهاد دا چوپتیا د ناهیلۍ په خاطر وه او که یا اوس هغه هم غوښتل زوم شي؟

ثنا....

دوه نیم ساعته کیدل چې له بازاره راغلم. ما ټوله سودا پوره کړه، د لور لپاره مې جامې واخستلې، موږ، پلار او وروڼو ته مې ځینې ډالۍ واخستلې. خو صبا پرته د دوو جوړو جامو پرته بل هیڅ شی خوښ نکړل، نه پوهیدم څه یې غوښتل او کوم ډول یې خوښیدل؟ فقط غوښتل یې ما لکه الف سرګردانه وګرزوي.

ثنا- صباجانې پوهیږې چې زه د ګرزیدو توان نلرم... ستړې کیږم.
صبا- وبخښه خورجانې راځه ولاړې شو کور ته بل ورځ به بیا راشم بازار ته.
ثنا- وخت لرې چې بله ورځ وایې؟
صبا- هو نن الطاف ځي چې وګوري په کوم تاریخ زموږ ویزه راځي. ځو ویزه راځي ډیر وخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثنا- د تلو پلان د څومره وخت لپاره دی؟
صبا- زه نه پوهېږم... الطاف پوهیږي.
ثنا- ښا هر څه کې مو چې خیر وي.

فرهاد...

آه اې مینې، ستا دا پاکه او مشروع خوښي دې، هم باید چې واخستل شي

زړه مې صبا پسې خفه شوی، خو هغې ته د زنګ وهلو جرأت نلرم. او له بلې خوا مې نه غوښتل هغې ته مشکل جوړونکی شم. هغه باید له کوم جنجال پرته د افغانستان څخه لرې تللې وای. فرق نه کوي چې په نشتون کې یې لکه مجنون دردیږم. هغه بې خبره لیلا مې باید ارامښت درلودی. دوه ورځې کیږي چې نور ترې خبر نلرم حتی نور کومه بهانه نلرم چې وغواړم له چا یې احوال واخلم. له نشتون څخه یې زړه مې خولې ته راغلی و.

د هغو ورځو ارمان مې په زړه راغی چې لږ تر لږه تر یو چت لاندې مو ژوند کاوه. د هغمو ورځو احتیاج شوم. کومې ورځې مې چې عذاب ګڼلې اصلا همغه مې د خوښۍ ورځې وې. لږ تر لږه له هغې خو به خبر وم. نه دا چې هغه د نړۍ یو سر کې او زه بل سر کې... نه دا چې زارۍ ورته وکړم او هغه د اوریدو غوږ ونه لري. نه دا چې هغه ولاړه شي خپل ژوند پسې او زه د تیر او راتلونکي ماتم ونیسم. ما یې شتون په درد کې حسابو. خو نشتون یې بیخي د درد سبب کیدو.

د موبایل په زنګ له خیالاتو راووتم او په کراره مې سترګې خلاصې کړې. زړه مې غوښتو چې صبا زنګ کړی وي. کاش چې کولی مې شو کوم اعتراف مې چې الطاف ته وکا صبا ته مې هم کړی وای. شاید زما کوچنۍ معشوقه په رحم راغلې وای. الطاف زنګ کړی وا..

الطاف- سلام فرهاد جان.
فرهاد- سلام الطاف वروره څه حال لرې؟
الطاف- ښه یو الحمدالله.
فرهاد- تاسو ښه یاست ورځې پخیر تیریږي
الطاف- موږ هم ښه یو، خو له موږ له مرګ څخه تښتو..
فرهاد- بلکل خدای د سل کاله عمر درکا...
الطاف- آمین... ټولو تو..

فرهاد- کوم امر دی درلوده؟
الطاف- امر نه لرم مګر هیله لرم،پرون تللې وم د هند ویزې لپاره خو هلته زیات بیروبار وو،مخکی مې له پلار نه اوریدلی و،چې ستا کوم ملګری ورسره مرسته کړی وه؟
فرهاد- هوو هلته یو شناخته کس شته،چې ویزی کارونه کوی.
الطاف- که په زحمت کیږی نه هغه ته.....
فرهاد- په سترګوو هغه ته به زنګ ووهم،ستا په اړه به ورته احوال ورکړم.
الطاف- مننه کوم فرهاد جانه.....څنګه دی کاکا مې او کاکا ښځی مې؟

فرهاد- ښه دي مننه...زه هم دا دوه ورځی لیدو لپاره نه یم تلی.
الطاف- کله کله زموږ طرف ته هم راځه..
فرهاد- دی ځل باید تاسو راشي الطاف جانه،پتمه به یم درته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الطاف- ته میلمستیا وکړی حتماً مورِ هم راځو...
ومی خندل او ومی ویل: په سترګو..
کوم کس چې می پیژنده هغه څانګې ته مې زنګ ووهلو،او هغه هم وویل: چې یو څه پیسی او عکسونه او پاسپورت راته ولیږه.

فرهاد هم د صبا د لیدلو لپاره ښه پلمه پیدا کړه،لږ تر لږه اخیر ورځی دی،غوښتل یې چې سترګی دی معشوقه په لیدو مړې کړی،له شفاخانی څخه په بیړه راووت او د صبا دی کور په لور روان شو،د دروازی مخکی ودریده،او هغه ورځی په یاد کړل چې صبا ورته په خندا باندی دروازه خلاصه کړه، هغه شپه چې په ناڅاپي ډول د صبا لپاره وخندل، زړه یې خوشحاله و. په زړه کې هیله وکړه،او دروازه یی وټکوله: شاید همغه شیبه دعا قبلیدو وه. لا یې دعا په زړه پوره کړی نه وه،چې څواب یې ورکړو.

صبا وه چې دروازه یې خلاصه کړه،لکه د همغه ورځو په څیر زړه راښکونکې او د پام وړ وه.فرهاد په سلو شونډی غوځولو سره یې سلام وکړ،صبا هم د فرهاد لیدو لپاره پتمه نه وه،چې ناڅاپه په لیدو یې حیرت وکړ خو په هغه مخکې څرګنده نکړ،ښه راغلاست یې ورته وویل: او فرهاد څخه هیله وکړه چې کور ته دننه راشی.
فرهاد- الطاف په کور کې دي؟
صبا- نه په کور کې نشته، خو بیرته زر راځي،سودا مو په کار وه.

فرهاد- کاش چې ماته مو ویلی وو، په راتلو کې مې راوړی وه.
صبا- مننه،ژوندی اوسی...
صبا له ځای څخه پورته شوه، چې فرهاد ته میوه او یا چای راوړی،مګر فرهاد یې مخنیوی وکړو.....
فرهاد- صبا جانی څنګه یې؟
صبا- ښه یم مننه ....
فرهاد- باور وکړم چې ښه یې؟
صبا—هوو...

فرهاد- راغلې یم چې پاسپورتونه مو ویسم د ویزی لپاره..
صبا- پریږده چې الطاف راشې هغه یې درته درکړی.
فرهاد- نه،اوس چې الطاف نشته،نو نه غواړم دلته پاتې شم.

فرهاد نه غوښتل چې صبا لپاره کومه ستونزه پیدا کړی د همدی لپاره ورته وې ویل:که څوک راشي ښه نه ده.
صبا- نه زه غلطه یم او نه ته غل یې نو آرامه اوسه...
فرهاد- نه غواړم چې ناحقه دربانديِ څوک خبري وکړي چې زغمل........
پاتي خبره یې ونکړه او له ځای څخه پاڅیدو،کومه جمله چې چي له دی خبرو سره تړاو نه لرلو وي ویل: بهتره ده د الطاف راتلو پوري په موټر کې پتمه شم.

صبا فرهاد ته حیرانه وه،یعني د څه شي زغملی نشو؟نه یې غوښته چې زه خفه شم؟یا دا چې ویریده خپل نوم یې  زما د نوم سره واخیستل شي؟
صبا بی دلیله د جنګ په څیر وویل: زه دومره بد نامه یم؟یا زما په شتون کې تاسو ویریږی؟
فرهاد- خدای دی نکړي صبا څه وایي ته؟
صبا- یعنی وډار شوي چې نوم دی بد نکړم؟مګر تاسو کومه بدي له ما څخه لیدلي ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- صبا بی معنا خبرې مه کوه.... زه وایم ښه نه ده چې یوځای ولیدل شو،دا ځکه زه نشم کولی ځوک ستا نوم په بد
بډول واخلي....هغه وخت به زه ووژل شم....پوهیږې؟؟؟؟
صبا- حق لرې چې باید همداسی ووایې....کولی شې لاړ شې،اړتیا نه لرم ستا مرسته ته مننه...او بیا ځلی دلته رانشې...
فرهاد- زه پوهیږم تاسو ما ته اړتیا نلرئ، اړینه نه دې خپله اړتیا ماته راوړې.
صبا- الحمدالله اړتیا نه لرم او شکر هم کوم.

فرهاد- تاسو زما پرته خوشحاله یې،په زخمونو مې مالگه مه شینده....پوهیږم چې ځې بیرته دوباره نه راځې....
صبا-- که زه نه تلم خو اوس باید چې لاړه شم...
فرهاد- صبر .....صبر.. ته نه تلی؟یعنی ته نه غواړې چې لاړه شې؟
صبا- مهمه نه ده،کولی شې  لاړ شې...چې الطاف نه وي راغلي دننه رانشې....
فرهاد- نیمه خبره مه کوو صبا..یعني څه چې ته نه تلې؟؟
صبا- یعنی تا پوری هیڅ اړه نه لرې... څه چې نوم دی بد نشې...

فرهاد- توبه خدایه...تا په څیر ضدي مې بل څوک لیدلې نه ده..
فرهاد خپل لاس موټې کړو،او سترگې یې پټې کړې او یو دوه ځله یې ژوره ساه واخیست،خپل ځان یې لږ شان آرامه کړو او
بیا یې وویل: گوره صبا زه نه پوهیږم چې تا زما له خبرو کوم مطلب واخیسته،خو قسم کوم چې زما نیت له هغه بدو خبرو
څخه نه وو.

یوازې دا چې ته خفه نشې،ومې ویل که څوک راشې ما او تا یوځای وگورې څه فکر به کوی؟ خدای دی زما روح واخلي صبا
که ما خپل ځان په اړه ذره هم فکر کړی وي،اصلاً ماته ارزښت نه لرې چې زما شاته څوک څۀ ووایې، مگر ....اجازه نشم
ورکولی چې پرتا باندې څوک تهمت(تور)وتړې. اجازه نشم ورکولی چې په تا څوک نیوکه وکړې او زه یې تماشه وکړم.
صبا- آیا څوک به راشې؟
فرهاد- نه ....مگر نه غواړم چې حتی الطاف هم ستا باندې مشکوک شې،پوهیږې چې څۀ وایم؟

صبا- هغه مې ورور دې،هغه هیڅکله ستا ورور په څیر احمق فکر نه کوی.
فرهاد- پوهیږم،خو الطاف په هر څه باندې پوهیږې،پرون ورځ یې درک کړې،خو نن دی نه درک کوې، ته نه پوهیږې... هغه
هم انسان دی،شیطان ورته په زړۀ کې خبرې اچوې.
صبا- هغه په څه پوهیږې؟
فرهاد- له دی چې زه.....
صبا- ته څه؟

صبا د فرهاد خبرو اوریدو ته پتمه وه،کوم شکونه زړه کې و هغه شکونه روښانه شې،خو د فرهاد زړه بده گواهي
ورکوله،دیته اړ شو بغیر لدې چې خبره پوره کړی له کور دروازه څخه ووته،او د الطاف راتلو پوری په موټر کې پتمه وو.
لس دقیقو وروسته الطاف راغلو،فرهاد له موټر څخه راښکته شو،او سلام علیک وکړو.

الطاف- ولې دلته ناست وي؟ کور خو خلاص و..
فرهاد- فکر مې وکړو دلته درته پتمه شم دا راته بهتره وه.
الطاف- راځه چې دننه لاړ شو..
فرهاد- اول ته مخکی شه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

الطاف کلي راوخیست او دروازه وربانديِ خلاصه کړه.
الطاف صبا ته اواز وکړو خو صبا له راتلو ډېره وکړه، فرهاد هم له الطاف څخه پاسپورت او عکسونه واخیسته او خدای پاماني وکړه په بیړه لاړو،الطاف په وینا هم ماښام بوېږي ته پاتي نشو.

فرهاد په لومړي ځل پوه شو چې شاید مینه د بندګۍ تر ټولو لویه بڼه وي
او د دې خنډ څخه د خلاصون لپاره باید انسان فاسد(بد) شي او د خپلو عقایدو سره مبارزه وکړي. او د دې لپاره چې د هغه مینه زیانمن نشی، حتی هغه هم له ځانه سره ونښته،حتي که دی لامله صبا بد احساس هم کړي وی مګر نه غوښته اجازه وکړی او په اړه یي بد  فکر وکړی، بیرته کور ته راغلو، او صبا ته پیغام ولیکه..... شاید غوښتل صبا زړه نه هم خبر شی..

پیغام..
شپه په خوب کې ستا توري سترګي مې لیدلي وي.باور مې وکړه د هغه سترګو صاحبه زما زړه ملکه به اوسی،ټوله ورځ هغه سترګو پسي وم او شپي په ټوله شپه هغه د تورو موتي(مروارید) خوب کې لټولئ، افسوس !!خو کاش چې یو ورځ یې ماته کتلي وي،زما ځواني راڅخه واخیسته.. هیله مې لرله چې د خپل د ارمانو اخري خط ته نږدي شوي یم،خو اخر خط ته ورسیدم، چې لري والی له هغه هم زیات لري کړ، تر اوسه مې د میني دفتر پرانستل شوي نه و،چې تقدیر هغه بیرته بندي کړ، زه په مینه خپلي هغه لیلا ته پتمه وم،چې هغه ملکه د بل چا شوه..

له خدای څخه مې هغه لپاره خوښي غوښتنه کوله،او د غمونو حصه یې ما خپله برخه کړ،د هغه په جلا کیدو کې اوښکې مي توي کړی او ومې ژړل،
ای کاش چې هغه هم خپل خوښویو ته رسیدلي وي چې خدای څخه مې ورته غوښتل،د هغه په دردونو زه نور هم شکنجه شوم

زه وژل کیږم د هغه اوښکو څاڅکو لپاره  چې د هغې له تور سترګو څخه د ملغلری پشان  بهیږي...زه هر څاڅکی حسابوم،او هره څاڅکی په سلو خندا یې بدلوم، هیڅوک حق نه لري چې هغه زړه په درد کړي،حتی د هغه پادشاهی حداقل ترڅو چې فرهاد ژوندی وی. ته یو خوږه افسانه د فرهاد یو اړخه مینه شوی.....

په نړۍ کې هر فرهاد یوه خوږوالی  لري چې بادشاه(خسرو )ترې غلا کوي،او له ځان لپاره یې اخلې...او ته همغه خوږه یې صبا مې چې زما نړی راڅخه واخیسته....

د فرهاد د مینی افسانه برخه ......

فرهاد د ژړا ډک وو،او لومړی ځل لپاره په حپل بد قسمتی اوښکې توی کړی،او له خدای څخه یې غوښته چې کاش زما په زړه کې دی صبا لپاره مینه نه وی،او یا هم د صبا په زړه کې  د هغه لپاره مینه واچو....

صبا د فرهاد پیغام ولوسته او  فرهاد ته زنګ ووهه.....
صبا- بلی....
فرهاد ژړوغونی و ،نشو کولی چې خبری وکړی، په دیده سترګو د صبا زنګ پری کولو جرائت نشو کولې،چې زنګ یې اوکې کړو او صبا........
صبا- بلی...
فرهاد غلې و...ځکه که اواز یې کړی وو، نو خبرو څخه یې زیات دی ژړا غږ ورتلو...
صبا- فرهاد...؟ اوری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد سل ځله د صدقه فرهاد وویل.او بیا هم غلې وو...
دی ځل د صبا غږ وو چې ولړزیده....
صبا- فرهاد......
او د باعث(لامل) شو چې فرهاد زړه د صبا د حالت په اړه اندېښمن کړو
فرهاد- اورم صبا...ښه یې؟
صبا- زړه مې خفه دی...غوارم چې وژاړم

فرهاد.....

گریه کن عیبی ندارد دل سبک تر میشود در گلو بغضت بماند چشم دل تر میشود زنده گی بالا و پایین دارد اما چاره چیست ؟

گربخواهی یا نخواهی زندگی سر میشود
حسرت شیرین و تلخ زنده گانی را نخور

هرچه در پیشانی ات باشد مقدر میشود
زنده گی مانند یک آینه ای شفاف نیست

برخلاف آینه گاهی مکدر میشود
پر تلاطم مثل دریا زنده گی یعنی خطر

گاهی آرام و گهی موج ستمگر میشود
سطح دریا را رها کن قعر دریا دیدنی است سنگ هم در قعر دریا مثل گوهر میشود

زنده گی دارد شباهتهای بسیاری به جنگ
هر نبردی گاه گاهی نابرابر میشود !

صبا- دا د وخت نابرابری چې موږ یې دلته راوړو.....مگر زه د خدای څخه درته خوښۍ ډک ژوند غوارم،زما د خراب تقدر له وجه خپل کور مه خرابو فرهاد....
یو دقیقه غلی وو: ستا حق له دی څخه زیات دی ......

کاش چې صبا پوهه شوی وی چې فرهاد ته زیات حق هغه ته ورکولی،مگر فرهاد دی چې د صبا یو تار ویښتان له ټولې دنیا سره نه برابر ول.

فرهاد- د درد دوا نه کیږی نو په زخم باندی مالگه هم مه شینده ......
صبا- اوبخښه فرهاد سمه ده.
فرهاد- ما دا خبری دی لپاره نه کولی چې د خفه کیدو لامل شم صبا... یوازی نه مې غوښتل چې یو ځل بیا وځنډوم، ته چې ځی لاړه شه... مگر پوهه شه چې یو چا زړه له ځان سره وړی.... هغه زړه چې له اول څخه ستا وو.

صبا- خپل ځان د بل چا لپاره صدقه کوه مه، حتی خپل ځان ته اجازه مه ورکوئ چې له خپل ځان څخه ډیر فکر وکړي،پوهیږی چې زه درته څه وایم؟
فرهاد- خیر! خو زما غوږ تاته نیولی وو.....ستا خبری زما ستړی روح ته خوند ورکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- فرهاد په هوښ راشه، نه ځان خوره وه او نه ما،...زه نشم کولې.....
فرهاد- خبرى دى نه درک کوم.... زه غواړم چې تاسو د نړۍ ته ريښتيا ووایاست، مګر تا څو ځله ما ته زنګ وواهه چې زما لپاره یو څه ښه کړي؟؟؟
صبا- هیڅ مې زنګ نه دی وهلی او بیا یې هم نه وهم درته زنګ،خو دومره پوهه شه چې زما له لاسه درته کوم خیر نه درسیږی.

فرهاد- زه ستا د همغه شر باندی میئن یم چې ستا له اړخه وې صبا.....ځکه زه خپله مینه باندی خپل ځان ستا لپاره قربان کړم.....
صبا- مګر زه له مینی څخه کرکه (نفرت)لرم.....
فرهاد- زه هم دا نفرت خوښوم او دا له خدای څخه پټ نه دی...

فرهاد نن شپه د مجنون توب حال درلودهاو صبا، کاش چې هغه د ناز ورکولو حوصله درلودی،وروسته له اخری خبری د فرهاد نه پوهیږم څه وخت صبا اړیکه پریکړی وه ،او فرهاد تر سهاره د خپل فکرونه وڅیړل. اوس چې ښه وشو او که بد فرهاد خپله مینه را څرګنده کړی وه. سهار لمر لکه چې راتلو ته بیحد بیړه وه تر څو دوه ساعته د فرهاد له خوب څخه تیر شوی نه وو،چې ټوله نړی روښانه شوه، فرهاد له بې ساري سر درد سره د خوب څخه پاڅېد، او هغه کس ته چې صبا دوی لپاره ویزه واخلی زنګ یې ووهلو....

فرهاد- سلام..
— سلام وروه څنګه یې؟
فرهاد- مننه خپله ښه یې؟
— شکر دی تیریږی..
فرهاد- څنګه شو کار مو څه مخی ته تلی؟
— که پاسپورتونه راوړی نو حتماً.....
فرهاد- اه بخښنه غواړم!هیر کړی مې وو،نن درته راوړم ،نور څه پکار دی؟
— نه.... خو یوازی که اړتیا پیدا شوه نو خپله نفر راشی..
فرهاد- سمه ده،همدا اوس درته پاسپورتونه راوړم....

صبا ټوله شپه په ژړا سبا کړه سهار زړه یې نه کیده چې له خوب څخه پاڅیږی،
الطاف: صبا..... انجلۍ ویښه شه، هله نو...
صبا- پنځه دقیقی نوری...
الطاف- سمه ده دروازه قفل کوم....زه ځم چیرته کار لرم خپل خیال ساته.
صبا- سمه ده...

ثنا......

څو ځله مې صبا ته زنګ ووهه خو فکر کوم چې تراوسه به ویده وی، بیا مې الطاف ته زنګ ووهلو او هغه هم بوخت و ځواب یې نه راکولو، یعنی دا دوه. خور او ورور ماته وخت نه لری،زړه مې تنګ شوی دی.
او حیسب چې خپله ښځه اندیښمنه ولیده،نو غوښتل چې زړه یې ورته خوشحاله کړی،نو یوولس بجی یې خور کور ته یې وی وړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا.....

د کور زنګ زه يې له خوب څخه راويښه کړم.زړه مې غوښته چې همغه دروازه د هغه کس په سر ووهم کوم چې دروازې شاته ولاړ دی. مګر چاره نه وه مجبور چې هغه په سر وهلو لپاره هم تر دروازې لاړه شم، دويم ځل بيا زنګ ووهل شو.
صبا: صبر ...... يو دقيقه.....حتماً د الطاف څخه دروازې کلې هيره شوی،
اووووو...زغملې نشې صبر؟
صبا چې ستومانې ويسته دروازه يې خلاصه کړه،د سترګو په وړاندې فرهاد وليده،او خوله يې وازه پاتې شوه.
فرهاد څه په منظم دروازه کې ولاړ وو... منظم ويښتان،اوتو شوی کالې حتی د موټر په څوکۍ کې د ناستې لپاره هغه خط هم نه ليدل کيده، د نارينه عطر چې بوی خپله فضاه کی پيچلی دی.
صبا خپل ځان طرف ته وکتل،ببر شوی ويښتان،د خوب کالې.... نا منځلی شوی مخ او له خوب څخه ډکه...وشرمېده چې حتی سلام يې هم هير کړو

فرهاد په خندا باندی صبا ته سهار پخير وويل.....
صبا- س..س..سلام
فرهاد- ع سلام..
فرهاد وخندل په!
صبا- ريشخند وهې؟
فرهاد په خندا وويل: ن..ن..نه
صبا- څه کار دی درلوده؟
دا دواړه شپی هغه کسان نه وو؟ نه فرهاد د پرون شپی ژړا ښکاره کړه او نه هم صبا د هغه مخکی څه وويل.
فرهاد- هو بايد ويزې لپاره لاړ شو تاسو يې هم غوښتی يې.
صبا- په دی سهار وختی کی؟
فرهاد خپل ستونې صاف کړو او وويل:اوبخښی سهار نه له ماسپيښ هم تيره شوی....

صبا د ديوال په لور چې هغه کې ساعت راځوړند شوی وو وليدل....له ساعت څخه پنځلس تيری وشی وی...په فکر سره تندی په څپړی ووهه او زر يې ووی: ای وای...
دغه عمل د فرهاد کمزوری زړه باندی وخندل،او وروسته صبا هم خپل په ځان وخندل.

صبا- وبخښه همدا اوس آماده کيږم .
فرهاد- اجازه مو ده چی داخل ته راشم ؟
صبا- البته خدای مو وبخښه.
فرهاد- الطاف ته هم ووايی چی راشی .
صبا- په سترګو همدا اوس ورته زنګ وهم .
فرهاد- کور کې نشته؟
صبا- نه ولا ..
د فرهاد زړه ولړزيد او کرار يې وويل: خی بيا درته موټر کی انتظار کيږم .
صبا چی په اشپزخانه کی يی چای ايښودلو په لوړ غږ وويل: انسان خوړونکی نه يم چی ودی خورم .کينه په ځای د ..

فرهاد- نه ولا دا خبره نده ..
صبا- خی بيا په ځای د کينه زه زر تياريږم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

10 دقی وروسته صبا تیاره شوه او له فرهاد سره یوځای بهر لاړه او یو بل سره روان شول ..د ثنا موتر چی تازه یی په کوڅه کی تاوولو ..چی صبا او فرهاد یی یوځای ولیدل او د لومړی ځل لپاره حسیب ثنا ته مخ کړ او ویی ویل : دغه دوو ترمنځ څه خبره ده ؟

ثنا....

د حسیب پوښتنو ته جواب مې نه درلودو بی زړه مې صبا ته زنګ وکړ ..
ثنا- سلام ع خورجانې ښه یی ؟
صبا- ښه یم منننننه ته خپله ښه یی ؟
ثنا- شکر دي الحَمْدُ لله
صبا- ښا شکر دی تاسو څنګه یی ؟
ثنا- موږ هم ښه یو .. منننننه ..چیرته یی خورجاني ؟
صبا- بهر یمه خورکې
ثنا- چیرته ؟
صبا- د ویزې اخستلو لپاره بیرون راووتم .
ثنا- ښاا زه خو کورته راغلم او دروازی مخ کی پاتی یم ..

صبا- وی وبخښه خورجانې .. کلي د ګلدان لاندی دی داخل ته لاړشی موږ هم زر درګرځو ..
ثنا- پخیر راشی ..ځانته مو پام کوي..

ثنا- صبا له فرهاد سره ویزې اخستلو لپاره تللی او شاید الطاف هم ورسره وو موږ فکر نه وی شوی ورته؟
حسیب- شاید څه پوی شم ..اوس بیا لاړشو .. ؟ یا همدلته منتظر کیږو .
ثنا- نه کلی په حویلی کی ده ځه چی ځو دروازه خلاصه ده ......
حسیب - په سترګو میرمنې ...

صبا- وبخښی ثنا زنګ کړی وو.
فرهاد- هیڅ خبره نده ..
صبا- غوښتل یی پوی شی چی چیرته یم ..
فرهاد- نه چی موږ یی لیدلی وو ؟
صبا- د حویلی دروازی مخ ته وو ..
فرهاد- خی بیا منګې زموږ په پښو باندی ماته شوه ..
صبا په خندا وویل: ماته د شې ..
فرهاد- خندا نه لری ..اوس بیا ټول خبری کوی
صبا- خبری د وکړی...مهمه نده ..

فرهاد- اما زما لپاره مهم ده نه باید څوک خبری وکړي ..
صبا- ښاا وبخښه باید الطاف ته زنګ وکړو او ورته ووایو چی دلته راشی .
فرهاد فقط سر د هو په بڼه وښوروو څه یی و نه ویل.. صبا له الطاف سره خبری وکړی ..او د لیدو ځای یی ورته وویلو ، هغه هم ومنله او خپله لار لاړل ..فرهاد د نمایندګی مخې ته الطاف ته منتظر شوو ..فرهاد له موتر څخه پیاده شو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

رستورانت ته لاړو ..او د صبا لپاره یو خوراک پوډی (ټکله ) راوړه ..گرم بوی د برگر ..او چپس د صبا دماغ ته لاړو ..او بی اختیاره یی فرهاد لاس کی ولید ..فرهاد پاکت صبا ته ورکی او ویی ویل : واخله شاید وږی شوی وی .
صبا- هوو بیخی ډیر ..
فرهاد- خی بیا یی وخوره ...

صبا بی رقمه ډوډی واخسته او په خوړلو یی پیل وکی ..
فرهاد هم خپل ځان موبایل کی مصروف کړو ..تر څو صبا په آرامه ډوډی وخوری . یو چا د موټر شیشه تک تک کړه ..
الطاف وو ..فرهاد د هغه لپاره دروازه خلاصه کړه ..او موټر داخل کی کیناستو .
الطاف- سلام
فرهاد- علیکم سلام ..
صبا د شا سیټ نه په ډکه خوله سلام کړو او الطاف علیک وویل..
الطاف- ښااا نو منتظر چشی ته یو ؟
فرهاد- صبا ډوډی یی خلاصه کړی ..

الطاف- نجلۍ تا کور کي څه کول ؟ چی اوس ډوډی خوری ؟
فرهاد زر د صبا دفاع وکړه او ویی ویل : تر اوسه وخته دی ..مهمه نده چی هغه نفر ته منتظر شوو ..

رنگین...

سهار 7 بجو له خوب پاڅیدم او د فرشاد غږ می واورید چی مور سره یی دعوا شروع ده . هغه دعوا چی سبب یی زه وم ..ددی لپاره راغلم دی کورته چی ژوند وکړم .اما دغه ځای می هم لکه چی دوزخ جوړ کړ ..صبا لاړه مگر د سیوری یی زموږ څخه لاړه نشوه . فرشاد پس له تللو د صبا غم نیولی وو ، بعضی بیا وایی که دومره مینن وي ولې یی د مور په خوله وکړل ؟د آشپزخانې طرف ته لاړم او په لومړی ځل می د غوږو بوی بد را باندی ولگید .

او میرمن مجبوبی زه خپل اتاق ته ولیږم .. په کور کی بی غیر د میلمنو څخه بره ارزښت می نه درلودو ، نه فرشاد زه غوښتلم نه یی کورنۍ ، اما څومره خوشالی چی له صبا سره وه ، له ما سره ی خو نه لرله یا نه وه بیخی ..شاید هغه یی له ما ښه پیژندله  همدی لپاره ، فقط میرمن کریمه زما طرفداره وه او بس .. بعضی وختونه د فرشاد سره په واده باندی پښیمانه شم ، رښتیا هم بد تقدیر هیڅ وخت نه ښه کیږی ،  هغه زه یی د هر څه او هر کار  ملامته گنم . اوس چی له ټولو بی گناه زه یم

سعید- محبوبه فرهاد چیرته دی ؟
محبوبه چی د لاس وچولو حال کی وه وې ویل: نه پوهیږم شاید کور کې یی وی ....
سعید- مه وایه چی نه یې ورسره غږیدلی؟
محبوبه- د پرون ورځی راهیسی نه یم غږیدلی ولې ؟
سعید- ای دا هلکه څه وخت کور لاری ته بلدیږی ها؟ تر څو د ټولو زړونه په ما خوشاله نه کړی نه می خوشی کوی .. باید ښکته سر کور او ځای خپل کړی. خپل ژوند وپیژنی.
محبوبه- څه ووایم سعیدجانه زه ددی خبری کولو مخ نه لرم ورته ، ته کولی شی چی قانع یی کړی ته ورته ووایه، چې واده وکړی.

سعید- نن یا سبا 40 کلن کیږی بیا ورته نجلۍ نه پیدا کېږی، ویلی می وي هوو..

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبوبه- پس د صبا له موضوع نه پوهیږی .. جرات نه لرم چی د واده توصیه ورته وکړم ..

د فرهاد د موبایل غږ جگ شو ، او له هغه یی وغوښتل تر څو الطاف او صبا راولی ،
دري واړه یو ځای لاړل او نیم ساعت وروسته یی کار خلاص شو .
الطاف- ښاا مننه کوم فرهاد جانه ..
فرهاد- ستاسو وړ نده د ورور گران، إن شاء الله تر راتلونکی اونۍ نوی ویزه اخلې .
الطاف- إن شاء الله.

صبا : راځه چي ځو لالا ...لمر وسوزولم ..
فرهاد : موټر واز دي . ورشی کینې ..
الطاف : مننننه فرهاد جانه په تکسی کی به لاړشو .
فرهاد : نن ورځ وزگار یم کولی شم تر کور مو ورسوم .
الطاف- زحمت درته کیږی ..
فرهاد- هیڅ زحمت نشته ..

فرهاد د موټر مخته کیناست او په چوپه چوپتیا سره یی لاري ته ادامه ورکړه . الطاف به چي خبره وکړه نو فرهاد به ځواب ورکونکی وو بیغیر لدی د لاری مسیر همداسی خاموشه وو صبا هم په شاته سیټ کې خپل سر په شیشه باندی کیښود ، او بهر یی کتل . ناڅاپه یی سترگی راډکي شوی او د لاس په شا یی خپلي اوښکې پاکی کړی ..

د مینن زړه د میینې درد نه بی خبره څوک وو ؟
فرهاد آیینی ته وکتل او د هغی ژړا ته یی فکر شو .زړه یی بی اختیاره صبا وویل ، او د الطاف هم دوی دواړو ته فکر او متوجه شو .
صبا د خپل انستیتیوت په لیدو سره په لومړی ځل له سترگو اوښکی وڅخیدی ، شاید ددی لپاره یی زړه تنگ شوی وی چی زر تر زره لدی ځای نه ځان خلاص کړی .
الطاف- غرمی هم تیره ده زه خو سم وږی یم ته څنگه فرهاد ؟
فرهاد- زه .. ؟
الطاف شاید پوه شوی وی چی فرهاد خپلی دنیا کی غرق دی ، نو بیا ځلي یی ورته وویل: وایم غرمه تیره ده څه وخورو ؟

فرهاد- زه هم وږی شوم ..
صبا : ما کورته ورسوی نور چی تاسو هر ځای ځي ؟
الطاف- هو تا خو خپله خیټه مړه کړه نو ..
فرهاد : په دوو دریو مړیو (لمړۍ ) څوک نه مړیږی ، باید صحیح ډوډی وخوری .
صبا : ثنا په کور کي منتظر ده .. غواړم هغوی ته ورشم ..
الطاف : ثنا خو می بیخی له یاده وتلي ده ...
خپل ځای ته ورسیدل ، او فرهاد دوی د موټر نه ښکته کړل . او خدای په اماني یی وکړه ، اما الطاف اجازه ور نه کړه او هغه یی داخل ته دعوت کړو .

فرهاد- نه الطاف جان یو بل ځل به درته مزاحمت وکړم اوس نه.
صبا دروازه خلاصه کړه او د ننه شوه او الطاف فرهاد ته په کتو وویل : د ننه څخه خو سم د آبادی او سوکالی بوی راځی .
فکر کوم دا د ثنا میرمني کمال او هنر دی ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- نوش جان مو شه ..
الطاف- که چیرته رانغلی پښیمانه کیږی .

فرهاد د الطاف سره یوځای د ننه شو او اسرا په خوږه ژبه مخکی راغله او سلام یی وکړو .د فرهاد زړه په دغه رقم سلام سره بیخی ضعف شو او کلک یی په غیږه کی ونیوه ، د لاسو او ویښتو سره یی لوبی کولی او غیږ کې یی ونیول ، د ننه راغلو او له ثنا سره یی جوړ پخیر وکړل ، او پس له هغی پوی شو چی حسیب تللی او شاید مازدیگر بیرته راوگرځی. څلور واړو په یوه میز ډوډۍ وخوړه ، فرهاد اسرا ورسره کینوه ، او په خوله کې یی ډوډۍ ورکوله ، د فرهاد عجز د ټولو کوچنیانو په وړاندی همداسی وو نه تنها د اسرا په وړاندی ، ټول پوهیدل چی فرهاد څومره مهربانه دی ..
صبا یوه لحظه په فکر کی لاړه او په خیال کي یی زیات تلل او راتلل راغلل زما لپاره د واده څخه لاس واخیست ؟

داسی انگیرل کیده چی فرهاد د صبا ذهن او خیال ته فکر وو او هغه یی ویلو او صبا ته یی کتل ، لږي شونډي یی وخځیدي او نمایشی خندا یی وکړه ، او بیا ځلې یی اسرا سره ځان مصروف کړو ....
ثنا- پریږده فرهاد جانه زه ډوډی ورکوم .
فرهاد- نه راحت یمه ...ته د خپله ډوډی وخوره ...
الطاف- ته ورځ په ورځ بیا چاغیږی و نجلۍ چشی خوری ؟
اسرا-  ننو گک یا بانوج خوری ؟
الطاف- چشی ؟؟
ټولو د اسرا خبري  ته وخندل ..
الطاف- فکر کوم چی غواړي یو درجن (جوړه) یعنی ماشومان راوړی ؟

ثنا- توبه .. خدایه ..ته ودریږه چی یو ځل لخیره سره واده وکړي ښځه د نه پریږدم چی له یوه ماشومه پرته نور راوړي. او بیا زه دري یا څلور ماشومان نه لرم درجن له کومه شو ؟
فرهاد- مبارک د وي ثنا جانې خدای د قدمونه بختور او نیکمرغه کړي .

صبا...

که چیري فرهاد وغواړي واده وکړی ، نو اکثره نجوني واده کولو ته ورته تیاره دي ، درک کوونکی ځوان ، مهربان ، تحصیل کرده یا علم حاصلونکی ، پوه ، حتی ویلی شم چی د ژوند ملگری ...هغه ښه کارونه چی په یوه د ژوند ملگری کي وینم ، مخکی می فکر هم نه وو کړي ، شاید هرڅوک نظر شرایطو ته په کتو د یوه نفر ښه توب او بد توب مشخص او ټاکی ..

"دري ورځې وروسته"

8:30 بجو فرهاد ته زنگ شوی وو ، په نیمه خلاصو سترگو یی د شماری مخاطب  نوم ته وکتل ، که چیري د صبا د کار لپاره نه وو هیڅکله یی هم دغه زنگ ته ځواب نه ورکولو ، او په د 36 ساعتو کی یوه دقه هم نه وو ویده شوي ، او برعکس  په اعصابو یی د جراهی یا زخمیتوب او عملیاتو په سر ډیر فشار ورغلی وو .شپږو بجو کورته راغی ، او تر څو چی حمام یی کړو او یوځای د اوسیدو یی ونیو 7 څخه 11 تیری شوی ، او اوس کم تر کمه دوه ساعته ویده و چی دا زنگ ...

لاحوله ولا قوه ... یی وویل او په ځای کي کیناست تر څو یی واضح خبری واوری .
فرهاد- بلی..
— سلام ع ...فرهاد جانه څنگه یی ښه یی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- ع سلام ... مننه تاسو څنگه یی ؟

—ویلی د وو چې کارونه یی خلاص شول اول خپله تاته ووایم

فرهاد- بلی ..

— پس سترگې د روښانه ویزه می ورته واخیستله ..

فرهاد- چشی ؟

هرڅومره چی بی خوبه وو ، بیا یی هم له یاده ووتل .

فرهاد- الطاف ته د زنگ کړې ؟

— نه ولا ویلی د  وو چې اول ...

فرهاد- آفرین ...مننه ..هغه ته زنگ مه وهه ..زه راځم پاسپورتونه تسلیم کوم ..

— سمه ده منتظر یم .

د فرهاد سر درد څلور چنده زیات شو ، اما مجبوره وو تر څو لاړشي ، او د آخری ځل لپاره که کیږی خپله معشوقه یا مینه ووینی ، ځکه پوهیدو چې که صبا پوی شی چی ویزه یی اخستې همدا نن ورځ له دې ځایه تله. په بیړه سره له کوره بیرون شو او د لارې سر کې یی له ملگری سره ولیدل.او پاسپورتونه یی تسلیم کړل او معلومداره پیسی چی مخکی مالومې وی .ورته ور یی کړې او په آخیر کې یی تری وغوښتل تر څو الطاف هم خبر نه کړې او غوښتل یی هغه هم غافل گیره کړې ..

انسان ورو ورو شاته تگ کوي ، هیڅوخت یا یو ځل هم قدم شاته نه وړې .

د هر عادت خبره ورو په ورو وربانذی  انسان مبتلا کیږی ، هیڅوک هم یو ځل نه معتاد کیږې .

د یوه مات شوی مرغه وزر ، یو ځل سقوط نه کوی .

یو ځل (وا ) یا نه،  نشتوالی ، نه ورکوي ، یوځل سترې کیږی نه .

گلونه زر خپل رنگ له لاسه نه ورکوي ، او تبدیل کیږی هم نه .

اور یو ځل نه ایرې کیږی ، او له لاسه نه وځی .

ژوند گل ، دیر په ورو ډول خپل شکل له لاسه ورکوي .

او دغه وروتوب په تکرار ډول ، او دغه شیطانی او مکارانه سترپا ، تریخوالی زیات کوي .

فرهاد زړه په خپل ځان وسوزیدو ، او اوښکي یی تویی کړې . ددې لپاره چی څومره ناچاره او گرزیدو حتی د خپل د تللو سند یی هم قید کړی وو.اما زړه یی غوښتل چی صبا هم دلته ولری ، حتی تر دې چی خپل نوم یی هم د هغه په شکل ووهی ..هغه ..

د اونۍ آخره شوه او الطاف فرهاد ته زنگ وکړ . هغه خپل غوښتونکی د خپلو کارو شو ، که مخکی لاړی نو حتمن یی صورت یی نیولو ، فرهاد چی دا درې ورځی چوپ وو . اوس یی باید ځواب ورکړی وي .

الطاف- سلام ع فرهاد جانه ښه یی ؟

فرهاد- ع سلام مننننه ته ښه یی ؟ له کاکاجان څخه می احوال لرې ښه دې ؟

الطاف- هو شکر ښه دې . موږ ته سترگې په لار دې .

فرهاد- دیر ښه .

الطاف- څنگه شو فرهاد جانه له هغه نفر سره د خبرې وکړی. څه کار یی وکړو ؟

فرهاد- هو خبر یم ورنه سبا بل سبا به کار مو وشی.

الطاف- ښه ده ، بیا ، نو رښتیا غوارم کور خرڅلاو ته کیږدم .. ویل می له تا سره په اړیکه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- کور د کوم ځای ؟

الطاف- همدغه زموږ کور ..له پلار سره مي خبری وکړي ..د بیرته ګرزیدو پریکړه نه لری.صبا چی هلته لاړه شی ، نور دلته څه کار لري چی راشی؟

فرهاد- ربښتیا وایی پس د صبا د تللو نه نور کابل کي څه نه لري .

الطاف- ښاا چی خبر شوي احوال راکه.اوس ځم تر څو هغه کورته نږدي د کورو د خرڅلاو دفتر ووینم .

فرهاد- صحیح ده هر څه کي مو چي خیر وي .

فرهاد...

د صبا لپاره مي پیغام ولیکو ، دي لپاره چي ښه ژوند ولري ، او همدا غواړم نو ورته مي ښکاره کړل .اول ګام مي په بدو خاطراتو په طرف ، آیا وای خلم . هیڅ شک نه لرم چي راتلونکی ګامونه به په بیړه سره اخلم . دا هماغه بی خبره ضمیر وو زموږ ، چي په تکرار سره او په عادت سره یی یا قوي کیږو یا ضعیف کیږو .

صبا- سلام ع ، ښه یی فرهاده .

د صبا له ښو عادتو سره چی هر وخت په ټاکلی وخت ځواب به یی راکوو ، زړه می د ښي خبری سره هم ضعف کیدو حالت ته تلو.قربانک د شم د فرهاد ساه زړه نفس هر څه ... اما مخکي د لیږلو یی بیرته پښیمانه شوم او ومي لیکل : شکر ښه بیخي ښه یم ، ته سنګه یی ؟

صبا- زه هم بیخی ښه یم .

فرهاد- د خدای ډیر شکر چي ښه یی .

صبا- د موږ د تلو حال نه خبر شوي ؟

فرهاد- هو ، اما زه غواړم چي تا ووینم .

صبا- ویزه د واخستله ؟

فرهاد- وایم چی غواړم چي تا ووینم په خبره پوهیږي ؟

صبا- په کور کې یم .

فرهاد- سمه ده ، دوه ساعته وروسته درځم لخیره .

صبا- هر څه چي وایی په موبایل کي ووایه ...لطفاً لطفاً لطفاً دلته مه راځه ...

څنګه وایی چی تاته درنشم نو چیرته لاړ شم صبا ؟ تراوسه له کوره نه وم وتلي چی د مور زنګ می راغی .

فرهاد- بلی مورجانې ..

محبوبه- د مور ګرانې چیرته یی ؟

فرهاد- کور کې ...

محبوبه- د مور په مرګ باندي راضی شوي که څنګه زویه؟

فرهاد- خدای د نه کړي مورجانې ولی داسی خبري کوی ؟

محبوبه- نو ولې لیدو ته مي نه راځي ؟ ولی اجازه ورکوي چي ستا د بیلتون درد مي او د پلار خبري د ما تباه کړي ؟

فرهاد- خدای د دوښمن ته درد مه ورکوه خپل ځان خو پریږده ... درغلم موري درغلم..

د تلو لاره مي بدله شوه د مور اوښکي می زړه ډیر ولړزوو ، دغه ټول وخت کي یا دا دومره موده کی خپل ځان پریږده مور مي هم هیره کړې وه . باید اول د هغي ( مور ) مي زړه په لاس راوړم .د دروازي زنګ می ووهو ، هر څومره می چي د پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور وو مگر بیا مي هم ځان راته بیګانه او پردي ښکاریدو ، فرشاد دروازه خلاصه کړه ، هیڅ یوه نه ما او نه هغه د یو بل د لیدو انتظار درلودو . فکر مي کولو چی هغه به کار ته تللی وي . او شاید ده هم فکر کولو چي هیڅوخت به زه نور د دی کور دروازی شاته راشم . بی خبرو یی له څنګ څخه تیره شوم او یو ځل مي سر آشپزخاني ته ورښکاره کړو.

هغه ځاي چی تل به مي مور هلته موندله. نړدی ورغلم اولاسونه مي ورته ښکل کړل . مور مي په لومړی ځل د سترپا حالت کی ولیده او د سترپا او ستوماني بوی تری تلو . سترګي یی سره نړدی شوي او تنګ شوی وي او د سپین شوي ویښتان می یی ولیدل .
فرهاد- ښه یی مورجاني ؟
محبوبه- ښه یمه د مور نازولی .
په مسخره ډول می وویل ترڅو می مور وخاندی .
فرهاد- خی ولي د ویښته سپین شوي ؟
محبوبه- زما عمر تیر دي زویه.
فرهاد- ماشاءالله له ما څخه ځوانه جانه یی هسی د ویښته سپین شوي ؟ فرح څنګه دي ؟ سهراب اسدي څنګه دي ؟

سعید- ته کور ته راځي چي بیا د خور او ورور پوښتنه هم کوي ؟
فرهاد مخ راواړوو او د پلار لاسونه یی ښکل (مچو ) کړل ډیر وخت کیدو چی دلته نه وو راغلی . او د همدي لپاره یی د ټولو ګیلې په سر سترګو ورل.
فرهاد- وبخښه پلارجانه بیخی ډیر مصروفیت راته پیدا شو .
سعید- هر رقم بوختیا چی وه بیا هم کورنی په لومړي قدم کي ده .
فرهاد- حق لری خو کوم ځای کې چې زما خبره ارزښت ونلری هغه زما کورن.

د سعید په لوړ غږ فرهاد خپل خبره بند کړل. سعید وویل: وګوري د یو بل دوښمن نه کیږی ، هر څه چې وو پخیر سره تیر شول او خلاص شول ، اوس تاسی یو بل ته شخ شخ مه کیږي . یو بل سره روغه وکړی او آشتی شی .
فرهاد- زه له چا سره دښمني نه لرم پلار جانه ..
سعید- پس ولي په وخت سره کورته نه راځي ها؟ مورې ټول درته راڼده ښکارو نه وینو چی تاسو خو ولاکه یو سلام هم کړي وی یو بل ته..
فرهاد- دا به ښه وي ، چی زما د پوهولو پرځاي فرشاد پوه کړي ؟ چا چي د دښمني اعلان کړی هغه زه نه یم.

فرهاد- او پاتی شوه د یو چت لاندی ژوند کولو خبره ، هر وخت مي چي د فرشاد غوندي په کور کي مکمله برخه واخسته پس له هغي ما څخه وغواړي چی د یوه چت لاندی ژوند درسره وکړم .
محبوبه : زویه ... د مور ګرانه ...
فرهاد- موري نن مي لطفاً پریږده چی خپلی خبري وکړم . صبا مو له ما واخسته او د فرشاد خوله کی مو واچوله ( د فرشاد په نامه مو کړه ) .. هغه هم لاړو بل څوک یی انتخاب کړل ...تاسو ترمنځ فقط زه او صبا بد بخته شوو ..
سعید- که چیرته اول تاهم داسی پریکړه کړي وای نو تا لپاره مو هم داسی تصمیم نیولو.. اجازه مي نه ورکوله چي فرشاد مخکي شی .
فرهاد- رښتیا پلاره ؟

سعید- وګوره فرهاده زه د تا او ورور ترمنځ د فرق نه کوم . هیڅ یو د تاسو نه هم بل ته کمه مینه نه لرم . اما تقدیر همداسی وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد- ښه کوم کار مو چي د فرشاد لپاره وکړو زما لپاره یی هم وکړي . اوس چي د فرشاد مسله وتړل شوه. نو صبا زما لپاره وغواړي .
سعید- دغه کار اوس ناممکن دي فرهاد....
فرهاد- اوس او وروسته نه لري ..
سعید- په کوم مخ سره ستا کاکا ته وو‌ایم؟
فرهاد- په همغه مخ کوم چي د فرشاد لپاره د ورته ودریدی.که تاسی یو اقدام وکړي نور بیا زه خپله پوهیږم .
سعید- صبا یی نه قبلوی .
فرهاد- قبلول او نه قبلول یی پریږدی وروسته .

له پلار سره مي چی خبری وکړی نو له کوره د صبا ته د تللو په  هدف لاړم.اما د لاري په سر کي مي دا فکر وکړو چي څه باید وکړم نو لاسونه می په لړزه شول او مجبور  شوم تر څو په یوي کوڅه کی یا سرک کي ودریږم . غوښتل مي چی له صبا سره خبري وکړم اما که مي د تیر رقم بیا رد کړي  بیا څه ؟ هغه به زما دلیلونه د دغه رقم ژوند لپاره قبول کړی او کنه ؟ تراوسه می خپلو فکرو نه سر نه و پورته کړي چی د الطاف زنګ راغو . خپل ځان می لږ سره جوړ کړو ، او غاړه مي تازه کړه او زنګ مي اوکي کړو .

الطاف- سلام علیک.
فرهاد- سلام علیک الطاف جانه ...
الطاف- علیک سلام ښه یی ؟
فرهاد- شکر دي مننننه... خپله شه یی؟
الطاف- شکر هغه ما نن له (........) سره می خبري وکړی ویل یی چی پاسپورتونه تاسره دي.؟
فرهاد- هو له ماسره دی .
الطاف لږ په قهر وویل : څه وخت یی تسلیم کوي ؟
فرهاد- کورته درځم له نږدي خبري کوو .
الطاف- سمه ده پخیر راشی .

بسم الله سره پورته شوم او د تره کور ته  می په حرکت شوم. هماغه مرکزی ټکي او هر وخت، هماغه دروازه او هماغه زنګ د دروازی .غوښتل می چی په خپلو خبرو د زور شم او حاکم د شم. اما خو چي څه رقم نه پوهیدم . پس له 10 دقو د وره شاته یو د قبولی زنګ می درلودو . او بیغیر هغو ته د توجو لپاره مي د دروازی زنګ ووهو.
الطاف ور یا دروازه خلاصه کړه . یو له بل سره مو جوړ پخیر وکړل . او د ننه شوو . په ښه راغلاست سره په کوچ باندی کیناستم ، او ددی لپاره چی خپل فشار ښکاره نه کړم دواړه لاسونه می په په ګونډو کیښودل او سیی او مستقیم کیناستم .
څه خبری څه غوری دي فرهاد جانه ...

الطاف- نن ورځ می کمیشن کار ته زنګ ووهو ایله یی اوس ځواب راکو .
لاسونه می د کرتۍ جیب ته یوړل او پاسپورتونه می په میز ورته کیښودل .
فرهاد- دا مو پاسپورتونه ... ویزه مو هم واخسته ..
الطاف- مننه جوړ اوسی فرهاد جانه ، که پوهیدي  چی تاسره دي هغه نفر ته مي مزاحمت نه کوو.
فرهاد- هیڅ مشکل نشته درک کوم مو .. خپلو سندو ته خفه وی کنه.
الطاف- وبخښی صبا ته غږ کم ښه زیری ورته ورکړم ډیره ورته خفه وه .
فرهاد- الطاف .

(c) ketabton.com: The Digital Library

الطاف- قربان ؟

فرهاد- مخکی لدي چی صبا راوغواړي غوارم له تاسره خبري وکړم .

الطاف بیا یی پخپل ځاي کیناست او ویی ویل : وواېه فرهاد جانه اورم ؟

فرهاد- مور خپلو منځو کي وروڼه یو ، او مخکي لدی چی زما په باره کې قضاوت وکړي ، غوارم ټولو خبرو ته مي ښه په خلاصو غوږو غوږ شي .

الطاف- مهرباني وکړه اورم یی د څشی په باره کې ؟

فرهاد- د ..... ژوند په اړه دا چی ضمانت د ژوند کولو یی درکوم ، او د ارامتیا ضمانت یی هم درکوم ، له هر لاري او نګاه که وغواړي . حتی که وغواړي چی قرارداد هم درسره امضا کوم . که مي پخپلو خبرو مطابق عمل ونه کړو نو زه درته جزایی یم او هر څه چی بیا ته کوي .

الطاف- د چا د ژوند په باره کې ؟

فرهاد- صبا ښیم درته. پوهیږم چی د دواړو لپاره ګرانه ده . هیڅوک هم بد یی نه غواړو . اما زه ورته ډیر فکر او خیال یی ساتم . که چیرته لدي ځایه لاړه شی نو زما لپاره به ډیره سخته او کلک عذاب وی . حداقل خو دلته خو به پاتي شي کنه . له تره سره مي خبري کوم شاید بیرته راوګرځي .

الطاف- وګوره فرهاد جانه ډیره زیاته مننننه چی زمور په فکر کي یی اما .....

فرهاد- غوارم له صبا سره واده وکړم ..

که چیرته هغه وغواړی همدا نن مرکه دراستوم.

الطاف- فرهاد ....پوهیږي چي څه وایې؟

فرهاد- هو پوهیږم ، چی باید مخکی مي یی په اړه باید ویلی وي اما هغه وخت ناوخته شو . بل ځل نه غوارم چی ناوخته کړم . پرخپلې پریکړې باندی ثابت او قوي ولاړیم . او که چیرته ستا خوښه وي نو غوارم له صبا سره وغږیږم .

الطاف- زه د ویلو لپاره څه نه لرم .. دا چي څه ووایم هم نه پوهیږم . نه غوارم چي غلطه پریکړه د وکړم . باید خپله صبا ..

فرهاد - که اجازه مو وي نو غوارم خپله صبا څخه وپوښتم ...

الطاف- صبا ته غږ کوم که کوم څه ویل ورته لري نو ورته وواېه .

صبا...

دا چی فرهاد د راتلو وعده وکړه نو پوهیدم چی راځي . اما حس او باور مي وو چي شاید راتلل یی زمور لپاره تاوان وي چی تر فشار لاندي شوم . هر څومره یی چی ناوخته کړو اما همدا چی د وره زنګ پورته شو نو پوه شوم چی فرهاد راغلی . هغه په خپله خبره او قول دریږی . تشویش مي شو خپل ځانته می چی د راتلو یی خبره شوم حتمن یو دلیل لری . صبا ...

د الطاف په غږ سره له ځایه می پورته توپ کړل او بلی یا هه می وویل .

الطاف- ښه یی ؟

صبا- هو هو .... وبخښه فکر مي بل ځاي وو .

الطاف- خپله وبخشه چی ومي ډاره کړي .

صبا- هیڅ خبره نده

الطاف- لاندی فرهاد راغلی ..

صبا- ښااا...؟

الطاف- راځه لاندي باید خبري وکړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- چشی په باره کي ؟

الطاف- راځه پوی به شې.. اما یوازی درڅخه غوارم چي عدالت وکړي او زر په قهر نشي .
صبا- ولې ؟ څه خبره ده ؟
الطاف- کوم خبره نشته یوازی فرهاد غواړی درسره خبري وکړی.
پوهیدم چي فرهاد څه غواړي . اما زه تر فشار لاندي وم . ځکه د خبرو لپاره مي یی جواب نه درلودو . زه د هغه د خبرو نه اوریدونکی نه وم . له حس او احساس څخه یی چی لرو زه یی خبره کړم . اما ما دومره فکر هم ولاکه د هغه د ما سره په مینه درلودو کړي وي .الطاف له دروازی څخه بهر شو . او شاته یی زه روانه وم . لاس مي لړزیدو . او د لاس لړزیدا می په ټکری کی پټه کړه. زر زړونه می سره یو کړل او سلام می ورکو . فرهاد په خفه سترګو ماته کتل . او علیکم سلام یی وویل.
زما په لیدو یې لږ مسکا پر شونډو راغله..

مینه یا عشق یعنی دغه رقم ، ترڅو یی راکتل د اوبه او خولي می په ځان ماتی شوی . په لړو کتو یی وسوزیدم. هغه وېره چی ما درلودو په هغه ځای کي کیناستم چی له فرهاد لري وو . تر څو می وېره ونه وینی . اما د هغه له سترګو بیا هم نه پټیدو . او نه کیدو .
فرهاد- سلام صبا جانې ...
هغه رقم چی فرهاد زما نوم واخیست د لاسو لړزش می بیخی په 180 کې شو . او د پټولو لپاره می لاسونه په ګونډو کی ورکړل .
صبا- علیکم السلام.
فرهاد- ښه یې ؟

نه ښه نه یم د خولو لاندی غرقه شوم ، او هو شاید همدا اوس د لیدلی وم چی پوښتنه کوی . الطاف ثنا ته په زنګ وهلو باندی بهر ووتو .
او همدا د الطاف تلل لامل د ددي شو تر څو فرهاد خپله خبره واضح وکړي .
فرهاد- له ما څخه وډاره شوی ؟ یا انسان خوړونکی درته معلومیږم ؟
صبا- نه نه ..
فرهاد- نو بیا ولې د لاسونه د پښو لاندی ښوري ؟
حتی زما فشار او سترس ته هم متوجه شوی وو.

فرهاد-
دعا کن هم گره از کار ما بگشاید
هم دعا کن دیگر گِره درکار ما نیافزاید این عشق .

صبا- خه مو وویل متوجه نشوم!
فرهاد- د چشی باید متوجه شوی وی ؟
صبا- هیخ هم نه .
همغه د فرهاد خندا زه یی دویم ځل لپاره نښان وګرځوم . یعنی امکان یی درلودو چی دا سږي د وخاندی؟
صبا- غوښتل د خبري وکړی ؟
فرهاد- اوو بلکل
صبا- چشی په اره ؟
فرهاد- هماغه چی غواړي وا یی وري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وربځی می پورته کش کړی او ومی ویل: متوجه نه شوم ؟
فرهاد ږ اوس چي متوجه نشوی زه د خپلی خبري په هدف پوهوم .
پاسپورت یی له میز څخه پورته کړو او زما طرف ته یی ونیو. او ویې ویل: وګوره غواړي لاړه شي نو واخله پاسپورت د آماده دي . که وغواړی دغي دوو ورځو کي تکت هم درته اخلم... اما مخکی د تلو څخه خو لږ هم زما په اړه فکر وکړه ، له تا څخه خو پټه نده کنه ، دا چی ستا پر وړاندی څه احساس لرم ، او همدا چی که لاړي نو زما لپاره به ډیر مشکل وي ستا تګ .

فرهاد ته می وکتل او له آخری خبري یی وډاره شوم ، پوهیدم چی له ما غواړی چی دلته د پاتي شم ، اما ما یی تر څنګ اوسیدو لپاره جرات نه درلودو ، حتی که وغواړم هم نه کیږی . زما بدبختی فقط زما لپاره بسنه کوی ، ولې باید بل څوک سره بد بخته کړم ؟
فرهاد- صبا ... درڅخه غواړم چی عدالت وکړي ! که چیرته زما خبری ته غوږ کیږدي نو دلته پاتي کیږي .....له کاکا (تره ) مي مرکه کوم او تا غواړم ځانته.. لکه څنګه مي چی الطاف ته مې وویل نو کاکاجان ته مي هم همدغه رقم وایم یوازی بسنه کوی چی ته وغواړي له ماسره واده وکړی..

صبا- څه؟؟
فرهاد- غواړم واده درسره وکړم.. غواړم خوشبختی او نیکمرغی د دواړو ووینو .
له ځایه می پورته شوم غوښتل مي چی الفرار وکړم. خو فرهاد مي مخه ونیول او وې ویل: مه تښته صبا ... د ګامونو او خبرو ځاي د پرما مصرف کړه.. که له ما کومه بدي لیدلی وی نو ووایه چی سمه یی کړم.. اما که چیرته بی دلیله می رد کوی دا زما حق ندي .
صبا- لطفاً فرهاده ..
فرهاد- کینه مه کوه صبا لطفاً ته چي ژاړی نو زه مړ کیږم پوهیږی چې.. ستا د سترګو اوښکې مي په زړه کې اور بل کوي .
صبا- له ماسره د ځان مه بد بخت کوه فرهاد که ...

فرهاد- ستا څخه بیغیر زه بد بخته یم صباجانې.. ته یی نه وینی چی ستا څخه بغیر څنګه دردونه تیروم .... زما د درد شاهده نه وي اما کیسه می یی درته وکړه .. چي
بی له تا ماته خوشبختی نه رازی صبا .... له تا څخه غواړم چي ما لدي خوشحالی او زړه ښه کیدو څخه مه محروم کوه .
غواړم زما د خبرو په اړه فکر وکړي انتظار یم درته تر څو هو ووایی ما لدي غم څخه خلاص کړي .
صبا- فرهاد ...
فرهاد- څه وایی د فرهاد ګرانې .. ..فرهاد د قربان له هري خبري شي ...مخکي له هري پریکړي یو ځل فرهاد بیچاره ته هم فکر وکړه ..زه ځمه اما فکر پري وکړه ....جبر ندی درباندي اما زما د زړه غوښتنه ده تاته ضرورت لرم درته او محتاج تاته یم صبا.... هر څنګه چی ته ما ته احتیاج هم نه لري...اما زما په حق کې لږ مهربانی وکړه سمه ده ؟

د هغه طرف ته مي وکتل سترګی یی له خفګان نه ډکې وي . او همدا چي ورته ومی کتل نو خپل ځان یی له ما لري کړو.غوښتل مي چی لاړه شم اما له ټکری کلکه ونیوم ..

فرهاد- ای کاش دا مو آخرین لیدل نه وي ...
ای کاشکی لمر یو نوي هیله او امید زما پرایمان باندی ولګیږی ..

له څنګ څخه مي لري شو او لاړو ....

فرهاد....

(c) ketabton.com: The Digital Library

معشوقه یی روز بی نوایی ست خدا ...!
هر وخت به چي ستړي شوم نو خدای به مي ياد کړو ، د هغه مينه زما په درد بدن او ناقراری کي پيدا شوه ، شتون د داسی ميني دوزخ دي ، اما کله به مي چی د صبا په اړه فکر وکړو نو جنت به شو ، دغه بی علاجه درد یا بی درمانه نور یی باید اړخ معلوم کړم ، يا یی درمان يا حل لاره پيدا کوم يا به ځان پدي غمو کي ورک کړم .
ما صبا يوازې له خپل وجدان سره پرېښوده، اوس دی خپله بايد زموږ د دواړو برخليک وټاکي. ساعت نن د ګرځېدو او سياحت هيله نه درلوده او زما د ژوند د ښه او بدو خبرونو په انتظار کې و.

مور مې او پلار مې هم تر يوې اندازې خوشاله ول چې زه غواړم له صبا سره واده وکړم. خو فرشاد جګړه اعلان کړه او ټول ورځ يې زما ژوند تبا کړ. هغه نه غوښتل چې صبا دې دي کور ته زما د مېرمن په توګه راشي. آيا صبا انسان نه ده؟ او د دويم واده حق نه لري؟

کريمه- ستاسې دا تلپاتې جګړه به کله پای ته ورسيږي؟ فرهاد جانه، ته دې له خپل ورور سره دښمني اعلان کړې ده؟
فرهاد- زه؟ د خپل ورور دښمن؟
کريمه- هو، ولې نه، هغه ښځې لپاره...
فرهاد- هغه ښځه نه، صبا وايه ميرمن کريمه.. د صبا بې عزتي کول ما ستاسو په مقابل کې درېدو ته اړ باسي.

ميرمن کريمه لا خپل خبرې پای ته نه وې رسولې چې صبا فرهاد ته تليفون وکړ. فرهاد د صبا نمبر په ليدلو سره موسک شو او موبايل يې بغير لدې چې د نورو پروا وکړي ځواب کړو او ويې ويل: "جان صبا.."

دا خبره د فرشاد لپاره د اور لمبه وه چې په ايرو کې يې شپې سبا کولې.فرشاد خپله لاس پر مېز وواهه او له خونې بهر ووت. رنګين چې تر دې مهاله په بهر کې د کورنۍ خبرې اورېدلې او ژاړله، فرشاد يې وليد خو فرشاد له دې پرته چې کومه توجه ورته وکړي د هغې له څنګ تېر شو..

فرهاد هم له صبا سره د خبرو کولو لپاره لاړ، ځکه د موبايل له شا ښه خبرونه نه ول.

فرشاد...

څنګه ممکنه ده چې هغه ښځه چې زه ورسره مينه لرم، زما د ورور سره واده وکړي؟ زه به هېڅکله اجازه ورنکړم، مګر زه مړ يم؟ ما بايد له صبا سره خبرې کړې وای، او دا هغه وروستۍ هڅه وه چې ما بايد په لومړي قدم کې کړې وای.زه د هغوی دروازې ته نږدې وم او ما د حسيب موټر وليد او پوه شوم چې زما کار سخت شوی دی. خو نه مې شوای کولی چې بيرته شم، دروازه مې وټکوله او زما تر ټولو ګرانه هغه دروازه را خلاصه کړه. شايد زما د راتلو انتظار يې نه درلود، او چې زه يې وليدم حيرانه شوه او سترګې يې په اوښکو ډکې شوې.

فرشاد- زما د ليدو انتظار دې نه درلود؟
صبا- سلام.
فرشاد- صبا، کيدای شي خبرې وکړو؟
صبا- هيڅ خبره نه لرو، فرشاد، له دې ځايه لاړ شه.
فرشاد- ولې؟ د بل چا د راتلو په انتظار يې؟
صبا- فرشاد، لطفاً...
فرشاد- صبا، لطفاً په ما ظلم مه کوه... ما په دغه ډول عذاب مه ورکوه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا- زه نه غواړم له تا سره بحث وکړم، خدای په امان.

فرشاد د خپلې لاس سره دروازه کلکه ونیوله او ویې ویل: "صبا، مه کوه، زه له تا سره مینه لرم.
صبا- او زه له تا څخه کرکه لرم فرشاد، له دې ځایه لاړ شه.
فرشاد- مه کوه، زما صبا... له فرهاد سره..
صبا- بس دی، فرشاد، لاړ شه... نه غواړم چې نور خلک ستا په راتګ پوه شي.

صبا دروازه د فرشاد لاس ته پرېښوده و دننه ولاړه، فرشاد جرأت ونکړ چې دننه ولاړ شي. له کومې لارې چې راغلی و بیرته ولاړ. او لس دقیقې نه وې تیرې شوې چې فرهاد یې د کاکا د کور دروازې ته راورسید. صبا ته یې زنګ وکړ خو موبایل یې د تل په څیر بند وو. د کور خلاصه دروازه فرهاد په حیرت کې کړ. د صبا لپاره اندیښمن شو کور ته دننه شو.

صبا: ولې مې ژوند کولو ته نه پرېږدئ؟ ولې زما شا نه پرېږدي؟ مګر ومې نه ویل چې ورڅخه کرکه لرم؟
ثنا: صباجانې هیله کوم دا رکم خپل ځان مه په عذابوه؟
صبا- ولې خورې ولې هر څوک مې ژوند بې صاحبه ګڼي او خپل ځان زما مالک ګڼي؟
د اوښکو ډکې سترګې او په غریو نیولې غږ چې صبا خبرې کولې د فرهاد د درد لامل شو او هغه چې مینه یې اوښکې تویې نکړې ویې ویل: زه مې له خپلو خبرو تیر شوم اړینه نده وژاړې....
ثنا د پوښتنې کولو پرته په حیرانۍ وویل: یعنې منصرف شوې فرهاد؟

فرهاد- هو، قسم دی صبا نه مې غوښتل ستا د درد لامل شم. فکر مې کاوه چې ما به وغواړې او دا چې له مانه څومره کرکه لرې خبر نه ومه وبښه.
ثنا: اې ساده دلته خبره د فرشاد نه کوي ته یې ځان اخلې؟ خو نه غواړم مداخله وکړم که وغواړې کولی شې خپله ورته ووایې ماته اړتیا نشته.

خو صبا هم د فرهاد په لیدو حیرانه شوه. او خاموشه پاتې شوه.
صبا: ښښنه غواړم زه..... نه پوهیدم چې دلته
فرهاد- مهمه نده کولی شې نالیدلی مې وګڼې.
صبا- فرهاد زه تا نالیدلی...
فرهاد- د الطاف سره خبرې کوم د هرې ورځې لپاره د چې غوښتل تکت اخلم.

فرهاد مخ واړو او له کوره بهر تلو. خو صبا یې نوم واخیست: فرهاد....
عه.... دا ځل یې له خولې د فرهاد جان ویل ونه وتل. او د صبا زړه نه غوښتو هغه سړې چې ورنه غوښتنه کړې ولیږي،،،
صبا- فرهاد جان، نه پوهېږم څه دې واوریدل او څه دې ندي اوریدلي خو پدې پوی شه چې دا خبرې ستا لپاره نه وې. زه تاسره هیڅ داسې ستونزه نلرم چې د کرکې تر حده رسیدلې وي. ته هغه یې چې زه د حق ته ورسولم او زما په حق کې دې ډیر لطف کړی.

فرهاد- مهمه نده، صبا جانې اړینه ده دومره خبرې د زړه کې وساتې کولی شې راته ووایې او ځان ته عذاب ونکړې.
صبا- قسم خورم چې م تاته د کرکې کلیمه نده کارولې، ځکه له تا مخکې فرشاد دلته و او زما د درد لامل شو.
فرهاد- څه؟ هغه څه غوښتل؟ ولې راغلی وا ها؟
صبا- ویل یې چې تاسره باید واده ونکړم.
فرهاد- نو په همدې دلیل دې زه ځواب کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبا په ورخطايۍ سره وويل: نه، پخدای نه... ما له اوله پريکړه کړې وه. مطلب له اوله درته هيڅ مهم نه وو چې څه خبرې مې درته کړې؟ اصلي خبره څه چې ته فکر کوې نده. ځکه زه ناقصه يم او نه غواړم تاته جنجالي شم.

فرهاد- څه نقص؟ ته بې نقص ترينه نجلۍ يې چې ما ليدلې...
صبا- وګوره فرهاد مجبور نه يې چې د فرشاد تيروتنه جبران کړې.. ځکه د جبران توان ولرم نو خپلې خطاوې جبران کوم...مجبور نه يې چې ټول عمر بې اولاده....
کولی شې واده وکړې او اولاد ولرې
فرهاد- که د خدای رضا وه د اولاد څښتن به هم شم که وه يې نه غوښتل او قسمت مې نشو نو تا پورې تړاو نلري. تقدير له مخکې ليکل شوی....
صبا- فرهاد....

فرهاد- صبا هيله کوم... که د دو احمقانه دليلونو په خاطر چې يو بې بنياده ډاکټر ويلي پريږدې مې هيڅ حق نلرې. خو که مانه د بد رخې او ماسره اوسيدل درته عذاب لرونکي وي بيا بيله خبره ده.
صبا- ولې تل خپل ځان عذاب ګڼې؟
فرهاد- ځکه شايد....
صبا- زما لپاره د درد لامل نه يې فرهاد..هيله کوم نور داسې..
د صبا خبرې د فرهاد په شونډو موسکا خپره کړه او د شوخۍ په ډول يې وويل: دا خبره دې زما په نظر يوه معنا لري... اوس څه معنا ورنه واخلم؟

صبا- هر څه دې فکر ته راغلل هماغه....
فرهاد- که زما د فکر ته وګورې... زمونږ د واده خوب وينم..
صبا- که د اولاد څښتن نشو واده... دوه...
فرهاد- زه تاته خط درکوم که مې د اولاد نوم واخيست د مرګ حکم راکړه...
صبا- خدای دې نکا فرهاد...
فرهاد- وګوره پدې خبرو پسې مه ځه... زما په سر د دوهم ځل واده فکر نشته. که مې جرأت لرلی په څلويښت کلنۍ کې د خپل سن نيم عمرې نجلۍ ته مې د واده وړانديز ژر او سم ورکولو... کنه...
صبا- څلويښت کلن؟
فرهاد- نه خو که يو څلور کاله مو له واده څخه تير شي څلويښت کلن به شم.

تا آن هنگام که فصل آخر
در کتاب زندگی انسانی نوشته نشده
هر صفحه و هر تجربه ای ديدني است
همه چیز گشوده است و قابل تغيير...
اما اگر کسی که

به فصل های قديمی و ورق خورده ی کتاب بياندیشد
نقطه اوج فصل هاي آخر زندگی را
از دست میدهد...!

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهاد او صبا د یو بل په تیر وخت پسې ونه ګرځیدل او د واده ژمنه یې د فرهاد د تلو په سر تیره کړه. ددې لپاره چې صبا خفه نشې د واده تاریخ یې د هغې په خوښه پریښود. او د دریو میاشتو په تیریدو سره واده کولو ته راضي شوه صمد او میرمنه یې په دې موده کې کابل ته راغلل.الطاف هم لاس د بیخایه چکرونو څخه واخیست او د یو کارو بار او وونډ په فکر کې شو.خو میرمن کریمې چې تراوسه لسمی لسمی ویل اوس نه یوازې چې لمسیان غواړي بلکې شرط هم لري چې باید هلک وي نه نجلۍ..

ثنا: نه کیږي نجلۍ نې درک کوې؟

صبا- خورې کیږي ولې ونه شي.

ثنا- نس مې وګوره او بیا وویه...

صبا- ښا نو ما خو وویل په تمه شه چې ماشوم د نرۍ ته راشي...

ثنا په خندا وویل:دا چې د واده تاریخ ستا په زړه نه ټاکل کیږي هغه بیچاره به ټول عمر سترګو په لاره پریږدې، اوس دې یو په ارامه نه پریږې هغه وخت چې دوه شي بیا به واده په خوب ووینم.

صبا- اصلا پریږده چې فرهاد سره خبرې وکړم پاتې د شي درې میاشتې وروسته... هم به ستا ماشوم نرۍ ته راشي هم به د رنګین ماشوم....

ثنا- ریښتیا د رنګین د ماشوم جنسیت څه دی؟

صبا- نه پوهېږم پوښتنه مې نده کړې.

ثنا-  ښا نو خدای ج چې هر ورکوي له خیر، قدم او صحیح سالم د ورکړي. پوهیږې ډیر مې زړه غواړي څو د ماشوم جنسیت معلوم کړم تر څو ورته سودا وکړم خو حسیب اجازه نه راکوي.

صبا- حق لري، ډیری خلک د یو اولاد لرلو په هیله دي خورې.... او هغه وخت ځینې نجلۍ او ځینې په هلک ویلو په خپلو اولادونو ناشکري کوي.

ثنا- خدای ج مې د خور په قسمت کې هم نازولي ماشومان نصیب کړي ان شاء الله.... هغه ورځ چې ورڅخه پتنګ شې ووینم..

صبا- ای کاش خورې...

ثنا- کیږي کیږي پخیر...

صبا- راځه چې لاړې شو د فرهاد خور په تمه ده.

ثنا- راځه راځه.... چې محترم خاوند دې په تمه نشي..

محبوبه...

شکر خدایه چې دا ورځې وینم، ټوله ورځ د فرهاد لپاره سودا اخیستلو ته ځم او هر هغه څه چې غواړي ورته اخلم. خو د صبا لپاره تل نه وایي. شاید یوازینی لامل یې دا وي چې بازار ته تګ د فرهاد خوشاله کول دي.سعید هم خوشاله دی چې ایله فرهاد هم د کور او ژوند څیښتن کیږي که څه هم ډیری خلک له قضیې خبر ندي او فرهاد او صبا ملامت ګڼي خو ټول ترې بې پروا شو ځکه د خلکو ژبې بندېدو واله نه دي. په ښه او بد کې به غږیږي. د رنګین شپږمه میاشت د حمل ده او لږ په تکلیف ده. نشي کولی لرې ځای ته ولاړه شي او د موټر له بندې هوا سره حساسیت کوي او ډیر زړه بدوالی لري.

د سمن لور مې کارونه خلاص شوي او کیدای شي د ورور له واده وروسته یې کاناډا ته ولاړه شي. شاید ټولو ژوند خپل رنګ لري پرته له فرشاد څخه چې د هغه ژوند له نورو څخه بې رنګه شوی. د خپل کار او ژوند په فکر کې هیڅ ندی. زه او سعید هر وخت ورته نصیحت کوو. تر څو له خپل تقدیر څخه راضي واوسي خو سخته ده په هغه تقدیر راضي کیدل چې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړې شي.اوس چې د فرهاد د ژوند ځای د فرشاد او فرشاد یې د فرهاد پخواني ژوند ته اړ کړی. پرون مې د فرهاد لپاره اوښکې تویولې او نن د فرشاد لپاره.

فرهاد...

هغه ورځ لرې نده چې صبا مې د واده په کالیو کې ځان لپاره ووینم. هغه ورځ چې شاید د لیدو تمه یې په خوب کې هم یو ناممکن خیال وو نن یې خدای ج پوره کوي. دا درې څلور میاشتو کې د هغه مینې زه د نیکمرغېو اخیر حد ته رسه ولې یم.په زړه کې آرام نلرم غواړم هر څه چې غواړې هغه ورته تیار کړم. زما د مجردۍ کور اوس بې ښیښتنه ندی. کوښښ کوم له وړاندې څخه منظم تر وي تر څو مې میرمن ناراضي نه وي. نن له سودا اخیستلو وروسته صبا مې په زور خپل کور ته بوتله. هغې سره یوځای مو د خوب کوټه خوښه کړه او د ډیزاین کولو لپاره مې یو شرکت ته زنګ وکړو.

فرهاد- ښه میرمن جانې...
صبا- عه؟
فرهاد- وبخښه صبا جانې بیا هم زموږ خبره عه ته ورسېدله؟ مګر ما څه ګناه کړې چې عه؟ داسې نه چې کوټه د په زړه نه وي؟ په سودا کې مې تیروتنه کړې؟ او یا کوم شرکت مې چې انتخاب کړی؟
صبا په خندا وویل: هیڅ یو، ولې دومره زر خپل ځان محاکمه کوې؟ جان مې؟
فرهاد- اووووو جان...... ځان مې تر صبا مې ځار
صبا- دومره صدقه او قربان مه وایه فرهاد....
فرهاد- ودې مرې دا فرهاد درته

صبا- فرهاد مې داسې مه وایه هیله کوم...
فرهاد- په سترګو میرمن مې
صبا- تراوسه دې میرمن...
فرهاد- مه ویه.... خبره دې مه پوره کوه، ځکه میرمن مې یې..... او خپله هم پوهېږې نهایت یې دوه هفتې وروسته....
صبا- ښا جان مې
فرهاد- غواړې خپل د واده جامې دې راته وښایې؟
صب- نه.... ځکه تراوسه مې ندي انتخاب کړې
فرهاد- ولې؟

صبا- خو کومې ساده جامې زه غواړم نشته.
فرهاد- مګر تا څوک پریږدي چې ساده جامې واغوندې زه غواړم ستا جامې زر او برق پرقیده ولری..

غوښتل مې چې یو دلیل وویم خو زنګ راغی ثنا وه خور مې زړه یې ما لپاره نارامه وا. وبښه فرهاد باید ځواب ورکړم.
فرهاد- چیرته؟؟
صبا- ثنا ده.
فرهاد- چې ده نو څه؟ نه غواړې ورته ووایې چې ماسره یې؟
صبا- نه داسې هم نده
فرهاد- نو خلاصه کړه کمره چې ویډیوکال وکړو..
صبا- په سترګو....

(c) ketabton.com: The Digital Library

موبایل مې په لاس کې واخیست او ولاړم د فرهاد تر څنګ کیناستم. له ثنا سره وغږیدو. ثنا سره د خپرو په وخت مې ورته وویل: که کوم مهم کار نلرې چې قطع کرم.

فرهاد: نه قطع یې نکړې صبا...

صبا- ولی؟

فرهاد: وګوره ثناجانې دا چې تا زنګ وهلی صبا د زما تر څنګ ناسته ده. هغه هم د لسو قدمونو په فاصلې سره چې زما څیره په موبایل کې راشي.

ثنا: ولا ما فکر وکا چې ستا او د صبا مزاحمه شوم چې صبا غواړي اړیکه پرې کړي..

فرهاد په خندا وویل: ولا ستا د زنګ برکت دی چې د صبا عطر مې حس کړو.

ثنا- ای صبا دا څومره ظالمه شوې یې نجلی.... نه غواړې انصاف وکړې؟

فرهاد بیا په خندا وویل: زه مظلوم ظلم یې زغمم

صبا: ته هم ماته ظالمه...

فرهاد- نه نه وبخښه... اصل کې خو ما ظلم کړی چې صبا مې دلته په زور راوستلې

ثنا- ښه د پرې وکړل...

صبا- مننه مننه..

هر څوک په مینه کولو پوهیږي، خو ډیر خلک بلد دي چې په مینه کې له یو کس تر ډیره وخته پاتې شي...لدې جملې څخه فرهاد هم وو. هغه فرهاد د چې صبا د تیږې په شان زړه یې نرم کا. نن تر ټولو ښه ورځ ده چې فرهاد یې په تمه وو. خو ددې پر ځای شیبې وشماري. د فرشاد خواته ولاړ. ولاړو ځکه فرشاد په کور کې یوازې وو. د کور ټولې ښځې او نجونې په اریشګاه کې وو.

حتی رنګین هم صبا راغوښتې وه. او له ځان سره یې اریشګاه ته بوتله. سعید هم د خپل ورور سره د ویښتانو اصلاح کولو ته ولاړل. دروازه مې وټکوله خو فرشاد خلاصه نکړه. فرهاد سره چې کیلی وه دروازه یې خلاصه کړه. فرهاد هغه پسې کوټه په کوټه وګرځیدا او بلاخره هغه یې په خپله کوټه کې پیدا کا په هغه ځای چې فرشاد او صبا ژوند کولو. فرهاد دروازه ور وټکوله. او د ننوتلو اجازه یې وغوښته.

فرهاد- سلام اجازه ده....

فرشاد څه ونه ویل او فرهاد یو ګام مخکې ولاړ او بیا دوه ګامه خو بلاخره یې ځان فرشاد ته ورسولو. په څنګ کې یې کیناست او لاس یې په اوږوه ورته کیښود. مګر څو کاله کیږي چې یو د بل ورونه یو؟ چې دا رکم د پردیتوپ حس کوو. فرشاد د فرهاد لاس لرې کا خو هغه په زړه وانخست او برعکس ورنه وه یې غوښتل چې واده ته یې راشي.

فرهاد- مګر تا نه غوښتل چې د ورور واده دې ووینې؟

فرشاد له اوښکو ډکو سترګو وویل: زما له مینې سره؟

فرهاد آه وکړ او وې ویل: په کومه ورځ چې تا واده وکړ په یاد د دي؟ ویل دې ولې د ځان په یوازیتوب بندي کړی؟ مګر ورور ته دې اندیښمن نه وې؟ ستا مینه..... هغمه زما مینه وه. قسم خورم فرشاد چې نه ما ستا میرمنې ته په بده سترګه کتل او نه هم هغې تاسره بې وفایي کړې. ستا دوښمن ستا خپل ذهن دی. هیڅ یو خیال د حقیقي ندی.

فرشاد- ته څه زما په خیالاتو پوهیږې ها؟

فرهاد- باور وکه فرشاد زه او ته د یو بل ورونه یو. هیڅکله بیلتون نلرو. راځه له ګناه مې تیر شه څخلې د چې په خوښیو کې شریک وم زما په خوښیو کې شریک شه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرشاد زړه د خپل ورور لپاره درزیدا.... هغه یې غیږ کې ونیوا او دواړه یو ځای د شپې د تیارۍ لپاره ولاړل. هغه محفل چې ټولو له زړه ځخه د یو بل خوښي غوښتله. د اشرفي د کورنۍ عکس په قاب کې بندي شوه. ټول یو د بل تر څنګ کیناستل او فامیلي عکس یې واخیست. صبا هغه عکس ته په کتو ناسته او د فرهاد د راتګ لپاره په تمه وه ترڅو یوځای د شپې ډوډۍ خوړوله لپاره د صمد دوی کور ته ولاړ شي.

او هم د الطاف د ماشوم پیدایښت لپاره مبارکي ولاړ شي. دوه درې کاله د خوب په څیر تیر شول. هغه خوب چې ټولو یوځای ولیدو. رنګین د دوو زامنو څېښتنه شوه او د ثنا هم دریم ماشوم په لاره دی. هغه د یوې نجلۍ او یو هلک په لرلو سره غواړې نور اولاد هم ولري.فرهاد د صبا غوږ خواته راغی مخ یې ښکل او سلام یې وکړ
فرهاد- سلام زما مینې...
صبا- سلام زما ژونده....
فرهاد- وبخښه چې په تمه پاتې شوې ... کاشکې له نورو سره تللې وای.

صبا- فرق نکا نور ولاړل او د ما زړه غوښتا تاسره ولاړه شم...
فرهاد- اې جان مې... قرباااان دې لدې زړه شم زه...
صبا- خدای دې نکا.... راځه چې ولاړ شو ناوخته کیږي
فرهاد- ښا راځه خو بېړه مکړه.... ماشوم مې اذیت نشي...
صبا- ای هی ستا ماشوم خو ما اذیت کوي ستا په نظر نه راځي....
فرهاد- لخیره نږۍ ته راشي حق یې ورکوم جان، صبر وکه هر چې په تا وهي. زه به څپیړه ووهم.
صبا- زه د پریږدم چې په څپیړه یې ووهې؟
فرهاد په خندا وویل- هو وهم یې قفط شپږ میاشتې وروسته
صبا- لاس دې ماتوم....

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**